# طالب مشرانو سره شپږ ورځې
# د کندهار د سولې چيغه

د افغان سولې غوټه چېرته ده؟ طالبان افغان سولې او جگړې ته په کومه سترگه گوري؟ د ښکېلو لوريو د ليډلوريو او دريځونو په پام کې نيولو سره، افغان ربړه څنگه اواربېدای شي؟ په لومړي ځل د روانې جگړې د ښکيلو غاړو له استازو سره د افغان سياسي او مطبوعاتي فعالانو نېغ په نېغه خبرې اترې او ډېر نور مسايل.

انجنير نظر محمد مطمئن



# طالب مشرانو سره ٦ ورځې

# د کندهار د سولې چېغه

لیکوال: **نظرمحمد مطمئن**

د پښتي ډیزاین: **سپین سهار**

خپرندوی: **دانش خپرندویه ټولنه**

چاپکال: **لړم ۱۳۹۸ - نومبر ۲۰۱۹**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

سالنګ واټ، انحصارات، د پخوانی ملي سینما څنګ ته، دانش کتابپلورځی

+۹۳ (۰) ۷۷ ۱۱ ٤٤ ۳۱۷ - ۰۷۹۹ ۲۰ ۹۲ ۷۲

danish۲k۲۰۰۰@yahoo.com - spinsahaar@gmail.com

**د چاپ او ژباړې ټول حقونه له لیکوال سره خوندي دي.**

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

د اللهﷻ ډېر زيات حمد او ثناء وايم، د اللهﷻ پر نازولي پېغمبر محمدﷺ باندې درودونه وايم، او مسلمان امت ته د اللهﷻ له لوري د ګناهونو د بخښنې دعاء کوم.

"طالب مشرانو سره شپږ ورځې" د ۲۰۱٦ په وروستۍ نیمایي کې د افغانستان د سولې اړوند د پنځو مهمو غونډو یادداښتونه او خاطرې دي. په دغو ناستو کې د روانې کشالې مستقیمو او غیر مستقیمو او دربېمګړو اړخونو، داخلي او بهرنیو لوریو ګډون کړی وو. زه هم د دغو غونډو ویناوال او ګډونوال وم. ماته د دغو غونډو اهمیت په دې کې و چې د لومړي ځل لپاره مې په خورا صراحت سره د جګړې د ښکېلو او له سولې سره د لېوالو اړخونو نظرونه اورېدلي. ډېر نظریات راته هېښوونکي وو. دقیق یادداښتونه مې ونیول. څرنګه چې مې تېره یوه نیمه لسیزه د سولې له هڅو سره لېوالتیا وه، او خپله مې هم په دې لاره کې هڅې نه دي سپمولې، نو دغه ډول مهمو غونډو او صریحو نظریاتو ته زما لاسرسی، زما په ګومان کمساری و. ځکه مې وپتېیله چې دغه نظریات باید له ولس سره شریک شي تر څو د سولې د روانو هڅو، هیلو او ګواښونو په اړه مو د عام ذهنیت له روښانتیا سره مرسته کړې وي.

د دغو غونډو د تسلسل په پیل کې، ما داسې انګیرلې وه چې یوازې په قطر کې له طالب مشرانو سره د ناستو (۲۹ نومبر - ۲ ډسمبر ۲۰۱٦) اړوند وړوکی کتاب ولیکم، کله چې له قطر څخه موږ شپږ تنه (ډاکټر فیض محمد ځلاند، دکتور عبداللطیف نظري، ښاغلی اسد وحیدي، ښاغلی میرویس ستانکزی او ښاغلی شاپور بختیار) راستانه شوو، د امریکا سفارت کې د ۲۰۱٦ کال د ډسمبر پر ۵مه نیټه له امریکایي ډیپلوماټانو سره ناسته، د ملي امنیت له لوی رئیس او مرستیال، دا ډول د امنیت شورا له غړو سره د ډسمبر پر ۱۲مه ناسته، د پګواش -کابل

غونډه د ډسمبر پر ۱۳مه او بیا په کندهار کې د سولې چېغه تر نوم لاندې ناستو (۱۷ – ۱۸ نومبر ۲۰۱٦) کې زما او ځینو ملګرو ګډون په ډېر لنډ وخت کې یو پر بل پسې وشو. دغو ناستو په ټوله ییز ډول دا فرصت راکړ، چې د جګړې له ټولو ښکېلو لوریو سره په لنډ وخت کې بحثونه ولرو. له همدې امله مې وپتېیله چې د یادو پنځو مهمو غونډو خبرې د لوستونکو مخې ته کښېږدم.

ډېر کتابونه چې تاسې لولئ، ګورئ چې د لیکوال خبرې او نظرونه پکې وي، دلته د غونډو اهمیت ته په کتو سره مې تر ډېره د سولې د غونډو د ګډونوالو خبرې را نقل کړي، تر څو لوستونکې وکولای شي چې د ښکیلو لورو، افغان سیاستوالو او بهرنیانو نظریات له ځان سره ولري. د کتاب لیکنې میتود یو ډول تاریخي-روایتي غوندې دی. د کتاب له لوستو سره تاسې ته د سولې اړوند د ښکېلو غاړو نظرونه، واټنونه او ټکرونه جوتېږي.

د غونډو پر مهال مو ډېرې په زړه پورې خبرې واوریدې، د ځینو طالب مشرانو، حکومتي چارواکو او افغان سیاستوالو د خبرو بېلګې دلته ستاسې مخې ته ږدم:

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر، د طالبانو د رهبري شورا غړي ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزي د ۲۰۱٦ کال د ډسمبر میاشتې پر ۱۹مه د ناستې پر مهال موږ ته وویل: "موږ غریب هیواد یو، د نړیوالو مرسته له افغانستان سره غواړو، ولې داسې کله هم نه غواړو چې د مرستو په عوض کې مو ملي حیثیت ته صدمه ورسیږي، قومي او مذهبي جګړو ته لمن ووهل شي، ستونزې مو تر منځ پید اشي، بیا نو وږي ښه یو خو چې عزتمند پاتې شو.

اوس خو نه اسامه بن لادن شته او نه هم القاعده په افغانستان کې شتون لري، نور په کار ده چې امریکایي او ناټو پوځیان له افغانستان څخه ووځي، مګر دوی تر ۲۰۱۴ بیا تر ۲۰۱٦ او دا دی اوس وایي چې تر ۲۰۲۴ ز . کال او یا هم نامعلوم وخت پورې به همدلته په افغانستان کې پاتې وي.

د امریکا هدف القاعده نه وه، بلکي غوښتل يې همدلته مرکزيت جوړ کړي او لـه دي ځایه نور هیوادونه تر څارنې او کنټرول لاندي ولري او ذخاير يې پـه ارزانـه بيـه تر لاسه کړي."

دا ډول د طالبانو د قطر د سياسي دفتر او رهبري شورا غړی قـاري ديـن محمـد حنيف هم په قطر کې د ځانګړې ناستې پر مهال وويل: "د طالب نظام چې سقوط کوي، هغه ته په ګرده نړۍ کې د ژوند کولو حق نه ورکول کيـږي، د امريکـا پريکـړه او شعار داسي و چې یا به نيول کيږي او یا به وژل کيږي. د ژوند کولو حق ورڅخـه واخيستل شو."

کله چې موږ کابل ته راستانه شوو، د امريکا سفارت د ناستې لپاره بلنه راکـړه، د ډسمبر پر ۵مه ورځ د امريکا سفارت ته د ننوتلو پر وخت امريکايي ډيپلوماټ کوين وويل: "په ټوله نړۍ کې د امريکا لوی سفارت په کابل کي دی."

ما ورته وويل چې په زړه پوري ده، یو وخت د پخواني شوروي اتحـاد سـفارت هـم د نورې نړۍ په پرتله دلته په افغانستان کې ډير لوی و.

امريکايې ډيپلوماټ ته خبرې خونـد ورنـه کـړ، زمـا هـدف هـم دا و چـې دا لـوی سفارتونه چې ناوړه موخې لري تر ډيره دوام نه کوي.

موږ ته د ملي امنيت لخوا هم د ناستې بلنه راکړل شوه، د مـلي امنيـت لـوی رئـيس ښاغلي معصوم ستانکزي دډسمبر پر ۱۲مه د ناسـتې پـر مهـال ويـل: "سـيمه او نـړۍ زموږ د هیواد په جغرافيه کې متضادې ګټې لري، انعکاس يې په ټولنه کې هم راځي.

دولت کافي اندازه او له حده زياتې ستونزې لـري، زمـوږ پـه ټولنـه کـې هـم سـتونزې شته، جګړه پردۍ ده، په افغانانو تحميـل شـوې، لـه دغسيـ حالـت څخـه د وتلـو لپـاره صبر او زغم ته اړتيا ده، احساسات او خبرې نـه، د افغانـانو اتحـاد او يـووالي خـبره ډيـره مهمه ده، چې جګړه ودريږي، سوله د افغان ولس اتحاد او يووالی راوستلای شي."

د ډسمبر پر ۱۳مه د پګواش – کابل غونډه هم وشوه، د ځينـو ګـډونوالو د خـبرو

بیلګې درسره شریکوم:

د پګواش ادارې مشر ښاغلي پاولو وویل چې موقت حکومت ښه د حل لاره ده، او په درې کلونو کې به بهرني پوځیان له افغانستان څخه ووځي.

د پخواني ولسمشر لومړي مرستیال یونس قانوني بیا د پګواش - کابل غونډې پر مهال وویل: "اساسي سوال دا نه دی چې موږ سولې ته اړتیا لرو، بلکې د سولې لارې کومې دي؟ څه ډول کولای شو چې عادلانه او تلپاتې نظام ولرو."

د اوبو او بریښنا پخواني وزیر اسماعیل خان وویل: "د طالب جګړه د افغان ملت سره نه شته، بلکې طالب وسیله دی چې جګړه یې زموږ پر ولس تحمیل کړې ده."

ډاکټر انوارالحق احدي د نوي ملي جبهې مشر، د مالیې پخواني وزیر وویل: "د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش ۳ کلونه ویل شوي، کافي وخت دی، کیدای شي کم او زیات شي، بهرنیان هم ممکن پاتې کیدو ته لیواله نه وي."

د پګواش له غونډې وروسته موږ ځینې ملګري په کندهار کې د سولې غونډې ته بلل شوي وو، د کندهار امنیه قومندان جنرال عبدالرازق په کندهار کې لویې غونډې ته (۱۸ ډسمبر ۲۰۱٦) د وینا پر مهال وویل: "یو شي باید چې ووایو نور په وینه تویدو دا ملت ستړی دی، موږ هم ستړي یو، حکومت هم ستړی دی، مخالف لوری یا زموږ هغه خوابدي شوي وروڼه [طالبان]، هغه به هم نور ستړي وي."

دیته ورته ډیرې نورې څرګندونې په کتاب کې لوستلای شئ.

په ځینو برخو کې اړتیا وه چې د ویناوالو پر څرګندونو تبصره وشي، مثلاً په قطر کې ښاغلي عباس ستانکزي د ناستې پر مهال وویل: "طالبانو سره ولس په زور نه دی یو ځای شوی او نه هم طالبانو له خپل ولس څخه په زور سره سیمې نیولي، بلکې همدي ملت یې مرسته وکړه او ورسره یوځای شول، هغه ملت چې د انګریز او پخواني شوروي اتحاد پوځیانو ته یې ماتې ورکړې وه. مګر د طالبانو په غاړو کې یې ګلان ور واچول او خپلو سیمو ته یې د دوی د ورتګ بلنه ورکړه."

خو زما ښه یاد دي چې افغان ولس په لومړیو کې په ډېرو سیمو کې په خپله خوښه د طالبانو ملگرتیا وکړه، ولې په وروستیو وختونو کې په گڼو سیمو کې خلک د طالبانو اړوند د واک له انحصار څخه راضي نه وو، او په جگړو کې د جلب او جذب د لاري عام افغانان وژل بله ستونزه وه چې خلک او طالبان یې یو له بله سره لیري کول.

ښاغلي عمر داودزي د پګواش – کابل غونډې پر مهال وویل: "موقته اداره د راتلونکي نظام اړوند لازمه او سمه نه ده، ملي مشارکت حکومت ښه اصطلاح ده او قانوني ستونزه هم نه پیدا کوي.

د موقت حکومت اړوند چې ولسمشر استعفا ورکړي، دا به مشکله وي، حوصله به ونه لري ."

د ښاغلي عمر داودزي د پورته خبرو اړوند اړتیا وه چې تبصره وشي، او په لاندي ډول د هغه د خبرو اړوند تبصره شوي ده:

په سیاستوالو په سختۍ باور کیدای شي، عمر داودزی هغه څوک دی چې زموږ سره په ناستو کې یې د لنډمهاله اداري د جوړیدو ملاتړ کاوو، کله چې وپوهیدی چې په لنډ مهاله اداره کې ده ته واک نه ورکول کیږي، اوس د لنډمهاله اداري راتگ قانوني ستونزه گڼي او د ملي مشارکت خبره کوي.

د ۲۰۱٦ سپټمبر میاشت کې همدغه طرحه چې هغه وخت کې ۱۷ مادې وه د ښاغلي پاولو لخوا د سولې جرگې دفتر (وزیراکبرخان) کې ولوستل شوه، او په ځانگړي ډول له عمر داودزي سره هم شریکه شوې وه، هغه وخت د موقت حکومت اړوند چا نیوکه ونه کړه. عمر داودزي له دي غونډې نږدې درې میاشتې مخکې له ښاغلي ملاعبدالسلام ضعیف او ما (لیکوال) سره د مجلس پرمهال وویل چې که طالبان پر موقت حکومت راضي شي، د سولې لپاره ښه چانس دی. عمر داودزي هڅه کوله چې که ممکن وي موقت حکومت باندي طالبان او افغان حکومت موافقي ته ورسیږي او د موقت حکومت په رأس کې همدی راشي، امریکا ته یې

سفرونه وکړل، پوه شوی به وي چې امریکایان د حکومت په رأس کې د ده له راتګ سره ځکه موافق نه دي، چې پخواني ولسمشر حامد کـرزي تـه نـږدې شـخص یـې ګڼي. سید اسحق ګیلاني د ډسمبر پر ۱۴مه ما (لیکوال) او اسـتاد محمـد زمـان مزمل ته وویل چې داودزي به ځکه دا ډول خـبره کـړې وي، د ډاکټـر غنـي لخـوا د سفارت ژمنه ورسره شوې.

داسي ډیرې نورې تبصرې هم په کتاب کې لوستلای شئ.

په ځینو ځایونو کې د ناستو د ګډونوالو لخوا د ځینو مهمـو پیښـو یادونـه شـوې، تشریح ته اړتیا وه، د پاڼو په پای کې د پیښو اړوند تشریح کتلای شئ، مثلاً:

د طالبـانو د قطـر د سـیاسي دفـتر مرسـتیال مشر ـ ښاغلي مـلا عبدالسـلام حنفـي د ناستې پر مهال وویل: "د سني او شیعه ترمنځ مذهبي تفرقه نه غواړو، د طالبـانو پـه وخـت کې جنګونه د سني او شیعه په نوم نه وو [1] بلکې د زورواکو په مقابل کې جنګ وو."

دا یادونه هم ضروري بولم چې د کتاب د مـتن پـه کتنـه او سـمونه کـې ښـاغلي ذاکر جلالي او یوه بل ملګري زیار وېستی، چې د خپل نوم یادونـه یـې دلتـه اړینـه ونه بلله، د زړه له تله مننه کوم.

زه پوهیږم چې د کتاب په لوستلو به د افغان حکومت ځینې چـارواکې او ځینـې

[1] ځینې د اهل تشیع ځوانان او په ځانګړې ډول د هزاره تـوکم ځوانـانو چـې غوښـتل یـې پـه بهـر کـې د میشت کېدو اسناد په اساني سره واخلي د طالبانو د نظام پرمهال چې به کوم هیـواد تـه د قاچـاقي لارو ورغلل، بیا به یې بهرنیانو ته ویل چې طالبان د اهل تشیع مخالفه ډله ده او مونږ وژني.

همدغه لوبه د امریکا تر حملې وروسته له ۲۰۰۷ بیا تر ۲۰۱۴ ز.کال پورې دوام وکړ، د هزاره توکم ډیری ځوانان د طالبانو لخوا دجعلي تهدید لیکونو په کارولو سره په بهر کې میشت شول.

دا ډول د طالبانو د جعلي تهدید لیکونو څخه ځینو تاجک او پښـتون او د نـورو قومونـو ځوانـانو هـم بهر ته د تګ لپاره استفاده کړې.

زما (لیکوال) څخه د کابل ښار د پنځمې ناحیې مرستیالې میرمن فرښـتې، د طلـوع او یـک ټلـویزون ځینـو کاروونکو غوښتنه کړې وه چې که د افغانستان د اسلامي امارت په نوم کوم جعلي تهدید لیک ورته چمتـو کړلای شم، ترڅو یې دوی بهرنیو سفارتونو ته د خپل ژوند لپاره د تهدید په موخه وکاروي.

پلویان، د طالبانو ځینې غړي او ځینې پلویان او دارنګه ځینې افغان سیاستوال ګیله من شي، ولې د دې لپاره چې ولس ته حقایق وړاندې شي، له همدې امله مې د کوم لوري او یا شخص مراعت نه دی کړی.

په خپلو تبصرو کې مې د سولې په اړه ځینې داسې خبرې لیکلې چې کېدای شي په ځینو ډلو او کسانو به ښې تمامې نه شي، ولې په راتلونکې کې د سولې په مخ کې د خنډونو او ستونزو د اصلاح لپاره اړینې وې چې غور پرې وشي.

په کتاب کې چې د کومو کسانو نومونه یاد شوې، د هغوی لنډه پېژندګلوي په پای کې شته، دا ډول هغه خبرې او جریانونه چې تشریح ته یې اړتیا لیدل شوې، د پاڼې په وروستۍ برخه کې لیدل کیږي.

په ناستو کې د هر ګډونوال خبرې د هغه تر نوم، شارحه نښې او دوو لیندیو وروسته پیل شوې او بیا د دوو لیندیو په ترلو سره پای ته رسیږي.

پرته د کندهار د سولې چېغه غونډې او په کابل کې خبرې ناستې، د نورو ټولو ناستو جزیات مې له ځان سره یادانښت نیولي وو، مګر د سولې چېغه لویې غونډې خبرې مې له ویډیو څخه او په کابل کې د خبرې ناستې ویناوې مې له اډیو څخه راواخیستلې، د ځینو کسانو خبرې مې د اهمیت له مخې په بشپړ ډول سره را نقل کړې دي.

موږ په ټولو ناستو کې د افغانانو او بهرنیانو له ښه چلند سره مخ شوې یو، پرته له دې چې د افغان ملي امنیت رئیس سره په ناسته کې، هغه وخت چې خپله مجلس ته نه وو راغلی، او بیا وروسته چې له مجلس څخه ووتی، د ځینو دوستانو چلند مناسب نه وو.

طالبانو سره ناستې په زړه پورې وې، د قطر د سیاسي دفتر مشرانو پرته له دې چې ډیپلوماسي وکړي، په پوره وضاحت سره یې د ملګرو پوښتنو او اندیښنو ته جوابونه ویل.

د امریکا سفارت د ډیپلوماټانو سره ناسته کې پوره ډیپلوماسي کارول کیدله، او

امریکایانو یوازې معلومات ترلاسه کول غوښتل. موږ ته ډېره ښه واضحه شوه چې کابل کې امریکایي ډیپلوماتانو د هغو ټکو په اړه خپل نظرونه له موږ سره شریک نه کړل، چې د دوی سیاستونو پورې تړلي وو. دوی په همدې پلمه چې سیاست‌جوړوونکي نه دي، له نظر ورکولو ډډه وکړه.

د پګواش – کابل غونډه کې مهمو افغان سیاستوالو ګډون درلود، او بېلابېل نظریات وو، زما لپاره پکې مهم د تورن اسماعیل خان او ملا عبدالسلام ضعیف نظریات وو.

په کندهار کې د امنیه قوماندان او والي چلند د بل هر وخت په پرتله بېل او ښه وو.

په ګردو ناستو کې پرته له تفکیک څخه ښکېلو اړخونو او افغان سیاستوالو په یوه خوله ویل چې جګړه د حل لاره نه ده، باید تلپاتې سوله وشي.

خو سخته ده چې سوله وشي، دا ځکه چې افغانستان کې د ګڼو هیوادونو استخباراتي شبکې فعاله دي، سیمه ییزې ستونزې شتون لري، او د بهرنیو پوځیانو شتون هم د سولې په مخ کې لوی خنډ دی.

# لړلیک

| سرلیک | مخگڼه |
|---|---|

د ناستو پر مهال ګډ ټکي ........................ ۱
**د سولې ګډې وډې هڅې (هیلې، اندېښنې او ځینې وړاندیزونه)........................ ۳**
**لومړۍ خبرې ........................ ۶**
**د قطر پر لور........................ ۹**
**د امنیت شورا له غړي سره لیدنه ........................ ۱۳**

## لومړۍ څپرکی

**طالب مشرانو سره د ورغلو شنونکو او ژورنالیستانو ناستې**

**د طالب مشرانو سره د پېژندګلوي ناسته ........................ ۱۸**
ایرانی بازار - سوق واقف ( دقطر پخوانی دودیز بازار) ........................ ۴۱
**طالب استازو سره دویمه ناسته ........................ ۴۵**
د قطر مازیګری او د سمندر غاړه........................ ۱۱۴
**طالب استازو سره درېیمه ناسته ........................ ۱۱۸**
له طالب استازو سره تر مجلس وروسته ........................ ۱۵۹
بحر: لامبو او چکر ........................ ۱۶۰
**د سیاسي دفتر له مشر سره ځانګړې ناسته ........................ ۱۶۳**
**طالب مشرانو سره د مخه ښې ماښامنۍ ........................ ۱۶۸**
**سید محمد طیب اغا سره مهمه ناسته........................ ۱۷۲**
ګران هیواد ته راستنېدل ........................ ۱۸۵

## دوېیم څپرکی

**د امریکا سفارت له ډیپلوماټانو، د ملي امنیت له مشر او امنیت شورا له غړو سره ناستې**

میرویس ستانکزی او شاپور بختیار........................ ۱۹۰
د ناستو اړوند د طالبانو رسمې راپور ........................۱۹۲
**د ګران هیواد نامتو شنونکو او ژورنالیستانو سره د ا.ا. امارت د سیاسي دفتر د هئیت ناسته ۱۹۳**
**د امریکا سفارت کې غرمنۍ ........................ ۱۹۸**
**د امنیت شورا له غړي سره ناسته........................۲۱۶**
**د ملي امنیت مشر، معصوم ستانکزي سره ناسته ........................ ۲۲۰**

## درېيم څپرکی

### پگواش – کابل غونډه

د پگواش له مشر پاولو سره خبرې ........................ ۲۴۸
**پگواش – کابل غونډه ........................................ ۲۴۹**
د افغان سولې پروسې د شوني ترون اړوند ځينې ټکي.............. ۲۹۰
په کابل کې د پگواش غونډې راپور ........................ ۲۹۵

## څلورم څپرکی

### کندهار او د سولې چېغه

**کندهار او د سولې چېغه........................................ ۳۰۰**
**د کندهار غمجن سهار ........................................ ۳۰۷**
**د سولې چېغه لويه غونډه ........................................ ۳۱۵**
**د کندهار والي همايون عزيزي خبرې ........................................ ۳۱۸**
**د قومندان عبدالرازق وينا ........................................ ۳۲۱**
**پريکړه ليک........................................ ۳۵۸**
**د امنيه قومندان عبدالرازق سره ځانگړي ناسته ........................................ ۳۶۱**
**له کندهاره څخه کابل ته راتگ ........................................ ۳۷٤**

## پنځم څپرکی

### خبرې ناسته او طلوع ټلويزون

**خبري ناسته (د سولې هڅې او خنډونه) ........................................ ۳۷۸**
**پريکړه ليک........................................ ٤۰۳**
**د طلوع ټلويزون ادارې سره ناسته........................................ ٤۰۵**
**د پای خبرې........................................ ٤۱٤**
**لنډ ژوند ليکونه ........................................ ٤۱۹**
**د ليکوال پېژندنه ........................................ ٤۳۷**

# د ناستو پر مهال ګډ ټکي

په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر له استازو، کابل کې د امريکا سفارت له ډيپلوماټانو، د ملي امنيت له مشر او د امنيت شورا له غړو سره، د پګواش – کابل غونډه او په کندهار کې د سولې چيغه غونډه کې مو د ناستو په جريان کې د ښکېلو جهتونو او افغان سياستوالو ترمنځ ځينې مهم ګډ ټکي وليدل چې که پرې کار وشي سولې او تفاهم ته د رسېدلو لپاره ښه پيل جوړولی شي.

تر ټولو مهم او اساسي د توافق ټکي پکې دا وو:

- په افغانستان کې اسلامي نظام غواړو؛
- د افغانانو د يووالي او اتحاد غوښتنه او دا چې قومي، مذهبي، ژبني او سيمه ييز توپيرونه موږ افغانان نور هم کمزروي کوي؛
- په هيواد کې د واک انحصار نه غواړو، د واک عادلانه او متوازن ويش د جګړو مخه نيسي؛
- د بهرنيو هيوادونو د پوځيانو شتون په افغانستان کې ستونزې زياتي کړي؛
- په افغانستان کې جګړه د پرديو د ګټو لپاره ده، يوه تحميلي جګړه ده او قربانيان يې افغانان دي؛
- جګړه د حل لاره نه ده، يو لوری (حکومت او طالب) هم د جګړې ګټونکی نه شي کيدای، ښه دا ده چې تلپاتي سوله وشي؛
- داسي يو نظام به کارنده وي چې افغان شموله وي، د افغان ولس حقونه پکې خوندي وي.

پورته ټکي د ښکېلو اړخونو (افغان حکومت او طالبانو) او افغان سياستوالو ګډ او مشترک نظريات دي، د خبرو پر مهال موږ دا هم وليدل چې د ښکېلو جهتونو ترمنځ فاصلي هم دومره زياتي نه دي، که افغانان خپلې خوښې ته پريښودل شي، او د پرديو هيوادونو لاسوهنه پکې نه وي، کيدای شي چې ډير ژير د افغاني تفاهم

د لاري جوړ جاړي ته ورسیږي.

په ټوله کې په ناستو کې له قومي، مذهبي، ژبني او سیمه ییزو تعصبونو څخه هرې ډلې او هر سیاستوال کرکه ښودله، ولې په عمل کې په کابل کې موږ دغه ټول تعصبونه د ځینو سیاستوالو له خوا وینو، که په رښتیا هم افغانان متحد شي موږ به یو قوي او مستحکم نظام ولرو.

ډیرو یې ویل چې جګړه د حل لاره نه ده، چې په هر قیمت کیږي باید افغانان یو بل ومني، او د سولې خبرو ته سره کښیني، که ستونزه په خپل منځ کې حل نه کړو، د جګړې د دوام په معنی ده، او هرې جګړې زموږ هیواد راته کوچنی کړی، د جګړې پر مهال ګاونډیو هیوادونو زموږ د خاورې ځینې برخې لاندي کړي دي.

د جګړو له امله زموږ اقتصاد، دودونو او فرهنګ ته سخته صدمه رسیدلې ده، د ښووني او روزنې برخه کې مو ځوانان بې تعلیمه پاتې شوي، په کار ده چې له جګړو څخه ځانونه وباسو، په ګډه د هیواد د ښه پرمختګ لپاره کار وکړو.

ځینې سیاستوال نظر لري چې موقت حکومت یوه ښه د حل لاره ده، خو چې نړیواله ټولنه یې تر شا ولاړه وي، تر څو د بهرنیو پوځیانو د وتلو د مهالویش او راتلونکي افغان شموله نظام ته لاره هواره کړي.

ځینې بیا فکر کوي چې له ستونزې څخه د وتلو لپاره ملي اجماع ته اړتیا ده، تر څو د ملي اجماع په ترڅ کې د اوسني حالت څخه د وتلو لپاره پریکړه د افغان مشرانو لخوا وشي.

د اجماع اړوند بیا ځینو نظر درلود چې یوه وړه ډله د اجماع په ترڅ کې وټاکل شي چې د سولې لپاره متمرکز کار وکړي، همدوی حکومت او طالب ته د جګړې پای ته رسولو په برخه کې قناعت ورکولای شي.

دا ډول د سولې لپاره ولسي فشار ته ډیره اړتیا لیدل کیږي، تر څو د جګړې پر ښکیلو لورو فشار راوړي چې سولې ته غاړه کیږدي.

## د سولې ګډې وډې هڅې

## هيلې، اندېښنې او ځينې وړ انديزونه

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾ **سورة الأنفال**

بې شکه هغوی چې کافران شوي دي، خپله شتمني ددې لپاره لګوي چې خلک د الله ﷻ د لارې څخه منع کړي، نو وبه يې لګوي خو بيا به وربانـدي پښيمانتياوي او بيا به مغلوب هم شي، او هغوی چې کافران شوي دي ټول به جهنم ته ورغونډ کړی شي.

قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾ **سورة النمل**

هغې ويل: شک نشته چې کله پاچايان يوه کلي ته ننوځې نو ورانوي يې او عزتمن خلک يې خواروي او همداسي (نور) کارونه کوي.

په وروسته وختونو کې د سولې هڅې او سولې ږغونه د هيواد له ګوټ ګوټ څخه راپورته کيږي. مخکې له دې چې د کتاب تفصيلي محتوا ته راشو، ښه به وي چې د سولې د وروستيو هڅو په اړه شته انګېرنو ته يوه لنډه کتنه وکړو، او بيا ځينې ټکي د وړانديزونو په توګه له لوستونکو سره شريکوو:

د سولې اړوند د وروستيو منډو ترړو په اړه اميدونه او اندېښنې دواړه شتون لري.

۱ – مثلا، ځينې ورته په مثبته سترګه ګوري او فکر کوي چې کيدای شې دا هڅې د دې ښکارندويي کوي چې خلک غواړي د ولسي فشار په څرګندولو سره پر ښکېلو لورو (حکومت او طالبانو) ږغ وکړي چې د سولې خبرو ته کښيني.

۲ – ځينې نور بيا اندېښنه لري چې کيدای شي چې ځينې مغرضي او بهرنی کړی به غواړي چې د سولې په ډيرو ږغونو اوچتولو سره د رښتونې سولې ږغ ورک شي.

په کابل او د هیواد لویو ښارونو کې لیدل کیږي چې د سولې رښتونې تږې هم دغه ږغ اوچت کوي، لدې سربیره په ځینو مشخصو سیاسي لورو پورې تړلي د سولې ډلې هم غونډې کوي، او غواړي چې د سولې پروسه کې په راتلونکي کې مطرح و اوسي.

## سولې ته د رسیدو لپاره ځینې وړاندیزونه لرم:

- ولسي رښتونی فشار باید د حکومت، طالب او بهرنیو کړیو تر اغېز لاندې رانه شي او ازاد پاتې شي. له ښکېلو لورو سره پرلپسې لیدنې کتنې وشي، دهغوی د غوښتنو تر اوریدو وروسته پر مناسبه حل لاره فکر وشي، او لوري وهڅول شي چې د سولې په برخه کې په عمل کې انعطاف وښيې.
- سولې ته درسیدو لپاره په کار ده چې دافغان ولس مذهبي، کلتوري، دودیز او قومي ارزښتونه په پام کې ونیول شي، د سولې تر نوم لاندې یاد ارزښتونه متضرر نه شي.
- سولې ته د رسیدو لپاره اړینه ده چې د ښکېلو لورو لخوا په رسنیو، غونډو او لیدنو کې مثبت او رغنده نظرونه او الفاظ وکارول شي، دا ډول په خبرو، څرګندونو او عمل کې له رښتونولۍ څخه کار واخیستل شي.
- د ښکېلو لورو ترمنځ د بندیانو سره ښه چلند او د بندیانو تبادله د سولې لپاره فاصلې کمولای شي.
- داسې سولې ته رسیدل اړین دي چې جګړه ختمه کړي، داسې نه چې خدای مه کړه د بلې کورنۍ جګړې پیلامه شي.
- مخکې له دې چې د سولې او تفاهم عملي بهیر پیل شي او یو هراړخیز سیاسي جوړښت باندې توافق وشي، د ښه نیت او سولې ته د لار هوارولو په موخه، ځینې ملکي، خدماتي او غیرسیاسي اداري لکه د پوهنې وزارت، د

عـامې روغتیـا وزارت، د ټولګټـو چـارو وزارت، د کـار او ټـولنیزو چـارو وزارت، د زراعت وزارت ، د کلیو پراختیا وزارت، د سرې میاشـتې لـوی ریاسـت او ځینـې نورې ادارې بې طرفه اعلان شي، د یادو ادارو لپاره په مشرتابه کـې هـم داسي خلک راشي چې هغوی په کارونو او دندو کې بېطرفي وساتلی شي.

- افغان ولس ته په سېمو کې عامه پوهاوی وشي چې د جګـړې ګټـه بهرنیـانو تـه رسیږي، او قربانیان یې یـوازې افغانـان دي. د اسـلام لـه نظـره جګـړې د امـن لپاره کیږي، نه داچې د جګړو له امله نا امني ته لمن ووهل شي.
- سولې ته د رسیدو لپاره په کار ده چې افغان ولس په یوه ږغ د بهرنیو پوځیانو د وتلو محدود مهالویش وغواړي، د افغان حکومت او بهرنیانو څخـه وغـواړي چـې په دغه برخه کې د افغان ولس غوښتنې ومني، دا ډول ولس به له طالب څخـه هم تضمین واخلي چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو د مهـالویش تـر اعـلان وروسـته به جګړه دروي او بین الافغاني تفاهم ته به پرته له قید او شرط څخه کینـي.
- د بین الافغاني تفاهم په نتیجه کې اوسنیو شرایطـو تـه پـه کتلـو پـه لنـډ مهالـه افغان شموله اداره باندې توافق ته رسیدل، چې د نړیـوالې ټـولنې ملاتـړ ورسره وي، او همدغه اداره به د راتلونکي نظام د ډول او ټاکنو لپاره کار کوي.

اوسني د اردو، پولیسو، قضاء او څارنوالي د بنسټونو له انحلال څخه مخنیوی، د هغوی ساتنه، خو سمدستي باید په یادو او نورو بنسټونو کې اصلاحات راوستل شي تر څو د حکومت اساسي بنسټونه ملي بڼه پیداکړي.

# لومړۍ خبرې

د ۲۰۱۵م کال د ډسمبر پر ۱۰مه، موږ څلور تنه ښاغلي محمد زمان مزمل، ښاغلي حاجي احمد فرید، ښاغلی مژده صاحب او زه (مطمئن) له یوه ادرسه او همداراز مولوي وکیل احمد متوکل، مولانا عبدالرزاق فتاحي او محمد شعیب د افغان بنسټ له ادرسه قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر له خوا د سولې او افغانستان اړوند مسایلو لپاره بلل شوي وو.

د طالبانو د بنسټګر، سیاسي، پوځي او روحاني مشر ملا محمد عمر مجاهد د مړینې خبر له خپرېدو وروسته دا د افغانانو لومړنۍ ډله وه چې قطر کې د طالبانو لخوا بلنه ورکړل شوې وه، ترڅو د هیواد په روانو او راتلونکو حالاتو یو له بل سره نظرونه شریک کړي.

دا هغه وخت و چې ملا اختر محمد منصور د طالبانو نوی مشر ټاکل شوی و او د قطر د سیاسي دفتر مشر سید محمد طیب اغا له دندې استعفا ورکړې وه. اوس تازه د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر لپاره سرپرست ښاغلی شیرمحمدعباس ستانکزی ټاکل شوی و.

د پېژندګلوي ناستې (۱۱ ډسمبر ۲۰۱۵) کې زموږ دواړه ډلو له طالب مشرانو سره ګډه ناسته درلودله او بیا وروسته طالب مشران له هرې افغان ډلې سره بېلا بېلې مفصلي او ځانګړې ناستې درلودلې.

د همدې ناستو په جریان کې او بیا وروسته په ځانګړې مجلسونو کې یادونه کیدله چې د افغان ځوانانو او رسنیو ځینو کسانو ته هم قطر ته د راتګ زمینه برابره شي، چې له طالب مشرانو سره مخامخ ناسته ولري.

د همدې خبرې تعقیب زما لخوا ډېر ځله د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر له غړي دکتور مزارګل صالح سره کیدی او د هغه له لارې بیا ښاغلي شیر محمد عباس ستانکزي ته پېغام رسول کیدی.

د ۲۰۱٦ کال جنوري کې د پگواش ناستې ته ډاکټر فیض محمد ځلاند هم بلل شوی و، مخکې له تگ څخه موږ یو له بل سره لنډ مجلس درلود، او بیا مو هم د ځوانانو په ورتگ او له طالبانو سره د لیدو موضوع باندي خبرې وکړې.

په قطر کې د پگواش ناستې (۲۳ جنوري ۲۰۱٦) ته زه هم بلل شوی وم، د نامعلومو دلایلو له مخې زما ویزه ونه شوه او په کانفرانس کې مې گډون ونه شو کولای.

د ۲۰۱٦ ز. کال د اپریل میاشت کې یو ځل بیا ما قطر ته سفر درلود، داځل مې هم ډېر ټینگار وو چې افغان ځوانانو ته قطر ته د ورتگ زمینه باید برابره شي چې هغه پوښتنې او اندیښنې چې د طالبانو اړوند یې لري، مخامخ ځواب ورته وویل شي.

د دکتور مزارگل صالح لخوا موږ غرمنۍ ته بلل شوي وو، ملا عبدالسلام ضعیف او له قطر دفتره ملا عبدالاحد جهانگیروال او ښاغلی سهیل شاهین او ځینې نور طالب مشران هم وو. دا ځل هم د ځوانانو اړوند بحث وشو او دا خبره چې له دکتور صالح سره مخکې شوې وه، له ښاغلي سهیل شاهین سره هم یاده شوه او ټینگار وشو، چې د افغان ځوانانو لپاره د راتگ زمینه برابره شي.

د ۲۰۱٦ ز کال د اگست میاشت کې یو ځل بیا قطر ته ولاړم، دا ځل د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړو په دندو کې بدلون راغلی وو او ښاغلی سهیل شاهین ته د قطر د سیاسي دفتر د مطبوعاتي څانگې مشري، ویندویي او د دارلانشا دنده ورسپارل شوې وه.

یوه غرمنۍ چې د ښاغلي سهیل شاهین لخوا بلنه وه، ملا عبد السلام ضعیف، دکتور مزار گل صالح، دکتور محمد نعیم وردگ هم وو، موږ بیا هم د نورو مسایلو ترڅنگ د افغان ځوانانو او رسنیو پر اهمیت خبرې وکړې او یادونه وشوه چې د کابل څخه یوه ډله ځوانانو ته قطر ته د تگ زمینه برابره شي.

ډېر پخوا لا دکتور صالح له موږ څخه غوښتې وو چې د افغان ځوانانو یو لنډ لسټ ورته ولیږو او که ممکن شوه بیا همهغه کسان د طالبانو لخوا وغوښتل شي.

دا ځل سهیل شاهین وویل چې د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر لـه مشر۔ شـیر محمـد عبـاس سـتانکزي سره یـې خـبره نهـایې کـړې او منـل شـوې چـې یـوه ډلـه شنونکي او د رسـنیو کـارکوونکي بـه قطـر تـه راغوښـتل کیـږي، هغـه هـم د افغـان ځوانانو د نومونو او لست غوښتنه وکړه.

کابل ته له راستنېدو وروسته مې له ډاکټر فیض محمد ځلانـد او اسـد وحیـدي سره په ګډه د ۱۱ تنو لست ترتیب کړ او هغه مو ښاغلي سهیل شاهین ته واستاوی.

داچې په یوه ډله کې د ۱۱ تنو تګ او هلته له طالبانو سره مخامخ خـبرې او بیـا د هر ملګري اندیښنو او پوښتنو ته ځواب ویل ډېر وخت ته اړتیا درلودلـه، دا ډول د دومره زیاتو کسانو له کابل څخه تګ هم اسانه نه وو، له همدې امله  پریکـړه وشـوه چې لومړی ځل ٦ تنه او بیا دویم ګروپ کې پاتې پنځه او زه بیا ځل ولاړشو.

د طالبانو د سیاسي دفتر لخوا د ډاکټر فیض محمد ځلاند،  دکتـور عبـداللطیف نظري، ښاغلي اسد وحیدي، ښاغلي میرویس سـتانکزي، ښـاغلي شـاپور بختیـار او زما پاسپورټونه وغوښتل شول.

دا داسي وخت دی چې د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور هم د امریکـا د بـې پیلوټه الوتکې په برید کې ډېورنډ کرښې ته څېرمه نوشکې ته نږدې وژل شوی و.

له همدې کبله سفر هم وځنډېدی، او دغه ځوانان هم نه پوهیـدل چـې کلـه بـه یې قطر ته سـفر وشي، چـې خپلـې اندیښـنې او پوښـتنې مخـامخ لـه طالبـانو سره شریکې کړي.

ډاکټر ځلاند، شاپور بختیار او میرویس ستانکزي ته دا هم ویـلي و چـې قطـر تـه تـګ د ټلـویزون لـه مشرانو سره شریـک کـړي، او لـه هغـوی څخـه رسـمي رخصـت وغواړئ، که طالبانو ته کوم پیغام درکوي، هغه ورڅخه ترلاسه کـړئ، ځکـه د طلـوع ټلویزون او طالبانو د نظامي کمیسون ترمنځ ستونزه لا هم پر ځای پاتې وه.

# د قطر پر لور

د ۲۰۱٦ز.کال د اکتوبر دویمه اونۍ وه، چې د طالبانو له سیاسي دفتر څخه احوال راغی چې ستاسي ویزې چمتو شوې، او د راتګ لپاره مناسب وخت ټاکو. هغوی ویل چې د دفتر ځینې مشران په سفر کې دي، او له دي کبله ستاسي راتګ هم ځنډول کیږي. په همغه وخت کې د ۴ اړخیزو ناستو بیاځل پیلېدو خبرې هم کیدي. د پاکستان لخوا پر طالب مشرانو د فشار او د هغوی د کورنیو له پاکستان څخه د ایستلو خبرې کیدې.

د طالبانو ځینې مشران (ملا احمدالله نانی، سلیمان اغا او ملاصمد ثاني) هم وروسته په پاکستان کې زنداني شوي ول.

د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر درې مشرانو (مولوي جان محمد مدني، شیخ شهاب الدین دلاور او ملا عبدالسلام حنفي) پاکستان ته سفر درلود او د دوی په اجنډا کې له پاکستاني چارواکو سره یوه هم د یادو دریو طالب مشرانو له زندان څخه خوشي کیدل وو.

د نومبر په دریېمه اونۍ د قطر له سیاسي دفتر څخه احوال راغی چې په راتلونکې اونۍ کې به ستاسي سفر وشي. همغه و چې د نومبر پر ۲۷مه موږ ته ټکټونه او ویزې راورسیدې.

ټول ملګري سره خبر شوو چې د نومبر ۲۸مه، ۲۰۱٦ ماسپښین 2:15 بجې الوتنه کیږي، خو موږ باید په پوره ۱۲:۰۰ بجې غرمه مهال د کابل هوایې ډګر کې د بي B موټرو تم ځای سره نږدې پټ کوچني بازار کې سره غواړو.

هغوی چې قطر ته ځي، کله ناکله په هوایې ډګر کې ورڅخه د واکسین کیدو کارډ غواړي، میرویس ستانکزي او اسد وحیدي کارډونه نه درلودل، اوس دغه ستونزه څکه حل شوي، چې د هوایې ډګر په دروازه کې د واکسین کیدو اسانتیاوي شته.

زه او اسد وحیدي یوځای په ټکسي کې هوایې ډګر ته ورغلو، نظري صاحب لږ

مخکې هلته رسيدلي وو، ميرويس ستانکزی هم راغی، شاپور بختيار تـه انتظـار وو، هغه ويل چې په پښو له مکرريانو څخه در روان شوی يم، او نـږدې يـم. مـوږ گـرده يوځای شوو، خو ځلاند صاحب لا هم نه وو رارسيدلی.

ډيره گڼه گوڼه وه، موږ هم د هوايي ډگر د بورډينگ کارډونو ځای تـه لـه سـختې تلاشي وروسته ورسيدو، بنه وو د اسد وحيدي يو ملگری پيدا شو، هغه مرسته وکـړه او زموږ پنځه ملگرو لپاره يې داسي چوکۍ راکړې چې ټول سره يوځـای وو، دا ډول مو د ځلاند په اړه هم ورته وويل چې که ممکن وي، يوه چوکۍ ورته پريښـودل شي او له موږ سره يوځای کښيني.

اسد وحيدي او لطيف نظري تر ما مخکې وو چې هغوی بايد پر خپلو پاسپورټونو له هيواده د وتلو (ايکزيټ) مهر وهلی وای، هغوی يې راوگرځول، ورته يې ويـلي وو چې ستاسي ويزې د بهرنيو چارو وزارت تاييد ته اړتيا لري.

زه پوهيدم چې ستونزه به وي، له همدې امله مـې ځـان گوښـه کـړ، او دوی تـه هيڅ تم نه شوم، يوې غرفي ته ودريدم، هغه چې زما پاسپورټ وکوت، نـور کلـه هـم قطر ته تللی وم، يوازې دومره يې وويل چې مخکې وختو کې هم په همـدې انلايـن ويزو باندي تاسي سفر کړی، ومې ويل، هو. نور يې زما لپاره په پاسپورټ کې د وتلو مهر ولگاوو، زه تير شوم، او نور ملگري يې گرځولي وو.

بيا وروسته ميرويس ستانکزي وويل چې هغه کـس چـې وحيـدي او نـور ملگـري يې گرځولي وو، هغه يو چاته ټليفون وکړ چې اصلي سړی ننوت، او هغه ته ټاپه هم وهل شوې. فکر کيږي چې زه يې ښودلم، اصـل کـې بـه يـې غوښـتل چـې لـږ مـو وځوروي، کنه دا خو زموږ حق وو چې ويزې او ټکټونه لرو، بايد ولاړ شو.

لږ وروسته يې بيا زموږ ټول ملگري يو په بل پسې را پريښودل، او مـوږ پـه انتظـار ځای کې ناست وو، هلته ډير ځوانان او کسان راتلـل او لـه مـوږ سره بـه يـې روغبـړ کاوو، ځکه په ٦ تنو کې يې ټول داسي وو چې د ټلويزون په پردو خلکـو ليـدلي وو،

او هر یوه خپل ځانګړې مینه وال هم درلودل.

د ماسپښین لمونځ موږ په ګډه په جماعت سره ادا کړ، له مسجد څخه راوتلو وروسته بیا هم ځوانان او خواخوږي زموږ د روغبړ لپاره راتلل، ډېری داسي کسان وو چې عرب هیوادونو ته د مزدورۍ لپاره تلل.

موږ په الوتکې کې یوځای وو، زه، وحیدي او نظري په یوه چوکۍ کې، او څنګ ته چوکۍ کې بختیار او ستانکزی وو، ځلاند ته د دوی څخه شاته چوکۍ ورکړل شوې وه، د بختیار او ستانکزي په منځ کې ناست ځوان څخه مو وغوښتل که همدا ځای له ځلاند سره بدل کړي، د هغه دي کور ودان وي، سمدستي یې همدا ځای ځلاند ته پرېښود.

ځلاند هم له کیناستلو سره سمدستي سیلفي انځور (ځلاند، ستانکزی او بخیتار) واخیست او پر خپل فیسبوک یې خپور کړ. چې ډېر ژر روان یو. دا یې ونه لیکل چې چیرته روان یو.

په الوتکه کې مو بانډار تازه وو، وحیدي صاحب او ځلاند صاحب ټوکې کولي. ډېر مو هغه وخت وخندل چې یوه ملګري ټکټ وکتی، په تعجب سره یې ویل چې د دوبۍ او قطر تر منځ پنځه دقیقي لاره ده. بیا نو کومه اړتیا ده چې په الوتکه کې ځو، خو ټکسي کې به ولاړ شو، دا خو ډېره لږ لاره ده، ومې خندل او بیا مې ورته وویل چې پنځه دقیقي خو په پښو هم تلای شو، نه پوهیږم چې ولي یې داسي کړي!

اصل کې د دوبۍ او دوحې ترمنځ د وخت بدلون بشپړ یو ساعت دی، او پرواز یو ساعت او پنځه دقیقي وو په اووه بجې مو پرواز وو، د قطر وخت اوه بجې او پنځه دقیقي رسیدو.

د دوبۍ هوایې ډګر ته ننوتلو، د مازیګر لمونځونه مو په الوتکې کې کړي وو، او د ماښام لمونځونه مو دوبۍ کې وکړل، هلته هم چې کومو افغانانو به وپېژندلو راتلل، او بیا به یې د انځور اخیستلو غوښتنه هم درلودله، شاپور بختیار ډېر او میرویس ستانکزي هم داسي خوښه وه چې انځورونه ډېر وانه خیستل شي او

خلک ډیر خبر نه شي چې موږ قطر ته روان یو.

له دوبۍ څخه دوحې ته موږ پرواز په خپل وخت وشو، د دوحې ډیر ښایسته هوایې ډګر دی، داځل ډیر ښه وو، دوحې ته د داخلیدو لپاره نه خو د خلکو هومره زیاته ګڼه ګوڼه وه او نه هم هغو کسانو چې قطر ته د داخلیدو مهر یې واهه، له موږ او ملګرو څخه پوښتنې ونه کړې.

خپل بکسونه مو راواخیستل، په مشوره باندی اسد وحیدی ځینې سیاسي او تاریخي کتابونه چمتو کړي وو چې د قطر ملګرو ته یې ورکړو، زما په بکس کې هم وطني داسي څه وو چې بهرنیانو ته نا اشنا وو، کتابونه ځینې یې د میرویس ستانکزي په بکس کي وو، د دوحې په هوایې ډګر کې یې زه او هغه د بکس د تلاشي کولو ځای ته بوتلو، بیا یې ستانکزی بل ځای ته بوتی، او کتابونه یې وګرځول، چې د ترهګري لپاره نه وي، ځکه جهاد، داعش او امریکا د ځینو کتابونو په لومړي مخ لیکل شوې وو.

د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر څخه زموږ لپاره د دوحې هوایې ډګر ته ښاغلی عزیز مسرور قاري عبدالحمید احمدي راغلي وو، هوایي ډګر کې دننه ستانکزي ته منتظر وو، لږ وروسته هغه هم راغی، د هوایې ډګر د کتابونو د ځارنې څانګې لخوا یو کاغذ او د ټلیفون نمبر ورکول شوی وو، ورته ویل شوي وو چې کتابونه کتل کیږي او بیا یې له همدې نمبر څخه پوښتنه کوئ.

د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر د تشریفاتو کسانو موږ په دوو موټرو کې د دوحې ښار مرکزي برخه کې د رتاج الریان هوټل ته یوړو.

په هوټل کې دننه د قطر د سیاسي دفتر د تشریفاتو د مشر حاجي داوود عابد لخوا ښه راغلاست وویل شو، زموږ د هر یوه لپاره ځانګړې کوټې بیا هم یو بل ته نږې په څلورم منزل کې راکړل شوې.

د ماښام ډوډۍ موږ ٦ ملګرو یو ځای د هوټل په رستورانت کې وخوړله، او موږ

ته وويل شول چې سبا لس بجې به د طالب مشرانو سره د پېژندګلوي مجلس د همدې هوټل د ناستې په سالون کې کيږي.

سهار چای موږ، ځلاند او وحيدي يوځای وڅښی، درې نورو ملګرو مخکې چای څښلی وو، دلته مو بحث وکړ چې طالبان ډېر تشريفات نه کوي، او نه هم له افغانانو سره له تشريفاتي ډيپلوماسي څخه کار اخلي ، ځينو ملګرو بهر هيوادونو ته سفرونه کړي، داسي نه وي چې خواهشات لوړ وي. د همدې خبرې لپاره د بختيار، ستانکزي او نظري کوټو ته هم ورغلو، او هغوی ته مو وويل چې د طالبانو څخه د ليدنې، خبرو او راشه درشه په وخت کې د ډيپلوماسي توقع ونه شي، هغوی به زموږ سره د خپلو افغان کليوالو په ډول چلند کوي.

## د امنيت شورا له غړي سره ليدنه

دوه اوونۍ وړاندې ډاکټر فيض محمد ځلاند او ما د امنيت شورا له غړي ښاغلي محمد قاسم حليمي سره وليدل. د افغان بنديانو اړوند مو ورسره بحث درلود، د بګرام او پلچرخي زندانو کې له بنديانو سره د ناوړه چلند د نسبې ښه کيدو په اړه مو ورسره خبرې کولې.

په وروستيو وختونو کې د اعدامونو سزا هم ځينې بنديانو ته د لومړۍ او دويمو محاکمو لخوا اورول شوې وه.

د بګرام زندان څخه داسي راپورونه هم په شخصي ډول موږ ته رسيدلي وو چې هلته ځينې بنديان په ډيرو وړو او تنګو کوټو کې ساتل کيږي، او د باندي لمر ته د وتلو اجازه هم نه ورکول کيږي.

د بګرام بنديانو ته په درې مياشتو کې يو ځل پاکې جامې وربدليږي، او دا ډول کله چې ناروغ شي، هيڅ ډول د صحت اسانتياوي هلته د بنديانو لپاره په نظر کې نه دي نيول شوې.

دا ډول د پلچرخـې زنـدان څخـه هـم مـوږ تـه پـه شخصي- ډول داسي پيغامونـه رسيدلي وو چې له بنديانو سره ډير ناوړه چلند کيږي.

د پاکو جامو نه شتون، د رنځورو زنـدانيانو نـه تـداوي، دا ډول لـه بنـديانو سره د پخوانيو افغان پرچميانو ناوړه چلند څخه زندانيانو سر ټکولی دی.

ښاغلی حليمي چې د طالبانو د نظام پرمهال يې د بهرنيـو چـارو وزات کـې کـار کاوو، له مولوي وکيل احمد متوکل سره نږدې پاتې شوی.

د کرزي د حکومت پـه لومړيـو وختونـو کـې د شـمال ټلـوالي لخـوا بنـدي او بيـا وروسته د بگرام زندان ته واستول شو.

لـه زنـدان څخـه تـر راخلاصـيدو وروسـته يـې پـه سـتره محکمـه کـې لـوړه دنـده درلودله، او د قبا په نوم خيريه انجيو لري.

له ډاکټر اشرف غنـي سره د ولسمشر-يزو ټـاکنو پـه کمپـاين کـې ملگـری او ډيـر نږدې پاتې شوی. د استخباراتو د مشر معصوم ستانکزي او د امنيـت شـورا د مشر- حنيف اتمر سره نږدې اړيکې لري.

هغه د بنديانو په اړه معلومات راسره شريک کړل، ويل يې چې کار روان دی چې د استخباراتو ۹۰ رياست لغوه شي، ځکه همدلته ډيری بنديان شـکنجه او تـر ډيـر وخت پوري پکې ساتل کيږي.

هغه داهم وويل چې د يادو ستونزه له امله د پلچرخـې زنـدان قومنـدان هـم څـو ورځې مخکې تبديل شو، او کوم بل ولايت ته واستول شو.

ژمنه يې وکړه چې د بنديانو اړوند ستونزې به معصوم ستانکزي سره شريکوي.

ښاغلي حليمي دا هـم وويـل چـې د سـولې اړونـد، د بنـديانو د سـتونزو او بيـان ازادي په اړه به د استخباراتو له مشر معصوم ستانکزي سره هم ناسته ولرو.

څو ورځې وروسته د نومبر ۲۳مه ۲۰۱٦ د ماښام ۴ بجې مـوږ بيـا ځـل د ښـاغلي قاسم حليمي شخصي استوگنځي ته ورغلو، او د شپې تر اوه بجو ورسره پاتې شوو.

دا ځل بیا هم د بندیانو د شکنجو او بې ځایه ځورونو دا ډول د طالب په تور ځینې بې ګناه کلیوال کسان نیول او زندان کې پټ ساتلو اړوند مو ورسره بحث درلود.

موږ په دواړو مجلسونو کې د سولې پر اهمیت او ارزښت باندي ټینګار درلود، دا ځل مو هم د سولې خبره حیاتي وه، تر څو چې سوله نه وي شوي، همدا بدبختۍ او ناخوالي به شتون ولري.

ښاغلي حلیمي هم د سولې په ارزښت خبره وکړه، ویل یې چې د سولې په راوستلو کې ولسمشر اشرف غني، معصوم ستانکزی او حنیف اتمر ربښتونې دي، دوی غواړي چې په هیواد کې سوله وشي، حزب اسلامي سره د سولې پروسه کې همدوی ډیر جدي وو.

هغه وویل چې د سولې مخالفې کړۍ هم په حکومت کې دننه او دباندي شتون لري، هغوی په سوله کې خپلې شخصي ګټې او چوکۍ له لاسه ورکوي، ځکه د سولې مخالفت به کوي.

ښاغلي حلیمي وویل چې د استخباراتو مشر معصوم ستانکزي ته مې ستاسي د سولې پیغام، له بندیانو سره د ناوړه چلند او د بیان ازادي اړوند پیغامونه رسولي دي، هغه ډیر خوښ وو، او د ناستې لپاره یې هوکړه کړي، کیدای شي په ډیر نږدې وخت کې ورسره ناسته ولرو.

مخکې له دي چې مجلس پېل کړو، موږ دوو ملګرو مشوره کړي وه چې حلیمي صاحب ته به وایو چې قطر ته ځو، هلته له طالب مشرانو سره ګورو، که حکومت ربښتیا هم سولې ته ژمنتیا لري، نو چې کوم د سولې اړوند پیغام وي، موږ به یې په سم ډول سره طالب مشرانو ته ورسوو.

ښه موقع وه، داځل مو له موقع څخه په استفادي ښاغلي حلیمي ته وویل چې موږ په راتلونکې اوونۍ کې قطر ته سفر لرو، او طالب مشرانو سره ګورو، که د معصوم ستانکزي سره ناسته په وخت وشي، او د سولې اړوند د هغه کوم ځانګړی

پېغام وو، ورڅخه ترلاسه یې کړو.

ښاغلي حلیمي ژمنه وکړه چې ډېر ژر به له ستانکزي صاحب سره ناسته برابره کړي، ولې تر هغه وخت پورې چې موږ قطر ته روانېدو، بیا د حلیمي صاحب سره اړیکه ونه نیول شوه، او ویې نشو کولای چې د استخباراتو له مشر سره دغه مهمه او ارزښتناکه ناسته وشي.

د مازیګر او ماښام لمونځونه مو د حلیمي صاحب د قبا انجیو دفتر کې وکړل، هلته د هغه مشر ورور هم ناست وو، هغه کلیواله وطني لونګي پر سر تړلي وه، او د طالبانو خاطرې یې یادولې.

ویل یې هر وخت چې کله له لوګر څخه کابل ته راځم، او یا به پخوا له غزني څخه کابل ته راتلم، پر لاره به امنیتي پولیسو ډېر تکلیف کولم، هغوی به ویل چې ته طالب یې، او ما به هم ورته ویل چې تاسي رښتیا وایاست، د وطن خلک طالبان دي، که ستاسي دغه ډول وضعیت له خلکو سره وي چې هر پټکي[1] وال ته طالب وایاست، ښه به دا وطن راجوړ کړئ!

---

[1] د هیواد په لیري پرتو سیمو کې په عمومي ډول هیوادوال دهیواد د جنوب او لویدیځ اوسیدونکي لنګوټې تړي، په ختیځ او شمال ولایتونو کې بیا مشران او سپین ږیرې خلک لونګۍ ، ځوانان او د پاخه عمر لرونکي کسان پکول کاروي.

## لومړی څپرکی

**طالب مشرانو سره د ورغلو شنونکو او ژورنالستانو ناستې**

## د طالب مشرانو سره د پیژندګلوي ناسته

زه پوهیدم چې د مجلس سالون ته به د ټلیفون وړلو اجازه نه وي، او نه به هم د انځور اخیستلو لپاره طالبان چمتو وي، ملګرو ته مې مخکې له مخکې وویل چې ټلیفون مو په کوټه کې پریږدئ، ځکه تیر کال ډسمبر کې هم د طالب مشرانو سره د مجلس پر مهال موږ ته ویل شوي وو چې ټلیفون مو د مجلس ځای ته مه راوړئ.

د نومبر ۲۹مه ۲۰۱٦ ز. کال د سهار نږدې لس بجې وي، د رتاج الریان هوټل عمومي سالون ته ور کښته شوو.

موږ ټول شپږ واړه ملګري یوځای راکښته شوو، کوربه طالب په ډیر ادب سره وویل چې که تاسي سره ټلیفون وي، ماته یې راکړئ چې خوندي ځای یې کیږدم، موږ وریاده کړه چې په کوټو کې مو ایښي.

ځینې طالب مشران له موږ مخکې همدې سالون ته ننوتلي وو، په مینه یې له هره یوه سره په غیږ روغبړ وکړ، د ځینو یې د عربو په ډول جامې پر تن او پر سر همهغه ډول سره دسمالونه ایښې وو، لږ شېبه وروسته د طالبانو ملګري هم راپوره شوو، او مجلس د قران کریم په تلاوت سره پیل شو.

د لیدنې لومړۍ ورځ وه، یوازې د پیژندګلوي لپاره ورځ ټاکل شوی وه، ولي پکې ځینې پوښتنې هم وشوې.

د قطر د سیاسي دفتر مشر ـ ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزي له کابل څخه ورغلیو شپږ کسانو ته ښه راغلاست ووایه، او دارنګه د قطر د سیاسي دفتر طالب مشران او استازي د ښاغلي سهیل شاهین لخوا موږته په لاندي ډول را وپیژند شول:

(( ښاغلی شیرمحمد عباس ستانکزی د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر مشر ـ د رهبري شورا غړی[1]، د ارکانو شورا مشر[1]، د طالبانو د نظام پرمهال د بهرنیو چارو او

[1] د طالبانو رهبري شورا: په رسنیو کې د کوټې شورا په نوم باندي یادیږي، او تر ټولو باصلاحیته مرکزي شورا ګڼل کیږي.

بیا وروسته د عامې روغتیا وزارتونو مرستیال وزیر؛ شیخ شهاب الدین دلاور د قطر د سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی، د ملکي وژنو د څیړنې د برخې مسوول، د طالبانو د نظام پرمهال د کندهار د تمیز محکمې رئیس، او په اسلام اباد کې سفیرپاتې شوی؛ شیخ سید رسول حلیم د قطر د سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی؛ ښاغلی سهیل شاهین د قطرد سیاسي دفتر ویاند او د اړیکو مسوول، د ارکانو شورا غړی، د طالبانو د نظام پرمهال د کابل ټایمز ورځپاڼې مسوول مدیر، په اسلام اباد کې د افغان سفارت مرستیال ؛ ملاعبدالاحد جهانګیروال د قطر سیاسي دفتر غړی، د طالبانو دنظام پرمهال د ملا محمد عمر مجاهد کاتب او نظامي سلاکار؛ قاري دین محمد حنیف د رهبري شورا غړی، د قطر د سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی، د طالبانو د نظام پرمهال د پلان او بیا وروسته د لوړو زده کړو وزیر؛ مولوي جان محمد مدني د قطر د سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی، د طالبانو د نظام پرمهال په متحده عرب اماراتو کې سفیر؛ ملا زاهد احمدزی ، د رهبري شورا غړی او دقطر د سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی، ډاکټر محمد نعیم وردګ د دفتر غړی، ښاغلی عمار یاسر د دفتر غړی، ښاغلی عزیز مسرور د دفتر غړی، مولوی هدایت الله د دفتر غړی، استاد نجیب الله د سیاسي دفتر غړی، حاجي محمد داود عابد د قطرسیاسي دفتر د تشریفاتو مشر. ښاغلی منیر سادات د سیاسي دفتر غړی دی.))

له ما څخه غوښتنه وشوه چې له کابل څخه ورغلي سیاسي شنونکي او د رسنیو فعالان لنډ ور وپېژنم، ما هم په دې ډول ور وپېژندل:

---

[1] ارکانو شورا: د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر د مشرانو او پریکړو کونکو غړو شورا ده چې ۹ تنه غړي لري ( ښاغلی شیرمحمد عباس ستانکزی، حاجي زاهد احمدزی، شیخ شهاب الدین دلاور، شیخ سید رسول حلیم،، ملاعبدالسلام حنفي، قاري دین محمد حنیف، ښاغلی سهیل شاهین، مولوي جان محمد مدني اومولوي ضیاء الرحمن مدني)

((ډاکټر فیض محمد ځلاند د کابل پوهنتون استاد او د سولې فعال؛ دکتور عبداللطیف نظري د غرجستان پوهنتون بنسټ ایښودونکی، د پوهنتون استاد د اصلاحات اخبار مسوول مدیر؛ استاد اسد وحیدي د سرنوشت ورځپاڼې مسوول مدیر او د کابل پوهنتون استاد؛ ښاغلی میرویس ستانکزی د شمشاد نړیوال ټلویزون د سیاسي بحثونو ( تاوده بحثونه) کوربه او ښاغلی شاپور بختیار د طلوع نیوز او لمر نړیوال ټلویزون د سیاسي بحث (تودې خبرې) کوربه.))

له پېژندګلوي وروسته ښاغلي شیر محمد عباس ستانکزي خبرې پیل کړې:

(( موږ غواړو چې دغه ډول لیدنې کتنې دوام پیدا کړي، همدا نن یوازې لنډه کتنه او پېژندګلوي ده، سبا ورځ به زموږ ملګري ستاسې سره په ځانګړو مسایلو خبرې کوي، که اړتیا وه درېیمه ورځ به هم تاسې سره د سیاسي دفتر غړي ناسته ولري.

د طالبانو خوځښت په ۱۹۹۴ز.کال کې پیل شو، له هغه وخت څخه ورسره ملګری وم، له دې څخه مخکې د پخواني شوروي اتحاد پر ضد جنګیدونکو افغان مجاهدینو سره ملګري وم، د پاکستان د بلوچستان ایالت په کوټه ښار کې د اتحاد اسلامي افغانستان (استاد عبدرب الرسول سیاف ډلې) لخوا د سویل لویدیځې حوزې لپاره نظامي مسوول وم.

مجاهدینو د خپلواکۍ لپاره جهاد کاوو، غوښتل یې چې اسلامي نظام حاکم شي، د بېلابېلو ستونزو له کبله مجاهدین ونه توانیدل چې یو مشترک نظام ولري او په افغانستان کې اسلامي نظام قایم کړي.

افغانانو هر وخت د جګړې ډګر ګټلي ولي په سیاسي ډګر کې ناکامه شوې، همداسي وشول، د جهاد پر مهال مو جګړه وګټله مګر په سیاسي ډګر کې زموږ د مجاهدینو مشران پاتې راغلل.

په پېښور کې د مجاهدینو اووه ډلې[1] وي، په ایران کې د مجاهدینو د اهل تشیع اته ډلې[2] وي، چې وروسته یې په ګډه حزب وحدت ګوند جوړ او د استاد عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې سره یو شوې.

د پېښور اووه جهادي ډلې بیا د حضرت صبغت الله مجددي په مشرتوب د موقت حکومت په جوړولو سره په پېښور کې هوکړې ته ورسیدل، د کابل تر سقوط وروسته حضرت صبغت الله مجددي د مجاهدینو د دورې لومړی ولسمشر وو.

په کابل کې د مجاهدینو ترمنځ خپلمنځي جګړې پیل شوې، ډېرې ناوړه پیښې وشوې، د کابل ښار مکروریانو کې یوې پېغلې معصومې نجلۍ له لوړ پوړ څخه ځان په ځمکه وغورځاوو او شهیده شوه، هغې خپل عزت وساتی. دا ډول ډېرې پیښې شوې چې په عزتونو او ناموس د وسلوالو لخوا تیری شوی، د خلکو په سرونو کې میخونه [3] ټک وهل شول.

---

[1] حزب اسلامي افغانستان (حکمتیار) ، جمعیت اسلامي افغانستان ( استاد برهان الدین رباني)، حرکت انقلاب اسلامي افغانستان (مولوي محمد نبي محمدي)، اتحاد اسلامي افغانستان ( استاد عبدالرب رسول سیاف)، اسلامي حزب (مولوي خالص بابا)، محاذ ملي افغانستان (پیر سید احمد ګیلاني) او نجات ملي افغانستان (پروفیسور صبغت الله مجددي).

[2] حزب الله افغان، سازمان نصر (محمد حسن صدیقي او عبدالعلي مزاري)، سپاه پاسداران انقلاب اسلامي افغانستان (شیخ اکبري)، شورای انقلابي اتفاق اسلامي (سید علي بهشتي)، جنبش انقلاب اسلامي (بخ هربري نصرالله نصور)، حرکت اسلامي افغانستان ( شیخ اصف محسني او شیخ صادق هاشمي)، اتحاد مبارزان اسلامي (مصباح ساده)، حزب رعد افغانستان (عبدالجعفر نادري او اسماعیل بلخي). په ۱۹۸۹ز. کال کې د اهل تشیع اکثره احزاب د حزب وحدت تر نامه لاندې د استاد عبدالعلي مزاري په مشرۍ یوځای شول، او حزب وحدت د هزاره ورونو د اصلي جریان په نوم وپېژندل شو.

[3] ډېری داسې راپورونه شتون لري چې د استاد سیاف او عبدالعلي مزاري ترمنځ د جګړو پرمهال د هزاره جنګیالیو لخوا د پښتنو زندانیانو په سرونو کې د هغوی په ژوندون میخونه ټکوهل کیدل. او له میرمنو څخه په ژوندون دهغوی سینې (طی) پریکول شوې.

زموږ ملي شتمنۍ چور او تالان شوې، بانکونه لوټ شول، د ملي موزیم ارزښتناک توکې غلا شول او ملي بنسټونه ونړول شول.

کله چې مجاهدین کابل ته ننوتل د بگرام، کندهار او شینډنډ په هر هوایي ډگر کې نږدې ۱۲۰ جنگې الوتکې موجودې وې. په لږ وخت کې دا هر څه لوټ شول. همدا ډول ټانکونه او لیري ویشتونکې راکټونه د سکاډ او لونا په شمول د خپلمنځې جگړې لپاره وکارول شول، غلا شول او خرڅ شول.

په ولایتونو کې انارشي او ملکو الطوایفي وه، کابل ښار د واک په مختلفو جزیرو ویشل شوی وو، له یوې ناحیې بلې ته تگ مشکل وو، ځکه بېلابېلو گوندونو په کابل کې ځینې سیمې تر کنټرول لاندې درلودلې.))

کله چې د طالبانو د سیاسي دفتر د مشر دغه خبرې کولې زما په ذهن کې د جهاد او بیا وروسته د کورنۍ جگړې یادونه تازه کېدل، زموږ یاد دي چې مجاهدینو ته افغان ولس ډېر زیات درناوی درلود، هغوی سرو لښکرو ته ماتې ورکړې وه، زما به کله هم هیر نه شي چې کله موږ د حزب اسلامي مجاهدینو سره یوځای د کابل له جنوب څخه د چهار اسیاب د لاري ښار ته را ننوتلو، د سیمې خلکو له خپلو کورونو څخه چای او وچه میوه سړک ته را ایستلې وو او د مجاهدینو راتگ ته یې خوشالي کوله، ولې د دوی دغه خوشالۍ ډېرې لنډې وې او ډېر ژر په غم بدلې شوې، کورنۍ جگړې پیل شوې.

زموږ ښه یاد دي چې په ننگرهار او خوست کې جوړ او روغ ټانکونه اره کېدل او د کباړ په نوم یې پرزې پاکستان ته د لیلام لپاره وړل کېدې، دا ډول د جیټ الوتکو او چورلکو مهمې پرزې په ښکاره د ټوپکوالو له خوا پاکستان ته قاچاق کېدی او هلته په تور بازار کې په ډېره ټیټه بیه خرڅیدلې.

خلک د مجاهدینو له ناسمو کړنو څخه ډېر په تکلیف راغلي وو، د بدلون تمه یې درلودله، ښاغلي ستانکزي د هغه وخت ځینو بدو پېښو ته هم اشاره وکړه:

(( د هلکانو سره ښکاره ودونه وشول[۱]، زه څکه دا خبرې ډېرې ښکاره کوم چې موږ ټول خپلو کې افغانان یو، پردیو ته یې نه کوم، امریکا کې تیر کال همجنس بازي ته اجازه ورکړل شوه، مگر په افغانستان کې نږدې ۲۳ کاله مخکې دا کار د وسلوالو لخوا په بې شرمۍ سره شوی وو.

د استاد برهان الدین رباني حکومت چارواکو ته له بېلابېلو ولایتونو څخه د خلکو استازي ورغلل، ورڅخه یې وغوښتل چې د مجاهدینو خپلمنځي اختلافات حل کړي، جگړې ودروي، ولي هغوی ورته توجه ونه کړه.

همدا پورته ناخوالي د دي لامل شوې چې یوه ډله خلک راپورته شي، د ناخوالو په مقابل کې ږغ اوچت کړي، وسله واخلي او له خپلسرو وسلوالو څخه خپل مظلوم ولس په امن کړي.

تاریخ ته په کتلو سره په تیرو وختونو کې هم له ولایتونو پاڅونونه او حرکتونه پېل شوي، د انگریزانو او روسانو مقابل کې د ولایتونو څخه د هغوی په مقابل کې ولسي خوځښتونه پېل شوې وو.

طالبانو له خپلو کلیوالي مدرسو څخه په لومړي ځل د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ له کندهار څخه د یادو ناخوالو پر ضد خپل ولسي حرکت پېل کړ. طالبانو نه غوښتل چې ټول کندهار ولایت تر خپل کنټرول لاندې راولي، بلکې د یوې ځانگړې سیمې لپاره یې حرکت پېل کړ، ولي ولسونو ورڅخه وغوښتل چې د هغوی سیمې هم له ناقانونه وسلوالو څخه خلاصې کړي.

طالبانو سره ولس په زور نه دي یوځای شوی او نه هم طالبانو له خپل ولس

---

[۱] ویل کیږي چې کندهار کې دمجاهدینو د خپل سریو په وخت (۱۹۹۲ – ۱۹۹۳ز. کال) کې د جمعیت اسلامي د مشهور قومندان ملا نقیب الله اخوند یوه سر گروپ خان محمد خان د یوه مشهور دیني عالم مولوي عبدالرب اخوندزاده له زوی سره د ملگرتیا (همجنس بازي) ژمنه د یو لړ مراسمو په نیولو سره کړي وه. دا خبره ډېره موثق نه ده.

څخه په زور سره سیمې نیولي، بلکې همدي ملت یې مرسته وکړه او ورسره یوځـای شول، هغه ملت چې د انګریز او پخواني شوروي اتحاد پوځیانو ته یې ماتې ورکـړې وه. مګر د طالبانو په غاړو کې یې ګلان ور واچـول او خپلـو سـیمو تـه یـې د دوی د ورتګ بلنه ورکړه.))

زما (لیکوال) ښه یاد دي چې له طالبانو سره افغان ولس په ډیرو سیمو کـې پـه خپله خوښه د طالبانو ملګرتیا په لومړیو کې وکړه، ولي په وروستیو وختونـو کـې پـه ګڼو سیمو کـې خلـک د طالبـانو اړنـد د واک لـه انحصـار څخـه راضي نـه وو، او پـه جګړو کې د جلب او جذب د لاري عـام افغانـان وژل بلـه سـتونزه وه چـې خلـک او طالبان یې یو له بله سره لیري کول.

ښاغلي ستانکزي زیاته کړه : (( د طالبانو تر واک لاندي په ٪۹۵ خاوره کې امنیـت کم ساری وو، د کوم چا په عـزت بانـدي لـوبې نـه دي شـوې، د چـا بـې عـزتي نـه ده شوې، ځکه دوی خپل هیواد ته ربښتوني وو، اسلامي قوانین یې د شریعت په رڼا کـې قایم کړل او هغه یې د ټولنې په وګړو پرته له تفکیک څخه تطبیق او عملي کول.

نړۍ د طالبانو خلاف تبلیغات کول، مګر طالبانو د ځینو په شـمار مجـرم کسـانو باندی د حدود او قصاص په تطبیق کولو سره په ټول هیـواد کـې امنیـت راوسـتی، ولس ته یې خوندیتوب ورپه برخه کړ، کلي او ښارونه په امن شول، د خلکو عامـه او شخصي شتمنۍ خوندي شوې.))

زه (لیکوال) د طالبانو د نظام پر مهال بېلابېلو ولایتونو ته تللی یـم، امنیـت ډیـر ښه و، اوس هم چې په کومو سـیمو کـې طالبـان پـه بشـپړ ډول واکمـن دي، هلتـه امنیت ښه دی، د هلمند په اکثره سیمو کې خلک د شپې مهـال د کورونـو دروازې د غلو او داړه مارانو له ویرې نه بنـدوي، بـرعکس پـه کابـل، کنـدهار، هـرات، مـزار، ننګرهار او نورو ښارونو کې غلاوې ډیرې شوې، په لښکرګاه کې اوس غلاوي دومـره زیاتې شوې چې د لښکرګاه اوسیدونکې یې لـه اندیښـنې سره مـخ کـړي او کورنیـو

رسنیو راپورونه هم پرې ورکړل.

ښاغلي عباس ستانکزي د امنیت په اړه وویل: (( که له هر افغان څخه پوښتنه وشي، هغه امنیت غواړي، که امنیت نه وي، په نورو برخو کې هم پرمختګ نه شي کیدای، د پوهنې برخه کې ښوونځي ته هم زده کوونکي نه شي تلای او دغه برخه کې هم د نا امنۍ له کبله به ستونزې وي.

طالبانو د کوکنارو کرکېله ودروله [۱]، په مقابل کې یې نړیوالو مرسته ونه کړه، بلکې بندیزونه یې پرې ولګول، ولې بیا هم د کوکنارو کښت صفر ته کښته شو.

که د نشه یې توکو د استعمال پرتله له اوس وخت سره وشي، د طالبانو په وخت کې ممکن ډیر لږ روږدې کسان به وو، مګر اوس د روږدو کسانو شمېر درې میلیونو ته رسیږي. د کابل تر پل سوخته لاندې چې د ټلویزون پر شیشه وینو، زړه مو ډیر پرې سوزیږي.

د طالبانو د نظام پرمهال زه د عامې روغتیا وزارت مرستیال وزیر وم. د ایډز ناروغي یوه پېښه موږ ولیده، هغه هم یو افغان په سعودي عربستان کې په دې ناروغي اخته شوی وو او افغانستان ته یې راولیږی، هغه ناروغ کس موږ منحصر وساتی، تر څو دا مهلکه ناروغي نورو افغانانو ته سرایت ونه کړي، اوس خو د ایډز ډیرې پیښې لیدلې او ثبت شوی دي، او په دې برخه کې کنټرول هم پرې نشته.))

د اچې طالبان د کوکنارو د کر کیلې د صفر کیدو ادعا لري، هغه کلونه چې د کوکنارو کر کیله بنده شوه، ز ه (لیکوال) په هلمند کې وم، ویل کیدل چې د

---

[۱] په ۲۰۰۰ ز.کال کې د طالبانو لخوا د کوکنارو په کرکیلې بندیز ولګیدی، او د هیواد په ګوټ ګوټ کې د کوکنارو کر صفر ته راټیټ شو. ولې نړیوالو د طالبانو د دغه کار په اړه کوم مثبت عکس العمل ونه ښود، بلکې ویل یې چې طالب مشرانو او قاچاق کوونکو د کوکنارو ذخیرې پټې کړې، د دې لپاره یې د کوکنارو پر کښت بندیز ولګاوو چې کوکنار لوړ قیمت پیدا او بیا دوی خپل ذخیره شوې کوکنار په لوړ نرخ خرڅ کړي.

هلمند په ليري پرته ولسوالۍ باغران په ځينو سېمو کې د کوکناره کښت شوی، زما ياد دي چې د باغران غرنۍ سيمو ته د هلمند والي او نور کسان د کوکنارو د کښتو اړولو لپاره ولاړل.

ښاغلي عباس ستانکزي وويل: (( امنيت هغه ډول دی چې مرکز کابل کې هم تښتونې کيږي او بيا د پيسو په مقابل کې خوشي کيږي او يا که پيسې ورنه کړل شي، تښتول شوی کس په ډيره بې رحمې سره وژل کيږي.))

رښتيا هم چې په وروستيو وختونو کې د ماشوم اباسين ځدراڼ تښول له کابل ښخه او بيا په ډير بې رحمانه ډول د هغه شهادت لويه غميزه وه، قاتلان يې نيول شوې مگر دا دی نږدې يو کال کيږي چې لا هم هغوی په سزا نه دي رسيدلي.

طالب استازي زياته کړه: (( موږ افغانان کله هم نه غواړو چې پوخ سړک زموږ د سر، ناموس او خپلواکۍ په قيمت جوړ شي. همهغه خامه سړکونه ښه دي خو چې انسان ازادي ولري، امنيت او سوله وي، خو که امن او ازادي نه وي، دا هر څه محفوظ نه وي، دا بيا کله منل کيدای شي.

موږ غريب هيواد يو، د نړيوالو مرسته له افغانستان سره غواړو، ولي داسي کله هم نه غواړو چې د مرستو په عوض کې مو ملي حيثيت ته صدمه ورسيږي، قومي او مذهبي جگړو ته لمن ووهل شي، ستونزې مو تر منځ پيد اشي، بيا نو وږي ښه يو خو چې عزتمند پاتې شو.

زموږ گناه د اسلامي نظام اعلان وو، له اولي ورځې تر اخره لويديځ راسره دښمني کوله، که د کوم مجرم او غل لاس به پري شو، ټولې نړۍ به ورڅخه ډنډوره جوړه کړه، مگر د نيويارک د وژنو او جرمونو په اړه به يې يوازې د راپور تر حده اکتفا کوله.))

د ښاغلي ستانکزي نظر ته په درناوي، مگر له لومړي سره طالبانو اسلامي نظام اعلان کړی وو، خو لويديځ يې په وړاندي د تقابل خبرې نه کولي، ځينې افغانان او

بهرني څېړونکي په دي ګروهه دي کله چې د ترکمنستان څخه د پاکستان د لاري هند ته تلونکي د ګازو نل ليکې قرارداد امريکايي کمپنۍ يونيکال ته ورنه کړل شو، او هغه قرارداد د ارجنټاين له بريداس کمپنۍ سره د افغانستان، ترکمنستان او پاکستان لخوا وشو، نتيجه دا شوه چې يونيکال په افغانستان کې خپل دفترونه وتړل او په افغانستان د امريکا لخوا د حملې لپاره چمتووالی نيول کيدی.

د ميرمنو د حقونو او زده کړو په اړه ښاغلي عباس ستانکزي وويل :

(( د ميرمنو په اړه زموږ تګلاره او هغوی ته په حق ورکولو کې موږ اسلامي ارزښتونو ته کتل، که له هرې مسلماني ښځې پوښتنه وشي، نه غواړي چې د پرديو سړو د جنسي تجاوز لپاره وکارول شي او يا د هغې له وجود څخه ناسمه استفاده وشي. په نړۍ کې هيڅ کومه ميرمنه دا ډول کړنې نه خوښوي، موږ ښځو ته د هغوی حق د وخت او شرايطو په نظر کې نيولو سره ورکړی وو.

د زده کړو په برخه کې مو تر خپل وسه او بوديجې ته په کتلو سره د هلکانو او نجونو لپاره ښوونځي درلودل.

ارزګان کې داسي ځايونه دي چې د پاچا ظاهر په ۴۰ کلن حکومت کې هم پکې ښوونځی نه دی جوړ شوی، د پکتيکا په ليري پرتو سيمو کې د نجونو د ښوونځي جوړيدل ناشوني وو.

پاچا ظاهر او سردارد داوود خان ونه شوای کولای چې په ليري پرتو سېمو کې د نجونو ښوونځي جوړ کړي، استاد برهان الدين رباني هم ونه کړل، موږ به په جنګې حالاتو کې په خپله ۵ کلنه دوره کې څه ډول دا کار کړی وای؟!

هر کار د ملت او ولس له غوښتنو سره سم کيږي، په زور او جبر سره نه کيږي، په کار ده چې عامه پوهاوی وشي، د ماشومانو پلرونه او ميندي وپوهول شي چې د نجونو او هلکانو ښوونځيو ته اړتيا ده، دا کار د ټوپک په زور نه شي کيدای.

د طالبانو د نظام پرمهال د پوهنتون فارغان موږ درلودل، پوهنتونونه خلاص وو،

د طب په برخه کې مو نجوني محصليني او فارغاني درلودلي.

نړۍ طالب نه منلای او نه هم زغملای شو، د وارسا پکټ له ماتیدو وروسته ناټو ته یوازنی خطر اسلامي هیوادونه وو.

د سپټمبر یوولسمې [1] په دوېمه او یا درېیمه ورځ امریکا اعلان وکړ چې دا پلان په افغانستان کې جوړ شوی، داسي یو پلان خو د کلونو خبره ده، ولي امریکا د دې پلان په اړه نه خبریده؟ او بیا تر پیښې وروسته دومره ژر پوه شول چې له افغانستان څخه دا برید طرح شوی؟

که فرض کړو چې د امریکا په برجونو د ۱۱/۹ بریدونه اسامه بن لادن کړي دي، افغانستان یو خپلواک هیواد و، باید امریکا د یو خپلواک هیواد په څیر ورسره چلند کړی وای. د ترکیې حکومت په دغه هېواد کې د جولای پنځلسمې او شپاړسمې له ناکامې کودتا وروسته له امریکا څخه غواړي چې په پنسلوانیا کې مېشت فتح ګولن [2] ورته وسپاري، ترکیه وايي چې د رجب طیب اردغان د حکومت د پرځولو ناکامه کودتا کې یې لاس درلود، مګر امریکا یې ورته نه سپاري، که قانون داسي وي چې په زورور تطبیق نه شي او یوازې په غریب عملي شي، بیا نو د امریکا غوښتنه سمه وه.

امریکا ته موږ وویل چې ثبوت راکړئ موږ به شیخ اسامه بن لادن محاکمه کړو، د محاکمې پر مهال به ستاسي امریکایانو هیئت هم شتون ولري، د امریکا دهغه وخت ولسمشر جورج ډبلیو بوش اعلان وکړ چې یوازې شیخ اسامه بن لادن نه بلکي له افغانستان سره موږ نور مشکلات هم لرو.

اوس خو نه اسامه بن لادن شته او نه هم القاعده په افغانستان کې شتون لري،

---

[1] کله چې په امریکا کې په اسمان څکو برجونو برید وشو، د سپټمبر ۱۱مه ۲۰۰۱ ز. کال

[2] په ترکیه کې د ولسمشر رجب طیب اردغان په وړاند د ناکامه پوځي کودتاه (۱۵ – ۱٦ جولای ۲۰۱٦) وروسته ترکیې په امریکا کې میشت فتح ګولن په کودتاه کې دلاس لرلو په تور د محاکمې لپاره ترکې ته وغوښت، ولي امریکا هغه ورته ونه سپاری

نور په کار ده چې امریکایي او ناټو پوځیان له افغانستان څخه ووځي، مګر دوی تر ۲۰۱۴ بیا تر ۲۰۱٦ او دا دی اوس وایي چې تر ۲۰۲۴ ز. کال او یا هم نامعلوم وخت پورې به همدلته په افغانستان کې پاتې وي.

د امریکا هدف القاعده نه وه، بلکې غوښتل یې همدلته مرکزیت جوړ کړي او له دې ځایه نور هیوادونه تر څارنې او کنټرول لاندې ولري او ذخایر یې په ارزانه بیه تر لاسه کړي.))

دلته په کور دننه هم چې موږ کله له سیاستوالو او څیړونکو سره کینو، ډیری افغان شنونکي په دې نظر دي چې د امریکا موخه یوازې افغانستان نه دی، بلکې غواړي چې له دې ځایه منځنۍ اسیا او چین وڅاري او ان دا وېروونکی احتمال هم ډېر مطرح کېږي چې امریکا غواړي له افغانستانه دغو هېوادونو ته جګړه ولېږدوي.

ښاغلي ستانکزي د اسامه بن لادن په اړه وویل: (( شیخ اسامه بن لادن ته مو د افغانستان څخه د وتلو وویل، مګر امریکا ونه منله، د پاکستان له خاورې څخه یې په لومړۍ میاشت کې ۵۰ زره بمونه د افغانستان پر خاوره واچول، کیمیاوي وسلې یې وکارولې.

امریکایې پوځیانو زموږ هیوادوال په سپیانو وداړل، د هیواد په لیرې پرتو سیمو کې ستونزې زیاتې دي، د بهرنیو پوځیانو شپني عملیات، پلچرخي، بګرام او ګوانتانامو زندانو کې ډېر زیات ظلمونه له افغان بندیانو سره وشول.

امریکایانو او د هغوی افغان ملګرو د ډیموکراسي، عدالت او سولې تر نوم لاندې تر کمونستانو زیات ظلمونه له بندیانو سره وکړل.

که ربښتیا دوی ډیموکراسي ته ژمن وای، نو ولې یې ډاکټر عبدالله عبدالله پر ډاکټر اشرف غني وروتاپه؟! آیا داسې به ممکن وي چې صلاح الدین رباني ډونلډ

ټرمپ ته ووايي چي له میرمن هیلري کلنټن سره په ګډه حکومت جوړ کړه؟! [۱]

کوم امریکایي چارواکی د افغانستان ویزه اخلي؟ بګرام هوايي اډې ۲ته یو ناڅاپه راځي او له هغه ځایه افغان چارواکو ته ټلیفون کوي چې سبا په دومره بجې درسره ګورم، آیا دا اشغال نه دی، که اشغال نه وي، خو باید چې ویزه واخلي او د لیدو نیټه او وخت مخکې له مخکې ټاکل شوی وي. مګر نه د ولسمشر دفتر، نه د کورنیو چارو وزارت، نه دفاع وزارت او نه هم د بهرنیو چارو وزارت خبر وي، هغوی راشي او بیا دوی ته د امریکایي پوځیانو د بګرام له اډې څخه ټلیفون وکړي.

زموږ مبارزه او هدف یو ازاد او خپلواک افغانستان دی، چې بهرني پوځیان دلته شتون ونه لري، افغان شموله داسي حکومت چې افغانانو ته د منلو وړ وي، په هیواد کې پراته مذهبي او قومي لړکي پکي خپل منافع نفي ونه ګوري، هر افغان ازاد ژوند وکولای شي، د هیواد په سیاسي او نظامي چارو کي نظر او برخه ولري.

ترڅو چې یو بهرني عسکر وي، زموږ مبارزه به دوام ولري، ځکه د بهرنیو پوځیانو په شتون کې افغان حقونه او سوله نه شي تامینیدای.

کله چې بهرني پوځیان ووځي، افغانان به سره راټول شي، د تفاهم او ناستو د

---

[۱] د امریکا د ۲۰۱٦ ولسمشریزو ټاکنو کې د رونالډ ټرمپ او هیلري کلنټن ترمنځ سخته سیالی روانه وه، نړیوال او خپله اکثریت امریکایان په دي ګروه وو چې ولسمشریزې ټاکنې به هیلري کلنټن وړي، ولي په حیرانونکې ډول د ۲۰۱٦ ز. کال ولسمشریزې ټاکنې رونالډ ټرمپ وګټلې. د میرمن کلنټن ځینو پلویانو او د امریکا ځینو سیاستوالو تور لګاوو چې په ټاکنو کې د روسیې لخوا د ټرمپ په ګټه لاسوهنه شوې.

[۲] باګرام هوايي اډه د پروان ولایت کې ده، د امریکایي او بهرنیو پوځیانو تر ټولو لویه اډه ګڼل کیږي، کله چې د امریکا ولسمشر اوباما او یا هم دامریکا دفاع وزیر افغانستان ته راځي، د افغانستان د حکومت له خبریدو پرته لومړی همدې اډې ته راځي، او بیا وروسته له افغان چارواکو سره ګوري، حتی ځینې وخت لوړ پوړي افغان چارواکې یې همدې اډې ته ورغوښتل او هلته یې ورسره مجلس کاوو.

لاري به داسي حکومت باندي توافق کوي چې ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي.

د حکومت چوکۍ باید د لیاقت پر بنیاد وویشل شي، که د بدخشان تاجک ورور او یا د بامیان هزاره ورور یې لیاقت ولري، باید ورکړل شي، که په دنده کې څوک خیانت کوي باید محاکمه او مجازات شي.

دپولیسو سالم چوکاټ جوړ شي، اوس وخت کې پولیس په جرایمو کې لاس لري.

هیواد دي له جاسوسانو څخه پاک وي، د اروپا کوچنی هیواد ناروي هم دلته خپل جاسوسان لري‌او پیسې ورکوي.[۱]

د امریکاد پوځیانو وتل غواړو، ولي د امریکا او نورې نړۍ پوهان غواړو، د نظامي مرستې پرځای د دوی اقتصادي مرستې ډیرې اړینې ګڼو.))

دلته دا ټکی د پام وړ دی چې که څه هم طالبانو د سیاسي دفتر کسان وایي چې بهرني پوځیان دي ووځي بیا به جګړه دریږي، مګر حکومتي چارواکي او ځینو افغان سیاستوالو سره بیا اندیښنه ده که بهرني پوځیان له افغانستان څخه ووځي، طالبان به بیا ځل د واک انحصار او په زور سره د کابل او نورو سیمو نیولو ته زړه ښه کړي، دا هِغه اندېښنه ده چې طالب سیاسي استازي یې نه مني، او ټینګار کوي چې د واک انحصار نه غواړي.

طالبان مشران اوس د لیاقت پر بنا د دندو ورکولو خبره کوي، د شایسته سالارۍ ژمنه کوي، ولي بیا هم له ځینو کسانو سره ویره ده چې دندې به انحصار شي، ځکه د طالبانو د نظام پر مهال لویې چوکۍ یوازي طالبانو ته ورکول کیدلي.

ښاغلي عباس ستانکزي د اقتصاد اړوند وویل: (( موږ فقر او سوال نه کوو، چاته

---

[۱] دناروي د جاسوسانو په اړه مې بیا وروسته له شیرمحمد عباس ستانکزي څخه پوښتنه وکړه، ځکه ناروي د افغان سولې په برخه کې ډیر فعاله هیواد ښکاري، هغه وویل چې د امریکا سره ډیره نږدې ده، او ځینو کسانو پروپوزلونه ورکړي چې د سولې په برخه کې طالبان او دحکومت کسان مخامخ سره کینوي. کله چې یې له موږ سره دا ډول پروپوزل شریک کړ، موږ رد کړ.

کچکول نه ږدو، په هیواد کې پریمانه ذخایر لرو، د عینکو د مسو کان، په شمال کې د نفت او ګاز ذخایر، د لاجوردو، زمردو او طلا کانونه او نور ارزښت لرونکي او نادر منابع لرو.

د ګاونډیو هیوادونو سره موږ ښې اړیکې غواړو، نه غواړو چې له افغانستان څخه نور هیوادونه تهدید شي. داسي ډېر تبلیغات کېږي چې طالبان منځنۍ اسیا ته تهدید دي، مګر دا غلط او ناسم تبلیغات دي.

طالبان کله هم له امو دریاب هغې خواته نه دي اوښتي، د ایران او پاکستان خاوري ته نه دی ورننوتلي، تیری د نورو لخوا شوی، خو څوک نشته چې پوښتنه ورڅخه وکړي، او له دي سره چې تیری یې کړي وي، بیا هم دوی ویره کوي. همدا اوس هم د منځنۍ اسیا،ایران او پاکستان مداخلې شته، دوی امن افغانستان نه غواړي.

که د یوه قوم حقونه تلف کېږي او تر پښو لاندي شي، هغوی د خپلو حقونو ترلاسه کول غواړي.

له ۱۹۷۹ز. کال [1] راهیسې په هیواد کې جګړې رواني دي، هرې افغان کورنۍ د خپل کور اعضا د لاسه ورکړي، نور په کار ده چې جګړه ودرول شي او تر څو چې بهرني پوځیان وي، ستونزه هم نه ختمیږي.

زموږ په مقابل کې قوي سیاسي، نظامي، اقتصادي، کلتوري او رواني جګړه روانه ده.

رسنۍ ډیرې مهمې دي، خلکو ته باید حقایق ورسوي، او دایې دنده ده چې په ناپېیلي ډول سره حقیقتونه تر خلکو ورسوي. رسنیو ته په کار ده چې طرف واقع نه شي.

یوه ډله خلک به جګړه کوي، یوه برخه به سیاسي فعالیت کوي، رسنۍ باید د ولس او هیواد فرهنګي ارزښتونه خوندي وساتي.

---

[1] د ډسمبر ۲۴مه ۱۹۷۹ز. کال ( دجدي ٦مه ۱۳۵۸ ل. کال) د پخواني شوروي اتحاد سرو لښکرو پر افغانستان حمله کړه او د فیبروري ۱۵مه ۱۹۸۹ز. کال ( د سلواغې ۲٦مه ۱۳٦۷) ل . کال کې د شوروي اتحاد وروستی پوځي د امو په دریاب واوښت او افغانستان د سرو لښکرو له شتون څخه خلاص شو.

موږ د رسنیو خلاف نه یو، خپل خبریالان او راپور ورکوونکي لرو، په ولایتونو کې مطبوعاتي ډلې لرو، د خپلو رسنیو د کارکوونکو په ډول نورو ته هم احترام لرو.

د رسنیو کارکوونکي په ازاد ډول کولای شي د هیواد په هر گوټ کې کار وکړي، خبرونه او راپورونه ترتیب کړي.

ځینې غرضي رسنۍ هم شته، د پردیو د اهدافو لپاره کار کوي، داسي رسنۍ دي لکه نظامي رسنۍ چې وي، دا ډول رسنۍ به نظامي هدف گرځي، او ورته کابل اداره هم کوي.[1]

زموږ نظامي کسانو ته ویل شوې چې له ازادو ژورنالستانو سره مرسته وکړي، او هغوی ته ستونزه جوړه نه کړي.))

دلته دا یادونه هم پکار ده چې د ازادو رسنیو او خبریالانو اړوند د طالبانو تر کنټرول لاندي په واقعیت کې ستونزې شته، داسي هم نه ده لکه ښاغلی ستانکزی چې وایې، ځکه که د کومې رسنۍ خبریال او راپور ورکوونکی که داسي سیمو ته ځي، نو تر ډیره د جاسوس په سترگه ورته کتل کیږي، ماته نه ښکاري چې په ازادانه ډول دي خبریالان د طالبانو تر واک لاندي سیمو ته پرته د دوی له اجازې تگ وکولای شي ، او حتی په تیرو وختونو کې له اجازې وروسته هم ځینو بهرنیو یا کورنیو خبریالانو ته ستونزې پیښې شوې دي، چې یوه بېلگه یې په ۲۰۰۸ کې د نیویارک ټایمز د خبریال ډیویډ روډ تښتونه وه.

ښاغلي عباس ستانکزي وویل: (( داسي سوله او اسلامي نظام غواړو چې د بهرنیو پوځیانو تر وتلو وروسته په هیواد کې یو ډز هم ونه شي.

یو ځل د طالبانو د نظام پر مهال امریکا ته ولاړم، هلته مې د یوې ناستې پر

---

[1] زما لیکوال په فکر چې د ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزي له دي خبري هدف داوو چې افغان حکومت د طالبانو د رسنیو کارکوونکي په نښه کوي او زنداني کوي یې. په هیواد کې دننه یې په طالب رسنیو بندیز لگولی دی.

مهال په انګریزي او پښتو خبرې کولې، ځینو افغانانو تور ولګاوو چې دا کس پاکستانی دی، زما یو همصنفي هم په هغه ناسته کې ګډون درلود، چې همهلته بهر کې میشت وو، ورته ږغ مې کړل چې زه څوک یم؟ هغه وویل چې د سردارد داوود خان په وخت کې موږ یو له بل سره همصنفیان وو.))

د ښاغلي عباس ستانکزي د خبرو پرمهال د طالبانو لخوا ښاغلي شاهین او ښاغلي مسرور د هغه خبرې نوټ کولې او موږ له کابل څخه ورغلو کسانو کې بیا ځلاند او ما په جزیاتو سره د هغه د خبرو نوټ لیکی، اسد وحیدي صاحب هم مهم ټکي یاداښت نیول او میرویس ستانکزي بیا ډیر ښه ذهن لري، خبرې یې خپل ذهن ته سپارلې او یاداښت یې نه نیوه.

په میزونو باندي شین چای او ورسره بسکوټ او کیک هم ایښودل شوی وو، دا چې خبرې راڅخه تیري نه شي، او پام مو یاداښت نیولو ته وو، نو تر ډیره مو د چای او بسکوټ څخه خوند نه شو اخیستلای.

خپله عباس ستانکزي په منځ منځ د خبرو کې کله ټوکه هم کوله، او د خبرو له خلاصیدو وروسته قاري دین محمد هم خوش طبعي کوله.

داچې نن ورځ د پیژندګلوي لپاره ټاکل شوی وه، او د ښاغلي ستانکزي د خبرو اړوند کوم چا ورڅخه پوښتنه هم ونه کړه، ولي بیا هم ځینې مسایلو ته ملګرو اشاره وکړه.

دکتور عبداللطیف نظري پوښتنه وکړه: (( د فرهنګي مبارزې لپاره د طالبانو تګلاره او ستراتیژي څه ده؟ لویدیځ په دي برخه کې په هیواد کې دننه ډیر کار کړی دی، ځوانان له دین څخه تیښتې ته هڅول کیږي [1] ، ځوانانو ته د مذهبي او

---

[1] په ځینو ازادو او خپلواکو رسنیو کې څو کاله مخکې داسي راپورونه خپاره شول، چې ځینې افغانان له اسلام څخه د عیسویت دین ته اوښتي دي، دا ډول ځینې انځورونه خپاره شول چې افغانان د عیسویانو د دین منلو مراسم پکې اداء کوي، په کابل کې د کلیساوو د شتون خبرونه خپاره شول، او په بامیانو کې هم د ځینو هزاره توکمه افغانانو له اسلام څخه د عیسویت دین ته د اوښتلو خبرونه خپاره شول .

کلتوري انحراف لپاره تبلیغات کیږي.

په هیواد کې دننه په یوازې ډول ځینې افغانان کار کوي، مګر د فرهنګي مبارزې په برخه کې ستاسې تګلاره او پروګرام څه دی؟

داسې ځوانان چې ورته اړتیا وي، له هغوی سره باید کار وشي، او هغوی خپله هم بیا کار او فعالیت ولري، ځکه له ټول ملت سره امریکا هم جګړه نه شي کولای، په دې برخه کې د طالبانو تګلاره او ستراتیژي څه ډول ده؟))

ښاغلي ستانکزي په ځواب کې وویل: (( موږ د فرهنګي چارو کمیسون لرو، د پوهنې او لوړو زده کړو کمیسون هم لرو، زموږ تر کنټرول لاندې سیمو کې ښوونځي فعال دي، د فرهنګي چارو برخه کې ویبپاڼې، اخبارونه، مجلې او راډیو لرو.

لویدیځ خپله هم مني چې د طالبانو رسنۍ فعاله او قوي دي [۱]، له یوه لاس څخه ټک نه خیږي، یوازې زموږ په رسنیو بسنه په کار نه ده، کابل او نورو لویو ښارونو کې تبلیغات کیږي چې د طالبانو رسنۍ بهرنۍ دي، په ډول ډول نومونو یادیږي او تورنیږي.

داد هر افغان دنده ده چې د هیواد د خپلواکي او ملي ګټو لپاره کار وکړي، که یوه ډله په نظامي برخه کې کار کوي، بله ډله یې باید په فرهنګي ډګرکي کار وکړي.

په کوردننه زموږ او نورو ملګرو تر منځ تفاهم شته، له تاسې کله هم نه غواړو چې زموږ ښه دې وویل شي، غوښتنه مو دا ده چې حقایق دې وویل شي، د لویدیځ،

---

مولوي عبدالله ذاکري چې یو مشهور او پیژندل شوی دیني عالم دی، د هغه زوی ملا عبدالحمید چې په پنجشیر کې د حکومت سره زنداني وو، او په زندان کې ورسره یو بل د پنجشیر زنداني هم وو، احمد د اور لپاره لرګې ماتول، همدا د پنجشیر اوسیدونکی زنداني چې عیسویت دین ته اوښتی وو، له عبدالحمید سره یې د دین خبره کړې وه، عبدالحمید چې پوه شو چې هغه عیسوي شوی، بیا یې په تبر هغه پنجشیری وواهه او ځای په ځای مړ شو. د پنجشیر د زندان مشر- او ولایتي ادارې د عبدالحمید د قتل کولو خبره پټه وساتله، او پر دې کار خوشاله شوې هم وو.

[۱] راپور خپور شو

ایران او پاکستان د کلتوري او فرهنګي نفوذ مخه دي ونیول شي.))

د ښاغلي نظري د پوښتنې په جواب کې ښاغلي سهیل شاهین زیاته کړه: (( د رسنیو برخه کې ستاسي په نظر چې کومه اړتیا وي، کومې نیمګړتیاوي وي، هغه راته په ګوته کړئ، موږ به یې له مشرتابه سره شریک کړو، او په دي به فکر وکړو چې د مشترک هدف لپاره څه ډول په ګډه کار کولای شو. څه ډول په ګډه د بهرني فرهنګ سره مبارزه کولای شو.))

ښاغلي استاد اسد وحیدي نوبت واخیست ویې ویل: (( موږ ته کابل کې خلک طالب وایې مګر لومړی ځل دی چې طالبان مخامخ ګورم او ورسره مجلس کې برخه لرم، په ځینو مسایلو کې به د نظر توافق نه وي، ولي په اساسي‌او غټو مسایلو کې به اختلاف هم ونه لرو.

په ۲۰۰۹ ز. کال کې مو د امریکایې پوځیانو د جنایتونو اړوند په سرنوشت ورځپاڼه کې راپور ورکړ چې کله د امریکایانو لخوا ملکي کسان زخمیان شي، بیا له همدې زخمیانو څخه د بدن غړي وباسي.

ترمنځ مو فاصله شته، کلي ته تګ نه شو کولای، ښار کې حکومت دی، او اطراف کې بیا طالبان دي. دا یو ښه قدم دی چې د لیدنې زمینه برابره شوه.

د اختلاف پرځای مشترک ټکي په نښه کول ډیر مهم دي، په دي برخه کې به کار وکړو، ځوان نسل خو وژل کیدای نه شي، د هغوی په فکر باندي کار کول په کار دی.

کابل کې ځینې رسنۍ د امریکا ضد جدي موقف لري، دا ډول امریکا پلوه رسنیو کې کله هم داسي بحث نه دی شوې چې هلته دي د امریکا خلاف خبره نه وي شوي، ځکه ممکن نه ده، یو څوک په بحث کې خامخا داسي پیدا کیږي چې د امریکا پر تګلارو نیوکه کوي.))

کله چې د ښاغلي وحیدي خبرې خلاصي شوې، د طالبانو مهم علمي شخصیت شیخ سید رسول حلیم وویل :

(( دا ډول ناستې ذريعه د اشتراک نظر ګرځي، د فرهنګي يرغل خبره مهمه ده، خلک د ناپوهۍ له امله له فرهنګي يرغل سره حساسيت نه لري، مګر له نظامي يرغل سره فوق العاده حساسيت ښيې. يوازي د لويديځ نه، بلکي د ګاونډيانو، اروپا او ډيرو نورو هيوادونو فرهنګي يرغل په افغانستان باندي روان دی.

د فرهنګي يرغل اړوند زمونږ تګلاره ابتدايي ده، دا هم د پروګرام يوه برخه ده چې تاسي راغونډتل شوي ياست، نظرونه سره شريک کړو، او ستاسي تجربې له ځان سره ولرو، دا ډول خپلې تجربې هم درسره شريکې کړو.

هر ځای او په هره سېمه کې سياسي، فرهنګي او نور نظريات وجود لري، په دې برخه کې پوهان مستقل نظريات لري.

نظامي مبارزه زمونږ فرهنګ نه بلکي زمونږ مجبوريت دی، د يوه سالم نظام راتګ مو هدف دی.

په کوردننه او بهر په دې برخو کې مشورې اخلو، په هيواد کې مو جنګي نظريه نه ده، سالم نظام د سالمو افرادو په وسيله غواړو، د دې هدف لپاره به په ګډه کار کول په کار دی.))

د شيخ حليم داخبره چې هدف سالم نظام دی، او د نظام لپاره جګړه کيږي، ما (ليکوال) ته د ښاغلي متوکل هغه خبره را يادوي چې اودس د لمانځه لپاره شرط دی، او موږ مسلمانان يې کوو، هدف خو لمونځ دی، له اودس کولو وروسته موږ لمونځ کوو، د افغانستان جګړه د اودس او اسلامي نظام د لمونځ په ډول فرض کړئ، موږ هر وخت جګړه وکړو، خو هدف چې اسلامي نظام دی، هغه پر خپل ځای پريښودل شي، او بياځل اودس (جګړه) کوو، چې جګړه پای ته ورسيږ، هدف ته بيا مخه نه کيږي، همدغه ستونزه د افغانانو ده.

داچې هدف اسلامي نظام دی، په دې برخه کې په کار ده چې يواځي په جګړه اتکاء ونه شي، له ځينو نورو سياسي لارو څخه هم ګټه پورته کړلای شي.

ښاغلي میرویس ستانکزي وویل: (( ښه به وي چې په اختلافي نظریاتو بحث ولرو، په توافقي نظریاتو بحث به ډېر مفید نه وي.

د امریکایانو او جنګ سالارانو خلاف نظریات شته، افغانان دوی ردوي، ولي طالب بیا څه ډول دی؟

له ۱۹۹۴ تر ۱۹۹٦ ز.کال [1] پورې د طالبانو مخالف سړی هم طالبان تاییدوي، یو ښه تغیر وو، ولې د امارت [2] په وخت باندې بیا پوښتنې شته، مطلق تایید نه دی.

دا سمه ده چې امنیت او عدالت وو، ولې ځینې داسې تیروتنې وي چې جواب غواړي.

طالبانو واضح نه کړه چې تر کوم وخت پورې به دوی خپل حکومت ته همداسې په همهغه ډول دوام ورکاوو؟ البته که امریکا حمله نه وای کړې.

نصوص (قران او احادیث) مطلق دي، په دې برخه کې جوړ جاړی نه کیږي، ولې په تدریج هم باور شته، پوښتنه دا ده چې ولې طالبان له افغانانو او یا نړۍ سره تقابل کې راغلل؟ په داسې حال کې چې سعودي عربستان او عرب متحده ایالات او ځینې نور اسلامي هیوادونه تقابل کې نه راځي.

د طالب لپاره اوس وخت کې مطلوب نظام یا مثالي نظام کوم یو شته که نه؟ چې وضاحت وشي او یا هم په نسبي ډول وښودل شي.

حکومت هم همدا خبره کوي چې امنیت، اقتصاد او ښه حکومتولي غواړي، ولسمشر غني وایې داسې ورځ دې راشي چې بهرني پوځیان په هیواد کې نه وي.

داچې جګړه لومړی ودریږي او که بهرنیان لومړی ووځي، دا هم له خلکو سره سوال دی. د دې لپاره مرحلې څه ډول دي چې وضاحت وشي.))

---

[1] طالبان چې په ۱۹۹۴ کې راښکاره شول تر ۱۹۹٦ز.کال پورې دهغه وخت د ولسمشر- برهان الدین رباني لخوا د سولې د فرښتو په نوم یادیدل.

[2] د ۱۹۹٦ز. کال د سپټمبر پر ۲۷مه نیټه طالبانو کابل تر خپل واک لاندې راوستی او د ۲۰۰۱ د نومبر پر ۱۳ مه د طالبانو نظام ونړیدی، کابل یې له لاسه ورکړ.

قاري دين محمد حنيف صاحب هم په يو عمومي بحث کې داخل شو، هغه وويل: (( څومره هندوان او سيکان چې د استاد برهان الدين رباني د حکومت پرمهال په هيواد کې موجود وو، په هماغه تعداد کې د طالبانو په وخت کې هم استوګن او پاتې وو، هغه وخت نږدې ۱۴۰۰۰ هندوان او سيکان په هيواد کې دننه اوسيدل، ولي اوس مهال د کابل اداري د ناسمو کړنو له امله ۱۴۰۰ پاتې او نور له هيواده وتلي دي.))

د طالبانو د نظام پر مهال زه (ليکوال) په کال کې وم، د هندوانو او غير مسلمانو لږه کيو چې عمدتاً سکان وو، د دوی لپاره يو ډول قيودات ولګول شول، په ځانګړي ډول د هندو اړوند تګلاره داسي وه چې هغوی بايد د خپلو جامو پر شا باندي ژړه ټاپه ولري، تر څو هغه وپيژندل شي چې هندو دی، د طالبانو دغې کړنې هندو لږکې خفه کړي وو، او ځينو خو ويل چې د طالبانو په دغه ډول پريکړو کې د پاکستان [1] لاس نه شي رد کيدای.

ښاغلي حنيف زياته کړه: (( زه چې د لوړو زده کړو وزير وم، له ملګرو ملتونو مو وغوښتل چې ۱۱ د نجونو [2] او ۱۱ د هلکانو د ښوونځيو ودانۍ راته جوړې کړي، دا ډول د ۵ پوهنتونونو ودانۍ راته جوړې کړي. ډير مجلسونه مو د ملګرو ملتونو له استازو دفترونو سره درلودل، ولي د وخت تيرول، چل او فريب وو، هغوی هيڅ ونه کړل، کومه بېلګه به وي چې د پوهنې په برخه کې د ملګرو ملتونو مرسته دي طالبانو رد کړي وي.

زمونږ په وخت کې ۱۵۰۰۰ د پوهنتونونو محصلين وو، نږدې ۷ زره ليليه محصلين وو، د هر محصل لپاره اعاشه د ورځي د هغه وخت ۲۱۰۰۰ افغانۍ وي. ولي مدرسو کې ليليه طالب ته د يوه نفر اعاشه د ورځې د هغه وخت ۱۸۰۰۰

---

[1] يادونه: په لومړۍ چاپ کې د پاکستان پر ځای په تيروتنې سره هند ليکل شوی.

[2] پر طالبانو يوه لويه نيوکه داوه چې نجوني ښوونځيو ته نه پريږدي. او د نجونو د زده کړو مخالف دی.

افغانۍ وي.[۱]))

د ننگرهار پوهنتون د هغه وخت ځینې محصلین وایي چې د پوهنتون ودانۍ ځینې د استوگنې بلاکونه د نظامي طالبانو لپاره په واک کې ورکړل شول، هغوی چې د جنگ د لومړۍ کرښې څخه به راغلل همدلته به یې د ننگرهار په جهادي مدرسه کې زده کړې کولې، محصلینو په هغه وخت کې شکایت درلود چې د دوی په نسبت طالبانو ته ښه خواړه ورکول کیږي او د هغوی لپاره ډیرې اسانتیاوې د طالب مشرانو لخوا په نظر کې نیول شوې وې.

د مارچ ۱۵مه ۲۰۱۷ مې د طالبانو د نظام پر مهال د ختیځ زون د تنظیمه ریاست مرستیال مولوي صدراعظم ولید، هغه وویل: (( هلته د ننگرهار پوهنتون په بلاکونو کې نظامي طالبان اوسیدل، هغوی به د جگړو لومړیو کرښو ته تلل، له همدې امله چې جنگې طالبان دي، د هغوی لپاره ښه خواړه او زیات امکانات په نظر کې نیول شوې وو. تاسي وگورئ د نظامي پوهنتونو د محصلینو خواړه د حکومتونو پر مهال د ملکي پوهنتونو تر محصلینو ښه وي))

ښاغلي حنیف زیاته کړه: (( په همدې ۲۰۱٦ کال کې طالبانو په بدخشان کې د عشر [۲]غنم راټول کړي وو، د ښوونځیو استادانو ته یې نږدې۴۹ ټنه غنم وړیا ویشلي دي.

---

[۱] پر طالبانو یوه نیوکه دا کیدله چې د پوهنتون تر محصلینو یې د دیني مدرسو طالبانو ته د غذایي رژیم اړوند توجه زیاته وه. دهغه وخت ۱۰۰۰ افغانۍ د کرزي د وخت یوه افغانۍ کیدله، ۲۱۰۰۰ افغانۍ شاوخوا ۴۰ سنټه امریکایې ډالر کیدل. په دې معنی چې د یوه لیله محصل د ۲۴ ساعتو لپار اعاشه ۴۰ سنټه او د مدرسې د طالب لپاره ۳۵ سنټه وو.

[۲] د اسلامي ارشاداتو مطابق هغه ځمکې چې رواني اوبه ولري، د حاصل پر وخت یې لسمه (عشر) برخه زکات اړینو کسانو ته ورکول کیږي، او که د حکومت له خوا بیت الزکات په نوم اداره موجود وي، بیا همهغه اداره عشر له ځمکوالو څخه جمع کوي او بیا یې پر مستحقو او اړینو بې وزلو خلکو ویشي.
هغه ځمکې چې رواني اوبه ونه لري، اوبه یې په بیه وی، د برمې او یا هم لمریزي بریښنا پواسطه وي، دهغې ځمکې په حاصل کې شلمه برخه د مستحقو خلکو برخه وي.

تیروتنې شوې، موږ يې منو، ولي د اصلاح لپاره ګډ کار ته اړتیا ده.))

د طالبانو د سیاسي دفتر پخواني ویاند ښاغلي نعیم وردګ وویل:

(( په ۱۹۹۹ او ۲۰۰۰ ز.کال کې مې د لجنة الدعوة خیریه موسسې سره په کابل کې کار کاوو، (چې يو له کارونو څخه يې د تعلیمي ادارو سره مرسته وه) کابل ښار کې موږ (موسسې) له ۲۵ داسي مدرسو سره مرسته کوله چې په ځینو کې نجونې او په ځینو کې هلکانو درس وایه، په خیرخانه کې پېغلې نجونې وې، چې په مدرسه کې دیني درس ورته ویل کیدی.

که د حکومت امکانات طالبانو ته ورکړل شي، تاسي څه فکر کوئ چې طالبان به د پوهنې په برخه کې همداسي فساد کوي لکه چارواکي؟))

شیرمحمد عباس ستانکزی د مجلس په پای کې وویل: (( سوله، امنیت او نظام راوستل اسانه نه دی، په کار ده چې له شخصي منافعو څخه تیر او ملي ګټو ته ترجیح ورکړو.

سوالونه او پوښتنې به ستاسي سره زیاتې وي، نن یوازي د پېژندګلوۍ مجلس وو، سبا به له خیره له تاسي سره زموږ ځانګړي وروڼه کښینې او په مسایلو به بحث درسره کوي.))

طالب مشرانو سره زموږ د پېژندګلوي لومړنۍ ناسته د غرمې پر ۱۲:۱۵ بجې پای ته ورسیده.

## ایراني بازار - سوق واقف (د قطر پخوانی دودیز بازار)

د ځینو ملګرو غوښتنه وه چې د سودا لپاره کوم مارکیټ ته ولاړ شي، ښاغلي ځلاند ویل چې د سپورټ جامې مې نه دي راوړي، باید وایې خلم، زما د ټلیفون د کارټ اړتیا، دا ډول نورو ملګرو بیا د عادي ګرځیدو په وخت کې د چپلکو اړتیا وه، په ګډه موږ ټول ٦ واړه د طالبانو د سیاسي دفتر د تشریفاتو د مشر حاجي داوود

عابد سره په موټر کې کيناستو، او مارکيټ ته ولاړو.

غټ مارکيټ وو، هلته د اړتيا هر څه وو، تر يو ساعت زيات وخت مو مارکيټ کې تير کړ، هر ملګري لږ لږ شيان واخيستل، يوازي ځلاند وو چې تر سل قطرې روپـو يې سودا اوښتنه، نورو تر سل قطري روپو لږ سودا کړي وه.

له ډوډۍ او لږ استراحت وروسته مازيګر مهال موږ ۵ نفره پرته له بختيار څخـه د قاري عبدالحميد احمدي سره په دي نيت ووتلو چې د بحر پر غاړه د قطـر د ملـي موزيم نوې ودانۍ (متحف قطر الـوطني الجديـد) وګـورو، پـه لاره د مـوټرو د ګڼـې ګوڼې له امله چې کله ورسـيدو، مـوزيم تـړل شـوی وو، او مـوږ لـه مشـورې وروسـته همدې ځای ته نږدې د دوحې د زاړه ښار (سوق واقف) د ليدو لپاره روان شوو.

د دوحې په مرکزي برخه کې بحر ته نږدې يـو پخـوانی زوړ بـازار نـږدې پـه خپلـه پخوانۍ بڼه ساتل شوی وو، کليوالي توکي پکې تر نورو ځايو په ارزانه خرڅيدل.

وړې او تنګې کوڅې، د اوږدو کميسونو لرونکې زاړه او نسبتاً د ډير عمـر لرونکـي پلورونکي ليدل کيدل، او چې کله به يې موږ ډله وليدلو، ډيـرو لـږو بـه يـې پـه اردو ږغ کاوو چې کوم څه مو په کار دي.

هلته په يوه کوچني ميداني ځای کې ټولې ميرمنې وي، چې تـر اسـمان لانـدي په همدې ډاګ ځای کې يې د لرګې تختو ځانګړي ځايونه جوړ کړي وو، دوی هـم د لرګيو په تختو د ميرمنو ځانګړې توکې پلورل، او تـر ډيـره پـر دوی ميرمنـې را تـاو شوې وي.

ځينو يې د عربو د پخواني دود په ډول هګۍ، ينه او د خوراک لپاره خواړه پلورل.

تر ډيره دلته په همدې ځای او خوړنځايو کې د عربو پخواني خوراکونه پخيدل.

د ګنـډلو، جـامو خرڅولـو، عطرونـو، د ماشـومانو د ښـوونځي جـامې، د ميرمنـو حجابونه او نور اومه خوراکي توکې په هټيو کې ليدل کيدل، د هټيو دروازې لـويې وي، هټې ډيرې ډکې ښکاريدي، دلته تر سـودا اخيسـتلو وروسـته پلورونکـو نغـدې

پیسې غوښتلې، د قطر د لویو مارکیټو په څیر د بانک کارټ نه منل کیدی، ځکه د کارټ څخه مخامخ پیسې د هټې پلورنکي حساب ته سیستم په ایراني بازار کې چا نه کاراوو، غوښتل یې چې هر څه دودیز وښیي.

هلته د ډول ډول مرغانو د خرڅلاو ځای وو، لوی او غټ طوطیان پکې ډیر لیدل کیدل، او وړې او ښایسته مرغۍ هم وې، فکر دې کاوو چې په کوم کلیوال باغ کې د مرغیو چوڼهار اوري. دلته په مرغیو اخیستلو ډیره ګڼه ګوڼه نه وه، او نه هم خلکو د انځور ایستلو لپاره لیوالتیا ښودله.

د همدې بازاز جوړښت په پخواني خامه ډول شوی وو، داسي رنګونه کارول شوي وو، چې سړي فکر کاوو چې واړه او کوچني مارکیټونه او هټۍ له خامه خټو څخه جوړې شوي، مګر ښکاریده چې پوخ کار شوی وو، ولي نمایشي د هر دوکان او ودانۍ په بامونو کې نرۍ او اوږده لرګي ښکاریدل، دا ډول دروازې یې د پخوانیو لرګینو دروازو په ډول وی، دیوالونه داسي رنګ شوي وو چې له عادي خټو سره یې فرق نه کیدی.

د خوړو لپاره واړه خوړنځایونه یې له خلکو ډک ښکاره کیدل، ځکه همدلته په یاد بازار کې تر نورو ځایو هر څه ارزانه وو، که ډوډۍ خوړل او یا توکې پلورل وو.

موږ د توکو اخیستلو لپاره نه وو تللي، یوازې د همدې تاریخي بازار د لیدو لپاره ورغلي وو، او داچې په کابل کې د امنیتې ستونزو، ګردونو او هوا د چټلتیا له امله سړی ډیر پیاده نه شي ګرځیدای، له ګرځیدو مو خوند اخیستی، دومره زیات وګرځیدو چې ځانونه مو ښه ستړي کړل، او ځلاند صاحب بیا کوشش کاوو چې خپل ۲۰ زره ورځنۍ قدمونه وهل یې پوره شي.

تازه هوا، له ګرد او دوړو پاکه فضا وه، داسې لکه چې په پسرلي کې د پغمان هوا وي، قطر کې اوسیدونکو ملګرو ویل چې دا وخت ډیره ښه هوا ده، نه یخ او نه هم ګرمي وه، زما د قطر د اګست میاشتې ګرمۍ هم یاد وه. خو دا ځل د ملایمې

او پاکې هوا او ګرد او دوړو څخه پاک ښار کې په ګرځېدو موږ خوند اخیست.

د ورځې په جریان کې څو ځله ښاغلي سهیل شاهین د ټلیفون او واټس اپ د لارې د ملګرو اړوند پوښتنه کوله، عذر یې وړاندې کاوو چې موږ نور میلمانه[1] هم لرو، کنه په کار وه چې تاسې سره یوځای ګرځېدلې وای.

موږ ملګرو هم خپلو منځو کې وویل چې د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر مشرانو په درنه سترګه وکتل، مهم مشران یې ښه راغلاست او د پېژندګلوۍ مجلس ته راغلي وو، او داچې خبرې یې ډېرې ښکاره او مجلس له افغاني دود سره سم د مینې او محبت فضا کې پرته له پټو خبرو هر څه پکې ښکاره ښکاره ویل کېدل.

دکتور صالح هم څو ځله د ملګرو پوښتنه د ټلیفون دلارې کوله، چې هغوی قطر کې خفه شوې نه وي. داچې موږ له کابل څخه ورغلي ملګري خپلو منځو کې ډېر وو، د ځلاند او وحیدي ترمنځ ټوکو به جلا خوند درلود، او کله کله به پکې ستانکزي هم د ځلاند طرف وکړ، خو نظري صاحب بیا ګوښې ګرځېدی، او تا به ویل په کاینانو کې خپل ژور فکر ډوب کړی دی.

موږ ته وویل شول چې سبا سهار لس بجې به په هوټل کې دننه تاسې سره د ځانګړو مشرانو ناسته وي، او ملګري چې هره پوښتنه او اندیښنه لري، په ورین تندي به د مشرانو لخوا اورېدل کېږي.

---

[1] وروسته معلومه شوه چې په کابل کې د ملګرو ملتونو د دفتر UNAMA مشر- یاماماتو Tadamichi Yamamoto هم په همدې ورځ په قطر کې له طالب مشرانو سره ناستې درلودلې

## طالب استازو سره دویمه ناسته

(سوله او ولسي ګټې)

د سهارنۍ له خوړو وروسته ملګرو طالب مشرانو سره د ناستې لپاره تیاری نیوی، د طالبانو د سیاسي دفتر د تشریفاتو د څانګې کارکوونکي مولوي هدایت الله صاحب زما کوټې ته زنګ وواهه، ویې ویل که ملګري چمتو وي مشران رارسیدلي دي، پاوکم لس بجې وي، د نومبر میاشتې ۳۰مه نیټه وه. د مجلس وخت لس بجې ښودل شوی وو، ژر ژر مو خپل ملګري سره خبر کړل چې د هوټل عمومي سالون ته راووځي، او بیا په ګډه د مولوي هدایت الله په لارښوونه، دا ځل د پرون ورځې څخه بیل بل سالون ته ننوتلو.

طالب مشران شیخ شهاب الدین دلاور، قاري دین محمد حنیف، ښاغلی سهیل شاهین او دکتور محمد نعیم وردګ د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړي په سالون کې ناست وو.

له روغبړ وروسته موږ ٦ تنه ، ډاکټر فیض محمد ځلاند، دکتور عبداللطیف نظري، استاد اسد وحیدي، ښاغلی میرویس ستانکزی، ښاغلی شاپور بختیار او زه هم د میزو شاته چوکیو باندي کیناستو.

شیخ شهاب الدین دلاور له خپلو نورو ملګرو د خبرو د پیل اجازه واخیسته او د نن ورځې غونډه یې پیل کړه.

هغه وویل: (( مجلس به ډیر ازاد وي او هرڅه چې ستاسي په زړه کې ګرځي، خبرې به پرې کوو، له بهرنیو کسانو سره به موږ ډیپلوماسي خبرو او ناستو کې لرو، مګر له خپلو افغانانو ورونو سره ډیپلوماسي نه کوو، هر ورور د قدر وړ دی، او ټولو ملګرو ته یو ځل بیا د زړه له کومي ښه راغلاست وایو.))

ډاکټر ځلاند د خبرو لپاره له خپلو نورو ۵ ملګرو اجازه وغوښتله او ویې ویل:

(( ستاسي ټولو څخه مننه او کور مو ودان، ځوانانو ستاسي سره د لیدو هیله

درلودله، ځینې خبرې دي چې غواړم یادونه یې وکړم:

۱ – ډیری ځوانان داسي فکر کوي چې طالب لوری سولې ته اراده نه لري او په زور باندي باور لري؛

۲ – د طالب د نظامي عملیاتو پرمهال او پایله کې ولسي ګټې په نظر کې نه نیول کیږي، ټولګټې ودانۍ او خدمات له منځه وړل کیږي.

مثلا کندز [۱] کې د طالبانو نظامي لاسته راوړنه ویل کیږي، ولي دا هم په کار ده کومو خلکو چې مرسته کړي، له هغوی سره څه وشول؟ او ولس باید څه وکړي؟ دا هر څه باید روښانه وای.

په تیرو ۱۵ کلونو کې ځوانانو د طالب په نوم یوازې د جګړې خبرې اوریدلي او بس.))

تر مشورې وروسته د ټولو په خوښه پریکړه وشوه، چې د هر ملګري لخوا پوښتنه کیږي، د هغې جواب به د طالب استازو له خوا ویل کیږي، او بیا به بل ملګری خپلې پوښتنې او اندیښنې وړاندي کوي.

شیخ شهاب الدین دلاور د ښاغلي ځلاند د پوښتنو په اړه وویل :

(( هر افغان چې د کابل اداري [۲] له ادرسه نه وي، موږ ورته ښه راغلاست وایو او ورسره خبرې کوو، یوه اوونۍ مخکې همداسي دوه تنه بانفوذه [۳] افغانان قطر ته

---

[۱] کندز ښار د سپټمبرپر ۲۸مه ۲۰۱۵ ز. کال کې لومړی ځل د طالبانو لخوا ونیول شو، په شمار څو ورځې کندز ښار د طالبانو په واک کې وو، او بیرته د ناټو ځواکونو د سخت بمبارد په مرسته افغان ځواکونو دغه ښار له طالبانو څخه ونیوی.

د اکټوبر ۳مه ۲۰۱٦ز. کال کې دویم ځل کندز ښار ته طالبانو سقوط ورکړ، یوه اونۍ دغه ښار د طالبانو په واک کې پاتې شو.

[۲] طالب مشران د افغانستان حکومت ته په مشروعیت سره نه وو قایل، په خپلو خبرو کې یې د کابل اداره بلله، کله کله به په نا پامې کې ورځخه د حکومت په نوم هم یاد شو.

[۳] د کریم خلیلي او محمد محقق استازي زموږ ٦ کسانو تر تګ یوه اونۍ مخکې د ۲۰۱٦ز.کال د نومبر میاشت کې قطر ته تللي وو، او هلته یې د طالبانو د سیاسي دفتر له غړو سره ناستې او مجلسونه کړي وو.

راغلي وو او موږ ورسره ناستې درلودلې.))

زما (ليکوال ) د معلوماتو له مخې طالبان په پټه له حکومتي چارواکو سره ليدني لري، مګر دوی وايې چې موږ د دولت د استازو په صفت ورسره خبرې نه کوو، بلکي د عادي افغانانو په صفت له هغوی سره د افغانستان د مسايلو اړوند بحثونه کوو.

شيخ دلاور زياته کړه : (( موږ تر بل هرچا سولې ته ليوال او ژمن يو، داچې ذهنيت دا دی چې طالبان نظامي لاسته راوړنې لري، مګر موږ هڅه کوو چې د سولې ذهنيت هم خلکو ته ورکړل شي، خو چې کله هم د سولې خبرې پېلوو، مخالفتونه کيږي.

موږ د ټاپي TAPI پروژې [1] د امنيت او خونديتوب رسمي ملاتړ اعلان کړ، کابل اداري ووېل چې په دي لويه پروژه کې د پاکستان ګټه ده، ځکه يې طالبانو ملاتړ اعلان کړ. همدا پرون چې موږ د ملي او ټولګټو پروژو د ساتنې او خونديتوب اړوند اعلاميه [2] خپره کړه، کابل اداري منفي غبرګون وښود. د اعلاميې متن ښاغلي شاهين جوړ کړی او د مشر لخوا تاييد شوی وو، اصل کې يوه مهم هيواد غوښتل چې د يوې مهمې پروژې امنيت موږ وساتو، ولي موږ عمومي اعلان وکړ چې د ملي

---

[1] ټاپي پروژه چې په ۱۳مه ډسمبر ۲۰۱۵ز.کال کې يې رسمي پرانسته په ترکمنستان کې د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند حکومتونو د مشرانو لخوا وشوه، په سېمه کې د ګازو د نل ليکې تر ټولو لويه پروژه ده، چې په هغو سېمو کې به د ګازو پايپ تيريږي چې ډيری يې د طالبانو تر واک لاندي ده. د ګازو نل ليکه به د افغانستان او پاکستان د خاوري څخه د تيريدو وروسته هند ته رسيږي، او هند به د ترکمنستان د ګاز څخه ګټه پورته کوي.

طالبانو يې له رسمي پرانستې وروسته اعلاميه خپره کړه، او د يادې پروژې د خونديتوب او امنيت ډاډ يې سيمئيزو هيوادونو ته ورکړ.

[2] د نومبر پر ۲۹مه ۲۰۱٦ طالبانو د ملي او ټولګټو پروژو د خونديتوب او امنيت ساتلو په اړه اعلاميه خپره کړه.

پروژو ساتنه او امنيت نيسو. د ځينو کسانو خبرې چې تاسي واورئ وايي طالبان له خلکو سره چل کوي، دوی د پروژو مخنيوی کوي.

که موږ د ولس ګټې په نظر کې ونه نيسو، د ټولګټو او ملي پروژو ساتنه ونه کړو، بيا خو ملت راسره نه درېږي، لوګر کې د سجاوند کلي ته مجاهدين [1] (طالبان) ورغلي وو، چې دروازه يې ټکولي وه، هلته کور کې نارينه نه وو[2]، د کور پوخ عمره ښځې ورته ويلي و چې تر څو مو دلته ډوډۍ نه وي خوړلي تاسي نه شئ تلای. دا خو د خلکو مرسته ده چې له مجاهدينو سره يې کوي.))

زما (ليکوال) معلومات دادي چې د ساختماني شرکتونو لخوا د ټولګټو پروژو عملي کولو لپاره په کار ده چې د طالبانو د موسسو او شرکتونو له کميسون څخه اجازه واخيستل شي، څو کاله مخکې په ډېره سخته طالبانو د دوی تر کنټرول لاندې سيمو کې ټولګټو او نورو پروژو ته اجازه ورکوله، يوازې د ښوونځيو او کلينکو په برخه کې يې سهولت کاوو.

شيخ دلاور زياته کړه: (( په ځينو سيمو کې ۶۰ سلنه او په ځينو سيمو کې ۸۰ سلنه خاوره زموږ په واک کې ده، د جوزجان او فارياب ولايتونو مسوول ويل چې موږ له کندهار څخه تر جوزجان پورې په موټر [3] کې سفر کوو، ټوله سيمه کې خپل مجاهدين لرو.

ملت مجاهد دی، کابل کې دننه همداسي خلک شته، د کابل اداره کې دندې لري مګر له موږ سره مرسته [4] کوي.

---

[1] طالب مشران نظامي طالبانو ته مجاهدين نوم کاروي.

[2] د افغانانو دود داسي دی چې نارينه په کور نه وي، او يا خو ډېره د پاخه عمر محسنه ښځه نه وي، هغه کور ته نامحرم کسان نه ورننوځي او يا خو ډوډۍ او چای يې نه خوري.

[3] په دې معنی چې د افغان حکومت امنيتي ځواکونه طالبانو ته د تګ راتګ پر مهال سرخوږی نه شي جوړولای. تر ۲۰۰۷ز. کال پورې طالبانو په سخته په موټر کې تګ راتګ کاوو.

[4] د مشرانو جرګې وکيلانو په خپلو غونډو او ځينو سياسي شنونکو او دولتي کسانو هم له ځينو رسنيو سره د بحثونو پرمهال ويلي چې د طالبانو سره د حکومت د ننه کسان مرسته کوي.

د کندز ښار د ساتلو لپاره ځانګړی کمیسون جوړ شوی وو، ولي بیا هم یوې رسنۍ پر طالبانو تور پوري کړ چې د پوهنتون له محصلینو نجونو سره یې زنا کړې، د کندز هرې میرمن ته یې سپکاوی وکړ او په ځانګړي ډول د تعلیمي ادارو زده کوونکي نجونې یې بدنامه کړې. په کابل کې د ملګرو ملتونو د ادارې، یوناما، د ملکي تلفاتو برخه کې مسؤلې میرمن ډانیل سره زموږ په دې موضوع بحث وو، هغې په خپل راپور کې لیکلي وو چې په کندز کې جنسي تیری شوی.[١]

د قتل لپاره ۲ شاهدانو ته اړتیا ده چې پر قاتل شاهدي ووایي، که یو یې نارینه وي، دوه به ښځینه وي، ولي د زنا په مسئله کې څلور نارینه شاهدان د سختو شرایطو په نظر کې نیولو سره باید شاهدي ووایي، په دې برخه کې د ښځې شاهدي نه منل کیږي.

د اسلام په تاریخ کې زنا په شاهدانو نه ده ثابته شوې، ځکه په دې مسئله کې شرایط دومره سخت دي چې ممکن به نه وي. مثلا نر او ښځه به د زنا په حالت کې داسي لیدل کیږی او شاهدي به وایې لکه سلایي په رنجلومه کې او یا هم رسۍ په کوهي کې. چې دا ډول لیدل او بیا د څلورو شاهدانو خبره به هم یو له بل سره تغیر نه لري، ممکن نه ده.))

---

[١] کله چې طالبانو لومړی ځل د کندز ښار ونیوی، د طلوع نیوز ټلویزون لخوا داسي راپور خپور شو چې طالب جنګیالیو د کندز پوهنتون په لیله محصلینو جنسي تیری کړی، دغه خبر د کندز پوهنتون د لیلیې د مدیر او ددغه پوهنتون د رئیس او کندز د قومي مشرانو لخوا په سختو الفاظو رد او وغندل شو. د طلوع نیوز ټلویزون د تودې خبرې پروګرام کې دوه ورځې وروسته یې د بحث پر مهال همدا راپور د طلوع نیوز د کارکوونکي له خولې رد شو.

د طالبانو نظامي کمیسون لخوا د همدې تور پر بناء د طلوع ټلویزون اړوند اعلامیه خپره شوه، چې د یاد تلویزون کارکوونکې او ژورنالستان زموږ لپاره نظامي هدف دي، همهغه وو چې د جنوري پر ۲۰مه ۲۰۱۶ز. کال، طالبانو د طلوع ټلویزون د کارکوونکو پر موټر ځانمرګی برید وکړ، د یاد ټلویزون ۷ تنه کارکوونکي ووژل شول او تر لس زیات کارکوونکي یې زخمیان شول.

د شیخ دلارو د یادو څرګندونو په اړه پوښتنه پیداکیږي، چې د طالبانو د نظام پرمهال او اوسمهال هم د طالبانو تر واک لاندي په ځینو سیمو کې ډیر کم دداسي پیښو راپور ورکول کیږي چې کومه میرمن د زنا په جرم رجم او یا ووژل شوه، نه پوهیږو چې زنا کوونکي میرمن به په خپله خوښه اقرار کړی وي، په زور به اقرار کولو ته اړ کړل شوې وي او یا کومه بله طریقه به وي چې قاضي یې په اړه د رجم [1] د سزا پریکړه کوي.

ملاعبدالسلام ضعیف موږ ځو تنو ته یو ځل وویل: ((په کندهار کې مولوي پاسنی د محاکمو مشر وو، ملابورجان اخوند چې د طالبانو په لیکو کې په زړورتیا پیژندل کیدی، د جګړې د لومړۍ کرښې لومړی درجه قومندان وو، هغه د مولوي پاسني دفتر ته راننوتی، له مولوي پاسني سره د جهاد له وخت څخه بلد وو، ملابورجان اخوند ورته وویل چې د جګړې لومړۍ کرښې ته د روانیدو په حال کې وم، چورلکه چالانده وه، او حرکت ته انتظار وو، مګر د یو مهم او اړین کار لپاره تاسي ته راغلم، مولوي پاسني ورته وویل چې ووایه:

ملابورجان اخوند هغه کس ته اشاره وکړه چې ورسره راوستلي یې وو، او ورته یې

---

[1] میړوښه ښځه او یا هم متاهل سړی چې کله د زنا د جرم مرتک شي، او بیا قضیه ثبوت ته ورسیږي، د رجم سزا ورکول کیږي، او رجم داسي دی چې مجرم سړی د محکمې د قاضي په حکم په یو میدان کې د عامو خلکو پر وړاندي درول کیږی او یا خو عام ولسي خلک د دایرې په بڼه دریږي او مجرم شخص یې په منځ کې درول کیږي، او د مجرمې ښځې لپاره بیا دومره ژور غار (کوهی) کیندل کیږي چې هغه دومره پکې پټه شي چې یواځې سر او مخ یې راوتلي وي، او هغه به هم په حجاب کې وي، یعني د ښځې طیان (سینې) به په کوهې کې دننه وي، بیا د قاضي په حکم د عامو خلکو لخوا په وړو ډبرو (تیږو) ترهغه وخت پوري ویشتل کیږي تر څو مړ / مړه شي.
د رجم سزا یوې میرمنې ته د مجاهدینو د حکومت پر مهال په کندهار کې مولوي پاسني ورکړې ده، ویل کیږي چې ښځې د شاهدانو له شاهدې وروسته پخپله اقرار کاوو، چې هغې زنا کړې ده، ښځه څه موده په کور کې په بند کې هم ساتل شوی وه، خو هغې اقرار کاوو چې جرم یې کړی دی.
دا ډول د طالبانو د نظام پر مهال هم په کندهار کې یوه میرمن رجم شوې ده.

وويل چې مولوي پاسني صاحب ته تاسي خپله د هغې پيښې اړوندواياست.

هغه کس مولوي پاسنې صاحب ته وويل چې زموږ په کلي کې يوه کونډه ميرمن وه، هغه د يوه بل سړي سره غير مشروع اړيکې درلودلې، بيا يې خپله لور همهغه سړي ته په نکاح ورکړه، نن د هغې نجلۍ واده دی، او موږ پوهيږو چې دغه سړي د نجلۍ له مور سره غير مشروع اړيکې درلودلي، داسړی خو به په ګناه کې نور هم واقع وي، ځکه دنجلۍ له مور سره يې ناروا اړيکې وي.

پرته له دي چې مولوي پاسنی دهغه کس نورې خبرې واوري، خپلو محافظينو ته يې وويل چې دا سړی راچپه کړئ، او د سړي په وهلو او ډبولو يې همدلته په محکمه کې دننه پيل وکړ.

ښاغلی ضعيف وايې چې ما ليدل چې د جګړې د لومړۍ کرښې زړور قومندان ملا بورجان اخوند د دفتر دروازي خواته په ناسته ګکيدی، او يو ناڅاپه ډير په بيړه له دروازي څخه ووتی، هغه د مولوي پاسني د دي امر په اړه چې د ملابورجان ملګری يې دخبرو په منځ کې راونيوی او وهل يې پيل کړل، هيڅ يې هم ونه ويل، بلکې خپله هم په پټه خوله له محکمې څخه ووتی.

مولوي پاسني د سړي له وهلو وروسته د هغه د بندي کېدو امر هم وکړ.

ښاغلی ضعيف وايې چې سبا ورځ د مولوي پاسني طبيعت لږ ښه وو، موږ ورڅخه پوښتنه وکړه، چې تاسي د ملابورجان د ملګري د خبرو له خلاصيدو مخکې د هغه د وهلو امر وکړ، چې سبب يې څه وو؟ مولوي پاسني وويل چې زه پوه شوم چې دده هدف دادی چې په نجلۍ (ناوي) او سړي (زوم) باندي يې خوشالي نه لوريدله، او غوښتل يې د هغوی خوشالي په غم وربدله کړي، بل داچې ده ته څه معلومه وه، کوم شواهد يې درلودل چې (زوم) به د نجلۍ (ناوي) له مور سره ناروا اړيکې درلودلي، له دي کبله مې وواهه او بندي مې کړ چې پر هغو مسلمانانو يې تهمت لګاوو او پر هغوی يې خوشالي نه لوريدله.))

شیخ دلاور وویل : (( موږ به له خپل پلوه طلوع ټلویزون او شمشاد ټلویزون ته هرڅه ترتیب او ولیږو، ولي پوهیږو چې نشر به نه شي، د دوی ستونزې [1] هم راته معلومیږي.

د پوهنې برخه کې ډېر جدیت کوو، د شیخ هبةالله صاحب سره مې ملاقات وو، د شپې ۲ بجې وې چې د تعلیم او تربیې په اړه مې ورسره بحث درلود. شیخ صاحب ته مې وویل: هر څه، هر شی وقفه مني، ولي تعلیم وقفه نه مني.

شیخ صاحب وویل چې د پوهنې کمیسون مشر ته مې امر کړی چې په دې برخه کې کار وکړي او د پوهنې برخه تقویه کړي، ولي ځینې ټکي به په پام کې نیسي :

۱ – چې په تعلیمي مراکزو کې د کفر او اسلام ضد کتابونه او یا هم غیر اسلامي فکر ته به کار پکې نه کیږي؛

۲ – د افغانیت ضد روحیې او فکر ته به پکې کار نه کیږي؛

۳ – چې د افغان کلتور مخالف کتابونه او نظریات پکې نه وي.

شیخ شهاب الدین دلاور وویل که د طالبانو مرسته نه وي، په لیري پرتو او هغو سیمو کې به هم ښوونځي نه وای فعال، کوم چې د طالبانو تر واک لاندې سیمې دي. موږ له ښوونځیو څخه لیدنې کوو، د همدې موخې لپاره موږ ځانګړی د پوهنې او لوړو زده کړو کمیسون لرو، مشر یې مولوي نورمحمد ثاقب صاحب دی، هغه د طالبانو د نظام پر مهال د سترې محکمې مشر وو، خپل قوي ټیم لري، درې یا څلور مرستیالان لري، په هر ولایت کې د پوهنې رئیس او په ولسوالیو کې مسؤول کس لري.

شیخ هبةالله صاحب ته مې وویل چې داسې استاد به په ښوونځي کې کله هم نه وي چې نصرانیت او یا هم فکري انحراف ته کار وکړي، او تر ډېره دا ممکن هم نه ده.

---

[1] په دې معنی چې رسنۍ ازادي نه لري، او د کوم چا لخوا چې بودیجه ورکول کیږي، د هغوی اهداف په نظر کې نیسي.

د ښوونځیو په نصاب کې کفري او یا غیر اسلامي الفاظ نه شته او نه هم پیدا کیږي، که چیرته وي بیا خو به یې موږ خلکو او نړیوالو ته ښکاره کړو، چې د ښوونځیو په نصاب کې جدي ستونزه شته.))

د پوهنې په برخه کې د طالبانو د نظام پر مهال ستونزې موجودې وي، دا ډول د امریکا تر حملې وروسته تر ۲۰۰۹ز.کال پوري په لیري پرتو سیمو کې ډیری ښوونځي تړل شوي وو، دا سړی نه شي ردولای چې طالبانو په ځینو سیمو کې له ۲۰۰۴ څخه بیا تر ۲۰۰۹ پوري ځینې ښوونځیو ته د فعالیت اجازه نه ورکوله، ولي په دغه ډول کړنو کې د بهرنیانو او افغان حکومت لاس لرل هم شتون درلود، تر څو طالبان د ولس سره په جګړه کې واچوي او متنفر شي، زموږ ډیری ځوانان زده کړو ته پرینښودل شو، د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالي د زغون کلي ښوونځی لومړی ځل د حکومت کسانو خپلو اهدافو ته د رسیدو لپاره وسوځاوو، او دوېم ځل بیا د طالبانو لخوا ځکه ونړول شو، چې دوی ویل دلته پکې دولتي کسان نظامي ځای جوړوي، تر نړیدو وروسته زموږ د کلي د ښوونځي په نیمه نړیدلي ودانۍ کې امریکایې پوځیانو نظامي وړه اډه جوړه کړه.

اوس مهال بیا طالبان زموږد زرغون کلي د مدرسي په ودانۍ کې د خپلو زخمیانو د لومړنیو طبي اسانتیاوو لپاره ځینې اطاقونه کاروي، او مدرسه له دی کبله تړل شوي چې ولي له افغان دولت سره رسمیت لري، خو ځنګ ته ښوونځي یې د زده کوونکو پر مخ خلاص دی.

شیخ دلاور وویل: (( د بیارغونې په اړه مو قوي اعلامیه خپره کړه، ډیرې داسي نوري مهمي پروژې د هیواد په شمال کې پلان شوې، اوس به نور خیالي مکتب [1]

[1] په سنیو او د امریکا د سیګار اداري د راپورونو پر بناء په افغانستان کې ډیر شمیر خیالي مکتبونه جوړ شوي، ودانۍ شتون نه لري، مګر د پوهني وزارت سره ودانۍ جوړه ثبت شوې، او د ودانۍ پیسې هم د چارواکو لخوا اخیستل شوې.

نه جوړېږي، بلکي په حقیقي ډول به د مکتب ودانۍ جوړېږي، موږ به یې نظارت او څارنه کوو.

مؤسسات، شرکتونه، د ملګرو ملتونو بشرې څانګې زما مربوط دي، کابل کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو مسؤول مارک باوډن ته مو وویل چې په ۴۵ ورځو کې به یو ځل مجلس سره ولرو، د نورو بهرنیو نړیوالو ادارو او بشر ـ د حقونو ادارو سره مسلسل مجلسونه لرو.

د یونسیف له استازي جورډن څخه مو وغوښتل چې همدا د مجلسونو راپورونه وخت په وخت نشر او رسنیز شي، هغه هوکړې چې زموږ او ستاسي (یونسیف) ترمنځ کیږي هغه به ولس ته ورسیږي، ولي دوی دي ته چمتو نه شول چې هر څه رسنیز شي.

د ملګرو ملتونو پخواني استازي نیکولس هایسم ته مې وویل چې راځئ همدا کار وکړو، خبرې او پریکړې رسنیزې کړو، هغه وویل چې تاسيغواړئ چې زه هم په تورلستۍ [1] کې شامل شم!

د مؤسساتو موټریز کاروانونه چې هر ځای ته ځي له موږ څخه اجازه اخلي، حتی چې کابل ښار کې پلچرخي ته یې موټریز کاروان ځي، موږ په جریان کې اچوي، په اړه معلومات راکوي، تر څو د طالبانو د نظامي کسانو لخوا ستونزه ورته جوړه نه شي.

نیمروز او ځینو نورو ولایتونو ته د ملګرو ملتونو د موټرو کاروانونه [2] تر هغې نشي- تلای ترڅو چې موږ ورته د تلو اجازه نه وي ورکړې.

---

[1] د طالبانو ځینې مشران د ملګرو ملتونو په تورلستۍ کې شامل دي، دا ډول د امریکا په تورلستۍ کې هم شامل دي.

[2] دملګرو ملتونو د موټرو هغه کاروانونه چې لیري پرتو سیمو ته خام خوراکي مواد وړي، او یا هم په ځینو وختونوکې د ښوونځیو لپاره د زده کوونکو سره د قرطاسیې توکې انتقال کوي.

هلمند ته د بې پولې ډاکټرانو الوتکه لـه کابـل څخـه تلـه، هغـوی لـه مـوږ څخـه اجازه وغوښتله چې په هلمند کې د کښته کیدو سره یې توافق وکړو.))

ما (لیکوال) ته هم دا موضع معلومه وه، په لښکرګاه کې د بې پولې ډاکټرانـو د ولایتي اداري یوه کارکوونکې راته ټلیفون وکړ چې زمـوږ ځینـې بهرنـي کـارکوونکي هلمند کې دي، طالبانو لښکرګاه تـه د الوتکـو راتـګ او کښـته کیـدل منـع اعـلان کړي، عامو الوتکو ته د کښته کیدو اجازه نه ورکوي، ولي موږ د طالبـانو د روغتیـا د برخې د هلمند ولایت مسؤول سره خـبره کـړي، هغـه اجـازه کـړي چـې الوتکـه دي راشي او زموږ لخوا ورته ستونزه نه جوړیږي.

د بې پولې ډاکټرانو دغه کارکوونکي وویل چې موږ به څه ډول ډاډه شو، ځکه دا خو د لوړې کچې مسؤول نه دی چې موږ ته یې د الـوتکې د کښـته کیـدو اطمنـان راکړی. په ټلیفون له ماسره دغه ډول خبرې زما نه خوښـیږي، هغـه کـس راڅخـه د مرستې غوښتنه وکړه.

ومې ویل زه کابل کې اوسیږم، په مطبوعاتي‌او علمي برخو کـې کـار کـوم، طالبـانو سره په نظامي او یا نورو برخو کې د تماس نیولو لپاره نه لیوالتیا لرم او نه هم دا کار کوم.

ولي یوازې دومره درته ویلای شم چې که یو عادي او د ټیټـې کچـې طالـب هـم تاسي ته په بست (لښکرګاه) هوایي ډګر د الـوتکې د کښـته کیـدو تاییـد وکـړي، د هغه خبره ومنئ ځکه طالبـان پـه خپلـو ژمنـو وفـا کـوي. همـداسي وشـول، الوتکـه لښکرګاه ته ولاړه او د بست په هوایي ډګر کې یې ناسته وکړه، د بې پولې ډاکټرانـو د اداري بهرنی کارکوونکي یې کابل ته را انتقال کړل.

شیخ دلاور زیاته کړه: (( غزني کې د یو ساعت لپاره بې اجازې د آی سي آر سي موټر حرکت کې وو، هغه بیرته راوګرځول شو، ځکه اجازه یې نه وه اخیستې.

د ښوونې او روزنې برخه کې هیڅ ستونزه نه لـرو، زمـا ۵ زامـن دي، ټولـو د قـران کریم حفظ کړی، یو له انجنیري پوهنځي څخه فارغ دی، یو هم لـه طـب پـوهنځي

ځخه فارغ دي، يو د انجنيري او بل هم د طب پوهنځي محصلين دي، يو يې عالم دين او مفتي دی. بيا به موږ څه ډول له زده کړو ځخه انکار وکړو، چې په خپلو زامنو يې کوو او نورو ته به اجازه نه ورکوو؟

زه د کمي احساس کوم چې زه عصري (ساينسي) تعليم نه لرم، ما بايد عصري تعليم هم درلودلای، په خپلو لوڼو مو تعليم کړی.

که موږ د تعليم او تربيې مخه ونيسو، د افغانستان ريښې قطع کوو. په هيڅ ډول په دې برخه کې مزاحمت د منلو وړ نه دی.))

د طالبانو سره د بحثونو او ليدنو له کبله داسي ښکاري چې اوسمهال طالبانو د پوهنې برخه کې ډير بدلون کړی، د طالبانو د نظام پر مهال ډير کليوال ملايان د عصري تعليم مخالف وو، او ځوانان يې تشويقول چې په مدرسو کې زده کړه وکړي.

په دې برخه کې زه اوس ډير څه ليکل نه غواړم، ځکه اوس د پوهنې په برخه کې د طالبانو په تګلاره کې فوق العاده مثبت بدلون راغلی، او موږ په ښه نظر ورته ګورو، اميد دی چې دغه تګلاره په سيمو کې عملي هم شي.

شيخ دلاور د ځوانانو اړوند وويل : (( د هيواد راتلونکی مو د فکري ځوانانو په لاس کې دی، د امارت لويه هسته هم ځوانان جوړوي، بګرام ته د بهرنيانو [1] د وژلو لپاره هم ځوانان ورغلي وو، او زموږ ميرمنې هم بچيان راوړي او چې کله ځوانان شي دا هيواد به همدوی بيا له پرديو ځخه ساتي، له اشغالګرو سره به جهاد کوي.

لومړی ځل دی چې د طالبانو مشرتابه کې يو جيد عالم راځي، تر دې پخوا هم هغه ځوان طالبان وو چې د طالبانو مشرتوب يې کاوو، ملا محمد عمر مجاهد او ملا اخترمحمد منصور طالبان وو، هغوی په ځواني کې له روسانو سره جهاد پيل کړی وو.

---

[1] د نومبر پر ۱۲مه ۲۰۱۶، د بهرنيو پوځيانو د باګرام په اډه کې دننه د يوه تن طالب لخوا ځانمرګی بريد وشو. په ياده پوځي اډه کې ډيری امريکايي پوځيان ميشت دي، يو ځوان د باګرام اډې ته ننوتی وو، ځانمرګی بريد يې وکړ، ۴ امريکايي پوځيان مړه او ۱۷ امريکايي پوځيان پکې زخميان شول.

د هلمند والي ملاعبدالمنان اخوند زما سره مدرسه کې طالب وو، منصور صاحب زما سره مدرسه کې طالب وو. دوی په ځواني کې د جهاد سنگرونو ته ور دانگلي دي.

ملاعبدالباري اخوند په هلمند کې له انگریزانو سره سختې جگړې وکړې، هغه بیا وروسته د پاکستان لخوا ونیول شو او سخت ډیر شکنجه شو. د طالبانو په زیات کوشش سره بیرته خلاص شو، اوس مهال بیا ډیر زیات فعاله دی.))

ویل کیږي چې د طالبانو د نظام پر مهال علماء او مولویان له دي امله د طالب مشرانو څخه یې ځیني ناراضه وو چې د پریکړو واک له کشرانو طالبانو سره وو، تر ډیره په لوړو دندو داسې کسان گومارل کیدل چې مدرسې یې نه وې بشپړې کړې، او لاهم طالب العلمان ول، یوازې په محاکمو او قضاء کې جید علماء گمارل کېدل.

د بدخشان خلک هم ډیر خوش طبیعته دي او لطیفي ټوکې کوي، له ټوکې او خندا وروسته قاري دین محمد حنیف وویل:

((جگړه زموږ مجبوریت دی، په ۲۰۱۴ز. کال کې د ملگرو ملتونو د افغانستان دفتر مشر یانکوبیش سره مې په دوبۍ کې ناسته درلودله. هغه وویل چې:

۱ – د ولسمشریزو ټاکنو مخنیوی مه کوئ.

موږ ورته وویل چې مخنیوی یې نه کوو، ولي حمایت یې هم نه کوو، ځکه چې د تیر ۲۰۰۹ ز.کال ولسمشریزې ټاکنې فاسدې وي، دا ځل به هم هغه ډول تر پخوا هم ډیر فاسد انتخابات وي.

۲ – تاسي طالبان ولي جگړه کوئ، ولي سیاسي مبارزه نه کوئ.

موږ ورته وویل چې جگړه زموږ مجبوریت ده، ظلم، بې‌انصافي او بې‌عدالتي جگړه زیږوي.

د خلق او پرچم ډلو له خپل تاسیس څخه شعار دا وو چې مرگ پر امپریالیزم، کله چې په افغانستان کې کمونستي نظام سقوط وکړ، همدا د خلق او پرچم ډلي مشران او غړي مسکو ته نه، بلکي امریکا او لویدیځ ته ولاړل او هلته ومنل شول.

ولي د طالب نظام چې سقوط کوي، هغه ته په گرده نړۍ کې د ژوند کولو حق نه ورکول کیږي، د امریکا پریکړه او شعار داسي وو چې یا به نیول کیږي او یا به وژل کیږي. د ژوند کولو حق ورڅخه واخیستل شو.

مشهور نړیوال جاسوس مایکل سمپل ویلي و چې امریکا د طالب د ژوند کولو په اړه هیڅ فکر نه و کړی!

افغانستان کې د امریکا سفیر ته یوه افغان ویلي و چې د شمال ائتلاف سره طالبانو جگړه کړې، اوس مهال حکومت د شمال ائتلاف په واک او لاس کې دی، طالبان څه باید وکړي؟ سفیر دي پوښتنې ته ځواب یا خو نه درلود او یا یې په حقیقت سترگې پټولي.

مظلومیت، ستونزې او بې‌عدالتي وه چې طالب دوېم ځل نشئت وکړ. [۱]))

د امریکا له حملې وروسته زه (لیکوال) څو میاشتي په هلمند او بیا وروسته په کندهار کې استوگن وم، موږ لیدل چې د طالبانو د نظام له منځه تلو وروسته مهم طالب مشران په خپلو کورونو کې کیناستل، دا ډول کشران طالبان هم خپلو کلیو او کورنیو ته ستانه شول، ولي هغوی ارام ژوند کولو ته پري نه ښودل شول، د حامد کرزي د لنډمهاله اداري او بیا انتقالي دورې پر مهال سخت وځورول شول، ونیول شول او بندیان شول، دغه ستونزه تر ډیره په جنوب لویدیځه حوزه کې وه، او د هیواد په شمال کې خو هر پښتون د طالب په تور د پخوانیو ټوپکوالو لخوا وځورول شو، همدا خلک مجبوره شوه چې بیرته ټوپک ته لاس کړي او د خپل ځان او عزت څخه ساتنه وکړي.

---

[۱] د امریکا تر حملې وروسته ډیری طالب مشران په کور کیناستل، ولي د بهرنیو او افغان ځواکونو لخوا تعقیب کیدل، زنداني کیدل ، له کور او سیمې وتلو ته مجبوره کیدل، تر له ۲۰۰۱ د ۲۰۰۴ ترنیمایې پوري په هیواد کې امنیت ډېر ښه وو، د ۲۰۰۴ په نیمایې کې طالبان لومړی ځل د هلمند په یخچال سیمه کې د کندهار – هرات سړک ته راووتل او خپل نظامي مجودیت یې عملا وښود. دا ډول له کندهار څخه ارزگان ته پر تللي لار راووتل، او د کندهار – کابل پر سړک هم ولیدل شول.

ښاغلي حنیف د ښوونځیو اړوند وویل: (( ځینې ښوونځي چې بند شوي، وران شوي او یا ستونزې ورته پیدا شوي، دا د طالبانو تګلاره نه ده، ولې په ځینو ځایونو کې د مکتب ودانۍ د کابل اداره د نظامي مرکز [1] په ډول کاروي. که د طالبانو تګلاره د ښوونځیو ورانول وو، بیا به په میدان وردګ، ننګرهار او ځینو نورو سیمو کې ښوونځي بیخې نه وای.))

د ښاغلي حنیف پورته خبره ډیره قانع کوونکي نه بریښېدله، ځکه په ځینو سیمو کې پرته له دې چې هلته افغان پوځیان په ښوونځیو کې وي، د کلیوالي او ځینو نورو ستونزو له کبله د طالبانو لخوا په یو او بل نوم بند شوې وو.

ښاغلي سهیل شاهین د خبرو نوبت واخیست او ویې ویل :

(( سوله کې تجربه شوې چې ځینې کارونه تاکتیکي د کابل ادارې لخوا کیږي، د ستراتیژۍ برخه نه وي.

داچې طالبان جګړه کوي، د هغوی د ملامتیا لپاره چې یوه بهانه کابل اداره ولري او هدف ته هم ورسیږي، دوی د سولې له نوم څخه ناسمه ګټه پورته کوي.

طالبانو کله هم سولې سره د پروژې په ډول برخورد نه دی کړی. مګر کابل اداره چې د سولې کومه تګلاره نه لري، طالب نه بلکې د دوی خپل کسان وایي چې د کابل ادارې سوله پروژه ده. [2]))

---

[1] ځینې ښوونځي په لیري پرتو سیمو کې د افغان ځواکونو لخوا دخپل مرکز په ډول کارول شوې. دغه راپورونه په رسنیو کې هم ورکول شوي. او زموږ د سترګو لیدلی حال هم داسي دی چې ډیر کله افغان ځواکونه په لیري پرتو سیمو کې د ښوونځي ودانۍ خوندي ځای ګڼي او خپل مرکز یې ګرځولي وي، چې بیا د طالبانو تر حملي لاندي راځي.

دا ډول په ځینو ځایونو کې همدا کار وسلوالو طالبانو هم پخوا په ۲۰۰۷ تر ۲۰۱۲ کاوو، اوس مهال طالبان د ښوونځیو ودانۍ د نظامي مرکز په ډول نه کاروي.

[2] دجنوري پر ۲۱مه ۲۰۱٦ د ملي یووالي حکومت اجرایه مشر- عبدالله عبدالله څرګندونې کړي وي چې افغان حکومت د سولې په برخه کې ډیر وخت چوپ وي، ولې د سولې برخه کې د طالبانو لیوالتیا لیدل کیږي.

د ښاغلي شاهين داخبره دمنلو وړ ده چې افغان حکومت د سولې کومه تګلاره نه لري، ولي زموږ سره دناستو پر مهال افغان حکومت ، نړیوال او ځیني افغان سیاستوال هم ورته نیوکه لري چې د طالبانو د سولې واضح تګلاره شتون نه لري، او د سولې لپاره د طالبانو قطر میشت کسان هم ډیر ورو مخکې ځي، ځیني یې وایې چې د سولې او غټو مسایلو اړوند د قطر د طالبانو سره د پریکړو واک نشته، بلکې د مهمو پریکړو اړوند دوی د طالبانو د رهبري شورا څخه باید اجازه واخلي ، او حتی رهبري شورا ته چې هم کله پیغام واستول شي قاطع ځواب یا دریځ نه څرګندوي، چې په مجموع کې د پروسې د پڅوالي باعث کېږي.

ښاغلی شاهین زیاته کړه : (( چیرته چې اربکیان وو، همدوی په ځینو سېمو کې تور بیرغونه ځوړند او د داعش نوم یې وکاراوو.

عبدالرشید دوستم [۱] وویل چې ۷۵۰۰ بهرني جنګیالي چې د داعش په نوم به

---

ځینې د ولسې جرګې، مشرانو جرګې او افغان سیاستوال هم د سولې په برخه کې د نه لیوالتیا پړه پر افغان حکومت وراچوي. خو دوی وایې چې په دي برخه کې طالبان هم د سولې روښانه تګلاره نه لري.

[۱] په افغانستان کې دداعش په نوم ډلې اړوند د ولسې جرګې او مشرانو جرګې رئیسانو او ځینو وکیلانو، دا ډول ځینو والیانو هم ویلي چې دداعش د وسلوالو په را پیدا کیدو کې د امنیت شورا رول شتون لري.

د ولسمشر لومړی مرسیتال چې د فاریاب ولایت کې دده په کاروان باندي د اکتوبر پر ١٦مه ۲۰۱٦ز.کال د طالبانو له مرګوني کیمن او حملې ژوندی ووت، د اکتوبر پر ۱۷ اجرائیه مشر عبدالله عبدالله د دوستم زخمي کیدل ومنل، چې بیا وروسته د دوستم لخوا د اجرائیه مشر څرګندونې په سختو الفاظو رد شوې. دا ډول دوستم دده د مرګ په پلان کې د افغانستان د امنیت شورا لاس لرل وبلل او تور یې ولګاوی چې د امنیت شورا مشر حنیف اتمر او د استخباراتو مشر معصوم ستانکزي دده د مرګ په پلان کې شریکان وو.

دوستم وویل چې بهرنیان او ځینې افغان کړی غواړي چې شمال ولایتونو ته ۷۵۰۰ بهرني جنګیالی (البته د داعش ډلې په نوم) د هواء دلاري انتقال کړي، تر څو په شمال کې امنیت خراب شي.

د داعش پروژې د عملې کیدو لپاره د امریکا غوښتنه داوه چې دبلخ والي عطاء محمد نور به ورسره د همدې پروژې په عملي کیدو کې مرسته وکړي، ولي د ایران او روسیې تر نفوذ لاندي عطاء نور له دي کار څخه ډډه وکړه.

کار کوي، شمال ته وړل کیږي، دا هر څه د سولې د مخنیوي لپاره کیږي.
همدا کسان دي چې په انګرېزي کې Spoilers ورته ویل کیږي ، ظاهر قدیر وایي چې داعش ته په الوتکو کې غذایي مواد رسول کیږي.
د موسساتو کاروان چې تر بګرام پورې تلی هم موږ ورته اجازه ورکوله، نظامي کمیسون مو په جریان کې اچاوو او دوی ته مو د تګ اجازه ورکوله.
خپله د کابل اداره ده چې سوله نه غواړي، ولي مسؤولیت په طالب وراچوي. داهم بیا وایي چې طالبان څو ډلې دي.
ملاعبدالمنان نیازی [1] ویل کیږي چې د کابل وزیر اکبرخان کې دی، خو په

---

د ترکیې په وساطت دوستم د داعش په نوم د جنګیالو پیداکولو پروژه په غاړه واخیستله، په جوزجان، سرپل او فاریاب کې یې تر ډیره پښتانه ځورول او مجبورول چې د ده د ظلمونو له کبله د داعش ډلې سره یوځای شي. مګر په شمال کې دوستم د خپل قوم ازبکو او ترکمن سره په جګړو کې مخامخ او ماتې یې وخوړله.
په وروسته وختو کې ترکیې هم د امریکا سره د داعش وسلوالو اړوند مرستې څخه لاس واخیست، د امریکا او ترکیې اړیکې ترینګلي شوې، د امریکا په پټه لاسوهنه په افغانستان کې د ناټو په چوکاټ کې دوو ترکې جنرالانو ته دنده سپارل شوې وه، د دوی لپاره زیاتې پیسې کوم افریقایي هیواد ته استول شوې وې، او بیا هغه پیسې ترکې ته انتقال شوې او هلته پر ترکې جنرالانو ویشل شوې وې، تر څو په ترکیه کې د رجب طیب اردغان پر ضد کودتاه وکړي، په کودتاه کې په امریکا کې میشت فتح ګولن هم تورن شو، دا ډول هغه دوه ترکې جنرالان ( تورن جنرال مهمت چایت باقر، په افغانستان کې د ترکي ځواکونو د ځانګړي قطعي قومندان او برید جنرال سینیر ټاپوک) چې له افغانستان څخه ووتل د جولای میاشت ۲۰۱٦ د دوبۍ په هوایي ډګر کې ونیول شول او ترکیې هیواد ته وسپارل شول.
له همدې کبله د ترکیې او امریکا اړیکې خرابې شوې، دوستم چې له ترکیې سره یې نږدې اړیکې درلودلې، د ترکیې د نفوذ له کبله یې د امریکا سره په شمال ولایتونو کې د داعش په نوم ډلې ته په غیرمستقیم ډول کمپاین، چې په زور پښتانه مجبوره شي او بیا په ښکاره د حکومت پر خلاف د داعش بېرغ پورته کړي، دهمدې پروژې د تطبیق څخه یې لاس واخیست، همهغه وو چې د مرګوني کمین سره مخ شو.

[1] ملا عبدالمنان نیازی د ملامحمد رسول په نوم د طالبانو د جلاشوې ډلې سیاسي مرستیال او ویاند ځان معرفي کوي. په وروستو وختونو کې په ځینو بریښنایي رسنیو کې داسي راپورونه خپاره شول چې نیازی کابل ته تګ راتګ کوي، او د چارواکو سره لیدنې لري.

رسنيو کې د هغه په نوم د طالبانو د ډلې نوم ورکول کيږي.))
د ښاغلي شاهين د څرګندونو سربيره زموږ د معلوماتو له مخې ځينې طالبان په پټه له افغان چارواکو سره شخصي اړيکې ساتي او کيداى شي ځينې يې ځانګړي موخې ولري، موږ چې کله د کندهار امنيه قومندان سره ناسته درلوده، هغه وويل چې له يو مهم طالب مشر سره مې اړيکې مخکې يوړې، هغه ماته خپل استازى راوليږى، او پيغامونه تبادله شول، ولي بل ځل هغه غوښتل چې کوم نابلده کس ماته وليږي، او ما د هغه کس په لاس د پيغام غوښتنه کوله چې تير ځل مې ورسره ليدلي وو، بيا وروسته ماته راپور راکړل شو، چې تير ځل زما د ځاى اړوند معلومات هغه پيغام راوړونکي طالب تر لاسه کړي، او داخل طالب مشر غواړي چې ماته بريد ګر راوليږي، همهغه وو چې بيا مو وروسته رابطه قطع شوه.
د ښاغلي حامد کرزي د خاله زوى ښاغلي احمد راتب پوپل په کابل کې د ځينو طالب مشرانو د استوګنې لپاره ځانګړي حويلۍ درلوده، او د طالبانو د وخت يو دوه وزيران به هم کله ناکله ورته راتلل.))
ښاغلي شاهين وويل : (( د کابل اداره د سولې مخ کې خنډونه اچوي، واقعيتونه نه مني، پاکستان سره يې د طالبانو پر سر سودا روانه کړي وه، سوله يې له پاکستان څخه غوښتله، مګر بيا هم ناکام شوو. [1]

---

رسنيو وروسته داسي راپور هم ورکړ چې دجنوري ۱۰مه ۲۰۱۷ز.کال په لښکرګاه کې د افغان امنيتي کسانو پر غونډه بريد کې د ملا محمد رسول ډلې قومندان هم وژل شوى.

[1] کله چې ډاکټر اشرف غني واک ته ورسيدى، ددې پرځاى چې مخامخ له طالبانو سره خبرې وکړي، کوم چې د ۲۰۱۴ ولسمشريزو ټاکنو مخکې يې همداسي ژمنه د يوې ليدنې پرمهال په دوبۍ کې له طالب استازو سره کړي هم وه، بلکې برعکس ولسمشر غني له پاکستان څخه وغوښتل چې طالبان د سولې خبرو ته کښينوي، د پاکستان لخوا د ۴ اړخيزو ناسته وړانديز وشو، او پاکستان ژمنه وکړه چې طالبان به له افغان حکومت سره د ۴ اړخيزو ناستو په جريان کې مخامخ د سولې خبرو ته حاضروي.

کابل اداره کله وايي چې طالبان دي تسليم شي، کله چې د بهرنيانو ۱۵۰ زره پوځيان او ۳ لکه قراردادي عسکر موجود وو، تسليم نه شوو، اوس به کابل ته څه ډول تسليم کيږي؟

تګلاره مو داده چې اشغال ختم شي، افغان شموله نظام جوړ، د واحد افغانستان ساتنه په ګډه وکړو، د قومونو ترمنځ يووالی او عدالت وي، کار اهل کار ته وسپارل شي. موږ د اشغال خلاف يو، د ښوونې او روزنې خلاف نه يو.

که همدا زموږ مشترکات وي، په دي اړه فکر کول په کار دی، چې په دي برخه کې په رسنيو کې څه کولای شو؟

د افغانستان د اسلامي امارت مثبت کارونه او نيمګړتياوې راته په نخښه کړئ، چې موږ پرې غور وکړو او مشرانو ته يې ورسوو.))

دکتور محمد نعيم وردګ هم د خبرو لپاره د نورو څخه د نوبت اخيستلو اجازه وغوښتله او ويې ويل :

(( کله چې ملا عبدالسلام ضعيف اسلام اباد کې سفير و، هغه ډير ځله وويل (تر ۱۱/۹ مخکې او وروسته ۲۰۰۱ ز.کال) چې امريکايانو راشئ سره کښينو، خبرې وکړو، ولي امريکا يوازې د زور خبره کوله.

حامد کرزي په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر مخالفت وکړ، کله چې په لومړي ځل سياسي دفتر خلاص شو [۱]، کرزي يې په غبرګون کې خپل افغان سفير

---

طالبانو د پاکستان غوښتنه ونه منله، د پاکستان فشار ته تسليم نه شول، او بالاخره څلور اړخيزه ناستې ناکامه اعلان شوې.

د پاکستان، افغانستان، چين او امريکا د څلوراړخيزو ناستو لومړۍ يې د جنوري پر ۱۱مه ۲۰۱٦ په اسلام اباد، دوېمه د جنوري پر ۱۸مه ۲۰۱٦ په کابل کې، دريمه ناسته د فبروري پر ٦مه ۲۰۱٦ په اسلام اباد کې او څلورمه غونډه يې د فبروري پر ۲۳مه ۲۰۱٦ په کابل کې وشوه.

[۱] د طالبانو سره نړيوالو د بېلابېلو ليدنو پرمهال او په ځانګړي ډول جرمني (مارچ ۲۰۱۰) کې د غونډې پر مهال له سيد محمد طيب اغا سره د امريکا په موافقه نړيوالو ژمنه کړي وه چې په قطر هيواد کې به د طالبانو لپاره سياسي دفتر مني، تر څو د سولې په پروسه کې پرمختګ وشي.

کابل ته وغوښت، ستونزې يې جوړې کړي. دويم ځل [1] چې بيا هم قطر کې د طالبانو سياسي دفتر خلاص شو، بيا هم حامد کرزي ورسره مخالفت وښود.

هر گوند حق لري چې خپل بيرغ او نښان ولري، په هغه سپين بيرغ باندي يوازې کلمه طيبه ليکل شوې وه، د افغانستان د اسلامي امارت نښان - نه وه پکې، تاسي هغه ويډيو وگورئ، مگر بيا هم کرزي ونه شو زغملای.))

د ښاغلي وردگ د خبرو اړوند زموږ معلومات دادي کله چې کرزی له واک څخه ليري شو، هغه ځينو پخوانيو طالب مشرانو ته منلي چې د طالبانو د قطر دفتر د بنديدو اړوند او د فعاليت اجازه نه ورکولو له امله يې لويه تيروتنه کړې، د قطر دفتر د بنديدو اړوند تيروتنه د حامد کرزي په وروستي وخت کې د کورنيو چارو وزير محمد عمر داودزی هم منې، هغه وايې چې لويه تيروتنه وشوه.

ولي همهغه د حامد کرزی د وخت تيروتنه ولسمشر غني بيا تکراروي، د جرمني د مونيخ ښار کې ۲۰۱۷ د فبروري ۸مه نيټه يې د امنيتي غونډې په څنډو کې د قطر د بهرنيو چارو وزير څخه وغوښتل؛ که طالبان ترراتلونکي پسرلي (يوه مياشت وروسته) د سولې مذاکراتو ته حاضر نه شي، د هغوی سياسي فعاليت دي د قطر

---

په ۲۰۱۰ ز.کال کې د جرمني له غونډې وروسته د طالبانو د سياسي کميسون استازو ته د نړيوالو په تفاهم اجازه ورکړل شوه چې قطر کې ميشت او هلته سياسي فعاليت وکړي، ولي د ولسمشر کرزي لخوا يې د سياسي فعاليت مخالفت وشو.

[1] د جون مياشتي پر ۱۸مه ۲۰۱۳ ز. کال په قطر کې د دوحې ښار کې د مازيگر پر ۶:۳۰ بجو د طالبانو سياسي دفتر د يو لړ مراسمو په ترڅ کې په رسمې ټول پرانستل شو. په ويډيو کې ښکاريدل چې طالبانوخپل سپين بيرغ د دفتر په دننه کې اوچت کړ، او دا ډول د سياسي دفتر لپاره ځانگړې لوحه يې هم د دفتر په مخ کې نصب کړه.

ولسمشرحامد کرزي له دي کبله د ياد دفتر مخالفت وکړ چې د موازي سفارت حثيثت لري، او د افغانستان سفارت په قطر کې وجود لري. هغه وويل چې د طالبانو بيرغ او د اسلامي امارت په نوم لوحه په قطر کې طالبانو ته د رسميت پيژندلو په معنی ده، شديد مخالفت يې وکړ، او بالاخره ياد دفتر له يوې ورځې وروسته وتړل شو.

هیواد کې بند کړلای شي.

ښاغلي وردګ وویل: (( د ټولګټو پروژو اړوند مخکې هم په اعلامیو کې یې د ساتنې او خوندیتوب یادونه شوې وه، د روان کال د جنوري میاشت کې د پګواش کانفرانس چې دوحه کې وو، هغه وخت هم د ټولګټو پروژو د خوندیتوب اړوند څرګندونې وشوې، ولي پرون چې د ټولګټو پروژو اړوند کومه اعلامیه خپره شوې، بیا هم کابل اداره هغه نه شي زغملای، او په اړه یې د ذهنیتونو د منحرف کیدو هڅه کوي. [1]

۲۰۰۸ ز. کال کې چې لا هم ملابرادر اخوند د پاکستان لخوا نه وو نیول شوی، له څرک مجلې [2] سره یې مرکه کړې وه، هغه ویلي وو که موږ د مکتبونو مخالفت کولای، نو په هیواد کې به ۱۰ سلنه مکتبونه هم نه وای خلاص.

د نجونو او هلکانو مختلط نظام سره مخالفت د ښوونې او روزنې سره مخالفت نه دی، سالم تعلیمي نظام غواړو، د فساد مخنیوی کوو، همدا اوس ستاره افغان [3]

---

[1] د افغان حکومت ځینو چارواکو او پلویانو وویل چې طالبان په عمل کې د ټولګټو پروژو ساتنې او خوندیتوب ته ژمن نه دي، دغه ډول اعلامیې یواځې د خلکو د غولولو په موخه خپروي.

[2] د طالبانو اړوند مجله ده، د جنوري میاشتې په وروستۍ اونۍ ۲۰۱۷ ز. کال کې یې ۹۷مه ګڼه له چاپه را ووتله.

[3] ستاره افغان د طلوع ټلویزون لخوا د ځوانو هلکانو او نجونو سندرو ویلو ته د هڅونې پروګرام دی. کله چې د طلوع ټلویزون پر کارکوونکو طالبانو برید وکړ، له هغه وروسته ددغه پروګرام تر سره کولو لپاره د طلوع ټلویزون اداري ته نه خو دولتي او نه هم شخصي سوداګرو سالون په واک کې ورکاوو، طلوع ټلویزون په یوه لیک کې له امنیت شورا څخه غوښتي وو چې د پوهني وزارت او یا هم اطلاعات او کلتور وزارت سالون د یاد پروګرام لپاره په واک کې ورکول شي، ولي په امنیت شورا کې یې دغه غوښتنه نه وه تاید شوې، که څه هم د اطلاعاتو کلتور وزارت سرپرست کمال سادات د طلوع ټلویزون له مشرتابه سره منلي وه چې سالون به په واک کې ورکوي. یاد پروګرام باندي ډیری افغانانو نیوکه درلودله، د طلوع ټلویزون کارکوونکي بختیار وویل چې ما تر اوسه ستاره افغان پروګرام نه دی کتلي او نه هم زموږ کور کې دغه پروګرام څوک ګوري. د اتصالات ټلیفوني شبکې یوه کارکوونکي راته وویل چې یو ځل همدا پروګرام د اتصالات لخوا سپانسر شوی وو،

کې څه تیریږي؟))

د ښاغلي وردګ اشاره د طلوع ټلویزون یو مشهور پروګرام (افغان ستوري) ته وه، هغه وخت چې په هیواد کې ټلویزونو نوی فعالیت پیل کړ، او کله چې دلته ډیر زیات بهرنیان موجود وو، په ټلویزونو کې ځینې داسي پروګرامونه په لاره واچول شول چې د افغان دودونو سره یې کلک مغایرت درلود.

د دودیزو ټولنو ډیری افغانانو پر طالبانو له دي امله کلکې نیوکې کولي چې ولي په کورنیو ټلویزونو کې د دغه ډول پروګرامونو مخنیوی نه کوي، طالبانو کله هم د ناسمو پروګرامونو او افغاني دودونو مخالف پروګرامونو له امله د ټلویزونو اداري تهدید نه کړي.

ځینې طالب مشرانو ویل چې د دغسې پروګرامونو د پرېښودلو له لارې ښه ده افغان ټولنه پوه شي چې بهرنیان دلته څه غواړي، هغوی غواړي چې لویدیځ کلتور ته کار وکړي،او دا ډول فحشا ته لمن ووهل شي.

ښاغلي وردګ د ځوانانو اړوند وویل : (( د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی چې فرمایي: په ځوانانو باندي زما ملا تړل شوې ده. موږ به هم ځوانانو ته توجه کوو ان شاء الله.))

شاپور بختیار چې هر کله به غلی ناست وو، غوږ به یې د نورو خبرو ته نیولی وو، تر ډیره یې څه نه ویل، داځل چې د طلوع ټلویزون اړوند د کندز او ستاره افغان په اړه طالب استازو یادونه وکړه، ښاغلي بختیار هم د خبرو وخت وغوښت او ویې ویل: (( داخبره وشوه چې مطبوعات انحصار کې دي، مګر ۱۰ کاله مخکې هم ځینو

---

کله چې هغه پروګرام په ژوندۍ بڼه ښکاره کیدی، د طالبانو لخوا اتصالات کمپنۍ ته تهدیدونه کېدل، همهغه وو چې پروګرام په نیمایي کې بند کړل شو، او اتصالات هم طلوع ټلویزون ته خپل عذر وړاندي کړ، هغه پروګرام یې بیا د طالبانو له ویرې څخه سپانسر نه شو کړلای.

کسانو چې هغوی نه طالب وو او نه هم طالب پلوی وو، ویل به یې چې په بن کانفرانس[۱] کې د طالبانو او حزب اسلامي د استازو نه شتون تیروتنه وه.

سمه ده چې رسنۍ به خپلواکې نه وي، ځکه مصارف به یې څوک ورته ورکوي، ولي ۹۹ سلنه انتقاد په حکومت باندي کوي، ظلم، رشوت، غلا او نور ډیر څه د حکومت په اړه نقد کوي. ۱ سلنه خبره به ستاسي طالبانو په اړه نیوکې وي.

زه د طلوع ټلویزون استازیتوب نه کوم، د خپل سیاسي بحث (تودې خبرې) استازیتوب کوم. ماته کوم داسي لسټ نه دي راکړل شوی چې فلانی کس بحث ته راغواړه او فلانی مه راغواړه.))

د ښاغلي بختیار دا خبره چې په خپله خوښه کسان بحث ته غواړي او د ټلویزون اداره پکې دخالت نه کوي، ماته تر ډیره سمه نه ښکاري، حتی تر دي چې

[۱] لومړی بن کانفرانس د جرمني په بن ښار کې د ډسمبر پر ۵مه ۲۰۰۱ جوړ شو، د ۲۵ افغان سیاستوالو د ګډون لسټ چمتو شوی وو، وروسته دغه لسټ ۳۰ تنو ته ورسیدی. یاد کانفرانس د ۱۱/۹ وروسته په دي موخه د امریکا او ملګرو ملتونو لخوا جوړ شوی وو، چې د طالبانو د نظام تر نړیدو وروسته د موقت حکومت مشر او کابینه وټاکي، د موقت حکومت مشر حامد کرزی او د کابینې غړي یې وټاکل شول. په دغه کانفرانس کې طالبانو او حزب اسلامي ته د ګډون بلنه نه وه ورکړل شوې.

پریکړه وشوه چې د موقت حکومت مشر حامد کرزی به د ډسمبر پر ۲۲مه ۲۰۰۱ ز. کال واک له استاد برهان الدین ربانی څخه رسماً تسلیم کوي.

دویم بن کانفرنس هم د جرمنی بن ښار کې د ډسمبر ۵مه ۲۰۱۱ز. کال کې جوړ شو، د ۸۵ هیوادو او د ۱۵ نړیوالو ادارو استازو په کې ګډون درلود، داځل هم د طالبانو او حزب اسلامي استازو ته په کانفرانس کې د ګډون حق ورنه کړل شو.

داسي راپورونه وه چې د طالبانو د سیاسي کمېسیون مشر سید محمد طیب اغا جرمني ته رسیدلی وو، او په کانفرانس کې د ګډون لپاره منل شوی وو، نړیوالو له طالبانو سره هوکړه کړې وه چې د کانفرانس په جریان کې به ولسمشر حامد کرزی د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر د خلاصیدو او په رسمیت پېژندلو غوښتنه له نړیوالو څخه هم کوي، ولي نه داچې د طالبانو د قطر دفتر د رسمیت خبره وشي، بلکې حامد کرزي په کانفرانس کې د سید محمد طیب اغا ګډون سره هم مخالفت وکړ.

د ځینو رسنیو د سیاسي او مهمو پروګرامونو کسانو ته ولسمشریزو ټاکنو د کمپاین پر مهال امتیازات ورکول کیدل، او خپله شاپور بختیار هم د ډاکټر غني په ګټه په خپلو بحثونو کې ځینې وختونه په خورا مهارت بحثونه مخکې وړل. له دې سربېره زما (لیکوال) د معلوماتو له مخې، د تلویزون اداره په ټولیزه توګه د سیاسي بحثونو پروګرامو کې د ګډون لپاره یو تور لیست هم لري چې د هغه له مخې د ځانګړي فکر شنونکي او مبصرین نه ورغواړي.

ښاغلي بختیار وویل: ((د کندز ښار کې د جنسي- تیري کوم خبر باندي چې مخکې له خپریدو یې د ټلویزون په اداره کې بحث کیدی، ما ورته وویل چې دا خبر له اصولو سره برابر نه دی، کوم شاهد، متضرر کس او یا هم د پوهنتون د لیلیې مدیر پیدا کړئ، د هغه نظر واخلئ. [1]

د نجونو لیله رخصت وه، مګر بیا دوی وایي چې دا نجلۍ په لیلیه کې وه، او بې عزتي ورته اوښتې ده، یاد خبر ټولې د لیلیې نجونې متضرره کړي. ما په خپل سیاسي ګردي میز کې دوه ورځې وروسته دا خبره رد کړه.

اداري ویل چې د خبر د نشر اړوند مشوره کوو، موږ ورسره موافق نه وو، مګر هغه خبر بیا نشر شو.

افغان ستوری پروګرام مې خپله نه دی لیدلی او نه یې هم زموږ کورنۍ کې څوک ګوري.

راځئ په دي فکر وکړو چې:

۱ – هره ورځ څومره کسان دواړو لورو (حکومت او طالبانو) ته وژل کیږي؟

۲ – د کونډو او یتیمانو شمیر هره ورځ څومره وي؟ د کورنیو راتلونکی به یې څه ډول برخلیک سره مخ کیږي؟

---

[1] د یو ټلویزون د سیاسي بحثونو د برخې کارکوونکي میرویس هم همداسي خبره ما لیکوال ته کړې وه چې د یاد خبر د نشر سره موږ مخالفت وکړ، ولي د ټلویزون اداري خپور کړ.

۳ – د افغان وژنې او وینه تویولو د مخنیوي لپاره کومه بیړنۍ تګلاره شته؟

۴ – داچې تاسې د ښوونې او روزنې مخالف نه یاست، حکومت کې هم ټول خلک چې کار کوي، جاسوسان نه دي، ډیر له مجبوریته د معاش له امله کار کوي، خو په ځینو ځایونو کې هغوی د طالبانو په نوم د کسانو لخوا نیول کیږي او وژل کیږي.

۵ – اردو او پولیسو ته ډیری له چوک [1] څخه هغه کسان هم ځي چې مزدوري ورته نه پیدا کیږي، هغوی له جګړې سره بلد نه وي، د معاش او پیسو لپاره اردو او پولیسو ته تللي وي، ځکه بیکاري ده، هغه بیا زخمي شي او یا هم ووژل شي. په دي برخه کې که یوه سمه تګلاره وجود ولري، د خلکو زړونه به هم لاسته راوړئ.

٦ – طالب یوازې نظامي برخې ته متوجه دی، نورو برخو کې هم کار کول په کار دی، ټول افغانان د امریکا جاسوسان نه دي، عام خلک ګروګان نیول شوې، بیچاره شوې او له ستونزو سره مخ دي، له لیري پرتو سیمو څخه د افغان ځوانانو اردو کې جذب زمینه قصدا برابره شوې.))

د ښاغلي بختیار دا خبره بیخي پر ځای وه چې حکومت کې ځینې ځوانان د مجبوریت له کبله دندې اخلي، د کورنیو مشکلاتو له امله، د بیکاري له کبله یې ځینې ملي اردو او پولیسو ته ځي.

داچې په افغانستان کې د واده ولور هم لویه ستونزه ده، ځینې ځوانان د دې لپاره چې د واده ولور یې پوره کړي، د ملي اردو او پولیسو لیکو ته ځي، او بیا هغوی په جګړو کې وژل کیږي.

---

[1] په ښارونو کې مزدورې کوونکي کسان د ښار په چوکونو کې ولاړ وي، تر څو مزدوري ورته پیداشي، هغه خلک چې د ودانیو جوړولو او یا نورو کارو لپاره مزدور ته اړتیا لري، ډیری یې له همدې چوکونو څخه مزدوران بیایې.

په تیرو دوو کلونو کې مزدوري خلکو ته نه پیداکیږي، داسي راپورونه ورکول شوې چې همدوی د کار نه پیداکیدو له امله د ملي ادرو او پولیسو لیکو ته ورغلي، بیا وروسته جګړو ته لیږل شوې.

شیخ شهاب الدین دلاور د ملګرو د اندیښنو او پوښتنو په ځواب کې وویل:
((پرون ځینې پوښتنې ښاغلي میرویس ستانکزي درلودلې، پوښتنه یې کوله چې د طالب هغه ډول نظام چې درلود یې تر کومه وخت پوري به وو؟ ولي په تدریج باندي عمل ونه شو؟ کوم ډول اسلامي نظام یو نمونه یي نام کیدلی شي؟ د بهرنیو پوځیانو د وتلو طریقه څه ډول ده؟

د ښاغلي دلاور ځواب دا و چې: که د پاچا ظاهرخان حکومت د سرادار داوود خان لخوا نه وای ړنګ شوی، همداسي به تر ډیره وخته پاتې وای، د داوود خان حکومت که د افغان کمونستانو لخوا نه وای ړنګ شوی، همداسي به پاتې وای، د استاد برهان الدین رباني حکومت که موږ نه وای ختم کړی، هغه به چوکۍ ساتلي وای، تر بدخشانه [1] یې لا هم د حکومت چوکۍ ورسره ساتلي وه، دا سوال یوازې موږ ته نه دي راجع.

موږ تر هغه وخت پوري پاتې نه شوو، چې استاد رباني مو له بدخشان څخه وایستی او بیا مو ملت ته مراجعه کړي وای، ښه خبره دا وه چې جګړې ختمې شوې وای، د شمال ائتلاف تر شا روسیه، فرانسه او ایران ودریدل، مرستې یې ورسره کولي.))

د شیخ دلاور د پورته خبرو اړوند زموږ معلومات ښیي چې طالبانو تر کابل نیولو وروسته نه غوښتل چې حکومت وکړي، بلکي غوښتل یې چې د ولس په خوښه واک داسي چاته انتقال کړي چې افغان ولس پري راټولیدای شي، ولي داچې د کابل تر نیولو پوري ډیری طالبان ووژل او ژوبل شول، ستونزو سره مخ شول، د ځینو طالبانو نظر دا و چې نظام په خپل واک کې وساتي، او په دي برخه کې تر ټولو زیات مولوي احسان الله احسان مخکی و.

---

[1] کله چې طالبانو کابل ونیوی، استاد برهان الدین رباني د خپل حکومت نوي کابینه مزار شریف کې اعلان کړه، او بیا چې کله طالبانو مزار شریف ونیوی، استاد برهان الدین رباني په بدخشان کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر ځان باله.

ترڅو چې امریکا د اکتوبر۷مه ۲۰۰۱ ز. کال کې پر افغانستان حمله وکړه، او د امریکا د هوایي بمباریو له امله طالبانو کابل پریښود، د ۲۰۰۱ کال د نومبر میاشتې پر ۱۴مه د شمال ټلوالي وسلوال کابل ته ننوتل، استاد برهان الدین رباني ارګ ته ولاړ او ځان یې قانوني ولسمشر ګاڼه.

شیخ دلاور زیاته کړه: (( زموږ نظامي لیکې د کونړ څخه شمالي ډنډ ته غځیدلي وي، دره صوف، تخار او نورو سېمو کې مو نږدې ۵۰ [۱] زره وسلوال طالبان موجود وو، نظام جوړولو ته مو وخت پیدا نه کړ، په جګړو کې بوخت پاتې شوو.

زموږ نظام د بل نظام په مقابل کې راغلی وو، هلته جګړې وې، ظلم، زور او زیاتی اوج ته رسیدلی وو، که یو انسان وږي وي، مریض وي، لوڅ وي، او پر سر یې تیره توره یو چا نیولې وي، وژني یې، هغه کس به تر هر څه لوموړیتوب دي ته ورکړي چې له سر څخه یې توره لیرې شي، ونه وژل شي، بیا به وروسته د خپل ځان د پټوالي، ډوډۍ او رنځ په اړه فکر کوي.

زموږ نظام پاتې نه شو، ترڅو د خلکو لویه اجتماع راوغواړو، او له هغوی څخه مشورې وغواړو، د هغوی پریکړې عملي شي. داسې وخت وو چې خلکو وزارت نه مانه، مولوي محمد میر صاحب یو پېژندل شوی او تکړه عالم وو، د ملا محمد عمر مجاهد لخوا د کوم وزارت مرستیال وزیر ټاکل شوی وو، له پېښور څخه د لږ وخت له پاره کابل ته ولاړی، خو بیرته پېښور ته راغی، زه هلته پېښور کې د افغانستان لخوا جنرل کونسل وم، ماته یې وویل چې د وزارت له معینیت چوکۍ څخه مې خلاص کړه، هغه د استاد سیاف د اتحاد اسلامي ګوند پخوانی مجاهد وو، کله چې مې مشر ملا صاحب [۲] ته وویل چې مولوي محمد میر صاحب وایي چې معینیت نه شم کولای، هغه وویل چې که یې معینیت خوښ نه وي، وزارت به ورته ورکړو، مولوي محمد میر صاحب ویل چې دنده نه شم کولای. ویې نه منله. ))

زه (لیکوال) د ځینو پېښو شاهد پاتې شوی یم، مولوي نیک محمد صاحب په کابل کې د سوداګرۍ مرستیال وزیر و، هغه یاده چوکۍ په خپله خوښه پریښودله

---

[۱] فکر کیږي چې د طالبانوپه دومره لوی شمیر کې وسلوال به په یادو سېمو کې موجود نه وو.

[۲] د طالبانو مشر ملامحمد عمر مجاهد ته ځینې طالبان "ملاصاحب"، ځینې "مشر- ملاصاحب"، ځینې "لوی ملاصاحب" او ځینې یې د "امیرالمؤمنین" په نوم په عامو خبرو کې یادوي.

او په کندهار کې د پوهنې ریاست ته یې ترجیح ورکړه.

یو تن طالب چې د مخابراتو مرستیال وزیر و، هغه ته د وزارت موټر وسپارل شو، ویې ویل چې موټر ته اړتیا نه لرم، د معینیت د بست اړوند موټر کیلي یې کوم رئیس ته ورکړه، او خپله به یې له وزیراکبرخان څخه وزارت ته په پښو تګ راتګ کاوو، لږ وخت وروسته یې بیا په خپله خوښه دنده پرېښودله.

شیخ دلاور وویل : (( د کندهار د تمیز محکمې رئیس وم، د دیوانو رئیسان راته راغلل ویې ویل چې د امارت مقام ته عریضه کوو چې د کندهار ښار په میرویس مینه کې د کور لپاره یوه یوه نمره خالي ځمکه راته راکړي.

ومې ویل چې ملا صاحب (ملامحمد عمرمجاهد) دا کار نه کوي، ټول علماء وو، د ملامحمد عمر مجاهد استادان هم پکې وو، عریضه مو د امارت مقام ته وړاندې کړه، بیرته جواب راغی، او زموږ عریضه ملا صاحب نه وه لاسلیک کړې.

لیکل شوي وو چې مولوي صاحب: (په افغانستان کې ټول علماء کورونه نه لري، دی ته به یوه طریقه جوړوو، د کورونو ځمکه درلودل د ټولو افغانانو حق دی[۱].

زموږ سره په نظام کې چا شرکت نه کاوو، موږ یې یوازې حکومت کولو ته پرېښودلو، ځکه به تیروتنې وي.))

د شیخ دلاور داخبره چې د طالبانو سره په نظام کې چا شرکت نه کاوو، تر یوه ځایه د مشرانو افغان سیاستوالو په حق کې صدق کوي، ولې دا باید ومنل شي

---

[۱] عبدالشکور دادرس چې مشهور حقوق پوه دی، هغه وایې چې د کابل ښاروال لخوا ملامحمد عمر اخوند ته وړاندیز لیکل شوی وو چې په کابل ښار کې ځینې سپینې ځمکې شته، داچې طالبان د کورونو ځمکې نه لري، که دغه ځمکې ورته ورکړل شي. ښاغلی دادرس وایې چې کله ملامحمد عمر اخوند ته عریضه وړاندې شوې وه او بیرته عریضه ښاروال ته راغله پرې لیکل شوي وو چې کابل د افغانستان مرکز دی، او د کابل په ځمکو کې د ټول افغانستان خلک شریک دي، دا ځمکې د ټول افغانستان د خلکو حق دی، د اوس لپاره دي طالبانو ته نه توزیع کیږي.

چې طالبانو د خپل نظام پرمهال د واک انحصار له ځان سره ساتلی وو.

د مجاهدینو د حکومت د مهال لومړي وزیر انجنیر احمدشاه احمدزي ما (لیکوال) ته وویل: ((زه په لندن کې وم، د طالب مشرانو لخوا څو ځله راڅخه وغوښتل شوو چې بیرته کابل ته راستون او له دوی سره کار وکړم، د هغه وخت د مالیې وزیر ملا معتصم اغا جان راته وویل چې موږ ځوانان یو، تجربه نه لرو، زه د مالیې وزیر یم، خو له کارونو سره بلد نه یو، تاسي چې د حکومت کولو تجربه لرئ، موږ درته اړتیا لرو.))

استاد محمد زمان مزمل چې د حزب اسلامي پېژندل شوی د اجرائیه شورا غړی وو، هغه وایې: (( په پېښور کې طالب مشر راڅخه وغوښتل چې کابل کې له دوی سره کار وکړم، هغه د طالبانو د مشرانو لخوا هم ماته پېغام راکړ.))

زما (لیکوال) ځینې یادښتونه بیا داسي دي چې پرته له طالب (د دیني علم فارغ یا محصل) څخه غیر طالب د طالبانو د نظام د اصولو سره سم د ریاست چوکۍ مستحق نه وو، ولي در یاست مرستیال دنده ورکول کیدله.

زه د هلمند د اطلاعاتو کلتور رئیس وم، نږدې یو نیم کال زما د ریاست د چوکۍ لپاره منظورې د سرپرستې شورا لخوا ونه شوه، او لامل یې دا و چې زه طالب نه بلکې انجنیر وم.

ولي اوس مهال لکه د پوهنې په برخه کې چې طالبانو مثبت بدلون کړی، دا ډول د واک انحصار هم ښکاری چې نه غواړي، لږ ترلږه دا د عدم انحصار روحیه د سیاسی او نورو ملکی طالب مشرانو په منځ کې محسوسه ده. همدا اوس یې د دوی سره په مختلفو برخو کې د پوهنتون او ښوونځیو فارغ کسان کار کوي، او په ځینو مهمو برخو کې طالبانو پر همدوی باور کړی دی.

شیخ دلاور وویل: (( چې د تدریج خبره مهمه ده، موږ سره پوه او تکړه ملایان

هم نه دریدل، تر څو د هغوی مشورو ته توجه شوی وای. [1]

زموږ د امر باالمعروف او نهي عن المنکر د اداري مشر- مولوي قلم الدین [2] اوسمهال په کابل کې ناست دی، چا ورڅخه پوښتنه هم نه ده کړي، چې هغه په خپل وخت کې کومې کړنې کولي. ولي د نورو طالبانو په اړه بیا ویل کیږي چې افراطي دي!

زموږ لپاره مطلوب نظام په اړه وایم چې ټولو اسلامي نظامونو ته احترام لرو، د سعودي عربستان نظام په اصولو کې موږ ته د منلو وړ دی، په قاطع نصوصو (قران کریم او احادیث) کې بله خبره نه کیږي، حدود او قصاص[3] عملي کیږي، د حدودو ثبات ډیر سخت دی، ما خپله قضاء کړي.

د خلکو د هوسایي لپاره په کندهار او هرات کې د تمیز محکمې وې، کله چې زه کندهار ته ولاړم، ملا صاحب (ملامحمد عمر مجاهد) راته وویل چې د دعوې اړوند معلومات او جریان به خپله ځان قانع کوي، ابتدائیه او د نورو محاکمو پریکړې ته به نه ګوري چې چا دعوه ګټلي ده، خپله به یې څیړنه کوي، چې ته خپله قانع شوې بیا به پریکړه کوي.

کوم کس یا لوري چې به دعوه ګټلې وه، مخکې د پریکړې تر اعلان به مو همدې کس/ لوري ته وویل چې په قران کریم لاس کیږده، لاندي خبرې به مې ورته وکړي.

---

[1] تکړه دیني عالمان بیا په دي خفه وو چې له موږ څخه مشورې نه اخیستل کیږي او حکومت یې ټول بې تجربې ځوانو طالبانو ته سپارلی دی

[2] د طالبانو د نظام پر مهال ډیر زیات شکایتونه د امر باالمعروف او نهی عن المنکر اداري او په ځانګړي ډول مولوي قلم الدین څخه هم کیدل. له ځوانو هلکانو او میرمنو سره د ناسم چلند له کبله د دغې اداري له کارکوونکو سره دخلکو ستونزه وه، او دخلکو نه خوښیدل.

[3] حدود او قصاص په قران کې شته، د ځینو خاصو جرمو لپاره ځانګړي جزاء ټاکل شوې، که یو سړی غلا وکړي او حد یې د غلا اندازې ته رسیدلي وي، دهغه لاس پري کیږي. که کوم سړی په ناحقه قتل وکړي، په مقابل کې یې قصاص ( وژل) کیږي.

۱ – زيری درکوم چې دعوه تاسي ګټلي ده.
۲ – پريکړه ليک به مې ورته ووايه او ور به مې کړ، دواړو لورو ته بـه مـې وويـل چـې دا پريکړه ده.
۳ –قسم درکوم  که هرچا درڅخه د محکمـې پـه جريـان کـې رشـوت غوښـتي وي، هغه به راته ښياست.
۴ – مقابل لوری چې دعوه به يې بايللي وه، هغه تـه بـه مـې ويـل چـې پريکـړه دي واوريدله، نور ځه په مخه دي ښه، چې هر څه وايې هغه وايه، که خلکو ته وايـې چې چا رشوت راڅخه واخيست او يا کومه بله خبره، هغه  کـوه، مګـر دعـوه دي وبايلله، او ګټونکي ته به مو مبارکي ورکړه.))

د شيخ دلارو خبره سمه ده، په محاکمو کـې مشرانو د فسـاد د مخنيـوي ټينګـه اراده درلودله، ولي محاکم په بشپړ ډول له فساد څخه پاک نه وو، په ځينو محاکمو کې رشوت اخيستل کيدی، خصوصا په محلی محکمو کې چې د مرکـز لـه نظـارت څخه به ليرې وې، او په ځينو محکمو کې واسطه هم منل کيدله، ولي تـر ډيـره بيـا هم خلکو ته اسانتياوې جوړې وې. زما د نږدې دوست د ځمکې دعوه وه، د هلمند د نادعلي ولسوالی د محکمې رئيس پريکړه زما د دوسـت پـه حـق کـې کـړې وه، د محکمې محرر زما د دوست نږدې ملګری و، يو ورځ مخکې له دې چې سـبا پريکـړه اعلان شي، قاضي تـه مقابـل لـوري ممکـن پيسـې ورکـړې وي، د محکمـې قـاضي محرر ته ويلي و چې هغه پخوانۍ پريکړه ليري کړه، او پريکړه د بل جانب په ګټه زه کوم، تاسي همهغه متن په کاغذ کې وليکئ، د محکمې محرر چـې زمـوږ د دوسـت ملګری و، قاضي ته يې ويلي و چې سبا د پريکـړې د اعـلان ورځ ده، او دواړه لـوري مو راغوښتي دي، اوس خو ما پريکړه ليکلي ده، که تاسي بيا هـم ټينګـار کـوي، دا کومه نوې پريکړه چې تاسي پـه دلايلـو کـوئ ، همـدا کاغـذ بـه پـه اوسـنئ پريکـړه ورسريښ کړم، او پخوانۍ متن به نه معلوميږي، قاضي هم کم عقلتـوب کـړی و، لـه

محرر سره يې خبره منلي وه، سهار پريکړه زموږ د دوست د جانب مقابل په ګټه وشوه، بيا همدا مسئله د کندهار د تميز رئيس مولوي شهاب الدين دلاور ته ولاړه، او هغه په خپل لاس پر اصلي پريکړه نښلول شوی د دويمې پريکړې متن ايسته کړ، هغه قاضي بيا له محکمي څخه وشړل شو، خو نوره جزاء ورنه کړل شوه.

شيخ دلارو وويل : (( که په درې نيم کلونو کې چې ما په کندهار کې د تميز محکمې رياست کړی، په ناحقه هم کوم چا وويل چې مولوي صاحب (شيخ مولوي شهاب الدين دلاور) راڅخه رشوت اخيستي دی، زه به ملامت يم.

قضاء ډيره سخته ده، که د پيسو مقابل کې ښځې زنا وکړه، حد پري نه جاري کيږي، شبهه پيدا شوه، په غلا کولو کې که غل کوم نفر وښود چې راسره شريک وو، حد نه جاري کيږي، شبه پيدا شوه. [1]

جعفري فقه چې رسمي شوې [2]، موږ به هم دا پريکړه عملي کوو، ولي اصل حنفي فقه ده.

په معتدل اسلامي نظام باندي توافق کيدای شي، کبار علماء به موجود وي چې اختلافي مسايل په خپل وخت سره حل کړي.

څه ډول چې د ډيموکراسي نظام نه منل کيږي او نه هم تطبيق کيږي، دا ډول د کوم بل اسلامي هيواد نظام هم کټ مټ په افغانستان کې نه شي تطبيقيدای.

نصوص قاطع دي، په دي برخه کې هيڅ نه شي منل کيدای، معتدل اسلامي نظام به وي، اختلافي مسايل به حل کيږي او په فروعاتو کې به له اعتدال څخه

[1] د طالبانو د نظام پرمهال د حدودو او قصاص لپاره پريکړې ملکي نه بلکي نظامي ځانګړو محاکمو کولي، نظامي محاکم قاطع وي، او په ځينو وختونو کې عجله هم کوي.

[2] دافغانستان لپاره په محاکمو کې يواځې د حنفي فقهې پر بناء پريکړې کيدی، ولي د حامد کرزي د حکومت پرمهال اجازه ورکړل شوه چې د شخصي- احوالو اړوند مسايلو کې د جعفري فقهې مطابق پريکړې هم په محاکمو کې وشي.

کار اخیستل کیږي.))

د شیخ دلاور د معتدل اسلامي نظام خبره په زړه پوري وه، که طالبانو د خپل تیر نظام پر مهال په ځینو مواردو کې له جدیت څخه کار نه وای اخیستي، د اعتدال او تدریج مسئله یې په نظر کې نیولي وای، کیدای شي په ځینو برخو کې یې ښې لاسته راوړنې درلودلي وای.

شیخ دلاور زیاته کړه: (( داچې لومړۍ به اوربند کیږي که بهرنیان به ووځي؟ که سوله کیږي، او سوله راځي، داسي نه ده چې بهرني پوځیان به سمدستي ووځي، د بهرنیو پوځیانو د وتلو لپاره به محدود او معقول مهالویش ټاکل کیږي.

د بهرنیو پوځیانو د وتلو لپاره به امریکا تضمین ورکوي، داسي هیواد چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړی وي، ځکه د امریکا په خبره باور نه شي کیدای. د طالبانو له خوا د محدود او معقول وخت ورکول حتمي شرط دی.

شیخ دلاور وویل چې د بختیار صاحب د پوښتنو اړوند به ووایم چې ځینې رسنۍ خبرې نه دي، زمونږ په عسکر تر طالب ډیر زړه خوږیږي چې مړ شي، طالب خو به شهید شي، په حقه لاره کې به قرباني ورکړي، ولي د افغان عسکر دنیا او اخرت خرابیږي، ډیر پري خفه کیږو. مونږ پوهیږو چې خلک غریب او بیکاره دي، دوی څه وکړي، چاره هم نه لري، ایران او پاکستان ته هم د مزدورۍ لپاره ځي او بیا یې ځینې وژل کیږي، دوی فکر کوي چې په نورو هیوادونو کې د مزودرۍ له امله وژل کیږي، همدلته دي ووژل شي، مونږ ته بهرنیانو جګړه افغاني کړي ده، جګړه کې افغانان وژل کیږي.

مونږ طالبان او د کابل اداري کسان دوه مشترکات لرو:

۱ – دواړه مسلمانان یو، که مي وویل چې مسلمان نه یې نو ځان مې کافر کړ.

۲ – دواړه افغانان یو، که مې وویل چې ته افغان نه یې، نو خپله به افغان نه یم.

په ګډه به د همدې پورته دوو مشترکاتو لپاره کار کوو، هڅه به کوو چې څه ډول

د مرگ ژوبلې مخه ونیولای شو، کومه لاره به وي چې سولې تـه پـري ورسـیږو، پـه دې برخه کې به تاسي راسره گډ کار او مرسته کوئ.

موږ دي بـاور تـه رسـیدلي یـو چـې ډاکټـر عبـدالله عبـدالله او د پښـوانۍ شـمال ټلوالې پاتې شوني سوله نه غواړي.))

نه پوهیږم چې ولي شیخ دلاور یواځې د ډاکټر عبدالله عبـدالله او شـمال ټلـوالې نوم ذکر کړ، زما معلومات دادي چې:

نږدې درې نـیم کلونـه وړانـدي د بهرنیـو اډو پرضـد د ملـي یـووالي جبهـې مشر- انجنیر احمدشاه، د جبهې مرستیال محمد زمـان مزمـل او د جبهـې غـړی حـاجي احمد فرید قطر کې له طالبانو سره ناسته درلـوده، طالبـانو د سـولې خـبرو لپـاره د اووه کسانو نومونه ورکړي وو چې له دوی سره غواړي مخامخ خبرې وکړي.

استاد عبـدرب الرسـول سـیاف، ډاکتـر عبـدالله عبـدالله، محمـد یـونس قـانوني، حاجي محمد محقق، عطا محمد نور، سید اسحاق گیلاني او سید حامد گیلاني.

استاد سیاف ته انجنیر احمد شاه دوه ځلې ورغی، هغه ویـل چـې زه یـې جـواب درته لیږم، او بیا استاد سیاف د احمد شاه مسعود د مـرگ د تلـین (۲۰۱۳/۹/۹ ) پـه ورځ وویـل: ((کـه حکومـت غـواړي چـې د طالبـانو د ځـانمرگو بریـدونو څخـه مخنیوی وشی، د کابل په څلورو دروازو کې دي یو – یو طالب ځوړنـد کـړي چـې د نورو لپاره عبرت شي!))

د ولسي جرگې له غړي یونس قـانوني څخـه وغوښـتل شـوو چـې همـدا خـبره د ولسمشر له لومړي مرستیال قسیم فهیم سره شریکه کړي. فکر کیږي چـې هغـه دا خبره له مارشال فهیم سره به په سم ډول نه وي شریکه کړي.

ډاکټـر عبـدالله عبـدالله وویـل: ((د ۲۰۱۴ کـال ولسمشر-یزې ټـاکنې را رواني دي، اوسمهال زه نه شم کولای چې له طالبانو سره د سولې اړوند مخامخ خبرو ته کښینم.))

محمـد محقـق پـه لـومړي وخـت کـې چمتـو نـه وو، فکـر کیـږي چـې د ایـراني

ډیپلوماټو لخوا وروسته وهڅول شو، ویې منله چې له طالبانو سره به ګوري، خو د هغه پر موټر برید وشو، او هغه وویرول شو.

د بلخ د والي عطاء محمد نور سره د ملاقات زمینه برابره نه شوه.

زما (لیکوال) نظر په هغه وخت کې دا وو چې همدا خبره تر ټولو لومړی د هغه وخت د ولسمشر لومړي مرستیال مارشال فهیم او عطاء محمد نور سره شریکه شي، ځکه همدا دوه کسان په مسایلو کې قاطعیت لري، او فهیم بیا د استاد سیاف پرعکس د احمدشاه مسعود د مرګ د تلین  په ورځ د سولې اړوند رغنده څرګندونې وکړي. که دغو اوه کسانو له طالبانو سره مخامخ د سولې اړوند لیدنې کړې وای، پرته له شکه نتیجه به یې درلودلې وای. ولې یاده پروسه د استاد سیاف، قانوني او عبدالله له امله په ټپه ودریده، د دوی لخوا داسې عکس العمل وښودل شو چې بیاځل هڅو ته لاره پاتې نه شوه. داسې فکر کیږی چې عبدالله او قانوني به په هغه لومړیو وختونو کې یاد معلومات له امریکایانو سره شریک کړي وي. د عطاء محمد نور په اړه ویل کیږي چې د نورو په نسبت سولې ته اوسمهال ژمن دی.

شیخ دلاور وویل : (( پخواني لوی څارنوال عبدالجبار ثابت، هغه وخت چې زه په اسلام اباد کې سفیر وم راته وویل چې رباني مو په هواء کړی، نور نو د هغه حکومت ختم دی، ولې د افغانیو د چاپ واک او د افغانیو نوټونه  له ده سره دي، تاسي نوي افغان بانک نوټونه چاپ کړئ، د استاد رباني دا اقتصادي حربه به هم ودیږي، که په ۵ یا ٦ میاشتې کې مو د نوي نوټ ګټې ونه لیدلې، ما بندي کړئ او سزاء راکړئ.

ومې ویل چې استاد رباني، عبدالرشید دوستم او نورو [1] افغانۍ چاپ کړي، که موږ هم داکار وکړو، دا خو د هیواد تجزیې ته لاره هواروي.))

د شیخ دلاور د خبرو اړوند زموږ معلومات بل ډول دي په ۲۰۱۰ کې مولوي

---

[1] ویل کیدل چې ښاغلي حکمتیار هم د افغانیو د چاپ ماشینري جلال اباد ته راوړي وه، غوښتل یې چې د افغانیو جعلي بانک نوټونه چاپ کړي.

وکیل احمد متوکل او په ۲۰۱٦ کې انوارالحق احدي دواړو راته منلي ده چې د نویو افغانیو د بانک نوټونو طرحه په امریکا کې ښاغلي احدي د هغه وخت د طالبانو دحکومت د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي متوکل ته ورکړې وه، ښاغلي متوکل د ډسمبر میاشت ۱۹۹۷ز.کال کې امریکا ته سفر کړی وو او هلته یې د یوې ناستې پر مهال ډاکټر انوارلحق احدي سره لیدنه شوې وه، کله چې ښاغلی متوکل بیرته هیواد ته راستون شو، د مالیې وزارت سره یې طرحه شریکه کړه، د جرمني هیواد سره د نویو افغانیو د چاپ هوکړه لاسلیک، د افغانیو ډیزاین بشپړ شو، جرمني کې د بانکنوټو د چاپ کمپنۍ ته لومړی قسط پیسې ورکړل شوې، د طالبانو پر حکومت د ملګرو ملتونو لخوا ډسمبر ۲۰۰۰ ز. کال کې بندیزونه ولګول شوو، د افغانیو د چاپ پروسه هم د جرمني کمپنۍ لخوا بنده شوه.

کله چې د حامد کرزي دوره راغله، انوارالحق احدي د کابل بانک رئیس وو، او د نویو افغانیو د چاپ قرارداد له همغې پخوانۍ کمپني سره د افغان حکومت له خوا وشو.

ښاغلي احدي وویل: (( موږ همهغه پخوانی د طالبانو د وخت د نویو افغان بانک نوټونو ډیزاین ومانه، یواځې د افغانستان د اسلامي امارت نښان مو پکې بدل کړ.

ښاغلی احدي وایي چې په بانکونوټونو کې مو هغه انځورونه ومنل کوم چې طالبانو ډیزاین کړي وو. دی وایي چې د شمال ټلوالي لخوا زیات فشار وو چې په نوي بانک نوټو کې د احمدشاه مسعود انځور چاپ شي، ورته مې وویل چې د اشخاصو انځورونه پکې نه چاپوو، ځکه بیا خو باید د میرویس نیکه او احمدشاه بابا انځورونه پکې ډیزاین شي، بیا د شمال ټلوالي ټینګار وو چې د احمد شاه مسعود د قبر ودانۍ ژر بشپړه کیږي، د هغه د قبر د ودانۍ انځور پکې چاپ کړئ، ولي موږ مقاومت وکړ، دا کار مو ونه کړ، ورته مو وویل چې اوس د نوو بانک نوټونو ډیزاین تکمیل شوی.

یواځې ولسمشر کرزی مې په دی خبره پوه کړی وو چې همهغه د طالبانو د

وخت ډېزاين دی، يواځې نشان يې ورته بدلوو. هغه ومنله او بيا د نويو افغانيو بانک نوټونه چاپ شول.))

شيخ دلاور دخبرو پر مهال وويل: (( د پګواش اداري مشر- ښاغلي پاولو راته وويل چې ۲ ټريليون امريکايي ډالر د امريکا او ناټو لخوا د افغانستان لپاره مصرف شوي، ولي افغانان بيا هم له پوره اقتصادي ستونزو سره لاس او ګريوان دي، اساسي کار نه دی شوی.))

رښتيا هم په هيواد کې د ننه په ليري پرتو سېمو کې ډېرې افغانان له سختو اقتصادي کړاوونو سره مخ دي، افغانستان ته د نړيوالو لخوا ډېرې زياتې پيسې راغلي، ولی ډېر لوی فساد هم پکې وشو، تر ډېره بريده فساد خپلو بهرنيانو او په ځانګړې ډول امريکايانو وکړ، د دوی جنرالانو هم د ساختماني او نورو پروژو په نوم پيسې غلا کولي، افغانستان ته د راغلو پيسو کيدای شي ۳۰ سلنه يې په حقيقي ډول مصرف شوې وي او ۷۰ سلنه يې غلا شوي، لويه برخه د بهرنيانو لخوا او لږ برخه يې د افغان چارواکو او د هغوی د دوستانو لخوا غلا شوي، ډېری داسي شواهد وجود لري چې بهرنيانو په لويه کچه په غلاوو کې لاس درلود.

داچې دلته بحث د سولې دی، او د افغانستان د فساد او اختلاس بحث ډېر اوږد دی، همدومره بسنه کوي.

شيخ شهاب الدين دلاور وويل: (( د شيخ هبة الله (د طالبانو مشر- ) او سراج الدين حقاني (د طالبانو مرستيال مشر) سره ناست وم، هغوی ته مې وويل: امير صاحب! نه غواړم چې ته په چوکۍ کښينې (د حکومت مشر شي)، موږ ته تر هرڅه لومړی اسلام مهم دی، اسلامي ارزښتونه به ساتو، دوېم قدم کې راته خپل هيواد افغانستان مهم دی، دا هيواد به ساتو، او درېم قدم کې راته خپل د افغانستان اسلامي امارت مهم دی.

په بريدونو کې ملکي خلک وژل کيږي [۱]، دا ربښتيا هم يوه غميزه ده، اشغال دی، جګړه ده، د مخنيوي لپاره يې هڅې روانې دي.

ډاکټر اشرف غني له ولسمشريزو ټاکنو مخکې له موږ سره مجلس وکړ، هغه ژمنه کړې وه چې د امريکا سره به امنيتي تړون نه لاسليک کوي، ځنډوي به يې او هغوی ته به د وتلو خبره کوي، موږ هم په ځينو برخو کې سهولت او تنازلات وکړل، د دويم ځل ټاکنو په مهال په ليرى پرتو سېمو کې ولسي- خلکو خپلې رايې وکارولې، ولې ډاکټر غني په وعده ونه دريد، اوس چې ډاکټر عبدالله پر ډاکټر غني نيوکې کوي چې پر کړو هوکړو عمل نه کوي، په دي برخه کې پري ملامت نه دی.))

د شيخ دلاور د خبرو سربيره زموږ معلومات دادي چې نه يوازې د طالبانو د سياسي دفتر له غړو سره ، بلکي د ولسمشريزو ټاکنو پر مهال د ډاکټر غني استازو په ځينو سېمو کې له سيمه ييزو جنګي طالبانو سره هم ليدلي وو، له هغوی سره يې هم ډيرې ژمني کړي وي، کوم وخت چې ډاکټر غني واک ته ورسيد، نه داچې ژمنې يې پرځای کړې، بلکي نظامي طالبانو ته ور استول شوې خپل استازي يې هم هير کړل.

شيخ دلاور وويل : (( د دولت کارکوونکي هغوی چې نظامي کسان دي او دا ډول د محاکمو او څارنوالي مامورين، قاضيان او څارنوالان، عملاً له طالب سره مقابل اړخ دی، تاسي د ۳۰ زره زندانيانو حالت وګورئ، ممکن ۵ زره پکې طالبان وي، نور د طالب په تور نيول شوي. موږ له زندانيانو سره اړيکې لرو، له حالت څخه يې خبر يو، بد چلند ورسره کيږي. [۲]

[۱] ډيرى داسي راپورونه شته چې ملکي کسان د طالبانو، افغان امنيتي ځواکونو، امريکايې پوځيانو او ناټو ځواکونو د حملو پرمهال وژل شوي.

[۲] ولسمشر کرزي د خپل واک په وروستيو دوو کلونو کې څوځله داخبره تکرار کړه چې باګرام او پلچرخې زندانونه د طالبانو د زيږيدو او طالب جوړونې فابريکې دي. دلته ډيرې کسان يوازې د طالب په تور باندي نيول شوي او بنديان دي ، کله چې يو کس بندي شي، دهغه د کورني غړي مجبوره کيږي چې طالبان شي.

د ملکي ادارو مامورین، دا ډول افغان عسکر (اردو، پولیس او اربکی) که تسلیم یا هم اسیر شي، د هغه ژوند خوندي دی.))

کله چې شیخ دلاور د زندانو خبرې کولې، هغه یوازې د اوس مهال څخه شکایت درلود، داځکه چې اوس مهال په هیواد کې د بیان ازادي رشد کړی، د بشر د حقونو ډلې له زندانو څخه لیدنې کوي، زندانیانو سره د ناوړه چلند پیښې ژر د خلکو تر غوږو رسول کیږي، ولې د حامد کرزي د دوري په لومړیو وختونو کې او بیا تر ۲۰۰۹ز. کال پورې چې کوم ظلمونه له زندانیانو سره وشول، هغه تر نن ورځې ډیر زیات وو،او کومې شکنجې چې په تیرو وختونوکې د بهرنیانو او افغانانو لخوا افغان شکمنو زندانیانو ته ورکول کیدې اوس مهال به په هغه اندازه نه وي، د حامد کرزي د واک په وروستیو وختو کې زندانیانو ته زیاتې اسانتیاوې ورکول شوې وې او نرمښت ورسره کېده ، مګر د ډاکټر غني په وخت کې هغه اسانتیاوې بیرته له منځه یوړل شوې، په ټوله کې په زندانو کې له بندیانو سره ناوړه چلند کیږي.

شیخ دلاور وویل: (( جګړه راته لومړیتوب لري، جهاد یې ګڼو، او جهاد ته ادامه ورکوو، صدام حسین به امریکایانو ته ویل چې عراق افغانستان نه دی، معمر القذافي به امریکا ته ویل چې لیبیا خو عراق او افغانستان نه دی، ولې عراق او لیبیا دواړه هیوادونو کې یې حکومتونه سقوط او ختم شول، افغانستان کې لا هم د امریکا ضد جګړه روانه ده، او د امریکا په لاس کې نه دی پریوتی.

که ځینې اداري لکه پوهنې وزارت، د روغتیا وزارت، د بیارغونې او ټولګټو وزارتونه ناپیېلي اعلان شي، په ناپیېلې ډول افغانانو ته خدمات وړاندې کړي، او د یادو ادارو سرپرستي هم ناپیېلو افغان مسلکي کسانو ته ورکړل شي، دا به ښه پرمختګ وي، په دې اړه له از اد افغان سیاستوالو سره ځینې خبرې او ناستې هم شوې.))

د طالبانو دغه ډول او دې ته ورته وړاندیزونه سولې ته لاره هوارولي شي، پورته خبره مې په ۲۰۰۹ ز.کال کې له ښاغلي متوکل څخه اوریدلي وه، هغه به له

حکومتي لوړ پوړو چارواکو سره په ناستو کې ویل چې ځینې ټولګټې اداري باید د دولت له سیاسي چوکاټ څخه وایستل شي او ناپیېلي اعلان شي، د پوهنې وزارت، د عامې روغتیا وزارت، د ټولګټو چارو وزرات او سره میاشت.

د طالبانو د رهبري شورا، قطر کې د سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړي قاري دین محمد حنیف صاحب وویل :

(( یوځل د یونیکال کمپنۍ [۱] لخوا موږ امریکا ته دعوت شوې وو، لندن کې مو نږدې ۷ ساعته د پاتې کیدو وخت درلود، لندن مېشتي افغانان زموږ له ورتګ څخه خبر وو، هغوی (جنرال رحمت الله صافی، نبي مصداق، د پکتیا وزیري صاحب او ځینې نور چې ټول نږدې ۹ تنه وو) موږ ته میلمستیا کړې وه، موږ ورڅخه غوښتنه وکړه چې افغانستان ته راشئ او له موږ سره کار وکړئ. هغوی ویل که دا ږیره (د ږیرې خریېل او کمول ) راته معاف شي، موږ د کار لپاره حاضر یو. [۲]

---

[۱] یونیکال امریکایې کمپنۍ په ۱۹۹۷ ز.کال کې په کابل او کندهار کې دفترونه درلودل، غوښتل یې چې د ترکمنستان څخه هند ته د ګازو د نل لیکې تیریدو قرارداد ترلاسه کړي. دغه لویه پروژه د ټاپي په نوم یادیږي.

د یونیکال کمپنۍ لخوا ځینې طالب مشران په ډسمبر ۱۹۹۷ کې امریکا ته دعوت شوې وو، څو تنه پکې د طالبانو وزیران وو.

ځینې طالبان بیا وروسته په ۱۹۹۹ جولای – اګست کې هم امریکا ته ولاړل، او هلته یې لیدنې درلودلې د طالبانو په وخت کې بیا وروسته یاد قرارداد د ارجنټاین د بریډاس کمپنۍ سره په ترکمنستان کې لاسلیک شو، چې د طالبانو پرضد د امریکا دحکومت غوسه له همدې ځایه راپیدا، د طالبانو د نظام د نړولو پر پلان کار کیدی.

[۲] د طالبانو د نظام پرمهال د ژیرې د ویشتانو خریېل او لنډول منع وو، که کوم کس به ژیره خریېلې او یا هم لنډه کړې وه، درې ورځې زندان ته وړل کیدی، او سزا ورکول کیده. که دویم ځل نیول شوی وای بیا یوه میاشت په زندان کې ساتل کیدی.

عبدالباري جهاني د طالبانو ضد هغه وخت روحیه واخیستله چې کله د طالبانو دنظام پرمهال کندهار ته تللی وو، په ښار کې دګرځیدو پر مهال د امربالمعروف او نهي عن المنکر د طالب لخوا، چې جهاني یې نه وو پېژندلی، په دې تور یوه څپېړه وهل شوی وو چې ولې دې ژیره خریېلې ده.

جنرال صافي ته مې وويل چې تاسي د پاچا ظاهر په وخت کې کار کړی، نظامي برخه کې واست، هر ملا او عالم چې به عسکري ته بيول کيدی، د هغه ږيره به ورته خريبل کيدله، ځکه دا د پاچا امر او د حکومت اصول وو، ملايانو هم جبرا ورسره منلي وه، فتنه يې نه غوښتله.

ږيره درلودل د گردو انبياوو او زموږ گران پيغمبر ﷺ سنت ده، د ږيرې پرېښودل واجب ده، په زړه پوري لا دا ده چې افغانستان کې اوسيدونکې سيکانو به عسکري له ږيرې سره کوله، د هغوی ږيره ورته نه خريبل کيدله، ولي د ملايانو ږيره به د عسکري پر مهال خريبل کيدله، او هغوی هم دا کار مانه، اوس تاسي هم راشئ او دا څو ورځې ږيرې پريږدئ، ويې منئ.))

مگر د قاري حنيف ديته پام نه و، چې ملايانو بيا د پاچا ظاهر د وخت غچ په پوځي او ملکي برخه کې واخيست، د طالبانو د نظام پر مهال د ږيرې درلودل د فرضياتو په قطار کې دوی راوستل، او که د کوم ځوان يا هلک د سر ويښتيان به هم ډير اوږده وو، هغوی به يې د ښار په منځ کې درول او د خلکو په مخ کې به يې د هغه د سر په ويښتانو کې د قيچې پواسطه ليکې جوړولي، دا يو ډول تحقير و، چې ځوانانو او هلکانو ته يې کاوو.

د ږيرې خريبل او يا ويښتانو لنډولو جزا بيا زندان و، او له زندان سره سره د خلکو تحقير هم و، که داکاريې پرته له تحقير څخه کولای او خلکو يې ږيرې پرېښودلو ته تشويق کولای، دا ډول طريقه به ډيره موثره وای.

افغانان کينه پالي دي، کله چې طالبان له کابل ښار څخه د شپې مهال ووتل پر سهار يې ډيری کابل ښاريان د سلمانيانو د هټيو مخکې په ليکو کې ولاړ وو چې خپلې ږيرې وخريې.

ښاغلي حنيف داهم وويل : (( هر افغان چې وژل کيږي، زړونه مو درد کوي، لوږه او بېکاري ده، خلک مجبوريتونه لري، داسي کورنۍ هم شته چې يو ورور

طالب او بل ورور يې پوليس وي.

د بدخشان اوسيدونکی طالب په جګړه کې ووژل شو، د هغه بل ورور پوليسو کې دنده درلودله، هغه ورور يې طالبانو ونيوی، تر څو چې طالبانو ته خبر رسيدی، چې ورور يې طالب يوه ورځ مخکې وژل شوی، هغه پوليس هم وژل شوی وو، په دوه يا دريو ورځو کې دواړه ورونه (يو يې طالب بل يې پوليس) ووژل شول، او د دواړو جنازې يې بدخشان کې مورته يوړل شوې.

آيا ملامت يو لوری (طالبان) دی ؟ آيا ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله سوله غواړي؟ که هغوی سوله غواړي بيا سمه ده موږ (طالبان) ملامت يو.

ډاکټر اشرف غني خو له طالبانو سره وليدل، خبرې او مجلس يې ورسره درلود، د طالبانو د سولې موقف ورته معلوم وو، بايد ولس ته يې ويلي وای چې طالب سوله کوي يا نه؟

ډاکټر اشرف غني ته يو ډير ښه چانس په لاس ورغلی وو، هغه به اعلان کړی وای چې طالبان سوله کوي که نه، يوه مياشت وخت لري، چې سولې خبرو ته حاضر شي، که حاضر نه شي زه له امريکا سره امنيتي تړون لاسليک کوم.))

رښتيا هم امريکا سره د امنيتي تړون د لاسليک لپاره ډاکټر غني ډيره بيړه وکړه، پرته له دي چې د ولس غوښتنې په پام کې ونيسي-، له امريکا سره يې تړون لاسليک کړ، او دتړون لاسليک جګړه نوره هم اوږده کړه. د قاري حنيف ترځنګ ډيری افغانان په دي نظر دي چې ډاکټر غني د امنيتي تړون په لاسليک او د طالبانو پر ځای له پاکستان سره د سولې خبرو پيل کيدو کې بيړه وکړه. ويل کيږي چې د امنيت شورا اوسنی مشر، حنيف اتمر د کورنيو چارو وزارت لپاره په پام کې نيول شوی و؛ خو د امنيتي تړون د لاسليک لپاره يې په ډېره بيړه هغه د امنيت شورا مشر وټاکه او په سبا يې امريکا او ناټو سره تړونونه لاسليک کړل.

ولسمشر اشرف غني ارګ ته تر ننوتلو وروسته په دويمه ورځ د سپټمبر ۳۰مه

۲۰۱۴ز. کال د ماسپښن درې بجې له امریکا  او ناټو سره ستراتیژیک امنیتـي تـړون لاسلیک کـړ. د امریکـا او افغانسـتان تـرمنځ دغـه امنیتـي تـړون د افغـان ولسمشر د امنیتي سلاکار محمد حنیف اتمر او کابل کې د امریکا د سفیر جیمز کننګهم تـرمنځ په ارګ کې لاسلیک شو. د تړون د لاسلیک پـر وخـت ولسمشر غنـي، اجرایـه رئـیس عبدالله، د ولسمشر لومړی مرسیتال  عبدالرشید دوستم، د ولسمشر دوېم مرسـتیال سرور دانش، د اجرایه رئیس لـومړی مرسـتیال انجنیـر محمـد خـان، د اجرایـه رئـیس دوېم مرستیال استاد محمد محقق، د محاذ ملي اسلامي ګوند مشر پیـر سـید احمـد ګیلاني، د نجات ملي اسلامی ګوند مشر حضرت صـبغت الله مجـددي او د ولسمشر ارشد سلاکار د احمدشاه مسعود ورور احمدضیاء مسعود شتون درلود.

له دې مخکې د امریکا دولسمشر اوباما او افغان ولسمشر حامـد کـرزي لخـوا د مئ میاشتي ۲مه ۲۰۱۲ د تلپاتې ستراتیژیکې ملګرتیا تړون لاسلیک شوی وو.

ښاغلي حنیف وویل: (( په تیر پسرلي کې طالبانو جګړه کمـه کـړي، همـدوی د کابل ادارې کسانو ویل چې طالبان کمزوري شوې، جګړه نـه شي کـولای، طالبـان مجبوره شول، او بیا یې سختې جګړې پېل کړي.))

زموږ معلومات هم دا دي چې ځینو افغان سیاستوالو له طالبانو غوښتي وو چـې جګړو کې کموالی راولي، تر څو د سولې هڅو تـه د سـاه اخیسـتلو وخـت ورکـړي، همهغه وو چې د ۲۰۱٦ کال په پسرلي کې طالبانو په جګړو کې کموالی راوستی، دا ډول ویل کیدل چې د طالبانو نوی مشر هـم غـواړي چـې پـه جګـړو کـې مـرګ ژوبله کمه شي، مګر په کور دننه او بهرنیو رسینو بیا راپورونه ورکول چـې د طالبـانو په ډله کې د اختلافاتو او اقتصادي سرچینو د لړوالي لـه کبلـه پـه جکـړه کـې دوی کمزوري شـوي، همهغـه وو چـې طالبـانو د دغـه ډول راپورونـو تـر خپریـدو وروسـته سختې جګړې بیاځل پېل کړي.

قاري حنیف وویل: ((کله هـم چـې د سـولې خـبرې کیـږي، ځینـې خپـل ګټـې

کسان وارخطا کیږي، ډاکټر اشرف غني د سولې ږغ کوي، ولي نور د حکومت شریکان یې بیا د سولې د ږغ سره مخالفت کوي، هغوی وایي چې د طالبانود ټکولو لپاره نوی وسلوال باید تجهیز شي. [۱]

که ډاکټر اشرف غني سوله کوي، مقابل لوری موږ یو، له موږ سره خبرې په کار دي، نه له نورو هیوادو سره، کابل اداره د سولې لپاره واضح تګلاره نه لري، ادرس یې د حکومت په نوم اعلانوي، ولي تګلاري یې بېلابېلي دي، موږ پوهیږو چې امریکا هم په افغانستان کې سوله نه غواړي او خپل نور اهداف او ګټې لري.

همدلته دوحه کې د پګواش اداري لخوا د روان کال د جنوري میاشت کې د سولې اړوند کانفرانس جوړ شو، هغه کانفرانس ته ځینې کسان راپرینښودل شوو، قزاقستان کې د سولې د کانفرانس جوړیدو مخالفت وشو، له دي مخکې حامد کرزي هم ترکمنستان کې د سولې کانفرانس د جوړیدو مخالفت کړی وو.))

د جاپان د کیوټیو ښار د دوشیشا پوهنتون کې چې د افغانستان اړوند کوم کانفرانس و، له دولسو کلونو وروسته په لومړي ځل د طالبانو استازو په دغه ډول نړیواله غونډه کې برخه درلودله، تر دي یو کال وړاندي په ۲۰۱۱ کې مولوي وکیل احمد متوکل او زه (لیکوال) د دوشیشا پوهنتون لخوا د افغانستان د سولې اړوند غونډې ته غوښتل شوې وو، فکر کیږي چې ښاغلي متوکل به جاپانیانو ته د افغانستان د سولې اړوند د داسي کانفرانس طرحه ورکړي وي چې غونډې ته د

---

[۱] دولسمشر واکمن سلاکار احمدضیاء مسعود، د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین ربانی د ۲۰۱۶ په پسرلي کې شمالي ولایتونو ته سفرونه وکړل، هلته یې غونډې جوړې کړي، او دخلکو څخه یې وغوښتل چې بسیج شي او د جګړې لپاره چمتو وي، که ولسمشر غني له طالبانو سره سوله کوي، او ددوی حقونه پکې خوندي نه وي، دوی به د طالبانو مقابل کې د خپلو وسلوالو په مټ جګړې کوي. استاد سیاف هم د پخوانیو مجاهدینو د بسیج (منظم) کیدو خبرې په غونډو کې کولي، ویل یې چې حکومت ته به اجازه ورنه کړي چې د دوی حقونه پایمال شي.

طالبانو، حزب اسلامي او افغان حکومت استازي وبلل شي.

د ۲۰۱۲ز.کال د جولای پر ۲۷مه د جاپان کیوټو ښار د دوشیشا پوهنتون کې د افغان سولې اړوند غونده وه، د طالبانو دوو استازو (قاري دین محمد حنیف او دکتور مزارگل صالح)، د حزب اسلامي استازی ډاکټر غیرت بهیر، دافغان حکومت د سولې عالي شورا د دارالانشاء رئیس معصوم ستانکزي، ملاعبدالسلام ضعیف او ما (لیکوال) پکې گډون درلود.

د ډسمبر ۲۰ -۲۲ ، ۲۰۱۲ د فرانسې دپاریس په چانتلې ښار کې د افغان سولې اړوند کانفرانس کې بیا هم د طالبانو، حزب اسلامي، شمال ټلوالې او افغان دولت استازو گډون درلود.

د چانتلي غونډه کې د طالبانو او شمال ټلوالې د استازو د نظرونو نږدېوالی راغی، پرمختګ وشو.

له دي وروسته په ترکمنستان کې د بلې غونډې لپاره هڅې روانې وي، طالبانو منلې وه چې داځل به د دوی څلور استازي (دوه د قطر دسیاسي دفتر څخه او دوه تنه د طالبانو د رهبري شوری چې د کوټې شورا په نوم مشهوره ده) په غونډه کې گډون کوي، د شمال ټلوالي استازو هم گډون منلی وو، ولي د طالبانو او شمال ټلوالې د لا ډیر نزدیکت او په سوله مذاکراتو د پرمختګ له ویري ولسمشر- حامد کرزي په ترکمنستان کې د غونډې مخالفت وکړ. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په رسمي ډول له ترکمنستان څخه وغوښتل چې د غونډې کوربه توب ونه کړي.

دا ډول قزاقستان هیواد ژمنه کړي وه چې د افغان سولې د کانفرانس کوربه توب به کوي، هڅه روانه وه چې د ۲۰۱٦ز. کال تر نیمایې پوري یاد کانفرانس وشي. لومړي وخت کې د قراقستان هیواد چارواکو ویلي وو چې دافغان حکومت لخوا اجازې ته اړتیا نه لري، ولي ولسمشر اشرف غني په قراقستان کې د سولې اړوند نړیوال کانفرانس چې د طالبانو استازي به پکې گدون ولري، مخالفت یې

وکړ او غونډه ونه شوه.

د جاپان او فرانسې په غونډو کې ښه پرمختګ وشو، فاصلې مخ په کمېدو وې، که دغو غونډو دوام کړی وای، او ورپسې بله ناسته په ترکمنستان کې شوې وای، ممکن فاصلې نورې هم کمې شوې وای، مګر دغه لړۍ ډېره ژر د پخواني ولسمشر حامد کرزي لخوا وتړل شوه.

دوحه کې د جنوري ۲۳مه ۲۰۱۶ د پګواش دوه ورځنۍ کانفرانس ته زه هم بلل شوی وم، د نامعلومو دلایلو له مخې زما ویزه ونه شوه، وحید مژده د کانفرانس دویمې ورځې ته د ګډون لپاره ورسیدی، او حاجي فرید له دوبۍ څخه وکولای شوای چې ګډون وکړي، ځکه هغه د عرب متحده اماراتو اقامه درلودله، که هغه ه هم له کابله پکې اشتراک کولای غالبا به له ستونزو سره مخ شوی و.

په همدې وخت کې د پاکستان، افغانستان، امریکا او چین په ګډون ۴ اړخیزې ناستې (Quadrilateral Coordination Group) هم پیل شوې وې، افغان حکومت هڅه کوله چې په دوحه کې د پګواش غونډه ونه شي، د قطر هیواد څخه یې غوښتې وو چې د غونډې لپاره ځای ورنه کړي، داچې قطر هیواد د پګواش له ادارې او طالبانو سره د ناستې اړوند هوکړه کړې وه، د قطر چارواکي له خپلې ژمنې په شا نه شول، ولې طالبانو ته یې یادونه کړې وه که ممکن وي چې له غونډې څخه تیر شي. طالبانو سخت غبرګون ښودلی وو. له همدې امله افغان حکومت نه غوښتل چې د پګواش ناسته کامیابه او ډېری افغان سیاستوال پکې ګډون وکړي، بیا هم غونډه په خپل وخت وشوه، کامیابه وه، او په شمار څو کسانو پکې ګډون ونه شو کولای.

ښاغلی عمر دوادزی او ډاکټر انوارلحق احدي چې کله د پګواش غونډه کې له ګډون کولو وروسته بیرته کابل ته راغلل، هر یوه یې په ځانګړې ناسته کې راته ویلي چې له دوی څخه د افغان حکومت دویم نمبر واک لرونکي شخص غوښتي

وو چې په قطر کې د پګواش ناسته کې ګډون ونه کړي.

پګواش یوه نادولتي اداره ده، د سولې په برخه کې یې د نوبل جایزه هم وړې، مرکز یې په کاناډا کې دی، اوسنی مشر یې ښاغلی پاولو د ایټالیا اوسیدونکی دی.

ښاغلي حنیف وویل: (( ترخې خبرې به کوو او اورو به یې، موږ ته وواياست چې خپلې نیمګړتیاوې اصلاح کړو.

حضرت عليﷺ به ویل چې (اخواننا قد بغوا علینا) زما وروڼو (زما په وړاندې مخالفت کوونکو) زما په وړاندې بغاوت کړی دی [1]

ښاغلي حامد کرزي به طالب ته ورور وایه مګر د سولې مخالف وو، که په کابل کې یو ګوند سل تنه غړي ولري هم د افغانانو له ادرسه خبره کوي، وایې چې "مردم افغانستان میګوید"، مګر موږ ته داحق ولې نشته چې د خپلو خلکو خبره وکړو.

نرم کلمات کارول هم خپل ځای لري، د جګړې په وخت کې په کفارو شدت او خپلو منځو کې ترحم ویل شوی. [2]

رسنۍ که د دولت اړوند ۹۹٪ نیوکه کوی، حقایق وایې همداسي ده، مګر زموږ (طالبانو ) په اړه کیدای شي ځینې یې تهمت وي.))

په کابل کې رسنۍ هم د بېلابېلو هیوادونو د سفارتونو لخوا تمویلیږي، ځینې یې په افغان حکومت باندې سختې نیوکې کوي، او په مهارت سره د افغان حکومت د ضعف او کمزوري ښودلو لپاره کار کوي، او ځینې رسنۍ چې په ځانګړو ډلو پوري تړلي هغوی یې د خپلو مخالفو سیاسي ډلو د کمزوري کولو لپاره کاروي، داسي هم نه ده چې په حکومت ۹۹ سلنه نیوکې پر ځای خو په طالب ۱ سلنه نیوکه ناسمه ده.

---

[1] د اسلام د څلورم خلیفه حضرت علي ﷺ او حضرت معاویه ﷺ ترمنځ دجمل او صفین جګړې شوې دي.

[2] قران کریم کې فرمایې (مُحَمَّدٌ رَسولُ اللَّهِ ۚ وَالَّذينَ مَعَهُ *أَشِدّاءُ عَلَى الكُفّارِ* رُحَماءُ بَينَهُم).

د اندیښنو او پوښتنو په اړه شیخ شهاب الدین دلاور بیا ځل خبرې پېل کړې:

(( زموږ اړوند رسنۍ داسې انتقاد کوي، چې زموږ ارزښتونو ته زیان رسوي، وایې چې طالبان د پاکستان غلامان دي، بیا وایې چې د طالبانو ځینو کسانو سپن بیرغ په تور بیرغ بدل کړی.[1]

زه په پېښور کې دافغانستان لخوا جنرل کونسل وم، پېښور کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت مسؤول حامد افریدی راغی او ویې ویل چې یو وړاندیز درته لرم،دلته درې میلیونه افغانان په خیبر پښتونخوا کې دي، هره ورځ یو لوی شمیر کې د تورخم [2] په لاره اوړي او رااوړي (ځینې د جلال اباد په لور او ځینې د پېښور لورته

[1] په کور دننه رسنیو په سیاسي بحثونو کې او دخلکو نظر وړاندی کولو پر وخت ډیر وخت ویل کیږې چې طالبان د پاکستان تر کنټرول او نفوذ لاندي جګړه پرمخ وړي. طالبان داخبره په کلکه ردوي، وایې چې پاکستان ددوی په پریکړو نفوذ او تاثیر نه لري.

په ځینو رسنیو کې داسي راپورونه ورکول شول چې د طالبانو څخه ناراضه کسانو یې داعش ډلې ته مخه کړي او خپل سپین بیرغونه یې په تور بیرغو اړولي دي.

[2] تورخم د ډیورنډ پر کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تلاشي ځای دی، د طالبانو د نظام پر مهال د تورخم دروازه د ننګرهار د قول اردو د قومندان ملا عبدالسلام راکټي لخوا ونړول شوه، د حامد کرزي په وخت کې په تورخم او چمن کې دروازې جوړې شوې، او د ډاکټر اشرف غني په وخت (۱۲ -۱۳ جون ۲۰۱٦) کې په تورخم دروازه باندي د افغان او پاکستاني پوځیانو ترمنځ تر دوه ورځنۍ وقفه یې جګړې وروسته اساسي تاسیسات جوړ شول. دجګړې په جریان کې یو افغان پوله ساتی پوځي او دوه پاکستاني پوله ساتي پوځیان مړه او همدومره دواړو لورو ته زخمیان وو.

د جولای پر ۲۸مه ۲۰۱٦ سهار ٦ بجې د تورخم دروازي پر تاسیاستو د پاکستان نوی جوړ شوې بیرغ ځوړند او د یو لړ مراسمو په شتون کې د باب پاکستان په نوم نوي دراوزه او تاسیسات د پاکستانې چاراواکو لخوا پرانستل شول.

د ۲۰۱۷ فبروري پر ۱٦مه د پاکستان د سیند ایالت کې په لعل شهباز قلندر کې برید وشو، تر اویا زیاتو زیارت کوونکو ته مرګ ژوبله واوښتله، پر سبا یې د پاکستان لخوا د تورخم، چمن او نورې دروازې وتړل شوې، له افغانستان څخه یې وغوښتل چې ۷٦ هغه پاکستاني کسان چې د پاکستان

تګ کوي)، د دې لپاره به یو منظم میکانیزم جوړ کړو، موږ به یو فورم په یوه پاڼه کې جوړ کړو، تاسي ته به یې درکړو، هر مهاجر چې په تورخم اوړي اویا هم دیخوا راځي، همدا فورمه دي ترلاسه کوي او بیا د تګ راتګ اجازه ورکوئ، له هر کس څخه ستاسي خوښه ده له ۱۰۰ څخه تر ۵۰۰ روپۍ واخلئ، هره ورځ به لکونه روپۍ له همدې لاري تر لاسه کړئ، حد اقل د ورځې خو یو لک روپۍ کیږي، د میاشتي ۳۰ لکه شوې، په همدې به خپل اقتصادي ستونزې هم حل کوئ.

زه پوه شوم چې پاکستان د ډیورنډ کرښې [1] د رسمیت پېژندلو هڅه کوي، او له دي لاري غواړي د ډیورنډ کرښې د رسمیت لپاره راتلونکي کې دلایل او ثبوت پیدا کړي.

موږ څه موده مخکې پاکستان ته سفر درلود، د مشرانو په خوښه مو د پاکستان مهمو چارواکو ته وویل چې تورخم، پکتیکا او نورو هغو ځایونو کې چې د طالبانو کنټرول کې دي، د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې دي پاکستاني پوځیان تجاوز نه کوي، زموږ طالبان حوصله نه شي کولای، او مقابله کوي، جګړه کوي، دا پېغام مو په ډیر وضاحت ورته ورساوو، او د انګور اډې تاسیسات هم د همدې خبرو له امله وو چې پاکستانیان ورڅخه په شا شول.[2]))

د انګور اډې د تاسیساتو له سپارلو دوه اونۍ وړاندي ماته ډاکټر صالح ویلي وو

---

امنیت ته ګواښ دي، باید ورته یې وسپاري. افغان لوري یې په جواب کې د ۸٦ افغان کسانو لسټ پاکستان ته وسپاری چې د پاکستان په خاوره کې اوسیږي او د افغانستان د امنیت لپاره ګواښ دی.

[1] پاکستان د طالبانو د نظام پر مهال، د حامد کرزي او ډاکټر اشرف غني د حکومتونو پرمهال هڅه کړې چې د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې په توګه په رسمیت ومنل شي. افغان ولس د ډیورنډ کرښې د رسمیت پېژندلو سره حساسیت لري او دغه موضوع د حکومتونو تر صلاحیت لوړه بولي. حکومتونه نه شي کولای چې د دغه ډول مهمو مسایلو په اړه پریکړه وکړي، دا حق له افغان ولس سره خوندي دی.

[2] دپاکستان لخوا دپکتیکا په انګور اډه کې دروازه او تاسیسات په پاخه ډول جوړ شوي وو، د مئ میاشتي پر ۲۱مه ۲۰۱٦، یاد جوړ شوي تاسیسات افغان پوځیانو ته وسپارل شول.

چې د یادو تاسیساتو په اړه طالبانو له پاکستاني چارواکو سره خپلې اندیښنې شریکې کړې دي. د طالبانو د نظام پر مهال د پاکستان د پوځ او آی ایس آی لخوا هڅه کېدله چې په یو ډول د ډیورنډ کرښې اړوند سند پیدا کړي، طالبانو په دې برخه کې له پوره احتیاط څخه کار اخیستی، په ځینو سیمو کې چې پاکستاني نیمه پوځیانو د ډیورنډ کرښې له صفري نقطې څخه هم دیخوا ته پرمختګ کاوو، طالبانو په ډېر مهارت سره د هغوی مخه د سیمې په ولسونو او قومي ځوانانو نیوله، ولې بیا هم د تورخم په سیمه کې یو ځل ورسره طالبانو مخامخ جګړه هم وکړه.

له دې وروسته ښاغلی سهیل شاهین د خبرو نوبت واخیست او ویې ویل:

(( د اسیا پرمختیایي بانک لخوا د افغانستان لپاره ۲۰۰ پروژې منظور شوې وي، کله چې طالبان واک ته ورسیدل، کابل یې ونیوی، ګرده پروژې بندې شوې، او عملي نه شوې. [۱]

مولوي احمد جان (لومړیو کې د معادن او صنایعو او وروسته د برېښنا وزیر و) یوه طرحه وړاندي کړه چې دغرو لمنو کې به کوچني کوچني بندونه جوړوي، دښتو کې به ژور څاهان وهل کیږي، اوبه به یې ولسونو ته د کښت لپاره ورکول کیږي، او په کرار کرار به همدا مصارف له خلکو څخه اخیستل کیږي، اداري مصارف به هم پرې ورزیاتیږي، له یوې بهرنۍ مؤسسې سره یې همدا طرحه شریکه کړې وه، ولې هیڅ بهرنۍ موسسې د دغه ډول طرحې عملي کولو ته لیوالتیا ونه ښودله.

د سړک جوړولو له یوې کمپنۍ سره یې هم خبره کړې وه چې سړک به په پاخه او اساسي ډول جوړوي، او تر ۱۵ کلونو به د سړک په اوږدو کې د تیریدونکو او چلیدونکو لویو او کوچنیو موټرانو څخه محصول همهغه کمپنۍ اخلي، ولې دا کار هم ونه شو. ځکه بهرنیو موسسو بنسټیز کارونه نه کول، هغوی خپل اهداف درلودل.))

---

[۱] طالبانو کابل د میزان پر ۵مه ۱۳۷۵ ل (۲۷ سپټمبر ۱۹۹۶ز ) کال کې ونیوی.

د ۲۰۱۷ز.کال د فبروري پر ۲۳مه په دوحه کې د يوې ناستې پرمهال د طالبانو د وخت د معادن او صنايعو او بيا وروسته د بريښنا وزير ما ليکوال ته وويل : (( کله چې طالبانو د مزار شريف ښار ونيوی، له ازبکستان څخه افغانستان ته راغلي بريښنا ياد هيواد بنده کړه، د مزار شريف د ښار اوسيدونکې له سختو ستونزو سره مخ شوې وو، د امو پر سيند د دوستي پول په منځ کې موږ د مذاکراتو په ترځ کې ورڅخه وغوښتل چې بريښنا بيرته راخوشي کړي، مگر د ازبکستان چارواکو ويل چې د ډاکټر نجيب الله د حکومت له سقوط وروسته تر دي مهاله افغانستان د بريښنا له درکه اتيا ميليونه ډالر قرضداره دی، تاسي ازبکستان ته خپله قرضه ورکړئ، بيا به بريښنا درته پريږدو، کله چې موږ ورته وويل چې ولي مو د استاد رباني د حکومت پر مهال قرض ورڅخه نه غوښت، هغوی ويل چې اوس وخت کې يې غواړو او دا زموږ خپله پريکړه وه.

مولوی احمدجان وويل: د کابل ولايت د نغلو د بريښنا د بند يو توربين خراب او له کاره لويدلی وو، موږ د زيمنس کمپنۍ سره هوکړه ليک لاسليک کړ، هغوی د ۱۰ لکه ډالرو په مقابل کې راته جوړاوو، مگر هڅه مو وکړه چې له خپلو افغان انجنيرانو څخه کار واخيستل شي، همهغه وو چې يوه افغان انجنير هغه توربين په ۱۵ ورځو کې د محلي ماشنين الاتو په کارولو سره جوړ کړ، هغه ته مې نږدې د ۵۰۰۰ ډالرو معادل افغانۍ ډالۍ ورکړه، هغه وخت دا پيسې ډيرې زياتي وي.

مولوی احمدجان وويل چې کله مو مزار شريف ونيوی، د کود کيمياوي فابريکه ځکه فلج شوه، هغه قراردادي چې خام مواد به يې فابريکې ته له ازبکستان څخه راوړل، هغه ازبکستان ته تښتيدلي وو، له هغه سره هوکړه ليک پخواني حکومت او د بلخ ادارې لاسليک کړی وو، هغه مو راوغوښت او بيرته مو هوکړه ليک ورسره تمديد کی، يو بل افغان هم په قرارداد کې ورسره شريک شو، د استاد برهان الدين رباني د حکومت پر مهال د فابريکې توليد ۵۰ ټنه کود کيماوي وو، موږ ياد توليدات ۴۰۰ ټنو ته لوړ کو.

دا ډو ل پـه پلخمـري کـې د سـمنټو د فـابریکې تولیـدات چـې د اسـتاد برهـان الدین رباني د حکومت پر مهال ۵۰ ټنه وو، هغه موږ ۲۵۰ ټنه ته لوړ کړلای شو.

د تولید د لوړوالي لامل یـې د فـابریکو لـه مسـلکي کسـانو سره د طالبـانو د ښـه چلند او زیات مالي امتیاز ورکولو خبره وکړه.

مولوي احمدجان وویل چې موږ د بریښـنا او ګـازو هـوکړه لیـک لـه ترکمنسـتان سره لاسلیک کړ، جوزجان ته بریښنا راورسیده، یوازې لږ کارونه پـاتې وو چـې نـو ر باید افتتحاح وشي، او بیا وروسـته مزارشریـف تـه هـم لـه جوزجـان څخـه د بریښـنا جریان ورکول شي. همدا ډول هرات ته د بریښنا د غځیدو کارونه نـږدې شـوې وو، له ترکمنستان سره هوکړه لیک داسي لاسلیک شوی وو چې ټولو شمالي ولایتونـو ته بریښنا ورسول شي، داچې د طالبانو نظام ړنک شو، بیـا نـو پـه جوزجـان کـې د بریښنا افتتاح عبدالرشید دوستم او په هرات کې تورن اسماعیل خان وکړه.))

ښاغلي شاهین وویل : ((د نجونـو لپـاره مـو د ۱۰۰۰ ښـوونځیو د جوړیـدو لپـاره وړاندیز (پروپوزل)، بودیجه او اړین کارونه بشپړ کړل، د جرمنـي هیـواد لـه سـفارت سره په اړیکه کې وو، هغوی هم ژمنه کړي وه، وروسته موږ پوه شـوو، چـې کـار نـه کوي، او یوازې له دي لارې غواړي چې ځینې معلومات ځانته واخلي.

د طالبانو د نظام پرمهال د سویډن کمیټې لخوا ۳۵۰۰۰ نجونو په ښوونځیو کې زده کړې کولې، په جلال اباد کې د نجونو لپاره د نرسنګ ښانګه فعالـه وه، دا ډول په کابل کې د نجونو د طب پوهنځی هم فعاله وو.))

داسمه ده چې ښاغلی شاهین او یـا ځینـې نـور د پـوهنې اړونـد کـارکونکو بـه د نجونو او هلکانو لپاره د ښوونځیو د ودانیو جوړولو لپاره د بـودیجې پیـداکولو هڅـې کولې، ولی یو وضاحت کول اړیـن ګـڼم ، د طالبـانو د نظـام پـر مهـال د نجونـو لـه ښوونځیو سره حساسیت موجود وو، د طالبانو په لیکو او مشرانو کـې داسي کسـان وو چې د نجونو له ښوونځیو سره اصولاً مخالف و، دا څه چې ځینو یې حتی نارینـه

وو ته هم پرته له دیني تعلیم څخه عصري تعلیم سم نه ګاڼه.

که ومنل شي چې د طالبانو په وخت کې د نجونو د ښوونځیو لپاره د ودانیو جوړولو لپاره لیوالتیا وه، په کار وه چې د نجونو په نوم ځانګړي لیسې او ښوونځي چې د ډاکټر نجیب الله او استاد برهان الدین رباني له وخت څخه ځانګړي شوې وي، همهغه د نجونو ځانګړي ښوونځي فعال او خلاص ساتل شوي وای، د ښوونځیو د نوو ودانیو جوړولو اړتیا به د هغه وخت سره سم تر ډېره نه لیدل کیدای، په ځینو ولایتونو کې د نجونو په نوم لویې لیسې په مدرسو تبدیلي شوې، مثلاً په غزني کې د نجونو ترټولو لویه لیسه (جهان ملکه) په مدرسه بدله شوې وه.

داچې د طالبانو د نظام پر مهال ۳۵ زره نجونو په ښوونځیو کې زده کړې کولې، همدا د هغه وخت رسمي ارقام دي، او د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د سویډن کمیټې د سروې له مخې د زده کونکو نجونو یاد تعداد معلوم شوی وو.

ښاغلي شاهین زیاته کړه: (( د طالبانو د نظام پر مهال په ځینو کورونو کې د ننه نجونو د ښوونځي کتابونه ویل، او طالبان پرې خبر وو، خو کله چې د طالبانو نظام سقوط وکړ، خلکو ویل چې دایې د طالبانو څخه په پټه جوړ کړي وو، څه ډول ممکن ده چې د کابل په کومه کوڅه کې دې لسګونه، سل او یا هم دوه سوه نجونې یوه کورته په ټاکلي وخت ورځي او هلته دې درس وایې، بیا دې هم د نجونو له تګ او ټولیدو څخه طالبان خبر نه شي؟ او په پټه دې دا نجونې تعلیم وکړي؟ امکان نه لري، بلکې طالبان پوه وو، خبر وو، خو ستونزه یې ورته نه جوړوله.[۱]

کابل ټلویزون او کابل راډیو د سندرو ارشیف سره هم چا کار نه درلود، هغه خوندي وو، د ټلویزون تخنیکي او مسلکي کارکوونکي به په اوونۍ کې یوه ورځ حاضریدل، ټلویزون به یې چالان کاوو او هر څه به یې چیک کول.))

---

[۱] دحامد کرزي د حکومت پر مهال ځینو میرمنو ادعاء کوله چې د طالبانو د نظام پر مهال یې په کابل، مزار او هرات ښارونو کې په پټه نجونو ته د زده کړې اسانتیاوې په خپلو کورونو کې برابرې کړې وي.

ولي غواړم چې د ښاغلي شاهين توجه دي ته هم راواړم، د کابل راډيو ټلويزون د پخواني ارشيف ساتنه تر ډېره د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور وزير مولوي اميرخان متقي د شخصي ابتکار او نفوذ برکت وو. هغه د کابينې له مهمو وزيرانو څخه ګڼل کيدی ، ملا محمد عمر مجاهد سره يې نږدې اړيکې درلودې ، د ملا محمد عمر مجاهد سلاکار ښاغلی متوکل يې ټينګ ملګری و، د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزير او کسانو هم ورسره احتياط کاوو، که د اطلاعاتو او کلتور کوم کمزوری او ډارن وزير وای، ممکن د کابل راډيو او ټلويزون د سندرو ارشيف به هم له منځه وړل شوی وای.

زه يو ځل د کابل د عامه کتابتون مرستيال وم، رئيس يو ډير ښه عالم خو ارام سړی و، د امربالمعروف او نهي عن المنکر کسان راغلي وو او غوښتل يې چې د عامه کتابتون کتابونه وګوري او د ذيروحه شيانو انځورونه ورڅخه ليری او يا خراب کړي، زه د باندي وتلی وم، هغه رئيس هيڅ ډول دليل ورسره نه و ويلی، ورته ويلي يې و چې مطمئن سره خبره وکړئ، چې کله عامه کتابتون ته راغلم، د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د کسانوغوښتنه مې واوريده، سخت زيات غوسه شوم، او هغوی زما د غوسې درک ولګولای شوای، په ډيرو سختو الفاظو مې هغوی جواب کړل او بيا ځل موږ کله هم څوک ونه ليدل چې د عامه کتابتون د کتابونو د پلټنې لپاره راشي.

ښاغلي شاهين وويل : (( تر څو د سولې په برخه کې يوه روښانه ستراتيژي نه وي، د تګلاري په ډول رامخکې نه شي، مشکل به وي چې په مجهول حالت کې پرمختګ وشي.

د سولې لپاره د داخل څخه هم په جهتونو باندی فشار راوړل په کار دي، موږ په دی برخه کې درسره ملګري و.

تيروتنې شته، ولي په حق سترګې پټول بيا حق ترلاسه کولای هم نه شي، راځئ

چې د جګړې په اصلي جرړو، موانع او له منځه وړلو باندې فکر وکړو، موږ او تاسې مشترکات لرو چې هغه د اشغال خاتمه ده، په دې برخه کې کار کول اړین دي. موږ یو موټی افغانستان، افغان سوچه فرهنګ او د قومونو یووالی غواړو.))

دکتور محمد نعیم وردګ بیا یوې مهمې خبرې ته اشاره وکړه، هغه وویل:

(( موږ (قطر میشتي طالبان) خو به مو اوس لیدلي یو، تاسي ولیدو، کوم یو راکې پاکستانی دی؟ زه خپل افغانیت په هیچا نه ورکوم، څوک چې وایي ته افغان نه یې، هغه به څه ډول افغان یې، پاسپورټ مې افغانی دی، ویزه هم راته پرې لګول شوې، او داچې اختلاس او فساد د کابل اداره کې اوج ته رسیدلی، نو زما له پاره هم پاسپورټ جوړ شوی او ویزه پرې وهل شوې.))

د ښاغلي وردګ پر خبرو زه یو څه نور هم ور زیاتوم، کله چې په قطر کې د طالبانو د سیاسي کمیسون دغړو پېژندنه په بریښنایي رسنیو کې راغله، د ولسې جرګې وکیل خالد پښتون له بي بي سي راډیو سره په مرکه کې وویل چې په قطر کې د طالبانو استازي "پاکستانیان دي، په افغانانو کې د سهیل شاهین نوم موږ کله هم نه دی اوریدلی".

دا ډول په کابل کې به ویل کېدل چې طالبان قطر ته د پاکستاني پاسپورټونو په کارولو سره تللي دي.

له طالب استازو سره زموږ مجلس ډیر ګرم روان وو، له کابل څخه ورغلو ملګرو او د طالبانو حوصلي هم نه کمیدی، هلته د سالون په یوه برخه کې چای، بسکوټ او د چایو اړوند خوراکي توکې ایښې وو.

په اوله ورځ ملګرو ویل چې کوشش وکړو ډیر وخت له دوی سره په مجلسونو کې تیر کړو، موږ د سیاحت او ګرځیدو لپاره نه یو راغلي، ښه به وي چې ډیر څه له طالب استازو څخه واورو.

له همدې کبله خو موږ چای څښلو ته هم وخت پیدا نه کړ، او د کابل ملګرو

ټینګار دا وو چې د چای څښلو پر ځای به ښه وي چې خبرو ته دوام ورکړو.

ډاکټر ځلاند بیا هم د خبرو وخت واخیست او دا ځل یې له طالبانو بله غوښتنه درلوده:

(( د طالبانو لخوا په تذکرو کې د اسلامیت او افغانیت ټکی چې باید ذکرشي، په دي اړه یوه اعلامیه او یا هم د طالبانو دریځ ډیر مهم دی.))

داچې نورو له کابل څخه ورغلو ملګرو هم د وخت غوښتلو لپاره لاسونه جګ کړي وو، پریکړه وشوه، چې وخت ته په کتو د هر ملګري پوښتنه او اندیښنه واوریدل شي او بیا به طالب مشران ځواب او یا هم د موضوع ا ړ وند نظر وړاندي کوي.

دکتور عبداللطیف نظري وویل :

(( امریکا سوله نه غواړي، داچې هر څوک وایي طالب سوله نه غواړي، دا ظلم دی، کابل هم د سولې لپاره جدي اراده نه لري، داچې وایي د طالب مشر-نوم دي په تورلسټ [1] کې شامل شي، په دي معنا چې سوله نه غواړي، غني او عبدالله امریکا ته په ځان نږدې کولو کې سیالي کوی، په دغسي حالت کې سوله نه شي راتلای.

زما پوښتنه دا ده چې د طالبانو تګلاره د داعش اړوند څه ده؟ د طالبانو او روسیې اړیکې څه ډول دي؟))

اسد وحیدی هم مهم بحث مطرح کړ :

(( امریکا غواړي چې په سېمه کې پاتې شي، ۲۰۰۰ میلیارډه ډالر یې مصرف کړي، د امریکا د ګټو لپاره چې کوم فکري مرکزونه کار کوي، هغوی وایي چې امریکا به تر ۲۰۵۰ ز. کال پوري همدلته په سېمه کې پاتې وي.

امریکا د خپل پوځي شتون لپاره دا دلیل وړاندي کوي چې طالبان وي موږ به یې په وړاندي جګړه کوو، دا ډول طالبان بیا وایي چې امریکایي پوځیان په هیواد

---

[1] د نومبر ۱۴مه ۲۰۱٦ ، کورنیو رسنیو خبر ورکړ چې ولسمشر- اشرف غني په کابل کې د ملګرو ملتونو د نړیوالو بندیزونو د کمیټې د غړو سره د ناستي پرمهال ور څخه وغوښتل چې د طالبانو د مشر شیخ هبة الله اخوندزاده نوم دي په تور لسټ کې شامل کړل شي.

کې وي دوی به جگړه کوي. اخر کیږي به څه؟ افغان حکومت خو خپله اراده نه لري او د امریکا د تگلارو سیوری دی.

ستراتیژي سمه ده، ولي سخته ده چې په واقعي ډول د ځمکنۍ حقیقت په ډول عملي شي، د کابل موسهي کې دوه ورونه چې یو یې د پوهنتون محصل او بل د ماسټري دورې محصل وو، ووژل شول، هیڅ جرم یې معلوم نه شو، سېمه کې هم طالبان مسلط دی، بالاخره طالبانو وویل چې دا موږ نه دی وژلي، ولي مسؤولیت لري چې قاتلین پیدا شي. ولي د طالب له نوم څخه خلک باید داسي استفاده وکړي؟ چې بې گناه محصلین ووژل شي، او طالب هم ځان ته په دې سره برائت ورکړي چې موږ نه دي وژلي.

د کندز ښار نیولو ته د امریکایي پوځیانو له وتلو سره څه ډول رابطه ورکولای شو[1]، د حکومت نیول اسانه هم نه ده، بشپړ سقوط نه کوي، تر څو چې د امریکایانو بمبارد وي، حکومت به سقوط ونه کړي.

که تصور دا وي چې امریکایي پوځیان ووځي، له کومه ځایه ووځي؟ څه ډول ووځي؟ یوازې تصور دی، لکه د اسلامي نظام د بیلگې او مثال نه شتون چې ورسره مخ یو.

د ښوونځیو اړوند هم په ولایتونو کې متفاوت عمل کیږي، ځینو ځایونو کې اجازه ورکول کیږی، او په ځینو ځایونو کې ښوونځي بند ساتل کیږي.

---

[1] داچې طالبان وایې چې بهرني پوځیان دي ووځي، د کندز له نیولو سره څه ډول رابطه دغه خبره لرلای شي. د اسد وحیدي هدف همدا پوښتنه وه.
ځینو سیاستوالو د کندز له نیولو وروسته داسي څرگندونې وکړي چې امریکایې چارواکې نور هم اندیښمن شوې، اوس به خپل پوځي شتون تر ډیره وخته په افغانستان کې وساتي.

د کوټې شورا، پېښور شورا او میرام شاه شورا غړي [1] چیرته دي؟ کـه د پاکسـتان تر نفوذ لاندې نه وي، نو بیا ولې په دې سېمو کې د شورا غړي اوسیږي؟

په وروستیو وختونو کې د طالبـانو پـه لیکـو کـې ځینــې داسې خلـک هـم ورگـډ شوي چې په ولس کې منفور دي، د دغو کسانو د طالبـانو لیکـو کـې شـتون بـدې نتیجې او عواقب، او منفي تاثیرات لري، چې فکري روزنه ونه شي، ځوانان ستونزې لري، کله چې د طالبانو لیکو کې کوم څوک له فکـري روزنې پرتـه یوځـای کیـږي، هغوی به خامخا مشکلات ولري.

د طالبانو تر کنټرول لاندې ځینو سېمو کـې ځینــې کسـان د حکومت سره د کـار کولـو او یـا نـورو تورونـو لگولـو لـه املـه نیـول کیـږي، او بیـا د پیسـو پـه مقابـل کـې خلاصیږي، زما سره مشخص مثالونه شته، یو اقتصادي معامله ورڅخه جوړه شوي.[2]

د هرې گناه جزا مرگ نه دی، مجرم ته د گناه مطابق جزا ورکول په کار ده. [3]

د طالبانود قطر دفتر د بندیدو اړوند د کرزي خپله خبره داسې ده چې هغه ویل چې د امریکا د بهرنیو چـارو وزیـر جـان کیـري راغـی، د طالبـانو اعلامیـه یـې ماتـه راښکاره کړه، ومې کتله، ومې لوستله او ومې ویل چې زه ورسره موافـق یـم، هلتـه د

---

[1] د طالبانو اړوند افغان حکومت، بهرنیان، بهرنی او کورنی رسنې یاد نومونه کـاروي چـې طالبـان دکـوټې، پېښور او میرامشاه شوراگانې لري، د کوټې شورا یې تر ټولو باصلاحیته ده، د پېښور شورا چـې یـو وخـت یې مشر مولوي عبدالکبیرصاحب وو، او د میرامشاه شورا بیا د حقاني شبکې ته منسوب کوي.

[2] په ځینو سېمو کې د طالبانو د سېمیزو قومندانانو لخوا ځینې د حکومت کارکوونکي نیول کیـدل او بیا به د پیسو په مقابل کې بیرته خوشي کیدل، دغه ډول کړنې پـه هلمنـد، وردگـو، غـزني، زابـل، ارزگان ، پکتیا او پکتیکا کې ډیرې لیدل شوې.

[3] کله چې طالبان د امریکا ترحملې وروسته په لومړیو وختونو کې بیرته بیا د امریکا، نـاټو او افغـان پوځیـانو مقابل کې فعال شوې وو، له ۲۰۰۵ – ۲۰۰۷ کال پورې یواځې د مرگ لپاره همـدې کفایـت کـاوو چـې پـه حکومت کې دنده ولري، له کوم بهرني او یـا کـورنی ساختماني شرکـت او یـا انجـو سره انجنیـر او یـا مسلکي کار کوونکي وي، په کرار کرار په دغه برخه کې د خلکـو لـه نیوکـو وروسـته طالبـانو اصلاحات راوستل، اوسمهال د دولت کارکوونکی او د ساختماني شرکت یا انجو کسان وژل کیږي نه.

طالبانو تحریک پکې لیکل شوی وو، دا ډول د سولې د مذاکراتو دفتر لیکل شوی وو، هلته پکې د اسلامي امارت او یا هم د سیاسي دفتر ذکر نه وو شوی.

ښاغلي کرزي وویل چې د اسلامي امارت کلمات خپله د نظام ډول او دولت دی، مگر طالبان یوه ډله ده، هغوی خو حکومت نه دی، دا ډول دفتر یې د سفارت حیثیت درلود.))

میرویس ستانکزي هم په لاندي ډول خپلې اندیښنې او خبرې وکړي:

(( جگړه د شخصي غرور او حیثیت خبره نه ده، جگړه د ارزښتونو لپاره کیږي، انعطاف باید وشي، کوم څه چې اوریدل کیږي هغه ډیر عجیب دي، د ښوونې او روزنې اړوند که جدي او روښانه اعلامیه راشي، دا به ښه وي.

ملکي کارکوونکی او خبریال ولي مصؤون نه وي؟ سمه ده چې نظامي او قضایي کارکوونکي تاسي وایاست چې ملکي کارکوونکي نه دي.

د طالبانو سیمه کې چې څوک وژل کیږی، مسؤولیت یې طالب ته راجع کیږي، د ښوونځي مشر وژل کیږي، خو بیا د طالب لخوا ویل کیږي چې موږ نه دي وژلی.

لایحه او مقررات د حکومت هم ډیر ښه جوړ شوې، مگر په عمل کې داسي څه نه ښکاري چې موږ دي مصؤون واوسو.))

قاري دین محمد حنیف د پورته اندیښنواو پوښتنو ځوابونه په لنډون سره وویل :

(( د طالبانو د قطر سیاسي دفتر خو ښاغلي کرزي نه مانه چې دا یو موازي حکومت دی، مگر اوس یې دوه سره حکومت نصیب شو.))

تر ډیره سرې نه شي منلای چې د پورته پوښتنو لپاره به د قاري حنیف جواب قانع کوونکي وي، اصلي پوښتنې ته د جواب سره اړخ نه لگوي.

ښاغلي حنیف وویل: (( کله چې د لوړو زده کړو وزیر وم، د ملا عبدالسلام راکټي په غوښتنه مولوي عبدالکبیر چې د سرپرستې شورا اقتصادي مرستیال وو، د زابل ولایت ٦ تنه زده کوونکي یې معرفي کړي وو چې د طب پوهنځې کې شامل شي، او قاطع امر یې ورکړی وو، ما هغه کسان ونه منل، ځکه ما فکر کاوو

چې د ملاسلام راکټې د نظامي حیثیت خبره ده، چې دا ډول امر یـې ورکـړی دی، وروسته بیا ماته  د زابل قومی مشران راغلل، هغوی ویل چې د زابل ولایت محصـل نه لري، او نه هم هلته ښوونځي فعاله دي، دا یوه سـتونزه ده، هغـوی ماتـه قناعـت راکړ، او بیا مې هغه ٦ تنه پرته له کانکور څخه د طب پوهنځي لپاره ومنل.

په ټوله کې د ښوونې او روزنې ستونزه او د زده کوونکو د شـمیر کمـوالي سـتونزه په جنوب او جنوب لویدیځ حوزه کې زموږ په وخت کې هـم شـتون درلـود. تـر ډیـره زده کړو ته لیوالتیا کمه وه.

له ګاونډیو هیوادو سره د طالبانو اړیکې داسې دې چې د هغوی اندیښنې لیـري کړي، هغوی فکر کوي چې طالبان ترهګر دي، ولې په ټوله دنیا کې د طالب لخـوا ترهګریزه حمله نه ده شوې.))

طالبـان خـو همـدا وایـې چـې دوی یـوازې اړیکـې جـوړول او د نـورو هیوادونـو اندیښـنې لیـري کـوي، ولې افغـان حکومـت او امریکـا د طالبـانو او روسـیې اړیکـو اندیښمن کړي، د طالبانو لخوا رښتیا هم د منځنی اسیا هیوادونو، ایـران، چـین او روسیې ته ډاډ ورکړل شوې چې د دوی لخوا به ستونزې ورته جوړې نه شي، د یـادو هیوادونو اندیښنې یې تر ډیره له منځه وړي، د ځینو عـرب هیوادونـو سره یـې ښـې اړیکـې جـوړې کـړي، لـه ترکیـې، جاپـان، نـاروې او ځینـو افریقـایې هیوادونـو سره اړیکې لري، دا ډول د جرمني هیواد سره په اړیکو کې یې پرمختګ کړی و، ولې په مزار شریف کې د جرمني پر کونسلګرې تر برید وروسته کیدای شي چې د طالبـانو او جرمني په اړیکو کې خرابوالی راغلی وي، دا ډول طالبـان وایـې چـې د فرانسـې سره یې خبرې مسلسل جریان لري.

قاري حنیف د حـل لارې پـه توګـه  ډیـر ښـکاره وویـل : ((  پـه کـار ده چـې مـوږ افغانان خپلو منځو کې سره نږدې شو، یو بل تـه لاس ورکـړو، کـه مـوږ یـو بـل تـه د مرستې او دوستې لاس ورنه کړو، د امریکا لپاره د جګړې ښـه بهانـه ده، او افغانـان

باید په خپلو منځو کې سره کیني، خپل منځي مشکل یو له بل سره حل کړي، او امریکا ته د وتلو خبره وکړي.

د بریتانوي هند چې کله یې وګړي سره یو شول، بیا یې بریتانویانو ته ځواب ورکړ چې زموږ له خاوري څخه ووځئ. موږ هم باید په ګډه سره ټول افغانان امریکایي او بهرنیو پوځیانو ته له افغانستان څخه د وتلو جواب ورکړو.))

داچې طالب د ازادۍ ګټلو لپاره د بریتانوي هند مثال راوړي، د طالبانو په نظر کې د لوی بدلون ښکارندویي کوي، له دي معلومیږي چې هغوی (یا لږ تر لږه هغه چې سیاسي برخه کې فعال دي) په افغانستان کې هر څوک او د هرې ګروهې خلک د بهرنیانو د وتلو لپاره په اتحاد کې منلای شي.

طالب استازي زیاته کړه : (( کابل مرکز دی، خو هلته تښتونې کیږي، دا کار خو به طالبان نه کوی، همدا ډول د طالبانو تر کنټرول لاندي سیمو کې هم ستونزې شته، د جنګ تاثیرات په هره برخه کې لیدل کیږي.))

دکتور محمد نعیم وردګ وویل: (( د طالبانو نظام وو او نظام دی، له روسیې سره همداسي یوه اړیکه شته، سیاسي دفتر د همدې اړیکو، سیاسي کړنو او پرمختګونو په موخه خلاص شوی.

د داعش اړوند طالبانو یوه مفصل اعلامیه خپره کړه. [1] ))

طالبان له روسیې او چین سره خپلې اړیکې مني، ولي زموږ معلومات دا دی چې له روسیې او چین سره د طالبانو سیاسي اړیکې په لوړه کچه دي، او په اړیکو کې په سیاسي لحاظ ډیر پرمختګ هم شوی دی.

ښاغلي سهیل شاهین وویل: (( قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر د خلاصیدو اړوند د اعلامیې متن ما لیکلي وه، انګریزي ته هم ما ژباړلې وه، شرایط یې راته

[1] د داعش اړوند طالبانو ویلي چې دا کورنۍ نه بلکې بهرنۍ ښکارنده ده، بهرنۍ استخباراتي ډله او د پردیو ګټو لپاره کار کوي.

معلوم دي، هلته سياسي دفتر ليکل شوی وو، او اسلامي امارت هم ليکل شوی وو، که ښاغلي کرزي ته امريکايانو کومه بلـه اعلاميـه وروړي وي، بيـا نـو زه نـه پـوهيږم چې داسي کار به شوی وي او که نه؟

دوېم بن کانفرانس کې هم چې کومه موافقه طالبانو سره شوې وه، د هغې مـانع هم ښاغلی کرزي وګرځيد.))

د ښاغلي شاهين د خبرو سربيره، ښاغلي ملاعبدالسلام ضعيف په همهغه وخـت کې چې دوېم بن کانفرانس وشو موږ ته وويل چې امريکا او جرمني منلي وه چې د بن کانفرانس په اوړدو کې د طالبانو د قطر سياسي دفتر هم په رسـمي ډول ومنـل شي، ولي ښاغلی حامد کرزي يې سخت مخالفـت کـړی و، او دا د سـولې پـه اړه د کرزي خراب نيت ښيي.

((د مشترک هدف لاسته راوړلو لپاره د هيواد له داخل څخه خبره او اواز اوچتول په کار دی.

د تګلاري د تطبيق لپـاره سـتاسي نظريـاتو تـه احـترام لـرو او پـه ګـډه بـه يـې د تطبيق لپاره کار کوو.))

شيخ شهاب الدين دلاور بيا هم په تفصـيل سره د ملګـرو انديښـنو او پوښـتنو تـه جوابونه او د طالبانو له موقفه نظريات وړاندي کړل:

(( داعش فتنه ده، په عراق او شام کې راپيدا شوه، د افغانستان اسـلامي امـارت کوشش وکړ چې افغانستان ته دا فتنـه رانـه شي، د ابـوبکر بغـدادي پـه ادرس يـې ليک وليکه، چې دلته په افغانستان کې طالبان شته، وحـدت دی، او تـاسي دلتـه کار مه لرئ، خو د طالبانو هڅو نتيجه ورنه کړه.

داعش يوه استخباراتي فتنه او دسيسه ده، کابل حکومـت يـې ترشـا ولاړ دی، د ولسي جرګې غړي ظاهر قدير، د پکتيکا والي انجنير متين وويل چې د استخباراتو کار دی، د کابل استخبارات د امريکا لـه اجـازې پرتـه څـه نـه کـوي، او دا هـم يـوه

امریکایي پروژه ده.

پچیر او اګام کې موده وړاندي د سیمې خلکو له طالبانو غوښتنه وکړه چې تاسي له سیمې لیري شئ، دلته د حکومت پوځیان راځي، هغوی له داعش سره جګړه کوي، طالبان هم تر خپل کنټرول لاندي سېمو څخه لیري شول. ولي وروسته معلومه شوه، هغه سیمې چې طالبانو خلکو ته پریښودلي، د حکومت لخوا داعش ته په واک کې ورکړل شوې، داعش ٦٠ کسان د سیمې څخه ژوندي بوتلل، ۱۰ یې ووژل او نور ورسره زنداني پاتې دي، بیا وروسته د سیمې خلکو بیرته له طالبانو څخه د مرستي غوښتنه وکړه.

په اهل تشیع باندي د کابل په دهمزنګ کې حمله، او درې نورې حملې د دې لپاره وشوې چې د سني او شیعه ترمنځ مذهبي جګړه پېل شي، استاد محقق هم ورته نظر درلود.

موږ له روسیې، چین، فرانسې او نورو ټولو هیوادونو سره کینو، د فرانسې د ولسمشر د سلاکار سره ما (دلاور) او دکتور محمد نعیم وردګ ناسته درلوده. د سیمې او افغانستان پر مسایلو مو خبرې وکړي.

طالبانو چې کندز ونیوی، له روسیې سره اندیښنه وه، چې بهرني اسلامپال جنګیالي به له دي ځایه د منځنۍ اسیا پولې تهدید کړي، وروسته روسان قانع شول، چې د افغانستان له خاورې د طالبانو په شتون کې د نورو هیوادونو لپاره تهدید نشته، زموږ ډیري ښې اړیکې له ترکمنستان هیواد سره دي. ))

د ښاغلي‌شاهین د نظر پر خلاف افغان حکومت او ځینې افغان سیاستوال په دي نظر دي چې د کندز په نیولو کې له طالبانو سره روسانو د نظامي تجهیزاتو په برخه کې مرسته کړي.

زما (لیکوال) له نظره د کندز موقعیت ته په کتلو او هلته میشتو قومونو اندېول طالبانو ته زمینه مساعده کړه چې کندز ونیسي-، په کندز کې د ځینو قومونو

اربکیانو وسلوالو د یوه ځانګړي قوم له خلکو سره ډېر زیات بد چلند کاوو، چې د کندز د سقوط لوی عامل همدا ګڼل کیدای شي.

داهم نشي- رد کیدای چې د معاملي له مخې به ځینو لوړ پوړو حکومتي چارواکو له طالبانو سره د کندز په سقوط کې مرسته کړې وي.

شیخ دلاور وویل: (( امریکایي پوځیان زموږ هیواد ته راغلي، موږ امریکا ته نه یو ورغلي، تر څو چې اشغال وي، تر هغه وخت پوري به جهاد هم دوام لري.

موږ د سولې اعلان کړی، امریکایي پوځیان دي ووځي، موږ به تضمین هم ورکړو چې زموږ خاوره به د هیڅ هیواد پر ضد نه کارول کیږي.

امریکا دي موږ سره د میکانیزم له مخې خبره وکړي، دا چې امریکایي پوځیان خامخا راغلي، خامخا به ورسره جګړه هم کوو، دا زموږ یو اصل دی، که د سولې خبرې کیږي، موږ له پخوانیو د ګوانتانامو او بګرام زندان [1] کې له زندانیانو سره له

---

[1] ګوانتانامو زندان چې د کیوبا په یوه ټاپو کې له ۱۱/۹ وروسته د امریکا لخوا جوړ شو، موخه یې دا وه چې هلته پکې طالب مشران او په افغانستان کې جګړه کوونکي عرب زنداني شي. تر څلور سوه زیات افغانان، عربان او د ځینې نورو هیوادونو اسلامپال جنګیالي پکې زنداني وو. ډیری یې بیرته له زندان څخه خلاص شو، د اوباما دواک تر ختمیدو( دجنوري ۲۰مه ۲۰۱۷) هلته پکې شاوخوا۴۵ بندیان پاتې وو.

باګرام زندان د امریکایې پوځیانو په تر ټولو غټې او مهمې اډې کې موقعیت لري، د زندان واکې د امریکایانو سره دی، ډیری افغانان پکې زنداني دي.

د ولسمشر کرزي په وخت کې له یاد زندان څخه په لوړ شمیر کې شاو خوا دوه زره زندانیان خوشي شوو. په یاد زندان کې ۳۰۸۵ بندیان وو، ۸۴ داسي بندیان وو چې د خوشي کیدو دوسیې یې تکمیل شوې وي، ولي امریکایانو یې دخوشي کیدو مخالفت وکړ، او خوشي نه شول. د کرزي او امریکایانو ترمنځ پر دي هم ستونزه پیدا شوه چې د باګرام زندان واګې د امریکا لخوا باید افغانانو ته وسپارل شي. د سپتمبر ۱۰مه ۲۰۱۲ ز. کال د باګرام زندان چارې او مسؤلیت افغان لوري ته پېل شوې، او پکې پاتې بندیان وروسته پلچرخې زندان ته یوړل شول، باګرام زندان وتړل شو، ولي تور زندان لا هم د امریکایانو په واک کې پاتې او هلته پکې ځینې افغان بندیان ساتل کېدل.

بدچلنده ور تیر او له طالبانو سره د دوی نورې بدي او ناوړه کړنې هیروو.

روسیه، چین او فرانسې ته مو د هغوی د اندیښنو اړوند اطمنان ورکړی، جرمني سره ناستې لرو.

د کابل ادارې او افغانانو سره د اشغال په خبره باندي کار کول په کار دي، جنگ وحشت دی، خرابي راوړي، قران کریم کې فرمايي: كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ (له کفارو سره) جگړه دربانديي فرض شوې ده حال داچي هغه درته بده ښکاري)[1]

په جگړه کې جنایتونه کیږي، د ﷺ وخت کې هم جگړې کې تیروتنې شوی.

وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ ( او اې د عقل خاوندانو! تاسي ته په دي قصاس کې ژوندون دی) ۱۷۹ ایه. سورة البقرة.

دا معنی چې داسي کړنې کیږي، قتلونه کیږي، خو مجازات به وي، ۱۰۰ سلنه امنیت ناشونی دی.

فعلاً موږ په جگړه کي یو، کندز کې هم څکه جگړې دي، د کندز نیول په کار وو، خو د خلکو امنیت نیول هم حتمي دی، هلمند محاصره دی، هدف دا دی چې دغه ځایونه به نیسو، که په ولایت برید ونه کړو او ویې نه نیسو، بیا خو

---

کله چې ولسمشر غني واک ته ورسید، د باگرام زندان بیرته فعال شو، د زندان واگې د امریکایانو په لاس کې ورکول شوې او د پلچرخې څخه زندانیان ورته انتقال شول.

په گوانتانامو او باگرام زندانو کې له زندانیانو سره ډیر ناوړه چلند، او سختي شکنجې ورکول شوې، په دي اړه ملاعبدالسلام ضعیف د گوانتانامو انځور کتاب لیکلي، له حجرې تر پنجرې بل کتاب دی، او عبدالشکور دادرس په باگرام او کندهار کې د تور زندان اړوند هم په رسنیو کې څرگندونې کړي.

[1] كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ وَعَسَىٰ أَن تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسَىٰ أَن تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ. ۲۱٦ ایه. سورة البقرة

ژباړه: (له کفارو سره) جگړه دربانديي فرض شوې ده حال داچي هغه درته بده ښکاري خو ښايې تاسي یو شی بد گڼئ او هغه به درته ښه وي او ښايې یو څه به خوښوئ خو هغه به درته بد وي. الله ج (ښه) پوهیږي او تاسي نه پوهیږئ.

ډزبندي شوه.))

د شيخ د خبرو په تړاو ماته په وروستيو کې د لښکرګاه حالت را ياد شي. د ۲۰۱٦ له دوبي راهيسې خلک انديښنې لري ، هغوی وايي چې د هلمند مرکز لښکرګاه نږدې له ٦ مياشتو راهيسې محاصره دی، طالبان د ښار په دروازو کې ناست دي، د ښار د دوو حوزو ځينې برخې د طالبانو تر واک لاندې دي، له خلکو سره دا پوښتنه پيدا کيږي چې کله طالبان ډير پرمختګ وکړي، ځينې سيمې ونيسي مګر وروسته بيا بيرته پرته له جګړې له نيول شوو ځايونو څخه په شا شي، او هغو سيمو ته بيرته افغان امنيتي پوځيان ورشي.

شيخ دلاور زياته کړه : (( حکومت د امريکا لاسپوڅی دی، چې امريکايي پوځي ته ځان رسوي دا کارونه به دوی کوي، هغوی ته به جاسوسي کوی، جنګ افغاني دی، په دې اړه فکر کول په کار دی.

موږ بحث کړی چې د پښتنو سيمې له تعليم څخه محرومې دي، مګر بل خوا بيا اهل تشيع په خپل زيار او کوشش د تعليم خبره کوي، سيد حسين انوري موږ ته راغی، د اهل تشيع نور مشران راغلل، او په خپلو سيمو کې د ښوونې او روزنې اړوند يې له موږ سره بحثونه کړي.))

زه فکر کوم چې طالبانو ته د اهل تشيع تر مشرانو مخکې او له دې څخه زيات پښتانه مشران هم ورغلي چې ښوونځي يې په سيمو کې بند پاتې نه شي، په طالبانو دا پړه ده چې په پښتون ميشتو سيمو کې يې د جګړو په سختو کلونو کې د ښوونځيو د فعاليت مخه نيولې وه، او په هزاره ميشتو سيمو کې يې د هغوی ښوونځيو ته د فعاليت اجازه ورکړې وه.

فکر کيږي چې د اهل تشيع مشرانو به له طالبانو سره پټې ناستې او ژمنې کړې وي، دوی به منلې وي چې د اهل تشيع په سيمو کې به د اهل تشيع د حکومتي چارواکو لخوا طالب جنګياليو ته ضرر نه رسول کيږي. داسې راپورونه هم ورکړل

شوې چې ځینې وسلې طالبانو ته د اهل تشیع اوسیدونکو سېمو څخه د طالبانو ډلو ته قاچاق کیږي، او د اهل تشیع خلکو لخوا کومه ستونزه ورته نه جوړیږي.

ځینې بیا د ایران رول ته گوته نیسي، داچې ایران له طالبانو سره ښې اړیکې لري، مرسته به ورسره کوي، کیدای شي د ایران غوښتنه به له طالبانو څخه دا وه چې د اهل تشیع په سېمو کې ښوونځي ونه تړل شي.

شیخ وویل : (( چې د خلکو د تښتونې موضوع او داچې طالبان پیسې اخلي، داسي ده چې غل به طالب شوی وي، طالب نه دی غل شوی، طالب غلا نه ده کړې، د دیوبند د عالم خبره دلته ده.[1] ))

د شیخ دلاور پورته ځواب قانع کوونکی نه و، ډیری داسي پیښې شوی او مثالونه یې شته چې د طالبانو په نوم ډلو دولتي کسان تښتولي او بیا یې د پیسو په مقابل کې خوشي کړي.

په ۲۰۰۷ کال کې زما څو تنه ملگري چې د زابل ولایت میزانې ولسوالي ته روان وو، پر خامه سړک د جغل اچولو کار ته یې تیاری نیوی، د سړک کار لا پیل شوی نه و، د یوې ډلې طالبانو لخوا ماښام مهال پري ډزې وشوې، دوه کسان ورڅخه راوتښتېدل، دوه تنه یې یوې ډلې طالبانو ونیول او د هغو ملگرو مشر یې بلې ډلې طالبانو ونیوی.

هغه دوه تنه یې هم راخوشي شول، خو هغه یو تن چې د نورو ملگرو مشر یې کوله، هغه یې د اته لکه کالدارو په مقابل کې خوشی کړ، د یادي موضع اړوند ډیری طالب مشران معلومات لري.

اوس هم په ځینو مواردو کې ډیرې کمې داسي پیښې کیږي، ولي تر ډیره په

[1] دهند په دیوبند مدرسه کې یو کس غلا کړې وه، استاد ته زده کوونکي ورغلي وو چې غلا شوې، کوم طالب غل شوی، استاد یې ویلي وو چې طالب غلا نه کوي، کوم غل به راغلي وي او طالب شوی به وي.

دي برخه کې طالبانو په خپلو ليکو کې اصلاحات راوستي دي.

شيخ دلاور وويل : (( د گناه مطابق جزا ورکول اړين دی، زيادت په جزا کې په کار نه دی.

موږ د قطر د سياسي دفتر لوحه هغه وخت وليدله چې کله موږ دفتر ته ورغلو، د بيرغ اړوند د قطر چارواکو د امريکا له سفير سره همهغه وخت هم خبره وکړه، ټليفون يې ورته وکړ، او د امريکا سفير پر دي راضي وو.

په هوکړه ليک کې داسي وو چې د طالبانو لخوا کوم ليکونه ليږل کيږي دوی به اسلامي امارت ليکي او که د نورو سياسي نمايندگيو لخوا طالبانو ته ليکونه راځي هغوی به د طالبانو تحريک ليکي، او دواړه لوري به يو بل دا ډول سره مني.

فرانسه کې له معصوم ستانکزي سره موږ خبرې وکړې، هغه ته مې وويل چې د سياسي دفتر د خلاصيدو مخالفت مه کوئ، کرزي ته ووايه چې دا کار مه کوئ. مگر د معصوم ستانکزي خبره دا وه چې تاسي رښتيا سوله غواړئ؟ يو ډول د سولې سره بې اعتنايي يې په خبرو کې ښکاره کيدله.

دا تيروتنه وگڼه چې لوحه او بيرغ د اسلامي امارت په نوم اوچت شوو، آيا دومره ارزښت يې درلود چې د سولې مخالفت دي پري وشي، او کرزي دا کار وکړ. آيا دا ارزښت يې درلود چې وينو بهيدو ته دوام ورکړل شي.

په سياسي دفتر کې لومړی او وروستی مجلس له افغان سياستوال سره وشو. دوېمه ورځ دفتر وتړل شو.))

د شيخ دلاور دا خبره ماته ډيره ژوره معلومه شوه، چې کرزي ته په کار نه و چې د سولې دا مهم کار او د ولس غوښتنه د خپل شخصي نظر قرباني کړي، که بيا هم تيروتنه يې وگڼو، آيا اړتيا وه چې د سولې د خبرو دروازه په بشپړ ډول وتړل شي؟ لکه مخکې چې مو وويل، ښاغلي حامد کرزي په خپل دي کار اوس پښېمانه دی، او د سولې په برخه کې يې خپله لويه تيروتنه گڼې.

د شیخ وروستی خبره داوه چې : (( طالبان د ښوونځي په مقابل کې د مدرسي غچ نه اخلي، که دا کار کوو، دا جهالت دی، د مدرسي او مکتب په منځ کې فاصله پیدا کول ناسم کار دی.))

قاري دین محمد حنیف یوه لنډه خبره وکړه : ((د سیاسي دفتر مشر- تاسي وینئ هغه ملا او طالب نه دی، پخوانی نظامي افسر دی. [1] ))

د غونډې په پای کې ښاغلي سهیل شاهین وویل:

(( زموږ لپاره لومړیتوبونه شته، لومړی دا چې اشغال ختم شي، دویم داچې اسلامي نظام راوستل شي.

او د نورو وړو ستونزو اړوند به یو بل سره مرسته کوو چې حل شي. موږ به د اصولو تابع و اوسو نه د مزاج تابع.))

دا ۴ ساعته او پنځلس دقیقي مجلس د ماسپښین پر ۲:۱۵ ختم شو.

ښاغلي ځلاند له طالب مشرانو وغوښتل چې یو انځور واخیستل شي، د انځور اخیستلو پر ډول چې له کومې زاویې واخیستل شي، مشوره وشوه، او بیا هغوی هم راضي شول، ولي دکتور محمد نعیم وردګ د انځور ایستلو پرمهال ووتی.

د طالبانو استازو خدای پامانې وکړه او موږ د کابل ملګري مخامخ خوړنځای ته ولاړو.

---

[1] د طالبانو قطر دفتر کې د دفتر مشر شیرمحمد عباس ستانکزی،ویاند او د مطبوعاتي برخې مشر سهیل شاهین، دکتور مزارګل صالح، دکتور محمد نعیم وردګ، ښاغلی عمار یاسر، ښاغلی منیر سادات، ښاغلی نجیب الله او ځینې نور یې له مدرسو څخه نه دي فارغ شوې ، بلکې عصرې زده کړې یې کړي وي.

## د قطر مازیګری او د سمندر غاړه

طالب استازو سره د اوږد خو په زړه پورې مجلس، د غرمې ډوډۍ ناوخته خوړلو وروسته ملګرو وویل چې د مازیګر ۴ بجې به ووځو، که ممکن وه د قطر ملي موزیم به هم وګورو او هلته به د بحر پر غاړه له قطرمیشتو افغانانو سره هم وګورو.

بیا هم زموږ ملګري شاپور بختیار نټه وکړه، ویې ویل زه په خپله کوټه کې ارام کوم، موږ نه پوهیدو چې هغه به ولې دا کار کاوو، ځکه رنځور هم نه وو.

ډاکټر لطیف نظري چې له پرون ماښام راهیسي- یې د ستونې د رنځ تکلیف درلود، هغه هم وویل چې نه شم کولای ستاسي سره ملګرتیا وکړم.

موږ پاتې څلور تنه د قاري احمدي سره ووتلو، بیا هم د قطر په دې لویو سړکونو د موټرو ډیره ګڼه ګوڼه وه، نږدې ۱۰ یا هم ۱۵ دقیقې موږ یوې ټرافیکې اشارې ته ودریدو، همدلته مو پریکړه وکړه چې موټر د سړک تر غاړې تم ځای کې پریږدو او موږ په پښو او قدم وهلو د قطر مطحف ته ځو، موږ ټول پوهیدو چې بیا به هم هغه موزیم تړلی وي، ولې د موزیم د احاطې سره د بحر پر غاړه پارک کې افغان ځوانان هم راته منتظر وو.

ښاغلی ځلاند ډیر خوشاله وو، چې په پښو تګ پریکړه وشوه، موټر د سړک ترغاړې تم ځای کې ودریدی، د بحر پر غاړه چې شنه چمنونه هم وو، موږ په پیاده رو کې روان وو، بیا هم د تیر وخت په ډول د وردګ وحیدي او اندړ ځلاند ترمنځ ټوکې کیدې، او کله کله به پر موږ هم د دوی ټوکې راتلې.

د ښار منځ کې بحر چې وي، هلته پکې لوی ماهیان نه وي، خو یوځل د بحر تیزه څپه راغله، کوم ملګري وویل چې دا لکه چې نهنګ د بحر غاړې ته رانږدې شوې، ښه ډیره خندا وشوه.

نږدې دولس کیلومټره تګ مو وکړ، موږ ټول په پښو روان وو، او افغاني کالي مو اغوستي وو، یوازې ځلاند وو چې د تمرین جامې یې پر تن وې.

د ملي موزیم دروازې ته چې ورغلو، انظباط یې وویل چې اجازه نشته، نن د کورنیو ورځ ده، یوازې له کورنیو سره کسانو ته اجازه ورکول کیږي.

د نن ټکي آسیا مشهورې ویب پاڼې مشر ښاغلی فدا، ښاغلی مسرور، ښاغلی منیر سادات او د استاد یاسر صاحب زوی گران احمد مخکې لا پارک ته ننوتلي وو، هغوی سره مو اړیکه ونیوله، ویې ویل چې موږ خو راغلو، په دروازه کې راځخه چا پوښتنه ونه کړه.

فکر مو وکړ چې کیدای شي زموږ د جامو له امله وي چې د پارک انظباط به دا خبره کړې وي چې نن د بحر غاړې پارک ته د کورنیو سره د تگ ورځ ده.

ښاغلي فدا وویل چې تاسي منتظر شئ، موږ موټران درباسو، او په گډه به پارک ته ننوځو.

لږ وروسته له خلکو لیري د بحر پر غاړه یوې لوړې غونډۍ ته وختلو، غونډۍ په شین چمن فرش شوې وه، د بحر بل لورې ته د دوحې ښار د مرکزي بازار جگې جگې ودانۍ په رنگا رنگ گروپونو پوښلې وې، داسي وخت دی چې د ماښام لمنځونه شوې، تیاره خپره شوې، د بحر پر غاړ منظرې ښېل خوند درلود.

موږ داسي غونډۍ ته وختلو چې هلته د غونډۍ پر سر پرته له موږ نور څوک نه وو، او له نورو کسانو لیري تللي وو.

سړه هوا لگیدله، په بحر کې دننه هغه کښتۍ چې خلک یې د منظرې لپاره کرایه کوي او په بحر کې دننه ورکې گرځي، یوې او بلې خواته روانې وې.

د اسي ځای ناست وو چې دوو لورو ته د بحر اوبه او د بحر پورې خوا لوړې او دنگې ودانۍ په بېلابېلو رنگو کې روښانه ښکاریدې، او دوو لوروته مو شین چمونه وو.

شین چای، له لږ چاکلیټو سره زموږ ټوله ستړیا ختمه کړه.

ښاغلي فدا داسي انار راوړي وو چې سم دم د تگاب انار یې سړي ته وریادول. خواږه او بې دانې انار وو، ښه ډېر وو. له چای څښلو وروسته یې نوبت وو، که د

جامو د خرابیدو او مسافري لحاظ نه وای، نو د انارو په پوستکو به مو خامخا یو بل سره ویشتلی وای!

د فدا او ملګرو یې زړه وو چې په پوستکو د ویشتلو [۱] لوبه پیل کړي، ولي زموږ عجز هغوی ارام کړل.

د ملاعبدالسلام ضعیف ټلیفون راغی، ویل یې چې تاسي چیرته یاست، زه هوټل ته در روان شوی یم، موږ غوښتل په مناسب وخت کې د ښاغلي ضعیف د درناوي لپاره د هغه کور ته ورشو، خو هغه لطف کړی وو، اوخپله را روان شوی وو.

لږ وروسته د دکتور صالح ټلیفون راغی، ویل یې چې هوټل ته د لیدو لپاره در روان یم.

کله مو زړه کیدی چې د بحر په غاړه دغه ښکلې منظره دي ژر پای ومومي، بل لور ته کله کیدای شوای چې مشران دي په هوټل کې زموږ لپاره منتظر پاتې شي.

لږ وروسته موږ په ګډه راروان شوو، قاري عبدالحمید احمدي خپل موټر ته ورکښته شو، او موږ فدا او مسرور تر هوټل پوري راورسولو.

موږ پر دي هم ډیر بحث وکړ چې نږدې ۱۲ کیلومټره لیري مو هغه قیمتي موټر د سړک په غاړه تم ځای کې پریښودلی وو، نه د موټر د غلا، نه د امنیتي ستونزې او نه هم د موټر په اړه د بل څه فکر کیدای شوای، دا هرڅه د سولې او امنیت له برکته وو، الله ج دي زموږ په هیواد کې هم سوله او امنیت راولي.

د رتاج الریان هوټل په سالون ښاغلی ضعیف او دکتور صالح ناست وو، ورسره انجنیر محمد قاسم حلیمي هم ناست وو.

---

[۱] د هیواد په جنوب کې، په ځانګړې ډول د کندهار او هلمند ځوانان، او بیا په ځانګړې ډول طالبان چې کله د میلې لپاره کوم ځای ته ځي، هلته چې هندوانې وخوري بیا یې په لوښکو (پوستکو) یو بل د لوبو په دود ولي. دا ډول که مالتې وي، هم یې له پوستکو او هم خپله له مالټو څخه د همدې لوبې لپاره کار اخلي. داچې دانار پوټکي د جامو رنګ ډیر خرابوي، نو ځکه تر ډیره دانارو پوټکي ددغې لوبې لپاره نه کارول کیږي.

انجنیر قاسم حلیمي په زړه پوري عجیب او غریب قواره، همدا ډول خبرې لـري. ښه مسلکي پوهه لري، خو داچې په افغانستان کې ستونزې دي، د ده لـه مسـلک څخه دلته کار نه دی اخیستل شوی.

ښاغلي نظري او ښاغلي بختیار ته مې هم ږغ کړل چې د هوټل عمـومي سـالون ته راشي، شین چای او لږ اندازه بسکویټ ورسره، همدلته مـو یـو یـو ګـیلاس چـای وڅښلو.

د انجنیر حلیمي تنده وه چې د سیاست خبرې وشي، ځکه هغـه تـه زمـوږ کابـل میشتو کسانو هر یوه لیدل او د خبرو اوریدل به په زړه پوري ښکاریدل.

ضعیف صاحب بیا عام مجلس کـاوو، د کابـل او زمـوږ د ژونـد اړونـد یـې خـبري کولي، او ډاکټر صالح غوږ نیولی وو.

داچې موږ ګرده ورځ تر څلور ساعته ډیر د سیاست بحـث کـړی وو، یـوه هـم نـور علاقه نه لرله چې انجنیر حلیمي سره د سیاست ژورو ته ولاړ شي.

انجنیر حلیمي ټینګ شو چې سهار چـای بـه د ده پـه کـور کـې ورسره څښـو، د هغه د ټینګار له امله ښاغلي ځلاند ورسره ومنله، بیا وروسـته مـوږ د ډوډۍ خوړولـو پر مهال مشوره وکړه، چې سبا سهار لس بجې له طالب مشرانو سره ناسته لرو، کـه سهار چای ته د ښاغلي انجنیر حلیمي کور ته ولاړ شو، بیا به د طالـب اسـتازو سره مجلس ته ښه چمتو نه یو، ماخستن مو بیرته ورته ټلیفون وکړ او خپل عذر مـو ورتـه وړاندي کړ. کور یې ودان، زموږ عذر یې ومانه.

# طالب استازو سره دریېمه ناسته

د شپې تر ناوخته له دکتور صالح سره ويښ پاتي شوم، موږ سم خوب ونه شو کولای، سهار د لمانځه وروسته هم خوب ونه شو، پرون ورځ هم ټوله په مجلس او ګرځيدا کې تيره شوې وه.

سهار تر چای څښلو وروسته د ډسمبر پر لومړۍ نيټه لس بجې بيا هم د طالب استازو سره د مجلس وخت وو.

موږ ټول ٦ واړه ملګري پرونې د مجلس سالون ته ورغلو، داخل موږ لومړی ننوتي وو، او لږ وروسته د طالبانو د قطر د سياسي دفتر مرستيال ملاعبدالسلام حنفي، شيخ سيد رسول حليم، قاري دين محمد حنيف ، ملاعبدالاحد جهانګيروال، دکتور مزارګل صالح او دکتور محمد نعيم وردګ هم سالون ته راغلل.

ښاغلی مسرور او ښاغلی نجيب الله تر دوی مخکې راغلي وو، او له موږ سره ناست وو.

د طالبانو د رهبري شورا غړي، د قطر د سياسي دفتر د مرستيال مشر ملاعبدالسلام حنفي لخوا هرکلی وويل شو، دا لومړی ځل وو چې هغه له موږ سره په مجلس کې ګډون وکړ.

هغه وويل: (( ستاسي د لاري غواړو زموږ غوښتنې خپل ولس ته ورسوو، او ستاسي غوښتنې خپلو مشرانو ته ورسوو، موږ د خپل نظام پرمهال نواقص هم درلودل، ځوانان وو، شدت مو کړی، جذبه وه، هر ظالم ته مو شديد سزا ورکول غوښتل، چې خاين وي هغه دي ووژل شي، امر باالمعروف او نهي عن المنكر اداره کې بې تجربې کسان وو، د نظام پر مهال مو لاسته راوړنې هم وي، د نواقصو د اصلاح لپاره به کوشش کوو. ))

بيا هم د نورو ورځو په څير ډاکتر فيض محمد ځلاند د کابل څخه قطر ته د تللو ملګرو څخه لومړی وو چې په خبرو يې پيل وکړ، هغه وويل:

(( له تاسي ټولو منته کوو، چې د ليدنو کتنو زمينه مو راته برابره کړه، چې د

ولس د ږغ انعکاس وړاندي کړو، او فاصله کمه شي، اندیښنو ته ځوابونه وویل شي، ګیلې مخامخ وړاندي کړو.

په تیرو دوو ورځو کې مو ډیرځه واوریدل او محسوس مو کړل.

خپل وړاندیزونه او حل لاري هم وړاندي کوو، موږ وعده کړې وه [۱]، هغه مو ولیکل در به یې کړو، چې عملي کولو کې یې تاسي همکاري وکړئ.

ځینې مهمې خبرې دي چې بحث پرې نه دي شوی، غواړو چې نن په دې اړه هم ستاسي نظریات له ځان سره ولرو.

۱ – د نشيې توکو کرکیلی او د قاچاق مسئله:

نړۍ کې دویم هیواد یو، روږدې کسان هم زیات شوې، کومې سیمې چې د طالبانو تر واک لاندي دي هلته د کوکنارو کرکیله او قاچاق هم سته، بدخشان کې هم کیږي.

۲ – د کانونو او معدنو د استخراج خبره ده، ویل کیږي د طالبانو لخوا کیندنې رواني دي او د استخراج شوو موادو محصول هم اخلي، په غیرمسلکې ډول استخراج کوي، د بدخشان په اړه راپور هم ورکړل شوی. [۲]

۳ – شمال ته د جګړې لیږد، له داعش پرته هلته نورې وسلوالې ډلې بیا د تقابل

---

[۱] تیر مجلس کې دوخت د کموالي له امله پریکړه پر دي شوه چې کوم مهم وړاندیزونه وي، هغه به د کابل میشتو شنونکو او د رسنیو د کارکوونکو لخوا په لیکلي ډول طالب مشرانو ته ورکول کیږي، او هغوی به یې په عملي کیدو باندي غور کوي.

[۲] د بریتانیا ګلوبل ویټنیس (نړیوالې څارونکي) ادارې دا ډول وروسته کورنیو رسنیو لخوا راپور خپور شو چې د بدخشان د معادنو د استخراج شوو موادو دمحصول د پیسو یوه اندازه طالبانو ته ورکول کیږي. دغه راپور د جون میاشتي په ۲۰۱٦ کال کې خپور شو. راپور کې راغلي چې تیر کال کې طالبانو ۴ میلیونه ډالر له دې لاري ترلاسه کړي.

مرکزونه ګرځي، زموږ هیواد څه ډول جګړه کنټرول او مرګ ژوبله کمه کړو. [۱] ))

مشوره پر دې وشوه چې دکابل څخه ورغلي نور ملګري به هم خپلې پوښتنې او اندیښنې وواېي او بیا به یې طالب استازې په اړه نظر وړاندې کړي.

استاد اسد وحیدي هم د داعش موضوع راپورته کړه:

(( د داعش ښکارندې ربښتیا هم خلک ویرولي دي. خلک پوهیږي چې پروژه ده، نا امني داعش ته زمینه برابره کړي. داسې نښې چې هیواد په بله سوریه بدل شي. روسیه امریکا، چین، ایران به حملې کوي، د هیواد په ختیځ او شمال کې اندیښنه زیاته ده. سمه ده داعش به لوی ښودل کیږي، خو سترګې هم نه شو پټولای چې قوي نه دی، د طالب تګلاره څه ده؟ چلند مو ورسره څه دی؟

حکومت خو د پروژې عملي کوونکی دی، غوښتنه هم ورڅخه نه لرو.))

دکتور عبداللطیف نظري داخل اوږدې خبرې وکړي، چې مهم ټکي یې دا ډول وو :

(( له تاسي ټولو څخه مننه کوم، که امنیت او سوله ونه شي، هیڅ ډول پروژه مخکې نه وړل کیږي، هیواد د منطقي او فرامنطقي جګړه کې راګیر دی، او عامل یې امریکا ده، که حکومت مسؤول وي، او سوله غواړي، بیا ولي د طالب مشرنوم تورلسټ کې داخلیدل غواړي، داچې امریکا اسیا پاسفیک کې د نفوذ پلان لري، چې د روسیې واک کنټرول شي، زما باور دی که طالب کوشش هم وکړي سوله نه عملي کیږي.

امریکا حربي او اشغالګره ده، که پریښودل شي، زموږ د ګران هیواد د تجزیې پلان لري.

۳ نوع استعمار دی، یو چې ځمکه اشغال کړي، دویم موډرن استعمار چې مشران ترلې وي، او دریم رواني استعمار چې ذهنیت او تفکر اشغال کوي.

---

[۱] په وروسته وختونو کې داسي راپورونه ورکول شول چې په شمال ولایتونو کې بهرنی اسلامپال وسلوال لیدل شوي. د داعش سربیره تر ډېره د ازبک، تاجک او چیچن وسلوالو د شتون خبره په شمال ولایتونو کې کیږي.

سخت او نرم جنګونه شتون لري، چې بي هويته کسان پيدا او خپل اهداف پري عملي کړي. په روانی ډول خپل دښمن ووژل شي. د دوی لخوا خلک چاڼ شوې او پوهيږي.

داچې امريکا خپل پلان لري، ورسره موږ يو کمزوری او لاسپوڅی حکومت هم لرو، تړون مو مفت امضا کړ.

يو بعد نظامي دی، بل نرم جنګ دی، مشترکه برنامه بايد ولرو، څوک چې هيواد ته ژمن وي، په دي برخه کې ذهنيت بايد اصلاح شي.

د طالب په مقابل کې ذهنيت خرابولو ته ډير کار شوی، په کار ده چې وکولای شو چې د استقلال او ملي حاکميت اړوند مو تصميم خپل وي.

د طالبانو لخوا داسي ستراتيژي ته اړتيا ده چې د سخت او نرم جګړو دواړو اړوند تګلاره په نظر کې ونيول شي.

د لويو هيوادو سره اړيکې جوړول د جنګ نرمه برخه ده، خو داسي نه چې د لويو هيوادو لخوا د افزار کار ورڅخه واخيستل شي.

ترڅو چې امريکا مسلطه وي نه سوله کيږي او نه هم پرمختګ کيږي، عراق او ليبيا يې ښه مثالونه دي.))

د طالبانو د قطر د سياسي دفتر مرستيال مشر ملا عبدالسلام حنفي وويل:

(( بسم الله الرحمن الرحيم

**وَأَمۡرُهُمۡ شُورَىٰ بَيۡنَهُمۡ** (هر کار يې په خپل منځي مشورې سره وي)

مواد مخدر د پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد له وخت څخه کرل کيدل[1]،

---

[1] داسي راپورونه شتون لري چې د پخواني شوروي اتحاد سره د افغانانو د جهاد پر مهال د مجاهدينو تر لاس لاندې سيمو کې کروندګر وهڅول شول چې په خپلو ځمکو کوکنار وکري، تر څو له دي لارې د مجاهدينو او مجاهدينو د پلويانو اقتصاد قوي شي. همدې کروندګرو به مجاهدينو ته ډوډۍ او د لومړنيو اړتيا وړ توکې برابرول، دا ډول د کوکنارو د حاصلاتو لسمه برخه به يې د خپلې سيمې نږدې مجاهدينو ته ورکوله.

ولي قاچاق او استعمال يې کم وو، د طالبانو په وخت کې ملاصاحب بند کړل، په هلمند کې زيات کرل کيدل، د طالبانو مشر ويل چې د جواز او عدم جواز بحث يې نه کوم، امر دی چې مواد مخدر بند دی، د امر منل او اطاعت واجب دی.

اوس هم د طالبانو پخوانی تګلاره ده، د کوکنارو کښت، استعمال او د قاچاق يې مخالف يو، چرس او حتی سګريت هم بندوو، هر هغه څه چې صحت ته مضر-وی بايد استعمال نه شي.))

غواړم د ښاغلي حنفي پر خبرو لږ څه نور هم ور زيات کړم، د طالبانو په لومړيو کلونو کې د کوکنارو او چرسو کښت زيات وو، د خپل نظام د نړيدو څخه يو کال وړاندې يې د دواړو بوټو کښت بند اعلان کړ، او داسې بند شول، چې هيچا هم د طالب له ويرې دغه کښت ونه شو کړلای، ځينو بزګرانو چې په کورونو کې د ننه په پټه کرلي وو، هغه هم د طالبانو له خوا له منځه يوړل شول.

داچې د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو سره د مبارزې دفتر د ياد کښت د صفر راپور همهاغه وخت ورنه کړ، تر ډيره يې زه لامل دا ګڼم چې دوی نه غوښتل د خپلو دفترونو او کارکوونکو معاشونه يې وځنډيږي، دغې ادارې سره ما هم کار کړی، څه ډول چې له دوی څخه غوښتل کيږي په هغه ډول راپور چمتو کوي، تر ډيره سړی نه شي منلای چې د يادې ادارې راپور دی په رښتوني ډول د کوکنارو د کښت اړوند په حقيقي بڼه وي، لاسوهنه پکې کيږي، زموږ ياد دي چې کله به د ساحو څخه د کندهار مرکزي دفتر د کوکنارو د کښت اړوند معلومات را وړل شول، همدلته به د سروې د ګروپ ځينو مشرانو ته ويل کېدل چې څه ډول د کوکنارو د کښت اندازه برابره کړل شي.

ښاغلي حنفي وويل: (( د امريکايي پوځيانو د راتګ سره مواد مخدر په سيمو کې زيات شول او ځانګړي ډول په هلمند کې چې بريتانوي پوځيان ميشت وو، هلته يې کښت تر پخوا ډير زيات شو.

فضا او ځمکه د امریکايي پوځیانو په لاس کې وه، بیا ولې د کوکنارو کښت دومره زیات شو؟ مواد مخدر بهرنیانو په خپلو نظامي الوتکو [۱] کې قاچاق کول، موږ یې له استعمال سره جدي مخالف یو.

البته په اوسنیو شرایطو کې زموږ زیاته توجه جنګ ته ده، نورو مسایلو ته د پخوا په ډول توجه نه لرو، اوسمهال د دښمن له رواني او فرهنګي جنګ سره هم مخ یو، د خپل توان مطابق کوشش کوو چې دې مسئلې ته هم توجه وشي، چې څه ډول کم یا ودرول شي. تګلاره مو پخوانۍ ده، په عملي کیدو کې یې مشکلات نه شو نفي کولای، که بیا هم وتوانیږو د کوکنارو کښت صفر کوو.

د کانواو معادنو اړوند مستقل کمیسون د معدن او صنایع په نوم لرو، تر څو په دې برخه کې له خپلسریو څخه مخنیوی وشي او نظم موجود وي.

د کانو او معادنو څخه د کابل ادراې تر واک لاندې سیمو کې خپل سري قوماندانان استفاده کوي، هغه معادن چې د طالبانو سیمو کې دي، کومه اندازه چې استخراج کیږي، ورڅخه ترلاسه شوې پیسې د مریضانو او زخمیانو د تداوي، او ډیرو عاجلو او ضروري مسایلو لپاره کارول کیږي، مګر د اصولو مطابق، شخصي- استفاده ورڅخه نه کیږي.))

---

[۱] ځینې بهرنیو رسنیو داسې راپورونه ورکړل چې د هیروینو په قاچاق کې د امریکا ځانګړې ځواکونه او دناټو پوځیان لاس لري. داګست ۵مه ۲۰۰۸ INFO WARS راپور ورکړ:
US and NATO protecting Afghan drug trade
http://www.infowars.com/us-and-nato-protecting-afghan-drug-trade/
دنومبر ۱۳مه، ۲۰۱۳ Drug War? American Troops Are Protecting Afghan Opium. U.S. Occupation Leads to All-Time High Heroin Production
http://www.globalresearch.ca/drug-war-american-troops-are-protecting-afghan-opium-u-s-occupation-leads-to-all-time-high-heroin-production/۵۳۵۸۰۵۳

او نور راپورونه هم شتون لري.

سمه ده چې د کانونو په سېمو کې وسلوال زورواکان په خپله خوښه کنـدنې او استخراج کوي، خو طالب استازي دا ونه ویل چې د خامو موادو د تیریـدو لارې پـه ځینو سېمو کې د طالبانو تر کنټرول لاندې دي، شـنونکي پـر دي بـاور دي او ګـڼ داسې راپوروونه شته دي چې د کانونو د خامو توکو انتقال پرته د طالبانو لـه اجـازې مشکل دی، فکر کیږي چې د ځینو معادنو څخه را ایستل شوې خام تـوکې چـې د طالبانو له سېمو یې د موټرو کاروانونه تیریږي، طالبـان بـه د پیسـو پـه مقابـل کـې اجازه ورکوي.

ښاغلي حنفي د داعش اړوند وویل : (( زموږ تګلاره دا ده چې مـوږ یـې مخـالف یو، په افغانستان کې د نړۍ د غټو استخباراتو لخوا جـوړه شـوې ډلـه ده، سـتاسې څخه یې اورو، دا ډول ظاهر قدیر وایې چې په الوتکو کې سېمو ته وړل کیږي.

داسې هم ویل کیږي چې د دې ډلې مشران په کابل کې سـفارتونو تـه ځـي، د حکومت اول او دویم کس ته تګ راتګ کوي، هغوی خو خپلې چورلکې نه لـري، د امریکا له اجازې پرته چورلکه د هیواد فضا ته نه شي داخلیدای، د ناټو جوړه پـروژه ده او په افغانستان کې ځای نه لري.

طالبـان قـومي، سـمتي او مـذهبي اخـتلاف تـه لمـن نـه وهـي، مګـر داعـش دا کارکوي [۱]، د طالبانو وخـت کـې ۱۴۰۰۰ هنـدوان او سـیکان پـه هیـواد کـې دننـه موجود وو، موږ ورته احترام درلود، داعش پـه افغانسـتان کـې هغـوی نـه غـواړي او زموږ سره نظري یووالی نه لري.

شمال کې د جګړې اړوند باید ووایم چې د طالبانو وخت کې طالبان په شـما ل کې له ډیر مشکل سره مخ وو، د شمال ولایتو خلکـو ورسره حساسـیت درلـود، اوس چې په شـمال کـې کـوم جنـګ دي، لـه ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ ز. کـال څخـه د سـیمې

[۱] په داعش وسلواله ډله تور دی چې د سني او شیعه مذهبي جګړو ته لمن وهي

خلک د اشغالگرو په مقابل کې جگړه کوي، خلکو قیام وکړ، ازبک، ترکمن، تاجک افغانان دي او له هیواد څخه دفاع کوي.))

د ښاغلي حنفي د پورته خبرې اړوند زما (لیکوال) معلومات هم دادي چې په شمال ولایتونو کې عام وگړي د حکومت د امنیتي کسانو او په ځانگړي ډول اربکیانو څخه ډیر په تنگ شوي، پرته له قومي جوړښت په نظر کې نیولو ډیری یې له طالبانو سره مرستندوی دی، د جوزجان ولایت په خم آب ولسوالۍ کې چې کله د ولسمشر د لومړي مرستیال عبدالرشید دوستم په مشرۍ قواوو سره دده خپل قوم ترکمن جگړه وکړه، دوستم پوه شوو چې هغه نور له قومي کارټ کارولو څخه په شمال کې هغه ډول چې ده هیله لرله کار نه شي اخیستلای.

ښاغلی حنفي وویل: (( کله تاسي مختلفو ولایتو ته سفر وکړئ، ځوانان یاست، تاسي ته به معلومه شي چې ازبک، تاجک او ترکمن ډیر کم مهاجر لرو چې هغه دې د امو له هغې خوا راغلي وي، هغه مهاجر اوس هم پېژندل کیږي.

د ازبکو، تاجکو او ترکمنو اکثریت چې په شمالي ولایتونو کې میشت دی، د اشغال مقابل کې جنگ کوي.

استاد برهان الدین رباني د اسامه بن لادن په شمول ٦٠٠ عربو ته تذکرې ورکړې وي، د پاسپورټ لپاره یې فرمان موجود دی، کورنیو چارو او بهرنیو چارو وزارت کې یې اسناد شته. [1] ))

د طالب استازي داخبره سمه ده چې عربو ته د مجاهدینو د حکومت پر مهال

---

[1] انجنیر احمدشاه احمدزی چې د استاد برهان الدین رباني په وخت کې د کورنیو چارو وزیر وو، هغه ما (لیکوال) ته وویل چې استاد برهان الدین رباني زموږ سره په جهاد کې ملگرو عرب مجاهدینو لپاره د هویت تذکرې او پاسپورټو ورکولو امر ورکړ، او زما لخوا ۴۰۰ عرب مجاهدینو ته افغان پاسپورټونه ورکړل شول. کله چې د پاسپورټونو د تمدید وخت شو، بیاځل استاد رباني د تمدید امر ورنه کړ.

افغاني پاسپورټونه ورکول شوې وو، هغه کسان چې د استاد رباني د حکومت پر مهال یې اسامه بن لادن، د هغه کورنۍ او ملګرې له سوډان څخه د اریانا شرکت په الوتکه کې کابل ته را انتقال کړل، یو یې ډاکترعبدالرحمان و، چې د کرزي د لنډمهاله حکومت پر مهال د ملکي هوایي چلند وزیر و، د شمال ټلوالي لخوا د نامعلومو دلایلو له مخې ووژل شو، او بل هم یې حاجي دین محمد و، چې د ننګرهار او کابل والي پاتی شوی، د ولسمشر- کرزی سلاکار وزیر وو، اوس د ولسمشر ډاکټر غني سلاکار دی. ولي هغه وخت دغو عرب مجاهدینو دومره زیات د نورې نړۍ په وړاندې ګواښ نه وو کړي. خو د طالبانود نظام پر مهال اسامه بن لادن عملاً د امریکایي ګټو په ضد د بریدونو اعلان د افغانستان له خاورې څخه وکړ، او په دارالسلام او نایروبي کې یې د امریکا پر سفارتو باندې بریدونو کې ۲۰۰ کسان ووژل، چې په ځواب کې یې امریکایي ادارې پر خوست او جلال اباد باندې کروز توغندي واورول.

زه (لیکوال) پر دي باور یم چې په افغانستان باندي د حملې لپاره د اسامه بن لادن شتون په افغانستان کې د امریکا لپاره یواځې بهانه شوه، امریکا غوښتل چې حمله وکړي.

ښاغلي حنفي زیاته کړه: (( موږ د افغانستان خاوره د بل چا په زیان د کارولو لپاره چاته اجازه نه ورکوو، نه بهرنیو او نه هم افغانانو ته.

د داعش په مقابل کې طالب لویه جګړه کړي، زابل، هلمند، ننګرهار او فراه کې یې ورسره جګړه کړي. د ننګرهار ٦ یا ٧ ولسوالۍ د داعش لخوا تهدید کیدي.

داچې د ننګرهار اچین [1] کې ولي داعش نه ماتیږي، یو لورته اورکزي اجنسي- ده، بل لورته د کابل اداري پوځیان دي، دوه لورو ته لوړ او دنګ غرونه دي.

---

[1] اوسمهال د ننګرهار د اچین ولسوالۍ د داعش مهم او قوي مرکز دی، دا ډول کوټ او چپرهار هم د داعش مهم مرکزونه ګڼل کیدل.

کله چې موږ په داعش باندي برید کوو، له دنګو او جګو غرونو څخه تیریږو، یو لورته حکومت او بل لور ته د پاکستان پوځیان دي، هغوی هم موږ ته مزاحمت کوی، ځکه په اچین کې د داعش پر وړاندي له مشکل سره مخ یو.

که موږ اچین ته د ننوتلو لاره درلودلای هلته مو هم د داعش وسلوال ورکول. مګر حکومت چې اردو لري، ولي یې نه شي نیولای، دا سوال دی.

موږ نه رادیو او نه هم ټلویزون لرو چې ولس ته خبرې ورسوو، تاسي وسیله شئ حقایق خلکو ته ورسوئ. ))

د ښاغلي حنفي داخبره سمه ده چې راډیو او ټلویزون په واک کې نه لري، ولي د ټولنیزو رسنیو د لاري طالبان توانېدلي چې خپل پرمختګونه او ځینې مهم راپورونه ډیر ژر تر خلکو پوري ورسوي، د کندز لومړی ځل نیولو پر مهال طالبانو وکولای شول چې د حکومت ادعاوي په ډیر لږ وخت کې پر فیسبوک د ویډوګانو له کبله ناسمې ثابتي کړي، دوی د خپلو مشرانو مرکې هم پر فیسبوک خپرولي او تر خلکو یې رسولي.

ښاغلي حنفي وویل : (( چې سوله نه وي، په سم ډول ملي پروژې نه عملي کیږي، طالبانو اعلامیه خپره کړه، او هغه زموږ تګلاره ده، ملي پروژې حمایه کوو او امنیت یې نیسو.

له همسایه هیوادو، سیمې او له سیمې ورها خوا هیوادو سره اړیکې لرو، ارزو مو دا ده چې افغانان سره کینو او ستونزې خپلو منځو کې سره حل کړو. اساسي غوښتنه مو د اشغال ختمول دي او له هغه وروسته جګړه نه غواړو.

د طالبانو وخت کې د پوهنې وزارت مرستیال وزیر وم، د ۴۰۰ بستریز روغتون په ودانۍ کې موږ نږدې ۴۰۰ نجوني محصلینې درلودلي، او ډاکټر سهیلا [۱] یې مسؤوله وه.

---

[۱] ډاکټره سهیلا د حامد کرزي د لنډمهاله حکومت پر مهال د عامي روغتیا وزیره وه.

د طالبانو په وخت کې په ننگرهار او هرات کې د نجونو لپاره طب متوسط شتون درلود، داچې محلي مشکلات مو درلودل، له همدې امله ده، څه ډول چې لازمه وه، د پوهنې برخه کې هغه ډول کار ونشو، موږ ښوونه او روزنه د ټولو لپاره غواړو.))

د ښاغلي حنفي خبره په دي بڼه منلای شو چې ووایې چې د پوهنې په برخه کې د طالبانو نظریاتو او تگلارو کې ډیر مهم او مثبت بدلون راغلی دی، او دا یو ښه بدلون گڼلای شو، ولي د طالبانو د نظام پر مهال د پوهنې برخه کې ډیرې ستونزې وې.

ښاغلي حنفي زیاته کړه: (( د سني او شیعه ترمنځ مذهبي تفرقه نه غواړو، د طالبانو په وخت کې جنگونه د سني او شیعه په نوم نه وو [1]، بلکې د زورواکو په مقابل کې جنگ وو.))

د ښاغلي حنفي خبره به پر ځای وي، ولي ځینې طالبان بیا وایې چې په شمال کې او په ځانگړې ډول هغه وخت چې لومړی ځل بې وسلې طالبان د جنرال عبدالمالک سره د معاملي له مخې مزار شریف ته ننوتل، طالبانو ادعا درلودله چې بې وسلې طالبان د مزار شریف په ښار کې د ازبک او هزاره توکمو لخوا ووژل

---

[1] ځینې د اهل تشیع ځوانان او په ځانگړې ډول د هزاره توکم ځوانانو چې غوښتل یې په بهر کې د میشت کیدو اسناد په اساني سره واخلي د طالبانو د نظام پرمهال چې به کوم هیواد ته د قاچاقي لارو ورغلل، بیا به یې بهرنیانو ته ویل چې طالبان د اهل تشیع مخالفه ډله ده او موږ وژني.

همدغې لوبې د امریکا تر حملې وروسته له ۲۰۰۷ بیا تر ۲۰۱۴ ز.کال پورې دوام وکړ، د هزاره توکم ډیری ځوانان د طالبانو لخوا دجعلي تهدید لیکونو په کارولو سره په بهر کې میشت شول.

دا ډول د طالبانو د جعلي تهدید لیکونو څخه ځینو تاجک او پښتون او د نورو قومونو ځوانانو هم بهر ته د تگ لپاره استفاده کړې.

زما (لیکوال) څخه د کابل ښار د پنځمې ناحیې مرستیالې میرمن فرښتې، د طلوع او یک ټلویزون ځینو کاروونکو غوښتنه کړې وه چې که د افغانستان د اسلامي امارت په نوم کوم جعلي تهدید لیک ورته چمتو کړلای شم، ترڅو یې دوی بهرنیو سفارتونو ته د خپل ژوند لپاره د تهدید په موخه وکاروي.

شول، دا ډول په شبرغان او سرپل کې هم طالبان د ازبکو او هزاره گانو لخوا په گډه وژل کېدل، همهغه وو چې کله دوېم ځل د مزاري شريف ښار د طالبانو لخوا ونيول شو، ويل کيږي چې طالبانو هم ډير هزاره او ازبک ځوانان د خپلو وژل شوو طالبانو په تور او غچ کې ووژل.

نن ورځ زموږ سره په مجلس کې د طالبانو په ليکو کې مشهور عالم او مدرس شيخ سيد رسول حليم هم شتون درلود.

په نورو مسايلو سربيره د بيان د ازادۍ په اړه يې په زړه پورې خبرې وکړې، او د ملگرو توجه يې ډيره زياته جلب کړې وه.

شيخ سيد رسول حليم په خبرو پېل وکړ او ويې ويل :

(( يو اهداف دي او بل هدف ته د رسيدو اسباب دي.

زموږ غټ اهداف په لاندي ډول دي:

۱ – د اسلامی نظام حاکميت؛

۲ – د اشغال خاتمه؛

۳ – د اسي سالم نظام چې افغان شموله وي، او کار اهل کار ته وسپارل شي؛

۴ – ارضي تماميت؛

۵ – د تجزيې مخنيوی.

پورته اهدافو ته د رسيدو لپاره وسايل :

لومړی: جهاد دی؛

دوېم: سوله ده؛

جهاد يعني دفاع، د هرې ټولنې د خپلو اصولو له مخې او په ځانگړي ډول افغان ټولنه کې چې د چا مال يا ځمکه باندي تجاوز وشي، د دفاع حق لري. لومړی موږ د دفاع حق نه دی کارولي، بلکې دويمه ذريعه، سوله مو لومړی وکاروله.

د ۱۱/۹ وروسته په څو ساعتونو کې امریکا اعلان وکړ چې برید د اسامه بن لادن لخوا شوی، طرحه یې په افغانستان کې جوړه شوې.

پوښتنه دا ده چې امریکا ته څه ډول دومره ژر معلومات وشو، که د برید طرحه مخکې جوړه شوې وه، ولې یې امریکا د مخنیوي لپاره اقدام نه کاوو؟

امریکا ویل چې اسامه بن لادن راته وسپارئ، طالبانو ورته ویل چې اسناد وښایاست، د امریکا څخه خو څوک اسناد نه شي غوښتلای، مغروره هیواد دی، طالب تنازل وکړ، چې راځئ خبرې وکړو، دریمګړې محکمې ته موضوع حواله کړو، له دې وروسته بیا امریکا ویل چې د افغانستان اړوند یوازې د اسامه مسئله نه ده، د جنګ پریکړه یې کړې وه. [1]

تر نن ورځې هم امریکا د ۱۱/۹ د برید او پیښې اسناد نه خو خپل امریکایي ملت او نه هم بل چاته وښودل.

هدف ته د رسیدو لپاره لومړۍ وسیله جهاد مو په دویم قدم کې وکاراوو.

سوله وسیله ده، د سولې هڅې دوام لري، قطر کې مو دفتر خلاص کړ، حامد کرزي د احتجاج په ډول خپل سفیر له قطر څخه وایست، درې کلونه وروسته بیا په دوحه کې دفتر خلاص شو، کرزي یې بیا ځلې مخالفت وکړ. په بیرغ یوازې کلمه طیبه لیکل شوې وه، د امارت نښان نه وو، په لوحه کې مکتب (دفتر) لیکلی وو.[2]

---

[1] د امریکا ولسمشر بوش ویل چې ۱۱/۹ غچ به اخلي، له پیښې وروسته سمدستي بوش د بریدونو پړه پر اسامه بن لادن واچوله، بوش پریکړه وکړه چې په افغانستان کې طالبان او القاعده د امریکایې پوځیانو په واسطه مات کړي، کانګراس تاید کړه چې د بریدکوونکو مقابل کې امریکایې پوځیان عمل وکړي. د سپټمبر پر ۱۸ له برید اته ورځې وروسته همدا هوکړه د بوش لخوا لاسلیک شوه.
http://millercenter.org/president/biography/gwbush-foreign-affairs

[2] قطر کې د طالبانو لخوا د سیاسي دفتر د پرانستلو پر مهال طالب مشرانو په ودانۍ کې دننه سپین بیرغ چې کلیمه پرې لیکل شوې وه، په ګډه پورته کړ، او د بیرغ د پورته کیدو مراسمو ویډیو په رسنیو کې په ډیر چټک ډول سره خپره شوه.

درېیم قدم کې د ډاکټراشرف غني سره د ولسمشریزو ټانکو اړوند مفاهمه وشوه چې تړون به نه لاسلیک کوي، کله چې ولسمشر شو، تړون یې لاسلیک کړ.

د ولسمشر غني لخوا د طالبانو د مشر- شیخ هبة الله د نوم په تورلست کې شاملېدو غوښتنه، هغه هم ۱۵ کاله وروسته د سولې مانع خبره ده.

امریکا وویل چې طالبان تروریستان نه دي، هغوی له خپلې خبرې اوس نه شي شاته کیدای، خپل غلام (غني) ته وایې چې دا خبره وکړه، هغه چې د عملې کیدو نه ده.

عملي سوله غواړو، غونډې مو وکړي، په نړیوالو غونډو کې مو ګډون وکړ، د مدني ټولنو، ګوندونو او سیاسي ډلو مشران دلته راځي، دا دی ستاسي راتګ هم وشو، د سولې اړوند ورسره خبرې کوو، او رښتونې سوله غواړو.))

تر کومه چې ما (لیکوال) په ځینو نړیوالو او ډیرو کورنیو د سولې اړوند غونډو کې ګډون کړی، زه فکر کوم چې طالبان د افغان حکومت په نسبت د سولې لپاره ډیره لیوالتیا لري، هر ځل چې د سولې اړوند پرمختګ کیږي، د افغان حکومت او سیمې د ځینو هیوادونو لخوا یې د پرمختګ مخه نیول کیږي.

شیخ حلیم وویل : (( د بیان ازادي د رسنیو کار دی، د رسنیو اهمیت لویدیځ ته دومره معلوم نه دی لکه چې موږ ته معلوم دی، دوی به اخذ له اسلام څخه کړی وي.

د حکومت ۴ ستنې دي، یوه مهمه ستن یې رسنۍ دي، زه یې خپله د اهمیت له مخې لومړنۍ ستن ګڼم.

رسنۍ داسي دي لکه غوږ، ژبه او سترګې، په غوږ اوریدل کوو، په ژبه خبري او په سترګو لیدل کوو.

رسنۍ حکومت ته نیمګړتیاوي ورپه ګوته کوي، د ولس حقونه ورته ور ښیې، بهترین جهاد د ظالم پاچا په مخ کې حقه خبره ده، دا کار باعمله عالم او رسنۍ کوي.

---

هغه انځوونه چې د الجزیره ټلویزون لخوا خپاره شول، ښکاري چې پر لوحه لیکل شوې (المکتب السیاسي، امارة افغانستان الاسلامیة) د افغانستان د اسلامي امارت سیاسي دفتر. (جون ۱۸، ۲۰۱۳ )

اصولاً، شرعاً او ديناً رسنۍ باید داسي وي چې: خبره به یې د ملي منافعو خلاف نه وي. ملي اسرار به نه افشا کوي. بې بندوباري او خپلسري به نه کوي. د هیواد د استقرار خلاف به نه وي. د وحدت او مذهب خلاف به نه وی. ملي اسرار به نه افشا کوي. د اسلامي اصولو خلاف به نه وي. د فرضي احکامو مخالف به نه وي، اجتهادي احکام بېله خبره ده. [1]

چین د نړۍ ٦مه برخه نفوس لري، د ماوو د نظریاتو خلاف څوک اشاره نه شي کولای، هلته ۹۰ میلیونه خلک ماویست دي، او ۱۴۰۰ میلیونه وګړي مایوست نه دي، ۲۰ میلیونه خلک په دولت کې کار کوي. ولي دا ۱۴۰۰ میلیونه غیر مایوست بیا هم د ماوو د نظریاتو خلاف د هغه هیواد د قانون له مخې څه نه شي ویلای.

د بیان د ازادۍ په اړه شیخ وویل: د ولس دعامه حقونو په هره برخه کې احیا او اظهار، او چارواکو ته یې رسول دي.

مصالح عامه په نظر کې ونیول شي، د حکمران د عامه حقونو خلاف اعمال ښکاره شي، نه د هغه شخصي زندګي، ځکه دا یې شخصي- حق دی، توهین یې ونه شي.))

د بیان د ازادي اړوند خو شیخ حلیم په زړه پوري او اساسي خبرې وکړې، ولي په عملي ډول د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې په دې برخه کې به خامخا ستونزې وي، په ښارونو کې د افغان حکومت لخوا خپلواکو خبریالانو او څېړونکو ته ستونزې پیدا کیږي، او په لیرې پرتو سیمو کې ممکن طالب یې هم ونه شي زغملای.

شیخ حلیم د مواد مخدر اړوند وویل:

(( ۱ - حکومت او ناټو دې په هیواد کې نشه یي توکې بند کړي، موږ به یې هم بند کړو، چیلنج ورکوو.

۲ – پنځلس کاله د ناټو او امریکا د نشه یي توکو اړوند اغراض وو، اقتصادي ګټه

[1] د افغانستان د مذهبې او کلتوري ټولنې دجوړښت له مخې د بیان ازادي یو ډېره ښه تعریف دی.

یې پکې وه، د افغانستان د جګړې اکمال یې کاوو.

بهرنیانو ویل چې په تدریجي ډول کوکنار بندوو، د سیمې خلک غریب دي، هغوی ته یې د ژوند کولو او کوکنارو عوض بل کښت او حاصل پیدا نه کړ. کابل اداره هم وایې چې ولس دی، او په تدریج د کوکنارو کښت بندوو، مګر په ۱۵ کاله کې یې دا کار ونه شو کولای.

ولس له موږ سره ولاړ دی، موږ ته هم مشکل دی: لومړی دا چې د کروندګرو اقتصادي ستونزې دي، او موږ بدیل بل څه ورته نه لرو، دوېم داچې د کوکنارو کښت د حکومت سېمو کې ازاد وي، قاچاق یې کیږي، که موږ یې بند کړو، ولس ته به څه ډول قناعت ورکولای شو.

د کانونو او معادنو اړوند شیخ وویل : ۹۵ سلنه معادن د حکومت سېمه کې د قومندانانو تر کنټرول لاندې دي. زموږ کنټرول کې چې دي یوازې د اقتصادي مشکل په موخه د اړتیا وړ ګټه ورڅخه اخیستل کیږي. د بدیل معیشت کوشش کوو، باید په مسلکي ډول سره د معادنو استخراج وشي، بیا هم سوال په حکومت دي چې ولي یې په غیر مسلکي ډول استخراج او قاچاق کوي؟ موږ خو وسایل نه لرو.

که د نړۍ هر دولت او هره کمپنۍ غواړي خپله ساحه کې د معادنو د استخراج اجازه د تړون له مخې ورکوو چې په مسلکی ډول استخراج شي او ګټه یې ملت ته ورسیږي.

د انسانانو د وژنې په اړه شیخ حلم وویل چې: آیا دا کار موږ شروع کړی؟ جواب دی نه. موږ د انسان وژنې د مخنیوي لپاره امارت احیا کړ. همدا اوس انسان وژنه څوک کوي؟ کندز کې روغتون باندي بمبارد، ښوونځي کې د ملي اردو پوځیانو اوسیدنه، د ولس د اوسیدو په ځایونو باندي راکټونه ویشتل. دا هرڅه حکومت کوي.

انسان وژنه جایز کار نه دی، نه یې تاییدوو، نه یې توجیه کوو.

کله چې قوي حکومت پر کمزوري حکومت باندی تجاوز کوي:

۱ – په جګړه کې د وژل شوې ملکي کسانو پړه په جانب مقابل باندي اچوي؛

۲ – يوه توطيه ده چې د خلکو اذهان واړوي، تر څو جانب مقابل مجبور کړي چې اشغال پاتې شي.

دا هم يوه توطيه ده چې وايې جنگ ودروم، ته څه کوي؟

آيا امريکا ضمانت ورکوي چې ملگري ملتونه يا بل قوت يې وکړي. چې موږ جنگ ودروو ته به وځي.

امريکا دي د خپلو پوځيانو د وتلو اعلان وکړي چې چين، روسيه، ملگري ملتونه يا اسلامی کانفرانس يې تضمين وکړي. زه به جنگ ودروم. مگر د جگړې د دريدو خبره يوازې د بهرنيو پوځيانو د پاتې کيدو توطيه ده.

موږ پوهېږو چې امريکايان نه وځي، له ټولو افغانان غوښتنه کوو چې د بهرنيانو دوتلو لپاره خپل اسلامي، افغاني، مطبوعاتي رسالت ادا کړي، زموږ رسالت مه ادا کوئ، حقايق خلکو ته له هرې لارې څخه چې وي ورته ويې رسوئ.))

قاري دين محمد حنيف چې د بدخشان ولايت اوسيدونکی دی، د معادنو د استخراج په اړه يې وويل:

(( بدخشان کې د لاجوردو مشهور کان د کران او منجان ولسوالۍ کې دی، د انقلاب له پيله [1] يعنی ۳۷ کاله کيږي چې د حکومت له کنټرول څخه وتلی دی. طالبان هم پرې کنټرول نه لري. د استاد برهان الدين رباني په وخت کې نجم الدين قومندان په ياده سيمه کې واکمن وو، د احمدشاه مسعود سره يې هم د دغه معدن د استخراج پر سر مشکل راغلی وو. چې کله به هم مسعود ته کوم مهم بهرنی ميلمه راغی، خپل استازي به يې قومندان نجم الدين ته ور وليږل چې کان کې يو يا دوه انفجاره [2] وکړي، او په غير مسلکي ډول استخراج شوې لاجورد د ميلمه لپاره وروړي.

---

[1] د پخواني شوروي اتحاد پروړاندي د جهاد شروع ته ځينې کسان انقلاب هم وايې.

[2] د مجاهدينو له وخت څخه تر اوسه هم د بدخشان د لاجوردو او پنجشير د زمردو له کانو څخه په غير مسلکي ډول وسلوال استخراج کوي، په ډيره ټيټه بيه يې پلوري. ياد کانونه له ۳۷ کالو راهيسي د حکومت له واکه وتلي دي.

د استاد رباني په وخت کې یو قوماندان وو، هغه به ویل که د کوځې یا درې په خوله کې روپۍ کښېږدم، لاره به بنده شي.

د کرزي د حکومت پرمهال په سېمه کې د بدخشان د لاجوردو کان د زلمي مجددي تر واک لاندی او ورڅخه استفاده یې کوله.

قوماندان عبدالمالک د غني وخت کې مسلط دی، نږدې ۶۰۰ غیر مسؤول وسلوال لري، د لاجوردو استخراج په غیر مسلکي او غیر قانوني ډول سره کوي.[۱]

رسنیو طالب هم دخیل کړ چې له دې لارې پیسې ورته رسیږي، زما معلومات دا دی چې دا پر طالبانو یو تهمت دی، د سیمې مسؤول طالب مشر وایې، موږ دخیل نه یو، رسنۍ دې سیمې ته راشي، موضوع دې له نږدې وڅیړي، موږ هم د رسنیو له استازو سره د امنیت په برخه کې همکاري کوو.

د طالب په اړه غایبانه پرېکړه کیږي، د سیاسي بحثونو پرمهال په ګردي میز کې د ګډون حق نه ورکول کیږي. ))

شاپور بختیار هم د سولې اړوند د نه ژمنتیا په اړه خپله اندیښنه ښکاره کړه. هغه وویل : (( چې کله هم د طالب سره د سولې خبره کیږي، سمدستي یوه ډله کسان د بیان د ازادۍ او بله ډله میرمنې د ښځو د حقونو د لاسه ورکولو خبره مطرح کوي.))

---

[۱] د ګلوبل ویټنیس راپور کې هم د قوماندان مالک نوم یاد شوی وو، او د جنوري پر ۲۶مه ۲۰۱۷ کورنیو رسینو بیاځل راپور ورکړ چې د کران اومنجان ولسوالۍ ولسونه شکایت کوي چې د قوماندان مالک لخوا د لاجوردو استخراج په غیر قانوني او غیر مسلکي ډول سره کیږي. د وخت مرستیال والي په دې اړه وویل چې دوی د استخراج په مخنیوي کې عاجز شوي دي. مرستیال والي وویل چې یوه برخه پیسې یې وسلوالو طالبانو ته هم په غیرقانوني ډول ورکول کیږي. ولې د وسلوالو طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د لاجوردو د استخراج له امله دوی ته د پیسو ورکړه رد کړه.

معلومات ښیې چې په وردګ میدان، غزني، ننګرهار، هلمند او بدخشان کې طالبان د ځینو کانونو د کیندنو مخنیوی نه دی کړی، که طالبان وغواړي چې د کانونو کیندل او استخراج بند شي، دوی کولای شي چې د استخراج شوو توکو د انتقال مخه ونیسي.

ملا عبدالسلام حنفي د میرمنو د حقونو په اړه وویل:

(( د طالبانو وخت کې د روغتیا په برخه کې د ښځو تعلیم د امکاناتو تر حده یوه اندازه وو، زموږ د نظام پر مهال ښځو د نورو ښځو څخه د اړتیا پرمهال تالاشي کوله.

هغه وخت کې یوازې زموږ عادي بودیجه وه، انکشافي بودیجه نه وه، عادي بودیجه کافي نه وه، یوازې د خپلو عوایدو څخه ترلاسه شوې پیسې مو لګولې، بل لورته جنګ لوی مصارف غوښتل. [۱]

اوس وخت کې چې د ښځو د حقونو تر نامه لاندې کوم څه روان دي، نه اسلام، نه افغانیت نه هم د افغانانو دود او دستور اجازه ورکوي. د اسلامي اصولو سره مطابق د ښځو د تعلیم او کار سره مخالف نه یو، د فساد او بې بند و بارۍ او خپلسرې سره یې مخالف یو.))

د ښاغلي حنفي پر خبرو زه داهم ور زیاتوم چې د ښځو د حقونو په نوم ځینو میرمنو ټولنې جوړې کړې او د بهرنیو مرسته کوونکو څخه پیسې ترلاسه کوي، د یادو تر لاسه شوو پیسو هم ډیره برخه حیف او میل کیږي، کومې پاتې پیسې چې لګول کیږي، د دې لپاره نه دي چې د میرمنو ژوند ښه شي، بلکې هڅه کیږي چې د میرمنو په ټولنو کې د لویدیځ کلتور رواج شي.

د ډاکټر غني د حکومت په راتګ سره د میرمنو ټولنو ته زیاته توجه شوې، میرمن رولا غني ورته ځانګړی دفتر پرانیستی دی، او غواړي چې د میرمنو ټولنو کې د لویدیځوالو کلتور او د هغوی غوښتنې ومنل شي، د امریکا لخوا د افغان

---

[۱] د حنفي هدف دا و چې د بودیجې د کموالي له کبله د میرمنو دتعلیم په برخه کې موږ ستونزې درلودلې. له دې مخکې سهیل شاهین او قاري دین محمد حنیف هم ویلي و چې نړیوالو د پوهنې په برخه کې له طالبانو سره مرسته ونه کړه.

زه پر دې نظر یم چې دا هم نه شي رد کیدای چې د ملګرو ملتونو او نړیوالو ادارو به د پوهنې په برخه کې د بودیجې ورکولو لپاره یو لړ شرایط درلودله، ولې هغه شرایط به طالبانو ورسره نه منل.

ښځو د ژوند د ښه کیدو اړوند د دوه سوه میلیونه ډالرو څخه یې ډیره برخه د میرمن رولا غني دفتر ته ورکول شوې.

ښاغلي حنفي د رسنیو اړوند وویل: (( چې موږ ورسره مخالفت نه لرو، که طالبان وغواړي، نو کولای شي چې رسنیو ته ستونزه پیدا کړي. د طلوع ټلویزن سره یو ډول تقابل او ضدیت راغی.

رسنیو ته په کار ده چې اسلامی او ملي منافع په نظر کې ونیسي، که توازن په نظر کې ونیول شي، زموږ تر کنټرول لاندي ساحو ته هم ولاړشي او ناپیېلي راپورونه چمتو کړي، دا به ښه پرمختګ وي.))

شاپور بختیار په دي منځ کې وویل : (( د طلوع ټلویزون پر عادي کارکوونکو تاسي برید وکړ، [1] هغوی خو نه خبر او نه هم راپور جوړ کړی وو.))

نه یوازې بختیار بلکې د ډیرو کسانو لخوا پر طالبانو نیوکه کیدله چې د طلوع ټلویزون عادي کارکوونکي چې هغوی د راپور او خبر د برخې کسان نه وو، د دوی لخوا په نښه شول، په کار نه وه چې د نورو په ګناه عادي خلک ووژل شي.

دکتور محمد نعیم وردګ هم د خبرو نوبت واخیست ویې ویل:

(( داسي پوه شوم چې د طالبانو رسمي ویب پاڼه الاماره نه کتل کیږي [2]، که دوامداره وکتل شي، ډیر سوالونه حل کیږي، د تعلیم او تربیې اړوند د ملا اختر محمد منصور ږغیږ پیغام هم خپور شوی، د پوهنې برخه کې تر اعلامیې هغه ږغیږ پیغام ډیر مهم دی.

---

[1] د بختیار هدف داوو چې د طالبانو اړوند او په ځانګړي ډول د کندز خبر چې پر طالبانو د جنسي تیري تور لګور شوی وو، داکارونه د طلوع ټلویزون په اداره کې مدیران کوی، عادي کارکوونکي داکار نه کوي.

[2] الاماره د طالبانو رسمي ویب پاڼه ده، ډیر وخت د بهرنیانو لخوا ترل شوې وي، په افغانستان کې هم تر ډیره د مخابراتي کمپینو لخوا پرې بندیز لګول شوی، نه خلاصیږي، د خلکو لاسرسی ورته ډیر کم دی، له همدې امله چې ډیر وخت یې ادرس نه خلاصیږي او یا ژر ژر یې ادرس بدلون مومي، عام خلک یې نه ګوري.

د ښوونکو، زده کوونکي او یا محصل وژل ډېر وخت د استخباراتو لخوا کیږي، که فکر وکړو چې دا کار به طالب ته ګټه کوي که زیان؟ طالب ته خو زیان کوي، بیا به ولې د خپل ولس بچیان وژني.))

د ښاغلي وردګ د خبرو اړوند زما نظر دادی چې له ۲۰۰۹ ز. کال وروسته ډېر د ښوونځیو او پوهنتونو زده کوونکي او فارغ ځوانان د طالبانو په لیکو کې د امریکا/ناټو او افغان حکومت د پوځیانو پر ضد په لومړیو کرښو کې جګړې کوي، له ۲۰۰۹ مخکې هم وو، خو شمیر یې کم وو، اوس وخت کې د طالبانو په نظریاتو او فکر کې د محصل او زده کوونکي په اړه ژور تغیر راغلی دی، او دا یو مثبت تغیر ګڼو، هغوی د ښوونځي او پوهنتون هر زده کوونکي ته په بده سترګه نه ګوري، او د ننګرهار پوهنتون خو د حکومت له خوا له ۲۰۱۲ کلونو وروسته پر دي متهم وو چې پکې لیلیه محصلین یې ډېری طالب پلوي دي.

ولي داهم نه شي هیریدای چې د طالبانو د نظام پر مهال او بیا دامریکا ترحملې وروسته تر ۲۰۰۹ ز. کال پوري د طالبانو نظریاتو د ښوونځي د زده کوونکياود پوهنتون د محصل په اړه له نن ورخ سره ښکار توپیر درلود.

دکتور محمد نعیم وردګ د خپلو خبرو په تسلسل سره وویل:

(( د طالبانو د نظام له وخت څخه تر نن ورځي پوري زموږ په کلي کې د نجونو د تدریس ځای شته. د کلي مکتب مو دوه ځلې سوځیدلی، هرځل دا کار دولت کړی.

دوه تنه طالبان وو، څو کلونه پخوا یې دولتي مامور نیولی وو، یوه یې غوښتل چې له دولتي کس څخه غوږ او پوزه پرې کړي، هغه بل ملګري یې مخنیوی کاوو، اصل کې خبره د ناپوهي هم ده، هغه کس نه پوهیدی، فکر یې کاوو چې دا ډول جزا ورکول به ښه کار وي، خو کله چې پوه شو، بیا ډېر زیات پښېمانه وو، ویل یې ښه ده چې دا کار مې نه دی کړی.))

*****

شین چای هم د سالون په یوه برخه کې زموږ لپاره ایښودل شوی وو، یو ډول تازه عادي جوس هم هلته ایښې وو، پرون ورځ یوه هم د مجلس له ګډونوالو څخه چای ونه څښی.

نن ورځ د ملګرو خوښه شوه چې په ۱۵ دقیقو کې چای او تازه جوس وڅښي، له چای او تازه جوس څښلو وروسته بیا هم مجلس پیل شو.

ښاغلي اسد وحیدي داخل بیا هم سختې پوښتنې او اندیښنې په ښکاره ډول طالب مشرانو او استازو ته وویلي:

(( که دا ومنل شي چې کوم طالب جرم کړی او سزا ورکړل شوې، که دغه ډول پیښې رسنیزې شي، تاثیرات به یې په ټولنه او نظامي لیکو کې ځکه ښه وي، چې د جرمونو کنټرول به نور هم وشي.

امریکایان له افغانستان څخه نه وځي، مثلا که همدا خبره زه وکړم، ستاسي ځواب به څه وي؟

۱ – داچې جنګ به کوو، ترکومه به یې کوو؛

۲ – په کومه بله طریقه باندي هم فکر کول پکار دی که نه؟

اوس خو امریکایان عملیات نه کوي، په خپلو اډو کې ارام ناست دي. تر ۲۰۱۴ز. کال وروسته یې اعلان هم وکړ، چې په خپلو اډو کې به وي.

۳ – دغې جګړې ته څه ډول مشروعیت ورکوئ؟

۴ – امریکایان به نه وځي، وایي به حکومت ساتي، تر کومه به جګړه روانه وي؟

۵ - په ځینو داسي ځایونو کې برید یا جګړه کیږي لکه مزار کې د جرمني پر کونسلګرۍ برید، شاوخوا یې د عام ولسي وګړو ځایونه تخریب شول، تر ډیره عام ولسي خلک زیانمن شول.

٦ – کندز به نیول کیږي، هلمند به محاصره وي، مرګ ژوبله به ولس ته اوړي، ګټه به یې چاته وي؟

۷ – که د سیمې هیوادونه همکاري وکړي او سیاسي هڅو ته توجه وشي چې امریکایان وتلو ته چمتو شي، دا به د حل یوه ښه لاره وي.))

میرویس ستانکزي بیا د طالبانو څخه د ځانګړي پیغام غوښتنه وکړه:

(( دغسي ځوانانو سره ناستې او خبرې مفیدې وي، د استاد سیاف او عمر داودزي په ډول مشران خبره درسره نه مني، مګر ځوان ته د خلکو د نه وژلو اطمنان ډیره لویه خبره ده، د ډاکتر فیض محمد ځلاند [1] لیکنې ډیر تاثیر کړی. پخوا چې مو کوم څه په پټو سترګو منل اوس یې نه منو.

دغسي ځوانانو سره ناستې به ډیرې اغیزمنې وي، د مشرانو او د دغه ناستو مقایسه تاسي هم وکړئ؟

طالبانو زموږ په سېمه کې کلیوالو ته ویلي وو که سلاح نه لرئ، موږ یې درکوو، که د شپې څوک درغلل ویې وژنئ. ))

د ښاغلي میرویس ستانکزي د خبرو په تاید څو کاله مخکې په ځینو هغو سېمو کې چې کله به د طالبانو او کله هم د افغان حکومت تر واک لاندې راتلې، او یا هغه سیمې چې د طالبانو او حکومت ترمنځ به همداسي پاتې وي، او د کوم لوري بشپړ واک به پکې نه وو، په دغسي سېمو کې د شپې لخوا د طالب په نوم ځینو کورونو ته وسلوال ورتلل او د کورنۍ کوم غړی به یې د شپې مهال له کوره وایست، د کورنۍ غړو ته به یې ویل چې موږ طالبان یو، بیا به یې وروسته هغه کس د پیسو په مقابل کې خوشي کاوو، همهغه وو چې طالبانو خلکو ته وویل چې د شپې مهال طالب د هیچا کورته نه ورځي، که د طالب په نوم هر څوک ستاسي کورته د شپې له مخې درغی، هغه ووژنئ.

میرویس ستانکزي زیاته کړه : (( د ښوونځي ناکام زده کوونکي چې محروم وو،

---

[1] ډاکټر ځلاند د پرون ورځې د مجلس په اړه لنډه لیکنه کړې وه، لیکنه په پښتو ویب پاڼو کې خپره شوې وه.

هغوی ښوونځی وسوځاوو. [۱]

که اشخاص مو فلټر شي، هغوی چې بده سابقه لري، له خپلو صفونو څخه لیري کړئ، همدا ستاسي ځانګړتیا وه.

د کلی اشخاص په خپله سېمه کې پري نه ښودل شي بلې سیمې ته واستول شي.[۲]

که له دښمن سره په جګړه کې ملکي کسانو ته مرګ ژوبله زیاته وي، دا نو شرعاً ناروا ده داسي بریدونه شوې دي.

ځینې وړاندیزونه موږ ترتیب کړي، که د زماني محدودي سره عملي شي، دا به ښه وي.

مشخص پیغام به ستاسي څه وي؟

د سولې لپاره شرایط څه دي؟

څه وخت، څنګه، کله او د چاسره مذاکرات پیلوئ؟

د اوربند مسئله که په نمونوي ډول په یوه ولسوالۍ یا ولایت کې د ازمایښت په ډول وشي، د سولې سېمه ونومول شي، دا به د سولې په برخه کې یو ښه قدم وي.))

ډاکتر فیض محمد ځلاند پر طالبانو د پاکستان د اغیز مسئله راپورته کړه، ویې ویل:

(( ۱ – د پاکستان د اغیز بحث کیږي، له اغیز څخه د وتلو لاره یې شته چې نفوذ یې کم شي.

۲ – د افغانستان لپاره د ولسمشر پوتین د ځانګړي استازي ضمیر کابلوف نظریات ډیر ژور وو، څومره طالبان ورسره موافق دي؟ داسي خو به نه وی چې په خپله ګټه د طالبانو ملاتړ کوي.

۳ – د جګړې توندۍ کې چې کموالی راتلای شي که نه؟

---

[۱] په لوګر کې د یو ښوونځي هغه زده کوونکي چې محروم شوې او ناکام پاتې وو، هغوی په ګډه خپل د کلي ښوونځي وسوځاوو، او پړه یې په رسنیو کې پر طالبانو واچول شوه.

[۲] په خپله سېمه کې ډیری وخت د وسلوالو لخوا شخصي تربګني او دښمني پالل کیږي.

د بایومیټرک ماشین د کارولو د لارې کندز کې کسان ونیول شول، اوسمهال ستاسې سره د ملي اردواو پولیسو نفر بندیان دي، د هغوی برخلیک به څه ډول وي؟

جګړه افغاني کیدونکي ده، چې زغم او حوصله وشي، زندانیان پرته له تبادلې پریښودل شي، تاثیرات به یې ډیر ښه وي.

د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې اړوند د بګرام اډه کې برید ځانګړی دی، چې یوازې بهرنیانو ته پکې مرګ ژوبله واوښتله، په ځینو وختو کې عام وګړي په بریدونو کې له منځه ځي.

داچې طالب ۸۰ سلنه خاوره تر خپل کنټرول لاندې لري، نو مسؤولیت یې هم همدومره دی.))

ملا عبدالسلام حنفي د ذکر شوو پوښتنو او اندیښنو اړوند وویل:

(( د امریکا هدف یوازې افغانستان نه، بلکې سیمه او تر سیمې ورهاخوا ده، د اشغالګرو وتل او پاتې کېدل د هغوی په خوښه نه ده، انګریزانو ویلي وو چې ۴۰ کاله له افغانستان څخه نه وځو [1]، خو نن هغوی نشته، چې سیمه او ولس مقاومت وکړي، مجبوره به شي چې ووځي.

په تاریخ کې به د ګوانتانامو زندان په ډول شکنجه ډیر کم مثال ولري او یا به دا ډول شکنجه زندانیانو ته په تیر وخت کې نه وي ورکړل شوي. فرعون او نمرود به داسي ظلمونه نه وي کړي. مګر افغانان مجبوره دي چې ووایي سوله وکړئ، هر افغان سوله او امنیت غواړي.

امریکایان وایي که افغانان په خپل منځ کې سوله وکړي، موږ له افغانستان څخه وځو؛ غیر مستقیم پیغام راکوي او تنازل ښیې. مګر موږ پوهیږو چې د افغانستان

---

[1] ټلیګراف ورځپاڼې د اګسټ ۸مه ۲۰۰۹ راپور ورکړ چې د بریتانوي پوځیانو نوی مشر(لوی درستیز) جنرال ډیوډ ریچارس (General David Julian Richards) ویلي چې برتیانوي پوځیان به په افغانستان کې تر راتلونکو ۴۰ کلونو پوري رول ولري.

سیاسي، نظامي، دفاعي او ستراتیژیکې سیمې د دوی په کنټرول کې دي. ))

د ښاغلي حنفي له خبرو ښکاري چې امریکا نه غواړي چې لـه افغانسـتان څخـه خپل پوځیان وباسي، او یوازي همدا خبره کوي چې کـه افغانـان خپلـو منځـو کـې سره جوړ شي، دوی به ووځي، یعني امریکا قصداً دوه مخي کوي.

ښاغلي حنفي زیاته کړه : (( موږ په یو دفاعي جنګ کې قرار لرو، بهرني پوځیان زموږ هیواد ته راغلي، هیواد یې اشـغال کـړی، پـه دغـه صـورت کـې دفـاعي جهـاد فرض عین دی. له خپلـې خـاورې او ولـس څخـه دفـاع فـرض ده، دوام ورکـوو، کـه بهرنیان ووایي چې موږ وځـو، هغـه وخـت سمدسـتي د سـولې بحـث او مـذاکره لـه افغانانو سره کوو.

تر څو چې بهرنیان پر دي قایل نه شي چې د جګړې پرځای د افغانسـتان د مسـئلې لپاره پر بله لاره دي غور وشي، تر هغه وخت پر بلې عوضي تګلارې فکر نه کېږي.

که موږ تر ۱۵ کاله جګړې وروسته تسلیم شو، دا هم سمه لاره نه ده. موږ به تـر هغه وخته مبارزه کوو تر څو اشغال ختم او اسلامي نظام قایم شي، دې موخې ته د رسیدو لپاره نورو ته هم د سربښندنې بلنه ورکوو.

که د بهرنیو پوځیانو مهالویش اعلان شي، اوربند ممکن دی، چې څنګـه اعـلان وشي، موږ اوربند کوو. ))

ځنیې افغان سیاستوال د ښاغلي حنفي د پورته خبرې اړونـد اندیښـنه لـري کـه چیرته بهرنیان د خپلو پوځیانو د وتلو د مهالویش اعلان وکړي، دا کار بـه د طالبـانو د جنګیالیو مورال لوړ کړي او بیا به طالبان نور هم جګړو ته زور ورکړي او د سـولې پر ځای به جګړه کې پرمختګ وشي. دلته د باور یوه غټه تشه موجوده ده، او د دې بې باورۍ د رفع کولو لپاره هم کوم تضمین نشته.

د ځوانانو سره اړیکو په اړه ښاغلی حنفي وویل : (( موږ ورته اهمیت ورکـوو، مګـر پـروژوي کسـان نـه، راتلـونکې کـې هـم حـق اولیـت د ځوانـانو دی، نـواقص راتـه

ووایاست، هرکلی یې کوو، نه خفه کیږو، سالم انتقاد وکړئ.

زه (حنفي) او قاري حنیف د رهبري شورا غړي هم یو، ستاسي نظریات تر نورو مشرانو هم رسوو، خپلې سپارښتنې هم ورسره یوځای کوو، تر څو داسي نور ملاقاتونه هم وشي.

د طالبانو د چاڼ مسئله پرځای ده، نظامي محکمه شته، له مشر څخه بیا تر عادي طالب پوري که کوم څوک جرم وکړي، هغه محاکمه کیږي.

یو طالب قومندان ډیر امریکایان هم وژلی وو، د هغوی ټانکونه یې ویشتلي وو، په یوه پیښه کې یې په لغمان کې ملکی کسان ووژل، د طالبانو د نظامي محکمې لخوا قصاص شو، د زورورو محاکمه هم کوي.

د ملکي وژنو د څیړنې کمیسون شته، که د کوم طالب لخوا ملکي کسان ووژل شي، محکمې ته معرفي کیږي.

داسي اعلامیه هم ورکړل شوي چې د ګڼه ګونې ځای کې برید ونه شي، پر دي کار کیږي تر څو په راتلونکي کې د ګڼه ګونې په ځایونو کې برید ونه شي، مګر جګړه ده، د هر ډول تیروتنو امکان شته، بیا هم توجه شته، نور به هم توجه وکړو.

روسانو سره اړیکې د دې لپاره چې د هغوی اندیښنې لیري شي، اوسمهال روسان وایي چې طالبان سیاسي او پوځي قوت دی، د طالبانو په اړه یې معلومات پر ځای دي.

شیخ سید رسول حلیم د پاکستان د نفوذ، بریدونو او روسیې سره د اړیکو په تړاو وویل:

(( موږ د امارت مقا م ته شرعي او سیاسي دلایل ولیکل چې د ګڼه ګونې په ځایونو کي حمله ونه شي.

د جرمني کونسلګری باندی حمله د کندز د ماشومانو د شهادت په غچ کي وه، په کندز کي د ناټو په چوکاټ کې جرمني پوځیان دي.))

د شیخ حلیم خبره به پر ځای وي، مګر ستونزمنه به وي چې دومره لویه حمله په

دومره لنډ وخت کې ډېزاین شي، ځکه د کندز تر پیښې وروسته ډېر ژر په مزار شریف کې د جرمني پر کونسلگري حمله وشوه، فکر کیږي چې په یادې طرحې به له پخوا کار شوی و، او ماته نه ښکاري چې د کندز د برید په غچ کې دی شوې وي.

کله چې کندز ښار د دوېم ځل لپاره طالبانو ونیوی، د ناټو لخوا دنومبر پر ۳نیټه ۲۰۱٦ د شپې مهال دخلکو په استوگنیزه ساحه کې بمبارد وشو، هلته پکې ډېر ماشومان او میرمنې هم ووژل شوې.

په لومړي وختو کې د امریکا او ناټو پوځیانو د ملکي خلکو وژنه نه منله، د افغان حکومت دفاع وزارت ویل چې په برید کې طالبان وژل شوې.

د ۲۰۱۷ کال د جنوري په دوېمه له څېړنو وروسته امریکایې پوځیانو ومنله چې په برید کې ۳۳ ملکي کسان وژل شوي او ۲۷ تنه ژوبل شوې. په افغانستان کې د امریکایې پوځیانو مشر جنرال نیوکلسن یواځي دومره وویل چې زه په یاده پېښه خفه یم، د بې گناه خلکو په وژلو ډېر خفه یم.

د ۲۰۱٦ز.کال د نومبر پر ۱۱مه طالبانو په مزار شریف کې د جرمني پر کونسلگري داسي برید وکړ چې هرڅه یې له منځه یوړل، طالبانو وویل چې یاد برید یې د کندز د ماشومانو په غچ کې کړی.

ویل کیږي چې د جرمني په کونسلگري کې د منځنۍ آسیا لپاره د امریکا لخوا د څارنې او استخباراتو پر مخ تللي وسایل نصب شوې وو، روسان په یاده موضوع خبر وو، دا ډول کله چې عطاء محمد نور (۱۷ اکټوبر ۲۰۱٦) سعودي عربستان ته له اجرایه رئیس عبدالله سره یوځای سفر وکړ، د ایران لخوا هم پر عطاء محمد نور باور کم شو. له همدې امله وه چې ممکن د یاد برید په ترسره کیدو کې له تخنیکې او د موقیعت او نظامي نقشي په برابرولو کې له طالبانو سره د ایران او روسیې مرسته شوې وي.

شیخ حلیم د افغانانو سره د ناستو اړوند وویل : (( د خپلو افغانانو سره ناستو ته

هر وخت چمتو یو، ستونزه د بهرنیانو شتون او کنټرول دی، که د بهرنیانو لخوا اعلان وشي چې موږ وځو، سمدستي له افغانانو سره ناستي ته چمتو یو.

د بهرنیانو له پوځي او اشغالي رول سره مخالف یو، له سیاسي او تجارتي راتګ سره یې نه داچې مخالف نه یو بلکې امنیت یې نیسو، ولي د اشغالي رول سره یې سخت مخالفت لرو.

یوه وړه مرغۍ هم د خپل ځالي نه دفاع کوي، که ځاله یې څوک ورته خرابوي یا اشغال کوي، هغه ورڅخه ساتنه کوي، له هیواد او خاوري څخه دفاع زموږ حق دی.

پاکستان سره تاریخي اړیکې لرو، د ډیورنډ دواړو لورو ته پښتون دی، په کرښه یو لور ته یې یو ورور بل لور ته یې بل ورور دی، موږ تعلقات نفي کوو نه.

داچې پاکستان پر طالبانو کنټرول لري یا یې نه لري، وایو چې موږ یو اسلامي ملي ځواک یو، افغانان یو، دا تبلیغات دي چې ویل کیږي طالبان د پاکستان تر نفوذ لاندي دي.))

زما (لیکوال) ښه یاد دي، د طالبانو د نظام د نړیدو پر مهال دوه هیوادونه و چې هغوی د افغانانو د ورتګ په مهال ډیرې ستونزې نه جوړولې، ایران او پاکستان. ډیر عرب د افغانستان د لاري ایران ته واوښتل او بیا له ایران څخه ځینې یې خپلو او نورو عرب هیوادونو ته ستانه شول. ځینې کم شمیر طالبان هم ایران ته واوښتل، ولي داچې په کوردننه طالبان د بهرنیو او افغان ځواکونو او استخباراتو له خوا سخت څارل کیدل، ډیری یې پاکستان ته د پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد پرمهال د مهاجرو جوړ شوو کیمپونو ته ځانونه ورسول، او یا هم د پاکستان په لویو ښارونو کې د افغان مهاجرو په کورونو ور مېلمانه شوو.

شیخ حلیم وویل: (( اړیکې او دوستي له ټولي نړۍ سره غواړو، او ښې اړیکې ورسره غواړو.

روسيې [1] سره د اړيکو په تړاو وايم چې نړۍ دوه قطبي کيدونکې ده، د روسيې خپلې او زموږ خپل منافع دي.

له داعش سره جنګ د روسيې لپاره نه، بلکې زموږ ستراتيژيک هدف دی، د کابلوف نظريات زموږ په مشوره نه دي شوې، تعلقات ورسره لرو، د هيچا خلاف نه يو، خپل وطن ازاد، ارام او سوله غواړو.

شيخ حليم وويل چې د ملي اردو، ملي پوليسو کسان حتي اربکيان له وسلو سره نيول شوې او بيا بيرته پريښودل شوې، د شيخ هبة الله صاحب امر دی چې له نيول کيدو وروسته هيڅوک ورته تاوان نه شي رسولای. که محبوس ووژل شي، نظامي محکمه يې وژونکي ته جزا ورکوي. [2]

نړيوالو ادارو سره مو اړيکې شته، سور صليب ځينې وختونه په خپلو موټرو کې د اردو او پوليسو زخميان وړي، موږ پوهيږو چې په موټرو کې زخميان دي، مګر کار پرې نه لرو، زموږ له ساحې څخه انتقال کيږي، او موږ ورته مشکل نه جوړوو.))

فکر کوم چې طالب استازی پر دې هم خبر و چې د سورصليب په موټرو کې د طالبانو زخميان هم په ځينو مواردو کې انتقال کيږي، او يو ځل خو افغان حکومت کې ځينو کړيو تور لګاوو چې د لښکرګاه د ايمرجنسي روغتون (بې پولې ډاکټرانو) په موټرو کې د طالبانو مشران له لښکرګاه څخه تر بولدک پورې وړل کيږي او بيا د

---

[1] زما ليکوال معلومات دادي چې له روسانو سره د طالبانو اړيکې په ډيره لوړه کچه دي، د طالبانو او روسيې مهمو چارواکو ترمنځ په قطر او دوبۍ کې مهمې ناستې شوې.

[2] د اګست مياشت ۲۰۱٦ کې زموږ کلی (زرغون کلی) او د هلمند ولايت د نادعلي ولسوالي ډيری سيمې طالبانو تر خپل کنټرول لاندې راوستلې، کوم دولتي پوليس، اربکيان او يا دملي اردو کسان چې په سيمه کې نيول شوې وو، هغوی يې بيرته خوشي کړل، او په سيمه کې پاتې کسانو سره يې غرض ونه کړ. زموږ د کور مخامخ د استخباراتو کارکوونکی مشهور کس کور دی، پلار يې پخوا دولسوالۍ د استخباراتو مسؤل وو، په ۲۰۰۵ کال کې طالبانو وواژه، مګر داځل يې دهغه زوی ته د ازاد ګرځيدو او په سيمه کې د پاتې کيدو لپاره ليک ورکړی.

ډیورنډ هغې غاړې ته طالب مشران په مصؤن ډول سره اوړي.

شیخ حلیم وویل : (( په ګډه به کوشش وکړو چې بې تعلیمه کس پاتې نشي-، پرته له تعلیم څخه پرمختګ نه کیږي، موږ ولې باید هر وخت په دې برخه کې بل چاته مجبوره واوسو، تعلیم مو د نورو له مجبوریته خلاصوي.

تر اوسه هم یو مجهز روغتون نه لرو، داځکه چې د تعلیم کچه مو ټیټه ده، ډیر د درد او افسوس ځای دی، چې د یو ښه روغتون درلودونکي نه یو، عادي رنځوران مو نورو هیوادو ته د تداوي لپاره ځي، په کار ده چې له جهل څخه ځانونه وباسو.))

د طالب استازي پورته خبره ډیره پر ځای وه، د افغانستان رنځوران ډیر زیات پاکستان ته د درملنې لپاره تلل، په تیرو ۱٦ کلونو کې نه افغان حکومت او نه هم کوم افغان سوداګر یو مجهز روغتون په هیواد کې دننه جوړ کړ. د تورخم جګړې وروسته چې د افغانستان او پاکستان اړیکې یو له بل سره ډیرې خرابې شوې، پاکستان ته له ویزې پرته د افغانانو په ورتګ بندیز ولګول شو، اوس مهال ډیری افغانان د تداوي لپاره هند ته ځي، او دي کار پاکستان هم په اندیښنه کې اچولی، یو داچې روغتونونه یې له اقتصادي زیان سره مخ شوې، بل داچې په افغانستان کې د هند د راتلونکي نفوذ په اړه ویره لري.

شیخ وویل : (( ستاسي مشورې مو واوریدي، له ځان سره مو یادښت ونیوی، د ملکي مرګ ژوبلې اړوند کوشش کوو چې کمې اندازې ته را ټیټ شي .

د جګړې د بدیل لپاره زموږ هدف سوله ده، سیاسي دفتر د سولې په موخه ایجاد شوی.

سیمې سره اړیکې هم د سولې لپاره یوه بدیله لاره کیدای شي، تر څو د سیمې د فشار له امله امریکا مجبوره شي چې له افغانستان څخه خپل پوځیان وباسي، پر دي به کار کوو، تر څو پر امریکا فشار راوړل شي.

زموږ پیغام دا دی :

د سولې لپاره غوښتنې: دا ښکاره ده چې مسئله دوه بعده لري:

۱- بهرني بعد چې اصل دی. ۲ – کورني بعد چې فرعي دی.

د افغان مسئلې د بهرني بعد څخه غواړو چې د حريت فضا کې د يو مطرح قوت په ډول له موږ سره مخامخ مذاکرات او خبرې وکړي، د يو او بل غوښتنې واورو.

۲ - کورنی بعد چې فرعي دی، له خپلو افغانانو سره به په نظام خبره کوو، تر څو د نظام په بڼه او جوړښت يو بل ته قناعت ورکړای شو.

۳ – د طالبانو د قطر د سياسي دفتر په رسميت پېژندل دي.

۴ - د تورلسټ څخه د طالب مشرانو د نومونو ليري کول دي.

۵ – د افغان بنديانو تبادله ده .

دا هر څه هغه وخت امکان لري چې زموږ او خارجې اړخ مخامخ خبرې وشي.))

استاد اسد وحيدي د شيخ سيد رسول د خبرو په تړاو لنډ نظر او سواليه خبره وکړه، هغه وويل :

(( يو ځل به له بهرنيانو سره کينو بيا به له خپلو افغانانو سره مذاکره کوو؟ تاسي کرزي ته ويل چې تاسي واک نه لرئ، هغه بيا ويل که مو واک نه درلود د طالبانو د قطر دفتر به مو نه وای بند کړی.

که د افغان حکومت سره کينو ورته وواېو چې که ته خپلواک يې، امريکايانو ته ووايه چې خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسي چې ناسته ونه شي مخکې شرطونه به څه ډول وي؟))

شيخ سيد رسول حليم ورته وويل: (( موږ خپل استقلال ثابت کړی، حکومت يې نه شي ثابتولای. پاکستان سره يې خبره وکړه، چې طالبان مجبوره کړي تر څو له کابل اداري سره کينې، ولي ونه توانېدل. د طالبانو پرځای پاکستان سره د کابل اداري لخوا د سولې خبرې او امريکا سره د امنيتي تړون لاسليک د سولې

لپاره لوی خنډ ګڼلای شو.

موږ له امریکا سره جنګ ته هغوی مجبوره کړي یو، ولي بیا هم د جګړې پرځـای خبرو ته ترجیح ورکوو ، په عمل کې مو استقلال ثابت کړی، کـه لـه امریکـا سره پـه خبرو کې پرمختګ وشي، شوني ده چې جګړه ودریږي.))

دکتور مـزار ګـل صـالح چـې تـر دې مهالـه ارام ناسـت وو، خـبرې يـې پـه دقـت اوریدې، ویې ویل :

(( ستاسي سره لیدل به دوه اړخیز نتیجه ولـري. د افغانسـتان مسـئله (سـوله او جګـړه) اوږده ده، پـه يـوه او دوه ناسـتو کـې نـه حليـږي. مهمـه دا ده چـې خـبرې واوریدل شي. ستاسي مشورو او اندېښنو ته ارزښت ورکوو، راتلـونکې کـې بـه يـې د عملي کیدو هڅه کوو.

څه وخت وروسته به ارزيـابي وکـړو چـې د مشـورو په عمـلي کيـدو کـې څـومره پرمختګ شوی. هڅې به مو د ملـت د ښـه والي لپـاره وي، کوششـونه رنـګ راوړي، مایوسه کیږو به نه.

فکر یو بل ته په قناعت ورکول باندي بدلوالی شو، ډیره څه مـو واوريـدل. ځینـي مسایل ځمکني حقیقتونو ته اړتیا لري. تاسی ځینو سیمو تـه لاړشـئ، چـې ځینـې شیان په خپلو سترګو ووینئ، زمینه به موږ درته مساعده کړو.

اړیکې چې مسلسـل وي، د خـبرو او پېښـو د تثبيـت لپـاره چـې څـومره واک او اختیار لرئ، په هغه اندازه په کار ده چې رابطه وشي، تر څو د پيښـې اړونـد دقيـق معلومات ترلاسه شي.))

قاري دین محمد حنیف چې خوله یې له خندا ډکه وه، ویې ویل :

(( داچې صف کنټرول شي، د دې لپاره نظامي لایحه شتون لري او چاپ شوې، د اچې په ځینو مواردو کې عمل نه کیږي، جنګي شرایط دي.

د اخترونو په پیغامونو کـې ډیـر څـه وي، ملکـي کسـان پکـې پـه ځـانګړي ډول

یادیږي، ویل کیږي چې له پوځي ځایونو څخه لیرې شئ.

ملکی کمیسون شته، اوونیز تربیوي سیمنارونه هم جوړیږي، نظامي کسانو ته علما خبرې کوي، هغوی شرعي، افغاني اواسلامي مسؤلیتونو ته متوجه کیږي، په دې برخه کې لا ډیر کوشش روان دی.))

د ملکي وژنو اړوند د قاري حنیف دومره لنډه خبره قانع کوونکی جواب نه و، زما دمعلوماتو له مخې له ۲۰۰۶ تر ۲۰۰۹ ز. کال پورې د طالبانو جنګیالیو د ملکي کسانو اړوند ډیره توجه نه درلوده، په هلمند او کندهار کې داسې ځینې موارد وو چې د کلیوالو سیمو څخه به طالبانو پر حکومتي پوځیانو بریدونه کول، او حکومتي پوځیانو به بیا هم هغه سیمې تر برید لاندې نیولې، او ځینې مواردو کې ورته چلند بهرنیو پوځیانو هم کړی دی، چې له امله به یې ملکې کسانو ته مرګ ژوبله اوښتله.

د ۲۰۰۹ تر ۲۰۱۲ ز. کال پورې ډیری سیمې د طالبانو تر واک لاندې وې، د ۲۰۱۲ په نیمایې کې د امریکایې جنرال پیټریوس لخوا د اربکیانو د جوړیدو او زیاتوالي له امله طالبان له کلیوالو سیمو څخه وشړل شول، او بیاځلي طالبان په ۲۰۱۴ کې ځینو سیمو ته ننوتل، په ۲۰۱۵ کې یې نوري سیمې هم تر واک لاندې راوستلې او په ۲۰۱۶ کې یې ډیرې سیمې ونیولې، مګر داخل طالبانو له ولسي وګړو سره ښه چلند درلود.

د بندیانو د تبادلې اړوند قاري حنیف وویل: ((که عادي عسکر او یاهم لوړ پوړي دولتي نظامي کس د طالبانو لخوا نیول کیږي، حکومت یې د خلاصون لټه نه کوي، ولې طالب د خپل اسیر د خلاصون په هڅه کې دی.

داچې کابل اداره وایي چې طالبان له زندان څخه پریښودل شي بیرته د جنګ ډګر ته ځي، مګر له طالب سره بندي عسکر هم چې خوشی شي بیرته له طالب سره جګړې کولو ته ځي.

د دواړو لورو خلاص شوې ډیری زندانیان بیرته جنګ ته ځي، څومره طالبان

بندیان دي، مگر په جگړه کې تغیر او یا کمزوري نه ده راغلې، بلکې طالبان په جگړه کې ورځ تربلې قوي کیږي.

۱۲ نفره فاریاب کې د چورلکې د لویدو له امله ونیول شول [1]. موږ یې په بدل کې د یوه نفر خلاصون غواړو، حکومت یې نه مني، بالاخره ٦ نفره مو ایله کړل. د حکومت په پوځي لیکو کې چې کسان ژوندی وي، تشویق کوي یې چې جگړه وکړي، کله چې ونیول شي، بیا یې پوښتنه نه کوي. همدا یې ښه مثال دی اوس هم فاریاب کې زموږ سره د پاتې ٦ نفرو زندانیانو په مقابل کې زمو یو طالب نه راخوشې کوي.))

د بندیانو د نه تبادلې موضوع مهمه ده، د طالب استازي پورته څرگندونې مهمې وي، طالبانو هر وخت چمتو والی ښودلی، ولې افغان حکومت په دې برخه کې هیڅ ډول لیوالتیا نه لري، او نه هم د خپلو بندیانو د خلاصون لپاره هڅه کوي، برعکس طالبان د خپلو بندیانو د خوشې کیدو لپاره له هرې ممکنه لارې څخه کار اخلي.

ځینې مواردو کې طالبانو بهرنیان نیولي او بیا یې د هغوی په مقابل کې د خپلو بندیانو خوشې کیدل غوښتي، په لښکرگاه کې یې ایټالوی خبریال ډانیل ماسټرو جیاکومو ونیوی (۵ مارچ ۲۰۰۷) او په مقابل کې یې ٦ تنه طالب بندیان خوشې شول، یو ځل د باگرام زندان څخه د عربو تبادلې هم په پټه صورت ونیوی.

اوسمهال له طالبانو سره یوه امریکایې میرمن او یو کاناډایې سړی بندیان دي، د بند په وخت کې د هغوی دوه اولادونه هم شوي، او په ۲۰۱٦ کال کې طالبانو د افغان – امریکایې پوهنتون یو امریکایې استاد او یوه اسټرلیاوی استاد له کابل

---

[1] د ۲۰۱۵ سپټمبر میاشت په دریمه اونۍ کې د فاریاب د پښتون کوټ ولسوالي د طالبانو تر واک لاندې سیمه کې دافغان ځواکونو چورلکه ولویدله، د فاع وزارت وویل ټول پکې ۱۸ کسان د دوو بهرنیانو په گډون شتون درلود، د فاریاب امنیه قومندان وویل چې ۱۳ کسان په چورلکه کې سپاره وو، او طالبانو ویل چې دوی ۱۲ تنه په چورلکه کې نیولي دي. ٦ تنه د هغوی د نومبر میاشت په دریمه اونۍ ۲۰۱٦ کې طالبانو خوشې کړل.

څخه وتښتول، د تبادلې او طالب بندیانو د خوشي کیدو په مقابل کې غواړي دا کسان خوشي کړي، خبرې یې روانيدي، خو تر اوسه یې نتیجه نه ده ورکړې.

د نظامي اهدافو له پاره د ملکي کسانو برمته کول که د هر لوري لخوا څخه وي، دا یو ناسم کار دی.

د دوحې هوایې ډګر کې د امریکا لخوا بې وسلې انس حقاني او حافظ عبدالرشید د ۲۰۱۴ز. کال د اکتوبر میاشت کې ونیول شوو، دا ډول په مقابل کې یې د حقاني شبکې لخوا د امریکایې پوهنتون استادان د ۲۰۱٦ز. کال د اګست په میاشت کې وتښتول شوو.

ښاغلي حنیف وویل: (( طالب او ملت نه شي ختمیدای، که کلکه اراده ولرو امریکایي پوځیان به ووځي. جنګي، سیاسي، مدني حرکتونه او ولسي- فشار بیا امریکا مجبوروي چې ووځي.

له دولت سره مذاکره دوه بعده لري، بهرنی او کورنی بعد.

په بهرنی بعد کې پر ستونزه له بهرنیانو سره خبرې کوو، او په کورني بعد کې خبرې او مذاکرات له حکومت او افغانانو سره کوو.

دري ضرب المثل دی: هر کس که نان دهد، فرمان دهد (هر سړی چې ډوډی ورکوي، هغه فرمان ورکوي)، بهرنی بعد ځکه مهم دی چې کورني بعد ته فرمان ورکوي.

دوستم له ډاکټر غني څخه خفه دی، د عبدالله او غني د زیات واک درلودلو لپاره مسابقه روانه ده، عطا محمد نور بیا هم والي شو. په حکومت کې دننه ډیرې ستونزې او مشکلات شته دي.

د حکومت دوه کسان (عبدالله او غني) په هره مسئله کې اختلاف کوي. دوی په مسایلو او سولې اړوند خبرو کې وخت ضایع کوي.

امریکا ډیرې داسي خبرې او غوښتنې چې پخوا یې نه منلې اوس یې مني.))

د طالب استازي داخبره سمه ده چې امریکا له خپلو ځینو خبرو په شا شوې، د

امریکا د حملې په لومړیو وختونو کې د امریکا ولسمشر بوش ویل چې طالبان او القاعده باید ووژل شي او یا ژوندي ونیول شي، او دوی یې ډېر بد ترهګر ګڼل، کله چې د امریکانو سره په افغانستان کې جګړې وشوې، طالبان ورځ تر بلې قوې کېدل، افغان ولس د امریکایې او ناټو پوځیانو په مقابل کې ودریدی، بیا امریکایانو ویل چې طالبان د القاعده په نسبت نرم دریځه دي، وروسته یې وویل چې طالبان او القاعده بېلې ډلې دي، د اوباما په وروستي وختونو کې یې وویل چې طالبان زموږ دښمنان نه دي، او بالاخر یې ومنله چې موږ (امریکایانو) په افغانستان کې طالبان مات نه کړلای شوای. اما دا حالت دامریکا د اوسني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په اداره کې بیرته پر شا روان دی. طالب، القاعده او داعش ته تر ډېره په یوه سترګه کتل کیږي او نړیوال جهادیستان یې ګڼي. دا ډول د ټرمپ ادارې ځینې نور تګلاره جوړونکي هم دا باور لري چې طالب او القاعده د یوې سیکې دوه مخه دي.

د طالبانو د سیاسي دفتر غړي محمد نعیم وردګ د ناستي په وروستیو وختونو کې پرته له دي چې له ده څخه دي همدا پوښتنه شوې وي، ویې ویل: (( یوه خبره چې په ځینو رسنیو او ناستو کې ورڅخه یادونه کیږي هغه هم دا ده چې ځینې کسان وایې چې امریکا له طالبانو سره مرسته کوي، قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مخالفت ولي امریکا نه کوي، ولي یې هلته د طالبانو شتون منلی دی، هغه هیواد چې د امریکایي پوځیانو لویه اډه پکې پرته ده، او دیته د ورته تورونو یادونه کیږي.

ښاغلي نعیم وردګ وویل چې د جګړې او ډیپلوماسي اصول یو له بله سره بېل دي، جګړه په خپل ځای کې، مګر ډیپلوماسي بیا د اسلامي او نړیوالو قوانینو په رڼا کې، او د بشر په قانون کې خپل ځانګړی ځای لري.

همدا د انسانیت اصول دي او اسلام همدا لاره غوره کړي، چې د جګړې څخه جلا د جهتونو د استازو مصؤونیت یې د هرې ډلې او بشر دنده ګرځولي ده.

د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې د نجد په یمامه سېمه کې مسلمه کذاب د پېغمبري دروغجنه دعوه وکړه، او محمد رسول الله ته یې خپل دوه استازي ابن النواحه او ابن اثال ولیږل: رسول صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې: تاسي پر ما گواهي ورکوئ چې زه د الله پېغمبر یم، هغوی وویل چې موږ گواهي ورکوو چې مسلمه د الله جل جلاله پېغمبر دی. بیا محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: امنت بالله ورسله، که چیرته سفیران/قاصدان وژل کیدای، ما به تاسي دواړه وژلي واست. سنن ابي داود، مسند امام احمد [1]

دا ډول په پورته حدیث شریف کې راغلي چې الرسل لایقتل، قاصد نه وژل کیږي.))

د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر یو بل غړی دکتور صالح وایي : ((اسلام همدا اصل چې قاصد مصؤون دي ژوندی وساتی، همدا اصل له اسلام څخه مخکې د جهالت په وختونو کې هم ساتل شوی وو، او تر اوسه پوري ساتل شوی.

د امام احمد مسند کې دا حدیث روایت شوی چې نعمان ابن مقرن صحابي چې د فارسیانو پاچا یزگرد ته ورغی، ترخې او سختې خبرې یې ورته وکړې، او دا پېښه د مسلمه کذاب له پیښې ډیره مخکې وه، د فارس پاچا ورته وویل چې که چیرته رسول یا قاصد وژل کیدای، ما به تاسي وژلي واست.

داچې قطر کې د امریکا اډه ده، دا ډول سعودي عربستان، اردن او ترکیه او ځینو نورو اسلامي هیوادونو کې شتون لري، هلته په امریکایانو محدودیتونه دي، بل داچې امریکایي پوځیان په زور او خپله خوښه نه بلکې د هغو هیوادونو په

---

[1] (روی الإمام أحمد في مسنده أن "ابن النّوّاحة وابن آثال رسولي مسيلمة جاءا إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال لهما: أتشهدان أني رسول الله ؟ قالا: نشهد أن مسيلمة رسول الله, فقال النبي صلى الله عليه وسلم : آمنت بالله ورسله, لو كنت قاتلا رسولا لقتلتكما. قال عبد الله بن مسعود: فمضت السُنة أن الرسل لا تُقتل.")

غوښتنه ورغلي دي.[۱]

قطر ته امریکایان خپله نه دي راغلی، قطریانو غوښتي، اډو کې یې پرې محدودیتونه لازم کړي، د حکومت د قانون مخالف کار نه شي کولای، که قطر وغواړي بیرته یې شړلی شي، قطریان په خپل هیواد کې متصرف دي، د دوی له خوښې پرته هلته د قطر بازارونو ته نه شي وتلای، او نه هم د دوی له خوښې پرته د هغوی لوړ پوړي چارواکې په قطر کې د امریکایانو اډې ته ورتلای شي، او نه هم د قطر جنرالان پرته د دفاع وزارت له اجازې د امریکا اډې ته غوښتل کیدای شي.

داچې ولې قطر طالبانو د خپل سیاسي کمیسون لپاره انتخاب کړ، ځکه چې د طالبانو د مشر ملا محمد عمر مجاهد مهم شرطونه په بهر کې د طالبانو د سیاسي دفتر لپاره دا وو چې:

داسي هیواد چې د افغانستان ګاونډی نه وي، ځکه هغوی د ګاونډیتوب د ستونزو له کبله د سولې د خبرو په وخت کې هم د خپلو ګټو اړوند کار کوي.

داسي یو هیواد چې مسلمان وي، غیر مسلم هیواد نه وي. او داسي هیواد چې په تیرو وختونو او اوس وخت کې د افغانستان په اشغال کې د دوی برخه او مرسته نه وي. او ممکن ځینې نور هم داسي څه وي چې د طالبانو د مشر- لخوا به قطر هیواد ته ترجیح ورکړل شوي وي.[۲]))

---

[۱] ترکیه کې موږ ولیدل چې د امریکایې پوځیانو اډې شتون لري، مګر بیا هم هلته د رجب طیب اردغان په وړاندې د پوځ کودتاه ناکامه کیږي، او د افغانستان څخه دوه ترکې جنرالان چې په کودتاه کې د لاس لرلو شک پري کیدی، د ناټو پوځیانو په چوکاټ کې راغلي وو، د تیښتې پرمهال د دوبۍ په هوایي ډګر کې نیول کیږي او ترکیې ته سپارل کیږي.

[۲] کله چې موږ بیرته کابل ته راغلو، له یوه ملګري څخه په امنیتې اداره کې داپوښتنه هم شوې وه چې کله تاسي هلته له طالبانو سره خبرې کولې، هلته پاکستانیان موجود وو، کنه؟

رښتیا هم د طالبانو اړوند ډول ډول خبرې کیږي [1]، ولې په ټوله کې فکر کیږي چې د طالبانو د قطر سیاسي دفتر د ډیپلوماسۍ په برخه کې ډیر کار کړی، او ډیر پرمختګونه یې کړي، له هیوادونو سره یې اړیکې ښې کړي، او د منځنۍ اسیا د هیوادونو، روسیې، چینې نړدې او لیري هیوادونو هغه اندیښنې چې د طالبانو په اړه یې درلودلې، دوی وکولای شوای چې د هغوی اندیښنې لیري او یا کمې کړي.

په نړیوالو کانفرانسونو کې یې برخه واخیستله، د نړۍ بیلابېلو هیوادونو ته یې سفرونه وکړل، او د افغانستان څخه دننه یې مختلف سیاستوالو ته بلنه ورکړه چې له دوی سره په قطر او یا کوم بل هیواد کې وګوري. همدغو کتنو هغه فاصلې چې ترمنځ وي، کمې کړي، تمه ده چې یوه ورځ فاصلې ختمې او سولې ته ورسیږو.

د ډاکټر نعیم ځیرکتیا او دغې مهمې مسئلې ته کتنه او ځواب، پرته له دي چې زموږ ملګري دا پوښتنه وکړي، موږ یې حیران کړو، ښکاریدله چې طالبانو غوښتل تر ډیره هغو پوښتنو او اندیښنو ته ځواب ووایي چې د دوی په اړه یې خلک لري.

ملاعبدالسلام حنفي وروستۍ خبرې داسي را ونغاړلې :

(( انحصاري حکومت نه غواړو، افغان شموله حکومت غواړو، قومي حکومت نه، ژبني او سیمه ییز تعصب نه غواړو، وحدت او یووالي غواړو، داسي چې یو بل ومنو، یو بل ته احترام ولرو، او ګډ ژوند وکړو.))

*****

[1] داچې قطر کې د امریکا په خوښه طالبانو ته ځای ورکول شوی، طالبان له عرب هیوادو څخه مالي مرسته ترلاسه کوي او بیا یې خپلو جنګیالیو ته لیږي، همدا چې طالبان یواځې سیاسي کار نه کوي، بلکې مالي سرچینې هم پیداکوي، او دا چې په قطر کې د میشت طالبانو مصارف هم امریکا ورکوي، داچې چینې هیوادونه غواړي چې په قطر کې د طالبانو لخوا موازي حکومت او ددوی سیاسي دفتر د سفارت په بڼه ومني، همدا ډول نورې چینې خبرې هم کیږي.

زموږ معلومات دادي چې د طالبانو د قطر سیاسي دفتر په سیاسي برخه کې ډیر زیات پرمختګ کړی او د عرب هیوادونو سربیره یې د نوري نړۍ له څینو مهمو هیوادو سره ښې اړیکې جوړې کړي دي.

مجلس ډېر اوږد شو، د ماسپښین پر ۲:۳۰ خلاص شو.

داځل هم د انځور اخیستلو غوښتنه وشوه، ولي طالب مشرانو وویل چې په هغه پرونې انځور به اکتفا وکړو.

د ماسپښین لمونځ مو په ګډه د شیخ سید رسول په امامت ادا او له لمانځه وروسته په ګډه د ډوډۍ خوړلو لپاره د هوټل ښکلي خوړنځای ته ولاړو.

د رسټورانټ په ځانګړې ځای کې زموږ د ټولو لپاره یو اوږد میز جوړ کړل شوی وو، هر ملګري د خپلې خوښې خواړه ځانته را اخیستل، بیا هم په میز باندي ځینې ټوکې، ځینې سیاسي او ځینې کلیوالي خبرې کیدلي.

د عربو هغه ځانګړی د ام علي په نوم د خواړو په اړه پوره خنداوي وشوي، جهانګیروال هغه دوه ځله راواخیستل، یوه ملګري ویل چې د عربو مشهوره ټوکه ده چې کوم کور کې میلمه شوی وو، کله چې ډوډۍ یې خوړلي وه، ویلي یې وو چې ام علي (خوراک) چیرته دی، کوربه به ځان چوپ ونیوی، څو ځله یې د ام علي پوښتنه وکړه، مګر کوربه څه نه ویل، بیا وروسته میلمه پوه شوی وو چې د کوربه میرمن ام علي [1] نومیده.

جهانګیروال پکې وروستی کس وو چې ډوډۍ یې خلاصه کړه، او په ګډه بیرته د مازیګر لمانځه د ادا لپاره په هوټل کې مسجد ته ځانګړې شوې ځای ته ولاړو.

شیخ سید رسول حلیم مخکې شو، لمونځ اوږد شو، کله چې سلام یې وګرځاوو، کوم بل طالب مشر وویل چې پنځه رکعته شو، موږ ټول مجلسونو ستړې کړي وو، اصل کې په دریم رکعت کې شیخ صاحب تشهد ویلي وو، په کار وه چې یو رکعت وروسته یې وروستی ناسته او سجده د سهوې کړي وای، مګر شیخ صاحب دوه رکعته نور هم وکړل، چې ټول پنځه رکعته کیدل.

---

[1] ام علي د شیدو او طاقت لرونکو میوو څخه جوړ عربي خوراک دی، ډېر په مصر کې کارول کیږي، په سعودي کې هم کارول کیږي او په عربي هیوادو کې پیداکیږي.

دوېم ځل مو بيا په جماعت سره څلور رکعته د مازيگر فرض لمونځ وکړ.
تر دعا وروسته اسد وحيدي شيخ صاحب ته وويل : (( د خپل نظام پر مهال مو دوه ځله پر خلکو لمنځونه کول، دا دی نن تر دوه ځله هم زيات شو، د دوو [1] رکعتو پرځای مو پر موږ ۹ رکعته لمونځ وکړ.))

## له طالب استازو سره تر مجلس وروسته

مانښام مهال د توکو او سودا خيستلو لپاره هوټل ته نږدې مارکيټ ته ولاړو، په هغه لوی مارکيت کې نږدې نيم ساعت زموږ څخه ښاغلی نظري ورک وو، هغه سره ټيليفون هم نه وو، او زموږ نمبر هم ورسره نه وو.
داخل نو هر ملگري ښه ډېره سودا وکړه، تر ډېره په بهر نړۍ کې د توکو کيفيت ښه وي، او د ښه کيفيت توکې پيدا کيږي، بيه يې هم مناسبه وي، په افغانستان کې پر کيفيت د سړي باور نه راځي.
ناوخته مانښام زه او ښاغلی ځلاند د ملا عبدالسلام ضعيف کور ته ورغلو، ډير زيات بې خوبه وو، ولي د هغه د احترام په خاطر ورغلو، موږ غوښتل که وشي چې سيد طيب اغا هم د ضعيف صاحب په کور کې ووينو، د هغه مشر ورور [2] موده وړاندې د کابل – کندهار پر لاره د موټر د ټکر له امله مړ شوی وو، غوښتل مو فاتحه يې وکړو.
ښاغلي ضعيف وويل : (( طيب اغا له رنځورانو سره نن ورځ مصروف وو، د هغه مور او پلار او د ده کوچنی زوی درې واړه سخت ناروغان دي.))
د شپې ناوخته خپل هوټل ته ولاړو، زه ويده او ځلاند شعر جوړولو ته کيناست.

---

[1] موږ مسافر وو، په لمانځه کې مو قصر کاوو، د مازيگر لمونځ زموږ لپاره دوه رکعته وو، خو داچې امام مقيم وو، څلور رکعته به مو بشپړ له دوی سره کول، داچې پنځه نور هم پکې زيات شول، نو ټول ټال د دوه رکعته پرځای موږ ۹ رکعته وکړ.

[2] د سيد محمد طيب اغا مشر ورور مولوي محمديوسف اغا له کابل څخه کندهار ته روان وو، د موټر د ټکر له امله مړ شو (۵ اگست ۲۰۱۶)

**بحر: لامبو او چکر**

داچې د جمعې ورځ مو په قطر کې وروستۍ وه، موږ هیله درلوده چې د قطر تر ټولو لوی او تاریخي مسجد (مسجد الامام محمد بن عبدالوهاب) کې د جمعې لمونځ وکړو، داچې کله ناکله د جمعې لمانځه د ادا لپاره د ګوانتانامو څخه خلاص شوي پنځه تنه [1] بندیان هم همدې مسجد ته راځي، که ممکن وو او په مسجد کې ورسره مخ او ومو لیدل.

غوښتل مو چې د جمعې ورځ د قطر د سیاسي دفتر له مشر- شیرمحمد عباس ستانکزي سره ځانګړي لیدنه ولرو، او ځینې مهمې خبرې ورسره شریکې او په اړه یې نظر واخلو.

جهانګیروال او فدا له ځلاند سره ژمنه کړې وه چې دا ځل به د بهر غاړې ته د میلې له پاره ځي، زه مخکې هم په قطر کې د طالبانو د کورنیو له ځوانانو سره د بحر غاړې ته تللی وم، د اګست میاشت وه، ناوخت مازیګر بحر ته ورسیدو، اوبه دومره ګرمې وې، د بحر په اوبو کې ولاړ وو، مګر سر مې خولې وو، لکه په تومنو (نسبې ګرمو) اوبو چې سړی غسل کوي.

د ډسمبر ۲مه ۲۰۱۶، سهار نه بجې د ښاغلي ضعیف صاحب مشر- زوی حکمت الله ضعیف هوټل ته راورسیدی، لس بجې موږ له هوټل څخه د حکمت الله جان سره د هغه په موټر کې د بحر پر لور حرکت وکړ.

تر لږ مزل وروسته په لاره کې د تیلو د پمپ سره ښاغلی سهیل شاهین، ښاغلی جهانګیروال، ښاغلی فدا او ښاغلی مسرور هم زموږ په انتظار ولاړ وو.

---

[1] د طالبانو سره د امریکایې بندی پوځي بوبریګډال سره د ګوانتانامو ۵ تنه بندیان (ملاخیرالله خیرخوا، ملا نورالله نوري، ملا محمد فاضل اخوند، ملا عبدالحق وثیق او حاجي محمد نبي عمري) تبادله ( په ۳۱ مئ خوشي شوو، او په ۱ جون ۲۰۱۴ قطر ته ورسیدل) ، له هغوی سره په لیدلو او له قطر هیواد څخه بهر ته وتلو باندي یې تر دي مهاله هم بندیز دی.

یخې اوبه او جوس شاهین صاحب راواخیستل، موږ (شاهین، ځلاند، وحیدي او زه) جهانګیروال سره د هغه په موټر کې سپاره شوو، میرویس ستانکزی، نظري او بختیار له حکمت الله سره پاتې شوو.

بحر ته د تلو پرمهال بیا هم له شاهین صاحب سره د تیرو مجلسونو او ناستو اړوند د نظر تبادله کیدله، د ځلاند لخوا د ناستو اړوند لیکنو باندي بحث کیدی.

د جمعې لمونځ مو بحر ته نږدې په یوه کلیوال مسجد کې ادا کړ، زموږ له ورتګ دوه ورځې وړاندي په قطر کې ښه بارانونه شوي وو، د قطر ځمکه ریګي ده، اوس هم لمده ښکاریده اوهر ځای د بحر سره نږدې هوارو کې د باران ډنډ اوبه ولاړي وي.

موږ د بحر پر غاړه داسي ځای ته یوړل شوو، چې هلته د نورو سیلانیانو ګڼه ګوڼه نه وه، بیخې جلا له نورو سیلانیانو لیري پټ ځای وو، هغه ځای ته ورنغلو چې عام بهرني سیلانیان د بهر په غاړه کې لامبو کوي.

په کابل کې هوا د نومبر په وروستیو ورځو کې سړه شوې وه، ولي قطر کې موږ ته هوا د پسرلي ښکاریده، خو قطرمیشتو افغانانو بیا ویل چې هوا سړه شوي.

د لامبو لپاره ما او ځلاند وتوانیدو چې میرویس ستانکزی هم چمتو شي، ښاغلی فدا چې د لامبو شوقي دی، ویل یې یخ مې کیږي، بختیار خو په ټول سفر کې مرور غوندي ښکاریدی، نظري هم ویل رنځور یم.

ښاغلي جهانګیروال او ښاغلي مسرور هم نه غوښتل چې د بحر په اوبو ورګډ شي.

شاهین صاحب خو د عمر له مخې مشر وو، او حکمت الله جان بیا د بحر په مالګینو اوبو کې نه لامبي، وایي د بدن پوستکی مې ورسره حساسیت لري.

موږ درې د بحر په غاړه کې لامبو کوله، اوبه رښتیا هم په لومړي سر کې سړې وي، چې غوټې مو پکې وخوړلي بیا ورسره عادي شوو.

په اوبو کې مو کومه لوبه ونه کړه، ځلاند او ستانکزي ته مې وویل چې کمزوری یم، که زور مي رسیدای، په اوبو کې مې ښې غوټې درکولي.

نظري او بختيار مو ليدل چې له شاهين سره نږدې پر پلاسټيکې چوکيو ناست دي او گرم مجلس يې روان کړی وو.

موږ د تيرو مجلسونو اوږوند په بحر کې د لامبو پر وخت بحث کاوو، ميرويس ستانکزی ژور درک لري، د سفر پر مهال مې د هغه په وجود کې ډير څه وليدل.

ملگرو راږغ کړل چې کباب چمتو دی، باور وکړئ چې په کوم هوټل کې مې دومره لذيذ کباب کله هم نه دی خوړلي.

د کندهار او غزني د پسونو غوښې ډيرې خوږې وي، مگر د طالبانو په لاس د پوخ شوي کباب مزه مې پکې نه ده ليدلي.

لږ وروسته بيا هم موږ په بحر کې لامبو ته ولاړو، ښه مو ځانونه ستړي کړل، دا ځل ميرويس ستانکزي هم راسره ملگري ونه کړه.

ډوډۍ مو پر څه باندي دوې بجې وخوړله، مالتې او منې هم وي. په لوی چای جوش کې په سکرو ايشيدلو اوبو شين چای تر ډوډۍ وروسته د بحر پر غاړه جلا خوند درلود، په درې بجو او شل دقيقو له چای څښلو هم فارغ شو.

داچې له شيرمحمد عباس ستانکزي سره زما د ليدو وعده پر ۴ بجو وه، ولي تر ۴ نيمو بجو بايد ناوخته نه شم، ځلاند صاحب مې په بيرته وختې تگ کې ملگرتيا کوله، او په ۲۰ کم څلور بجو بيرته د دوحې ښار په لور را روان شوو. بيا هم په ښار کې دننه گڼه گوڼه وه، په ۴:۳۰ بجې د ماښام لمانځه لږ مخکې موږ هوټل ته راورسيدو.

## د سیاسي دفتر له مشر سره ځانګړې ناسته

ځانګړی مجلس مې له ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزي سره درلود، ډاکټر مزارګل صالح هم موجود وو.

د ماښام لمانځه وروسته پر ۵ بجې مو زما په کوټه کې مجلس پیل شو، تر ټولو لومړی مې د سولې اړوند هڅو کې د یو مهم افغان فعال پیغام ورته ووایه.

کله چې زه قطر ته تلم، په هغه سهار په کابل کې ما د سولې فعال ښاغلی عطاء الله صادق ولیدی، هغه راته وویل: ((طالب مشرانو ته مې درې خبرې ورسوه:

۱ – له کمزورۍ موقف څخه د سولې خبرو ته داخل نه شئ.

۲ – امریکا غواړي چې خپل پوځیان وباسي.

۳ – د طالبانو د ډلې یووالي او اتحاد مهم دی، په ولس باور، دولس غوښتنې په نظر کې نیول او خپل نظامي قوت له لاسه نه ورکول په کار دی.))

دویمه خبره مې ښاغلي عباس ستانکزي ته د پګواش ادارې لخوا په کابل کې استازی یې خلیل ساپي اړوند وه ، د ده په اړه د سولې ځینو فعالانو اندیښنه درلوده چې د پګواش دغه ستر د سولې کار زیانمن نه شي.

څه موده وړاندي موږ (سید اسحاق ګیلاني، انوارالحق احدي، استاد مزمل، حاجي فرید، وحید مژده، فیض ځلاند او شجاع الملک جلاله) د طالبانو څخه د یوه لیک په ترڅ کې غوښتې وو، چې په کابل کې د سولې هڅو د لړۍ د جریان او نظرونو د تبادلې لپاره غواړو چې درې نفره ستاسي سره د لیدو لپاره قطر ته درشي، په دغه جریان کې راسره عمر داودزی او شهراني هم ملګري وو.

د همدې موضوع یادونه مې ورسره وکړه چې که ممکن وي قطر ته د راتګ زمینه ورته مساعده شي.

د حزب اسلامي د یوه مهم مشر- پیغام راسره وو، چې هغه ویلي وو: (( که د افغان حکومت سره د سولې پروسې اړوند د حزب تجربې شریکیدو لپاره طالبان

اړتیا لري، موږ چمتو یو چې د همدې پروسې اړوند ورسره ناسته ولرو.))

دا ډول په راتلونکي ولسي جرګې ټاکنو کې د ځینو ځوانانو دا غوښتنه چې طالبان په لیري پرتو سېمو کې د ځینو د ښه نوم لرونکو نوماندانو لپاره ستونزې جوړې نه کړي.

له دې ورها خوا ځینې نور مسایل هم وو چې موږ پرې خبرې وکړې.

په ځینو ټکو کې د قطر د سیاسي دفتر مشر ډېره لیوالتیا وښوده، ډاکټر صالح په دقت سره په یوه وړوکې کاغذ باندې د موضوعاتو یادښت نیوی.

د پګواش غونډو په تسلسل [۱] کې په کابل کې د سولې د هڅو اړوند ښاغلي عباس ستانکزي وویل: (( ځینې کسانو د ناروې سفارت ته پروپوزل ورکړی وو، چې طالب، افغان حکومت او ټول ښکیل جهتونه د سولې مذاکراتو میز ته راوستلای شي. هغه پروپوزل د ناروې هیواد لخوا زموږ سره شریک شو، او موږ ورته رد کړ، ځینې کسان د سولې په نوم خپله استفاده کوي.))

ځینې مهم ټکې چې ما د ښاغلي عباس ستانکزي له خبرو څخه یادداښت کړل په دې ډول وو:

(( که امریکا د خپلو پوځیانو مهالویش له تضمین سره اعلان کړي، موږ

---

[۱] کله چې د جنوري ۲۳مه ۲۰۱٦ کې په دوحه کې د پګواش غونډه وشوه، د افغان ګډونوالو کابل ته تر راتګ وروسته یې همدلته د سولې جرګې ترنوم لاندې د سولې جریان پیل او د جون میاشتې ۲۳مه ۲۰۱٦ کې یې رسمې پرانست غونډه په کابل ښار کې د کابل ستار هوټل کې وشوه.

د پرانست غونډې او سولې جرګې د پیل غونډه تر ډېره د عمر داودزي او انوارالحق احدي په نوم او ګټه تمام شول. بیا وروسته د ځینو ځوانانو د ناسمو څرګندونو، او هرې غونډه کې د نویو کسانو راتګ، ځینې مشران خفه کړل، تر ډېره نیوکه هم پر خلیل ساپي باندې کیدله. له همدې کبله وو چې هغه جریان هم له منځه ولاړ.

یو ښه جریان وو، قوي سیاسي څیرې پکې راټولې شوې وې، ولي د شخصي موخو په نظر کې نیولو له امله دغه جریان ډېر ژر له ستونزو سره مخ شو.

سمدستي له افغانانو سره خبرې پېلوو.))

کابل ته له راتګ وروسته مې د طالب مشر۔ پورته خبره له ځینو کسانو سره شریکه کړه، ډېری افغان سیاستوال د افغان ستونزې همدا یو ښه حل لاره ګڼي، که امریکا د خپلو پوځیانو د وتلو مهالویش اعلان کړي، طالبان اوربند وکړي او د سولې مخامخ خبرو ته حاضر شي، ځینو سیاستوالو ویلي چې په دې برخه کې به امریکایانو ته د قناعت ورکولو لپاره کار کوي.

ښاغلي ستانکزي وویل: ((د افغان ډیالوګ [1] سم تعریف کېدل په کار دی. تر اوسه هم د افغان ډیالوګ تعریف سم نه دی شوی.))

مګر افغان ډیالوګ خپله ښاغلي ستانکزي هم تعریف نه کړ،چې سم تعریف به یې ددوی له نظره څه ډول وي، موږ ورڅخه وغوښتل چې د سولې روښانه تګلاره طالبان هم ولس ته وړاندې کړي.

ښاغلي عباس د خبرو په دوام وویل: ((کله چې بهرنیان خپل نظامي رول ختم اعلان کړي، د ملکي رول اړوند یې موږ په هیواد کې د شتون په اړه ستونزه نه لرو.

اړینه ده چې د افغانانو منځ کې خپلمنځي اختلافات د بین الافغاني تفاهم د لارې حل شي، او مخکې له مخکې تفاهم ته زمینه جوړول په کار ده.

مهمې غوښتنې مو د اشغال خاتمه، د بهرنیو پوځیان د وتلو مهالویش او د اسلامي نظام راوستل دي.))

زموږ ملګرو او په ځانګړي ډول ښاغلي ځلاند ټینګار دا وو چې د سولې خبرو لپاره د درېیمګړي ډلې خبره له طالب مشرانو سره وکړو، حتمي نه ده چې

---

[1] افغان ډیالوګ له چا سره ؟ د کومو ډلو ترمنځ، ښاغلي ستانکزي وویل چې په افغان حکومت کې دننه ځینې لوړ پوړې چارواکې له موږ سره کیناستلي او هغوی موږ ته ویلي چې د غني حکومت د سولې پروسه کې د پریکړو صلاحیت نه لري، تر څو چې د سولې مذاکراتو کې موږ ګډون ونه لرو، غوښتنې مو نه وي اورېدل شوې، د دولت د سولې مذاکرات نه شو ورسره منلای.

مشخص خلک دي وي، بلکې طالبان دي پر نومونو فکر وکړي، چې هر څوک یې د دې ستر کار لپاره وړ وګڼل د هغوی سره دي خبره وکړي، او د یوې درېیمګړې ډلې اړتیا لیدل کیږي.

د همدې غوښتنې په ځواب کې ښاغلي ستانکزي وویل:

(( د سولې ۷ ډلې زموږ سره په اړیکه کې دي، او دلته تګ راتګ لري، همدا اوس هم د ۲۰ تنو افغانانو د راتګ لسټ راغلی دی.

موږ به کومې ډلې ته د درېیمګړي په نظر وکتلای شو؟ د سولې لپاره یوه ډله کار نه کوي، بلکې ډېرې ډلې دي چې هغوی ځانونه په دې برخه کې مهم ګڼي.

تر څو چې امریکا د خپلو پوځیانو د وتلو مهالویش اعلان نه کړي، له افغان حکومت سره خبرې نه کوو، نو درېیمګړي د سولې ډلې ته هم اړتیا نشته، کله چې د بهرنیو پوځیان د وتلو مهالویش اعلان شي، بیا مخامخ له افغانانو سره سمدستي خبرې پېلوو او اوربند په ټول هیواد کې کوو.))

د ښاغلي ستانکزي نظر ته احترام لرم ولې د سولې د درېیمګړي ډلې اړوند تر ډېره اړتیا شته، مګر په کابل کې د سولې د هڅو بېلابېلې ډلې په اوس او راتلونکې کې د سولې پروسې په ګټه نه ګڼم، ځینې پکې د ځینو سیاستوالو ګټې خوندي کېدل غواړي، او ځینې بیا له همدې لارې پیسې ګټل غواړي، موږ ځینو افغانانو درې ځله د سولې د بېلابېلو ډلو د یو ځای کیدو او ګډ کار هڅه وکړه، ولې نتیجه یې تر اوسه نه ده ورکړې.

ښاغلی متوکل وایي چې د جهاد پر مهال به چې هر ځل د مجاهدینو ګوندونه سره یوځای شول، بیا به د جلا کیدو په وخت کې یو ګوند پکې زیات شو، تر دې وروستی اوم ګوند د اتحاد اسلامي په نوم هم د همدې ګوندونو د اتحاد له امله راپیدا شو.

اوس هم د سولې په برخه کې وخت په وخت نوې ډلې راپیدا کیږي او ځینې پکې خپلو شخصي موخو ته رسیدل غواړي.

ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزي وویل: (( موږ خپل حکومت درلود او قانوناً حق لرو چې د خپل حکومت له ادرسه خبرې وکړو، ولي موږ د جګړې دریدو په برخه کې د سولې راتلو لپاره انعطاف ته حاضر یو.))

د راتلونکو ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د ځینو ښه نوم لرونکو نوماندو سره د سهولت په اړه ښاغلي ستانکزي وویل : (( موږ داکار نه شو کولای چې خپلو طالبانو ته ووایو چې د پلاني نوماند مخه مه نیسئ او پلاني بیا سم نه دی.

ډاکټر اشرف غني هم له موږ سره تر ټاکنو مخکې ډیرې ژمنې وکړې، خو چې واک ته ورسیدی، بیا یې خپلې ژمنې هیرې کړې.

له واک مخکې خلک یو ډول وي او کله چې واک ته ورسیږي، بیا بدلون کوی، موږ به څه ډول په سیمو کې په ځانګړو خلکو باور وکړو چې هغوی ولسي جرګې ته لاره پیدا کړي او بیا به بدلون نه کوي.

دا سخته هم ده چې طالبان دې کوم نوماند ته مزاحمت نه کوي او بل نوماند ته دې په همهغه سېمه کې ستونزې جوړوې، ولس به هم پرې بې باوره شي، موږ ولسي جرګې ته په ځینو سېمو کې د ځانګړو نوماندانو ملاتړ نه شو کولای.))

ډیری کابل میشتي سیاستوال د ښاغلي ستانکزي له پورته نظر سره موافق نه دي، دوی وایې چې طالبانو په تیرو وختونوکې تیروتنه کړې چې ولسي- جرګې او ولایتي شوراګانو کې د ښو نوماندانو پټ ملاتړ یې نه دی کړی، که ولسي جرګې ته ځینې نور هم ښه خپلواک افغانان راننوتلي وای، افغان ولس ته به یې ګټه زیاته وای، اوس چې په ولسي- جرګه کې د ګوتو په شمار څو تنه وکیلان د بهرنیو پوځیانو له شتون سره مخالفت لري، دا یو غنیمت دی.

د طالبانو د یادې تیروتنې له کبله ده چې د غزني ولایت څخه ۱۱ تنه هزاره قوم ته مختص کسان ولسي جرګې ته ننوتل، او هغوی په ښکاره ډول سره د امریکا د ګټو لپاره کار کوي.

زموږ ناسته د ماخستن پر اوه نیمو بجو پای ته ورسیده، همدلته مو د ماخستن لمونځ په جمع سره وکړ.

*****

د ۲۰۱۷ ز.کال د فبروري پر ۲٦مه نیټه ښاغلي عباس ستانکزي په دوحه کې د یوې ناستې پرمهال ما (لیکوال) ته وویل: ((که چیري طالبان وغواړي چې له کابل ادارې سره مخامخ خبرې وکړي، موږ مستقیماً ورته ویلي شو، او خپله ډاکټر اشرف غني هم زموږ سره خبرو ته کینې، داسي افغان دریمگړي ډلې ته اړتیا ده چې امریکا وپوهوي چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو پر مهالویش له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي))

## طالب مشرانو سره د مخه ښې ماښامنۍ

حاجي داوود عابد غوښتل چې د بحر په غاړه له نورو سیلانیانو څخه لیري کوم ځای همدا ماښامنۍ ترتیب کړي، دا چې د جمعې ورځ وه، ونه توانېدل چې له ښار څخه بهر کوم ځای کې ماښامنۍ ترتیب شي، ځکه خوړنځایونه مخکې له مخکې نورو خلکو نیولي وو.

موږ د دوحې ښار په زړه کې د یوې جگې ودانۍ مخې ته ودریدو، قاري احمدي ویل چې همدې هوټل کې زموږ ننني ماښامنۍ ده.

دا هغه هوټل وو (روتانا سیټي سنټر) چې په جنوري ۲۰۱٦ کې د افغانستان د سولې خبرو اړوند د پگواش غونډه پکې شوې وه.

څلورم پوړ ته وختلو، هلته یوې کارکونکې موږ ته راناره کړه چې همدې لور ته راوگرځئ، فکر مو وکړ چې دوی به خپل ځانگړي خوړنځی لري، موږ یو بل خوړنځي ته مخه کړه، هلته چې مو کتل زموږ ملگري نه وو، بیرته راستانه شوو، بیا همهغې کارکونکې ږغ کړ، ویې خندل، ویې ویل چې هغه نور کسان چې ستاسي په رنگ یې جامې دي، هغوی همدلته ناست دي، ومو خندل، ځکه هغه میرمن پوه شوه چې

د یوې ډلې خلک دي، خو داچې زموږ ملګرو نه منله، نو ښه نښانه یې وویله.

د سیاسي دفتر مشران او داخل پکې ځینې کشران هم ناست وو، یو لوی میز د ډوډۍ خوړلو لپاره چمتو کړل شوی وو.

ښاغلي شیرمحمد عباس ستانکزی، مولوی عبدالسلام حنفي، شیخ سید رسول حلیم، قاري دین محمد حنیف، ملاعبدالاحد جهانګیروال، ښاغلی سهیل شاهین، دکتور صالح، دکتور نعیم وردګ، ښاغلی عمار یاسر، احمد یاسر، ملا زاهد احمدزی، ښاغلی عبدالرحمن فدا، ښاغلی مسرور، مولوي هدایت الله، استاد نجیب الله، ښاغلی منیر سادات، قاري احمدي او ځینې نور ځوانان هم زموږ سره مخه ښې ته راغلي وو.

په زړه پوري مجلس وو، تر ډیره په دی بحث کیدی چې په تیرو ورځو کې د کابل څخه ورغلي میلمانه خفه شوې نه وي، او له دي ها خوا ډیرې زیاتې ټوکې ټکالي کیدي.

په همدې ماښامنۍ کې شاپور بختیار هغه څوک وو چې موږ ټول یې ډیرزیات وخندولو، د طلوع ټلویزون د ارشیف د خندونکو کلیپونو یادونه یې کوله.

یوه یې دا وه چې ګل اغا شیرزي د ولسمشر-یزو ټاکنو پرمهال وویل : ((چې خدای پاک په قران شریف کي وایې چې: پښتانه ګرده سره وروڼه دي!))

ښاغلي بختیار د ګل اغا شیرزي، عبدالجبارثابت او ډاکټر اشرف غني د هغو لفظي تیروتنو یاونه یې کوله چې رسنیو سره د خبرو پر مهال یې کړي وي.

په همدې ورځو کې تازه ډاکټر اشرف غني په هرات کې د فرقې د قومندان د جنازي په مراسمو کې لویه تیروتنه کړي وه، د دعا پر مهال یې لاسونه غوړونو ته پورته کړي وو، او څنګ ته ولاړ د ولسمشر د دفتر رییس، عبدالسلام رحیمي یې په اشاره پوهوي چې له غوږونو څخه لاسونه کښته کړي.

ډاکټر غني، یو ځل د اهل تشیع په غونډه کې دا هم وویل چې حضرت حسن ﵁

نواسه خدا، توبه نعوذ بالله!

له تکراري تېروتنو وروسته اوس ډېری افغانان متوجه شوي چې ولسمشر غني له ابتدايي اسلامي مسايلو سره هم نابلده دی.

په تاجکستان کې يې ويلي وو چې تر احاديثو وروسته ډېر مهم کتاب بخاري شريف دی.

يو ځل يې د ولس او حکومت ترمنځ اړيکو باندې د وينا پرمهال د مشهور شاعر سعدي له نوم سره عليه السلام ووايه، هغه وصف چې بالعموم د الله ج د پېغمبرانو لپاره ويل کيږي او ليکل کيږي. ولسمشر غني په اسلام کې د لومړۍ شهيدې حضرت سميه بنت خياط (رضي الله عنها) په نامه کې هم تېروتنه کړې وه ، او بي بي نسيمه يې ورته ويلي وو.

لږ وروسته فدا راته وويل چې شيخ دلاور صاحب غواړي خبره درسره وکړي، ټليفون يې کړی وو: هغه وويل : ((نن لږ ناروغ وم، ځکه مې ونشو کولای چې له تاسي سره ماښامانۍ کې برخه ولرم. زما سلامونه نورو د کابل ښخه راغلو ملګرو ته هم ووايه، او د رنځ له امله د مخه ښه په وروستيو مراسمو کې د نه ګډون عذر مې هم ورته وړاندې کړه.

درې مهمې خبرې دي چې زه غواړم بيا يې تاسي ته يادونه وکړم، که همدا خبرې افغانانو او بهرنيانو ته ورسول شي.

(( لومړی: د بهرنيو پوځيانو د مهالويش خبره ډېره مهمه ده، تر څو چې محدود مهالويش نه وي اعلان شوی، د سولې خبرې له کابل ادارې سره نه شي کيدای. که د بهرنيو پوځيانو د وتلو د مهالويش اعلان له تضمين سره وشي، موږ سمدستي په ټول هيواد کې اوربند اعلانوو او افغانانو سره خپلمنځي مذاکرات پېلوو.

دويم: د بيان ازادي ته طالبان ژمن دي، خو چې مذهبي، ملي او د هيواد عليا ګټو ته پکې زيان ونه ګوري.

درېیم: د نشه  یي توکو په وړاندي زموږ تګلاره هم هغه پخوانۍ ده، که وتوانیږو، د مخدره توکو د کښت او قاچاق مخه نیسو.))

همدا درې مهم ټکي مې ذهن ته داسي ننوتل چې تر ډېره به مې هیر نه شي، مهم ټکي وو، او زه باوري یم که د نړیوالو له خوا د طالبانو او افغان ولس د لومړۍ غوښتنې ملاتړ وشي، د افغانستان د کشالې ښه حل کیدای شي.

د ډوډۍ خوړلو وروسته ښاغلي عباس ستانکزي بیا هم مننه وکړه، دغسې ناستې یې ګټورې وګڼلې او د نورو ورته ناستو د جوړولو یادونه یې وکړه.

ښاغلي ځلاند هم د کابل څخه د شنونکو او خبریالانو په استازولي د طالب مشرانو او د سیاسي د فتر له غړو څخه مننه وکړه، دغه ډول ناستې یې ډیرې مهمې وګڼلي او د ناستو د تسلسل غوښتنه یې وکړه.

د ښاغلي عباس ستانکزي لخوا  چمتو شوې تحفه  له کابل څخه تللي شپږو ملګرو هر یوه ته ورکړل شوه.

د خدای پاماني پر مهال مې وروستۍ مخه ښه همدلته له جهانګیروال سره وه، هغه چې خفه ښکاریدی، په کمزوري اواز یې وویل : ((تاسي خو لا ښه یاست، وطن ته به ولاړشئ، موږ خو خپل وطن ته نه شو تلای، بختور یاست وطن ته روان یئ، خپلو دوستانو ته ځئ، موږ خو د هیواد د لیدو او اوسیدو له نعمت څخه بې برخې یو.))  ماته یې سترګې له اوښکو ډکې ښکاره شوې، او داځل یې د نور کله په شان په خوله خندا هم نه وه، کله چې مې د هغه مخ ته کتل، نه مي شو زغملای، ژر ورڅخه روان شوم.

همدا ډول ځلاند هم د جهانګیروال فراقت او وروستۍ مخه ښه ډیر متاثره کړی وو، هغه ته یې هم ویلي وو : ((تاسی خو ښه یاست، وطن ته روان یاست، خپلو دوستانو ته ځئ، موږ خو د هیواد د لیدو او اوسیدو له نعمت څخه بې برخې یو.))

فدا، مسرور، احمد یاسر او احمدي له موږسره هوټل ته راغلل، هر یوه یې ډیره زیاته مینه او محبت کاوو.

## سید محمد طیب اغا سره مهمه ناسته

د شپې نږدې یوولس بجې وې، د ۲۰۱٦ ز. کال ډسمبر دوېمه نیټه وه چې د طالبانو د سیاسي کمیسون او قطر کې د دفتر پخواني مشر سید محمد طیب اغا نږدې ملګري حافظ عزیز الرحمن د طالبانو د قطر د دفتر پخواني غړي د اغا صاحب کور ته زه او ډاکټر صاحب ځلاند وردننه کړو، هلته مولوي نیک محمد د طالبانو د رهبري شورا، د پوهنې او قطر کې د سیاسي دفتر پخوانی غړی ناست ؤ. سید طیب اغا هم رادننه شو، د هغه د مشر ورور مولوي محمد یوسف اغا د مړینې له کبله مو ورته فاتحه وکړه.

ډاکتر فیض محمد ځلاند له مقدمې پرته سم له واره د اغا صاحب له ادرسه میاشت مخکې د خپور شوي لیک [1] په اړه ورڅخه پوښتنه وکړه. اغا صاحب په ډېر لنډ او ښه ډول د طالبانو جریان له پېله بیا تر دې دمه داسي ووایه:

(( زه چې کله د ملا محمد عمر مجاهد (د طالبانو معنوي او لومړی رهبر) سره کاتب (سکرټر او سلاکار) وم، ما هلته لیدل چې هغه به یوازې رښتیا ویل خوښول، د درواغو څخه یې بد وړل. او هر وخت به یې ملګرو ته په رښتیا ویلو ټینګار کاوو، هلته مې همدا ولیدل او تر ډېره مې په خپل ژوند کې عملي کول چې یوازې رښتیا ویل ښه دي.

---

[1] د اکتوبر ۳۱مه ۲۰۱٦ د نیویارک ټایمز ورځپاڼې لخوا د سیدطیب اغا په نوم یو لیک خپور شو چې له طالبانو څخه پکې ځینې غوښتنې شوې وي: د اسلامي امارت نوم نه کارول، په هیواد کې دننه د رهبري شورا د غړو شتون، په مالي حسابونو کې شفافیت، قطرته د یاد دفتر د مشر په صفت د مولوي محمد یعقوب استول.

د طیب اغا له یاد لیک سره دهغه داسي انځور هم خپور شوی وو چې ژیره یې پکې لنډه ښکاري، ډېری کشرانو طالبانو د اغا پر لیک او انځور تیزې نیوکې وکړې. اغا بیا ورسته وویل چې انځور په پټه ورڅخه اخیستل شوی، او لیک یې بشپړ نه دي نشر شوې، بشپړ لیک یې وروسته په بریښنایي رسنیو کې خپور شو.

کله چې به ملا محمد عمر اخوند پوه شو چې کوم چا به د راپور ورکولو په وخت کې زیاتوب کاوو، په اصلي بڼه راپور به یې نه ورکاوو، بیا به هغه خفه ښکاریدی، او په رښتیا راپور ورکولو به ډېر خوښ ښکاره کیدی.

په ۲۰۰۷ کال کې چې زه د سیاسي کمیسون غړی هم نه وم، د ملا محمد عمر مجاهد له لوري د هغه د استازي په توګه مسکو ته ولاړم، هلته مې د مسکو له مهمو چارواکو سره مجلسونه او لیدنې وکړي. مګر روسانو د کومې مرستې وعده ونه کړه.))

د طالبانو او روسانو سیاسي اړیکې کیدای شي په ۲۰۰۷ کې پیل شوې وي، کوم چې اغا صاحب وویل، ولي زما د معلوماتو له مخې د روسانو سره د طالبانو لومړنۍ مقدماتي اړیکې په ۲۰۰٦ کې پیل شوې.

سید محمد طیب اغا وویل : (( په ۲۰۰۹ز. کال کې د سیاسي کمیسون چارې ماته وسپارل شوې،هغه وخت ملا برادراخوند د ملاصاحب نائب وو، په ۲۰۱۰ کال کې مې له ملا محمد عمر مجاهد څخه وغوښتل چې سیاسي کمیسون ته زیات واکونه ورکړي. هغه سیاسي کمیسون ته مستقل واکونه ورکړل، او د کمیسون کارونه یې تر خپل مستقیم واک لاندې وښودل، مجبوره نه وو چې د سیاسي کمیسون راپور او پریکړې دې د رهبري شورا لخوا تایید شي.))

د اغا صاحب لخوا د طالبانو له مشرـ څخه د زیات واک غوښتنه ددې سبب شوې وه چې هغه په ډاډه زړه په سیاسي چارو کې پریکړې وکړي، ځکه ۲۰۱۰کال د جګړو د شدت وختونه وو، د طالبانو مشرانو ډیره توجه جګړې ته وه، په دغسي یو حالت کې به اسانه هم نه وه چې د سیاسي کمیسون سیاسي نظریاتو ته دې د طالبانو د مشرتابه شورا زیاته پاملرنه شوې وای، له همدې کبله به وه چې سید طیب اغا له ملا محمد عمر مجاهد څخه غوښتې وي چې سیاسي کمیسون ته زیات واکونه ورکړي.

ښاغلي طيب اغا وويل : ((په ۲۰۱۲ ز.کال کې جرمني ته تللي وم، له جرمنيـانو سره د امريکايانو په خوښه زمـوږ ځينـې توافقـات وشـول، داچـې د طالبـانو د قطـر دفـتر بـه رسـمي منـل کيـږي، ولي د ښـاغلي کـرزي لخـوا يـې مخالفـت وشـو، د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا ځانګړی استازی مـارک ګراسـمن هـم پـر دي کار ډېر خفه شو چې کرزي زمـوږ او امريکايـانو تـرمنځ د توافقـاتو مخالفـت وکـړ، او دويم بن کانفرانس کې د طالبانو د سياسي دفتر د رسميت منلو اعلان ونه شو.))

مګر د کرزي پلويان بيا داخبره نـه منـي چـې کـرزی د سـولې مخـالف و، ولي د سيد طيب اغا له خبرو معلوميدله چې د سـولې پروسـه کـې خپلـه حامـد کـرزی او پاکستان هيواد لوی خنډونه وو.

په لومړي بـن کـې تيروتنـه دا وه چـې پـه غونـډه کـې د طالبـانو او حـزب اسـلامي استازو ته د ګډون چانس ورنه کړل شو، او په دوېم بن کې بيا هم د طالبـانو د ګـډون او يا هم قطر کې د دوی لپاره د سياسي دفترمنلو اړوند مخالفت لويه تيروتنه وه.

د کرزي پلويان وايې چې په دي کار سره کرزي د دوو موازي حکومتونو مخنيوی وکړ، پـه داسي حـال کـې چـې پـه قطـر کـې د طالبـانو د سـولې د مـذاکراتو لپـاره سياسي دفتر په هيڅ بڼه د موازي حکومت معنی نه درلودلـه، ولي پـه کـور دننـه د کرزي واکونه د بلخ د والي لخوا ننګول کېدل.

ښاغلي اغا وويل: (( چې په ۲۰۱۲ز. کال کې مې اتو پوښتنو تـه د ځـواب پيـدا کولو ليک سره يوځای ملا محمد عمر مجاهد ته خپله استعفی هـم واسـتوله، ومـې ليکل چې دا اته داسي پوښتنې دي چـې مـوږ يـې جـواب نـه لـرو، همـدا سـوالونه نړيوال، په بهر او کور دننه افغانان هم کوي.

ملا محمد عمر مجاهد راته پيغام وليږی چـې جنګـي حالـت دی، اوس مهـال د دي سوالونو جواب کول اسانه نه دي، موږ په يوه لويه جګړه کـې بوخـت يـو، تـاسي حوصله وکړئ، دا حالت به د وخت په تيريدو سره سم شي.

زما یو وړاندیز دا هم وو چې کله ۲۰۱۴ ز. کال کې بهرني پوځیان له افغانستان څخه ووځي، او اشغال خاتمه پیدا کوي، ملا محمد عمر اخوند دي مخکې له دي چې ۲۰۱۴ کال راشي اعلان وکړي، چې زموږ جهاد له امریکا او ناټو پوځیانو سره وو، زموږ ځواکونه به نور بریدونه نه کوي، پخپلو ځایونو کې به له خپلو وسلو سره و اوسي، ترڅو بهرنیان ووځي او موږ د یوه اسلامي نظام غوښتونکي یو، د حکومت چاري به هغه چاته سپارل کیږي چې د ولس لخوا د لویې جرګې او یا کومې بلې وړ لاري څخه ټاکل کیږي، کله چې واک د افغانانو په خوښه ولیږدول شي، د اسلامي نظام په راتګ سره ډاډه شو، بیا به خپل وسلوالو ته ووایو چې دولت کې منسجم کیږي او یا خپلو کورنیو دندو ته ګرځي. ولس ته به ووایو چې زموږ دنده دا وه چې اشغال ختم کړو، او د اشغال په ختمیدو مو دنده بشپړه او د اسلامي نظام لپاره به په ګډه کار کوو.

ملا محمد عمر مجاهد ته مي وویل چې که تاسي بیا هم د امارت دعوه کوئ او بیا د امارت اعاده کول غواړئ، دا به مشکل وي، جګړې به دوام ولري، کله چې زموږ واک پر ۹۵٪ ځمکه وو، هغه وخت هم ارام نه وو، اوس چې بهرنیان دلته موجود دي، ورسره افغان پوځیان هم شته، دا به مشکله وي چې د پخوا په ډول امارت دي قایم شي.

او که تاسي له حکومت سره د واک د شراکت خبره کوئ، دا هم سمه نه ده، بیا به ډیر بدنام شو، چې طالبان د واک لپاره جګړې کوي، او د مجاهدینو په ډول به موږ هم د نړیوالو لخوا ډیر بد بدنام شو، تر دي چې دا تاریخي بدنامي د طالب په نوم پریږدو، ښه به وي چې له واک څخه لاس په سر شو، اعلان وشي چې د بهرنیانو تر وتلو وروسته موږ په واک کې ګډون نه غواړو، او خپل وسلوال به مو ترهغه وخته فعال وي، اوربند به وي، تر څو چې واک افغان شموله حکومت ته ولیږدول شي، او د اسلامي نظام ډاډ تر لاسه کړو. ))

د سید طیب اغا پورته وړاندیزونه چې د طالبانو مشر ته یې کړي وه، هغه وخت او په اوس وخت کې داسي وړاندیزونه ګڼل کیږي چې په راتلونکې کې طالبانو ته له هر ډول بدنامۍ څخه برائت ورکولای شي.

له ځینو طالبانو او سیاستوالو سره ویره ده چې کیدای شي د بهرنیو پوځیانو تر وتلو او یا هم په هیواد کې د جګړې د اوږدیدو له کبله طالبان هم هغه ډول د نړیوالو لخوا بدنام کړل شي، کوم ډول چې د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو مقابل کې جنګیدونکې مجاهدین د کامیابۍ او سرو لښکرو تر وتلو وروسته ډیر بد بدنام کړل شول.

اغا وویل: ((کوم لیک چې په وروستیو وختونو کې خپور شو، تر ډیره همدغه ډول غوښتنې پکې ځای شوې وي.

۲۰۱۳ کال کې بیا هم د طالبانو سیاسي دفتر له امریکایانو سره تر توافق وروسته خلاص شو، مګر د کرزي لخوا یې مخالفت وشو، او بیا یوه ورځ وروسته دفتر وتړل شو.

پاکستان ډیر زیات دخالت کاوو، کله چې به زموږ طالب استازو کوم هیواد ته سفر وکړ او یا به کوم هیواد کې د سولې اړوند مجلس جوړ شو، پاکستان به هغه هیواد ته احتجاج کاوو، په جاپان او فرانسه کې د غونډو پرمهال ښه پرمختګ وشو، مګر په ترکمنستان کې د کیدونکې غونډې مخنیوی د ښاغلي کرزي لخوا وشو.

پاکستانیانو غوښتل چې زموږ هڅې د دوی سره په همغږۍ وي، او وروسته له ډیرو هڅو پاکستان په ښکاره ډول سره موږ ته وویل چې هغه وخت به ستاسي د سیاسي کړنو مخالفت نه کوو چې د غونډو په جریان کې ستاسي سره زموږ استازي هم ګډون ولري.

کله چې اسلام اباد ته نږدې د مري غونډه کیدله، د طالبانو د هغه وخت واک لرونکی مشر ملا اختر محمد منصور[1] راته وویل چې پاکستان ته له قطر څخه د

[1] د جولای ۷مه ۲۰۱۵، اسلام اباد ته نږدې د مري غونډه لومړنۍ ناسته وه چې د طالبانو او افغان حکومت استازو د پاکستاني استخباراتي کارکوونکو په شتون کې یو له بل سره مخامخ لیدنې وکړې.

سیاسي دفتر غړي ولیږم. ومې ویل چې موږ نږدې ٦ کلونه هڅه دا وه چې د پاکستان له دخالت څخه ځان خلاص کړو، اوس که پاکستان ته خپل کسان درلیږو، په دې معنی چې موږ د پاکستان تر فشار لاندې یو، او د پاکستان نفوذ منو. منصور صاحب وویل چې اوس ما له پاکستان سره وعده کړې ده، او کسان راولیږه. ومې ویل چې د سیاسي دفتر واکونه معلوم دي، ملا محمد عمر اخوند زموږ مستقیم مشر- دی، او د هغه لخوا دې ماته وویل شي. زه اړ نه یم چې د رهبري شورا پریکړې حتمې ومنم. همهغه وو چې د مري غونډې ته مې کسان ونه لیږل، او بیا وروسته د ملا محمد عمر مجاهد د مرګ خبر هم رابرسیره شو. [1]))

د سید طیب اغا پورته خبري پر ځای وي، موږ ګرده پوهیږو چې پاکستان په دې برخه کې یوازې نه دی، امریکا او نړیوال هم غواړي چې د طالبانو ١٦ کلنه

دطالبانو لخوا مولوي عبداللطیف منصور ، ملا محمد عباس اخوند او حاجي ابراهیم، د حکومت لخوا حاجي دین محمد، حکمت کرزی، انجنیر محمد عاصم، فیض الله ذکي، محمد ناطقي، اسدالله سعادتي او فرهاد الله فرهاد و. د طالبانو د پلاوي مشرې مولوي عبداللطیف منصور او د افغان حکومت د پلاوي مشرې حاجي دین محمد کوله. د پاکستان جنرال رضوان اختر دآی ایس آی لوی رئیس، جنرال سجاد علی درئیس معاون، ډګروال عبدالله دآی ایس آی لخوا دافغانستان دټولوچارو مسؤول او دطالبانو په وخت کې دکندهار کونسل متقاعد میجر ګل ګېون درلود.

[1] د طالبانو د مشر ملامحمد عمر مجاهد د مرګ خبر نږدې دوه کلونه پټ ساتل شوی وو، طالبانو وویل چې له دې امله یې دمرګ خبر پټ ساتلی وو، چې د جګړې شدت وو، تر څو طالبان مورال له لاسه ورنه کړي او بل د طالبانو صف ونه پاشل شي.

دوی ویل چې پنځه تنه (ملااخترمحمدمنصور، مولوی نورمحمد ثاقب، مولوي محمد یعقوب، ملا عبدالمنان، ملا قیوم ذاکر) او دا ډول د ملامحمد عمر اخشي- عبدالجبار عمري د ملاصاحب له مرګ څخه خبر وو. یادو پنځو تنو پریکړه وکړه چې مرګ به یې پټ ساتل کیږي، ویل کیږي چې بیعت یې له ملااخترمحمد منصور سره دمشر په توګه وکړ.

ملاعبدالجبار عمري د جنوري په لومړیو ورځو کې په زابل کې ونیول شو، ولې دهغه د نیولو خبره دحکومت لخوا د جنوري په دویمه اونۍ ۲۰۱۷ز. کال ورکول شو چې د افغان ځواکونو لخوا په زابل ولایت مرکز قلات ښار کې دناقانونه وسلې د ګرځولو په تور نیول شوې وو، وروسته وپیژندل شو چې مهم طالب مشر دی.

جګړه تر پوښتنې لاندې راولي، غواړي چې افغان ولس او نړۍ ته وښيې چې طالبان په پريکړو کې خپلواک نه وو او نه هم دي، دوی د پاکستان تر نفوذ او کنټرول لاندې دي، که طالبان په مهارت او حکمت سره د سولې مذاکراتو کې د پاکستان د نفوذ مخه ونه نيولای شي، کيدای شي راتلونکی تاريخ د دوی په اړه هغه ډول پريکړه ولري چې پاکستان د افغان مجاهدينو په استازيتوب په ژينو کې له ډاکټر نجيب الله سره د افغانستان څخه د سرو لښکرو د وتلو تړون لاسليک کړ، په غونډه کې امريکا او روسانو هم ګډون درلود.

اغا وويل : ((کله چې منصور صاحب مشر وټاکل شو، ځينې غوښتنې مو درلودلې او هغه مو په ليکلي ډول هم ورته وړاندې کړې، او بالاخره موږ استعفی ورکړه.[۱] ))

يوځل په ډسمبر ۲۰۱۵ کې موږ (استاد محمد زمان مزمل صاحب، حاجي فريد، احمد وحيد مژده صاحب او ما) ته طيب اغا ويلي وو : ((زما مهمه غوښتنه دا وه چې مشرتابه له پاکستان څخه وتلی وي او بله انديښنه مو دا وه چې موږ په تيرو کلونو کې له القاعده سره اړيکې پرې کړې وي [۲]، مګر د منصور صاحب د مشر په

---

[۱] سيد طيب اغا د اګست ۴مه۲۰۱۵ د طالبانو له سياسي دفتر څخه استعفی ورکړه، هغه د طالبانو له نوي مشر ملااخترمحمد منصور سره د هغه داميرالمؤمنين کيدو په توګه بيعت ونه کړ. ځينې طالبانو او اغا ته نږدې کسانو داسې هم ويل چې طيب اغا ويل چې له دفتر څخه ليرې کيږم، او ويره لرم چې پاکستان ته ونه سپارل شم، له همدې امله ښه داده چې له دفتر څخه استعفی ورکړم. کله چې ملااخترمحمد منصور د امريکا د بې پيلوټه الوتکې په بريد کې نوشکې سيمې ته نږدې ووژل شو ( ۲۱مئ ۲۰۱٦ )، د مئ ۲۵مه ۲۰۱٦ د طالبانو نوی مشر شيخ هبة الله وټاکل شو، شيخ هبة الله په خپل لومړي وخت کې د سيد طيب اغا څخه وغوښتل چې د طالبانو د قطر د سياسي دفتر مشرتوب ومنې. همهغه وو چې طيب اغا يو ليک ورته واستوو، خپلې انديښنې پې ورسره شريکې کړې وې، دا ډول يې وړانديز کړی وو چې دقطر دفتر لپاره مولوي محمد يعقوب د ملامحمدعمر مجاهد زوی دمشر په صفت ورولېږي او اغا به له هغه سره مرسته کوي.

[۲] د طيب اغا نظر داوو چې له القاعده سره د طالبانو اړيکې اوس مهال تړلې په کار نه دي، القاعده نړيوال اهداف لري، او طالبان د افغانستان تر جغرافيې محدود په خپله جغرافيه کې يو مستقل

ټاکل کیدو، د القاعده مشر د بیعت اعلان وکړ. دا ډول مو په زابل کې د طالبانو ترمنځ جګړه وشوه، او هلته یو شمیر ازبک مجاهدین ووژل شول، او نږدې ۴۰۰ تنه ژوندي ونیول شول[۱] ، د نیول شوو کسانو برخلیک هیچاته معلوم نه شو، موږ ویره لرو چې هغه کسان به هم تلف شوي وي. ځکه هغوی د منصور صاحب د مشرتابه مخالفت کاوو. ویره لرو چې د پاکستان نفوذ به نور هم زیات شي، او د پاکستان نفوذ پر طالب مشرانو زموږ استقلال تر سوال لاندي راولي.))

طیب اغا دا ځل ما او ډاکتر فیض محمد ځلاند ته وویل : (( د پاکستان د نفوذ ویره موږ ښودلي وه، او دوی خپل نفوذ ته دوام ورکوي، پاکستاني چارواکي کوشش کوي چې له طالب نظامي مشرانو سره اړیکې جوړې کړي [۲]، دا خطرناکې دي، او دا ډول کړنې یې کړي او پېل کړي وي، موږ یې سخت اندیښمند کړي وو، چې باید د پاکستان د نفوذ مخه ونیول شي.

هر چا چې پر پاکستان باور کړی ، هغوی ته زیان رسیدلی او د پاکستان لخوا

---

اسلامي نظام غواړي، که القاعده له طالبانو سره تړلي پاتې شي، نړیوال به هم د افغانستان د اشغال لپاره همدا اړیکې د بهاني په توګه کاروي.

[۱] د زابل ولایت خاک افغان ولسوالي کې د نومبر میاشتې لومړۍ اونۍ۲۰۱۵ز. کال کې د طالبانو او ملامنصور دادالله تر منځ جګړه وشوه، دملامنصور دادالله سره ازبک اسلامپاله جنګیالي هم ملګري وو. په جګړه کې ملامنصور دادالله او دهغه ځینې ملګري ازبک جنګیالي هم ووژل شول. نږدې ۴۰۰ ازبک جنګیالي طالبانو ته تسلیم شول. طالبانو د ملادادالله منصور او ازبک جنګیالو سره په خاک افغان او ارغنداب کې د جګړې اړوند د نومبر ۲۵مه ۲۰۱۵ تفصیلي راپور خپور کړ.

[۲] د پخواني شوروي اتحاد سره دجهاد په وروسته وختونو کې د پاکستان آی ایس آی د مجاهدینو له قوي قومندانانو سره پرته د هغوی د رهبرانو په جریان کې کیدو مخامخ اړیکې له قومندانانو سره جوړې کړي، چې همدغه اړیکې د مجاهدینو د خپلمنځي ستونزو او پاشل کیدو سبب شوې.

اوس داسي راپورونه شتون لري چې ورته تګلاره د پاکستان استخبارات مخ کي وړي، قوي او مشهور طالب قومندانانو سره د مخامخ اړیکو جوړولو پروژه مخ کي وړي، چې داکار بیاځل موږ کورنۍ جګړې ته بیولای شي، او دپاکستان زیات نفوذ ته د طالبانو په لیکو کې لاره برابروي.

پري ګوذار شوی، منصور صاحب هم د دوی لخوا شهید شو. [۱]

هغوی چې د پاکستان فشار ته نه تسلیمیدل، ملا برادر [۲] اخوند یې هغه حالت ته ورساوو چې صحي حالت یې سم نه دی، ملا عبیدالله اخوند [۳] یې شهید کړ.))

---

[۱] ډېری طالب مشران او افغان سیاستوال پر دی نظر دي چې د منصور صاحب اړوند معلومات پاکستان د امریکا استخباراتو ته ورکړي وو، کله چې منصور صاحب د پاکستان په نوښت او غوښتنه ۴ اړخیزو مذاکراتو کې د ګډون سره پریکون وکړ، پاکستان امریکا، چین او افغان حکومت ته په ورکړل شوو وعدو کې چې طالبان به ورسره مخامخ کینوي، ناکامه شو، له همدې امله د پاکستاني استخباراتو لخوا د امریکا استخباراتو ته ناسم معلومات ورکول شول چې د طالبانو مشر- ملااخترمحمد منصور د سولې مخ کې غټ خنډ دی، او هغه سوله نه غواړي، همهغه وو چې منصور صاحب د امریکا لخوا ووژل شو. ولي په یوه خوله طالب مشران او افغان سیاستوال وایې چې منصور صاحب د سولې په برخه کې ژمن وو، خو رښتونې او د استقلال په فضاء کې سوله یې غوښتله. د منصور صاحب تر مرګ وروسته د سولې خبرې او پرمختګونه تر دې مهال په ټپه ولاړ دي.

[۲] ملا برادر اخوند د ملامحمد عمر اخوند نایب وو، د طالبانو اړوند چارو کې یې د پاکستان غوښتنې په نظر کې نه نیولې، سولې ته ژمن وو، د پاکستان د استخباراتو لخوا دفیبروري ۸مه ۲۰۱۰ سهار مهال ونیول او زنداني شو. د سپټمبر ۲۱مه ۲۰۱۳ په ښکاره د سولې پروسې سره د همکاري په نوم له زندان څخه خوشې شو، ولي تر دې مهاله هغه د پاکستان د استخباراتو ترنظارت لاندې دی، هغه ته عصبي ناروغي پیدا شوې ده.

عمر داودزی وایې چې زه د پاکستاني چارواکو په شتون کې د مجلس لپاره ملابرادراخوند ته ورغلم، هغه مې ولید، هیڅ خبرې یې نه کولې، او بیا چې کله ما ځینې خبرې ورته وکړې، د سولې په اړه مې ورڅخه مرسته وغوښتله، هغه وویل چې تر څو له غلامي څخه نه یو خلاص شوي، سوله نه کیږي. ورته مې وویل چې د چا غلام او څوک؟ هغه وویل چې موږ یو ځای کې(پاکستان) له غلامي نه خلاصیږو، او حامد کرزي دوه ځایه غلام دی. ورته مې وویل چې څه ډول دوه ځایه. هغه وویل چې اول د پنجشیریانو غلام دی، او دوېم د امریکا غلام دی، غلامان سوله نه شي کولای.

[۳] تر ملا بردار اخوند مخکې د ملامحمد عمر مجاهد نایب ملاعبیدالله اخوند وو، هغه د پاکستاني استخباراتو له خوا ونیول شو، او له ډېرو شکنجو او زجر وروسته د پاکستان په زندان کې شهید شو. ملا عبدالحي مطمئن راته ویلي وو چې ملاعبیدالله اخوند ویل چې موږ به د پاکستان په زندانو کې ګرده مشران شهیدان کیږو، خو د پاکستان نفوذ او فشار ته به نه تسلیمیږو، نوي ځوانان او له موږ وروسته نسل به له امریکا څخه خپلواکي اخلي.

ډیری پخواني مجاهدین چې سیاسي تجربه لري د اغا له پورته خبرو سره توافق لري؛ که پاکستان وتوانیږي د طالب قومندانانو سره مخامخ اړیکې جوړې کړي، طالب مشران به له هغه ډول برخلیک سره مخ کیږي، کوم چې د مجاهدینو د گوندونو مشران د ډاکټر نجیب الله د حکومت پر مهال له گواښوونکي حالت سره مخ وو، مهمو او قوي قومندانانو یې له آی ایس آی څخه مخامخ وسلې ترلاسه کولي او د گوندونو د مشرانو اطاعت یې نه کاوو.

داچې اوسمهال پاکستان طالبانو ته وسلې نه ورکوي، او ویل کیږي چې نظامي طالبان د افغانستان په داخل کې دي، د مجاهدینو د وخت ویره او اندیښنه کمولای شي، ولي په دي برخه کې به پاکستان زیاتې هڅې وکړي، که وکولای شی چې پر نظامي طالب قومندانانو خپل نفوذ ولرلای شي.

سید طیب اغا وویل : (( لاهم د سولې او اړوند مسایلو لپاره د طالبانو واضح تگلاره نه شته، ډیری سوالونو ته جواب نه لرو، او په دي برخه کې د پام وړ پرمختگ نه دی شوی، له ولس سره باید هرڅه واضح او شریک شي.

د کندز ښار ونیول شو، زموږ پوښتنه دا وه چې آیا کندز ښار نیول پر دي ارزي چې دومره زیات کسان دواړو لورو (کابل اداره او طالبانو) ته پکې ووژل او ژوبل شي.

که دا خبره وي چې یوازې د زور ښودلو مسئله ده، نو کله چې امریکا حمله وکړه، زما یاد دي چې د کندهار د ساتنې لپاره مشهور طالب قومندانان چې به کوم لورته ووتل بیا به یې انډیوالان د بمبارد له امله له لاسه ورکړل، او مایوسې وه، اوس هم چې بمبارد او د بهرنیانو الوتکې وي، د کوم ښار نیول به گټه ونه لري.

کله چې کندز ونیول شو، طالب مشرانو ته مې احوال ولیږی، چې کندز د سولې مرکز اعلان کړئ، او اعلان وکړئ چې د بهرنیو او کورنیو کسانو د سولې لپاره د مذاکراتو همدا مرکز دی، نړیوالو به هم بریدونه ممکن بند کړي وای، او دې کار به له ولس سره هم مرسته کړي وای، د سولې مخامخ خبرو ته به زمینه

مساعده شوې وای. داسې ونه شول، او بیا طالبان بیرته له کندز ښار څخه ووتل.))

د اغا صاحب پورته وړاندیزد سولې لپاره ښه قدم و، دویم ځل بیا هم طالبانو په ۲۰۱٦ کې کندز ښار ونیوی، که بیا ځل یې دغسې یو اعلان کړی وای چې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره کندز ښار د امن سیمه ټاکو، دا به د سولې اړوند ښه پرمختګ وو، کیدای شي په روان پسرلي کې طالبان وتوانیږي چې ځینو ولایتونو ته سقوط ورکړي، که بیا هم کوم ولایت د سولې لپاره بین الافغاني ادرس او مرکز اعلان کړي، یو ښه پرمختګ به وي.

ښاغلي اغا وویل : (( طالب مشرانو ته مې وړاندیز وکړ چې د ښارونو نیولو لپاره دي له علماوو څخه فتوا وغوښتل شي، چې د څو ساعتونو او یا څو ورځو لپاره د یو ښار نیول چې دومره قرباني غواړي په کار ده چې طالبان خپل زور وښيې؟

هلمند او ارزګان کې بیرته طالبان په شا شول، او ویې نشوای ساتلای. امریکا جګړه غواړي او په سیمه کې د جګړې دوام غواړي، مګر موږ د ولس لپاره مسؤولیتونه لرو.

هغه وخت چې طالبان په واک کې وو، په وروستیو وختونو کې د جنګیالیو له ستونزې سره مخ وو، او کسان یې نه درلودل، د جلب له لارې یې کسان جګړو ته بیول، او د جلب له لارې هر ډول کسان وو. [1] ))

د طالبانو د رهبري شورا او قطر د سیاسي د فتر پخواني غړي مولوي نیک محمد وویل: (( اوس بیا همهغه ستونزه ده چې د طالبانو ډله کې هر څوک ګډ شوې، او طالبان هم اړتیا لري چې خپل صف قوي وښيې او ډیر یې وښيې نور پسې نه ګوري چې څه ډول خلک دي.))

---

[1] د طالبانو د نظام پر مهال په جنوبي ولایتونو کې خلک په زور او د جلب د لارې د شمال جګړو ته بیول کیدل، هر کروندګر مجبوره وو چې په یوه کال کې یو ځل د دریو او یا څلورو میاشتو لپاره یو تن طالبانو ته ورکړي چې طالبان یې د جګړې لیکو ته بوځي.

کروندګر چې له جګړو سره بلد نه وو، ډیر وخت به یې درانه تلفات درلودل، ملاقیوم ذاکر په دې مشهور وو چې د جلب له کسانو سره ناسم چلند کوي، او مخامخ یې د دوی مخالفو شمال ټلوالې د جنګیالو پر لومړیو کرښو ورزغلوي. دجلب څخه ولس په تنګ شوی وو، او دغه ستونزه په هلمند، کندهار او زابل کې ډیره زیاته لیدل کیدله.

د مولوي نیک محمد خبره پر ځای وه، کومې سیمې چې طالبان له دولت څخه نیسي او تر واک لاندې یې راولي، د سیمې خلک ورسره ملګري کوي، په هره برخه کې د سیمې د خلکو څخه په خپله سېمه کې ګټه پورته کوي، داچې په سېمو کې خلک خپلمنځي دښمنۍ یو له بل سره لري، په ځینو مواردو کې د طالبانو دغه ډول کړنه ناوړه اغیزې لري.

مولوي نیک محمد چې یو وخت د طالبانو د پوهنې کمیسون مشر وو، هغه د پوهنې اړوند ستونزو ته هم اشاره وکړه، هغه وویل : (( په دې برخه کې باید پخوا لا ډېر اصلاحات شوې وای. [1]))

اغا صاحب وویل : (( د ملا صاحب تر مرګ وروسته زموږ خوښه نه وه چې امارت نوم وکارول شي، ځکه هغه د پخوا وخت شرایط نه وو، بل دا چې د واک لپاره جګړه نه کوو، مګر دا کار وشو. موږ که هرځای یو، طالبان یو، له دې خلاصون نه لرو، او همدلته مو قدر دی، همدلته درانه یو، د نظر څرګندول د دې لپاره چې اصلاحات راشي، نه د اختلاف لپاره، د طالبانو قوت په وحدت کې دی، او موږ د طالبانو وحدت غواړو.))

نه یواځې داغا بلکې د ځینو نورو طالبانو نظر هم دا وو چې د ملا محمد عمر مجاهد تر مرګ وروسته د "امیرالمؤمنین" پرځای "امیر" او د "امارت" پر ځای د "طالبانو اسلامي تحریک" نوم وکاروي، ولې طالب مشرانو بیا دلیل وړاندې کاوو چې زموږ قانوني نظام د امریکا له خوا له منځه وړل شوی، د افغان حکومت په مقابل کې زموږ نظام قانوني حیثیت لري، که موږ د "افغانستان اسلامي امارت" نوم ونه کاروو، افغان حکومت ته یو ډول د مشروعیت زمینه مساعده کیږي، او بیا به حکومت [2] په

[1] د طالبانو د نظام پرمهال او بیا د امریکا ترحملې وروسته تر ۲۰۰۹ ز.کال پورې د پوهنې برخه کې طالبانو ګڼې ستونزې درلودلې، چې باید اصلاح شوې وای. دابحث به زما په راتلونکې کتاب کې ان شاء الله مفصل وګورئ.

[2] یادونه: په لومړی چاپ کې همدلته په تیروتنه سره طالبان لیکل شوي وو.

نړیواله سطحه هم دلیل ولري چې طالبان نظام نه بلکې ډله ده، طالبان وایي چې موږ ډله نه بلکې د یو نظام په چوکاټ کې خپلو موخو ته رسیدل غواړو.

طیب اغا وویل: (( کله چې شیخ هبة الله صاحب مشر۔ شو، هغه زما څخه غوښتنه وکړه چې د قطر دفتر مشرتوب ومنم. زه پوهیدم چې د سولې اړوند او د راتلونکي لپاره واضح تګلاره نه لرو. ومې نه منله. په وارو وارو یې غوښتنه وکړه، بیا یې زما نظر په تحریري بڼه وغوښت.

خپل نظر مې ورسره شریک کړ، لیک مې ورته ولیږی، تر ډیره هغه پوښتنې وي چې جواب شوې نه وی، او هغه پخوانی اته پوښتنې هم پکې وي چې نړیوالو او بهرمیشتو افغانانو د جواب تمه درلودله.

زما لیک رسنیو خپور کړ، چې هرڅه ویل کیدل، زغم مو وکړ، او هیڅ ډول غبرګون مو ونه ښودی. اوس اوس په مشرتابه کې په دي اړه خبرې کیږي، او هغه سوالونه یو بل ته ویل کیږي، دي کار جرائت ته اړتیا درلودله، او دا کار موږ وکړ.

داچې اوازه ده چې اغا صاحب نوی ګوند جوړوي، دروغ ده، داسي خبره نه شته، او کیدای شي په دي اړه سپیناوی هم خپور کړو. [۱] ))

مولوي نیک محمد صاحب دي خیر یوسي، هر ځل یې راته ځانګړې تحفه چمتو کړي وي، په کابل کې د ځینو نورو ملګرو برخه یې هم کړي وي، استاد محمد زمان مزمل خو بیخي پکې نه هیروي.

داځل یې هم زما او ځلاند او استاد مزمل لپاره د نورو شیانو سربیره یو یو جاکټ (کوټ) اخیستی وو، خو دومره لنډ وو چې حتی په مزمل صاحب هم جوړ نه وو، بیا یې پوښتنه وکړه چې لنډ خو به نه وو، څه مې کړي وای، ورته مې وویل چې ډیر ښه سایز وو، ځلاند صاحب باندي هم جوړ وو، مګر د ځلاند صاحب په اوږو کله هغه جاکټ ننوتی.

د شپې یوه نیمه بجه موږ رتاج الریان هوټل کې خپلو اطاقو ته راورسیدو.

---

[۱] د سید طیب اغا لخوا لیک خپور شو او دا اوازې پکې رد شوې وي چې اغا د بلې ډلې جوړیدو تکل لري، ولي پر خپلو پخوانیو وړاندیزونو یې ټینګار کړی وو ( ۱۱ ډسمبر ۲۰۱۶ ).

## ګران هیواد ته راستنېدل

د شپې تـر ناوختـه بیـا زه او ځلانـد بوخـت وو، خپلـې غـوټې مـو د سـفر لپـاره تیارولي، ډېرې شیان مو له ښکلو او بازاري پاکټو وکښل، زما سره لوی بکس نـه وو، همداسي مې په یوه کریټ کې سره بند کړل.

تر دوو نیمو بجو پوري د شپې ویښ پاتې شوم، د خوب ستونزه زیاته لـرم، بیـا چـې څه باندي پنځه بجـې د سـهار لمانځـه تـه راویښ شـوم، ځکـه همـداسي ویښ پـاتې شوو، چې پر ٦ بجې موږ باید له هوټل څخه د دوحې هوایې ډګر لور ته وتلي وای.

هوایې ډګر ته ورسیدو، اوه بجې لا نـه وي پـوره، مـوږ تـه یـې بورډینـګ کارډونـه راکړل، د هوایې ډګر په بازار کې لږ ایسته دورې وګرځیدو، ځکه چـې زمـوږ د پـرواز وخت پر ۸:۳۰ بجې سهار وو، اته بجې انتظار ځای ته ورغلو، لږ وروسـته یـې وویـل چې په دوبۍ کې د هوا (د اوبو توبښ او ګردجنې) له کبله الوتنه تـر ۹ بجـې پـورې ځنډیږي. بیا موږ څلور (ځلانـد، وحیـدي ، سـتانکزی او زه) ولاړو لـږ پـه بـازار کـې وګرځیدو، چې راغلو ویل یې چې الوتنه نوره هم وځنډیله، ډېر خوب راتلی، هملتـه په هوایي ډګر کې نږدې ۱۵ دقیقې ویده شوم.

ټول ملګري ډېر خفه وو چې پر فیسبوک کې یې ولیـدل چـې طالبـانو د میـدان وردګ ولایت په سید اباد ولسوالي کې یو ځوان انجنیر په دار ځړولی دی.

او ځینو خو په فیسبوک کې زما، ځلاند او وحیدي نومونه لیکلي وو، چـې تـاسي قطر ته تللي یاست، مګر طالبان دلته انجنیران وژني.[1]

---

[1] د انجنیر پانسي کول د طالبانو لخوا په ټولنیزو رسنیو کې ډېر زور واخیسـت، پـه کورنیـو ټلویزونـو کې پرې بحثونه وشول. وروسته معلومـه شـوه چـې همهغـه کـس انجنیـر فـیض الـرحمن پخـوا د طالبانو سره ملګری وو، بیا وروسته یې د کابل استخباراتو سره اړیکې جـوړې کـړې وي. د ډاکټـر فاروق وردګ ورور د ولسې جرګې غړی شیرولي وردګ په کابل کې ووژل شو، طالبانو یـې پـړه پـر غاړه واخیستله.

په یولس بجو مو له دوحی څخه الوتنه وشوه. د وخت د تغیر په نظر کې نیولو سره موږ د دوبۍ په وخت یوه بجه د دوبۍ هوايي ډګر ته ورسیدو. د ماسپښین لمونځونه مو په جماعت ادا کړل، لږ اوبه او جوس مو وڅښل.

د ماسپښین نږدې دوه بجې د دوبۍ څخه زموږ الوتنه وشوه، الوتکې ته د ختلو په وخت کې وروستی تن وم، غوښتل مې داسي چوکۍ پیدا شي چې خوب پکې وکولای شم. مګر فلای دوبۍ الوتکه بیخې ډکه وه، په هره چوکۍ کې کسان ناست وو، داسي درې پرله پسې چوکۍ نه وي چې د خوب لپاره سړي پښې پکې غځولي وای.

په چوکۍ کې ناست سړی مې ډیر ساده وو، کله چې الوتکه لږ وخنډیله، په داسي حال کې چې دروازې یې تړل شوې وې، هغه ویل: ((کوم مهم سړي ته انتظار کوي.

ویل یې چې د شپې بیخوبه شوی یم، کور مې په عجمان کې دی، په خپلې میرمن ډیر ګران یم، هغې د سفر لپاره راته خواړه تیارول او زه هم په اشپزخانه کې ورسره ګرځیدم.

ویل یې غم مه کوه، په فلای دوبۍ کې خو ښه ډوډۍ نه وي، او کومه ډوډۍ چې ده، یو خو د خوراک نه ده، بل ډیره ګرانه هم ده، ماته یې کور کې ښه ډوډۍ تیاره کړي، په ګډه به یې خورو.))

میرویس ستانکزی زموږ شاته چوکۍ کې ناست وو، هغه زموږ خبرې او خنداوي اوریدی، چوکۍ کې راسره ناست سړی د افغان دولت کورنیو چارو وزارت کې کارکوونکی تیر شوی وو، اوس مهال یې یو کور په عجمان، یو کابل او بل په اسلام اباد کې وو.

---

داسي فکر کیږي چې د شیرولي وردګ په وژنه کې به د طالبانود سید اباد د استخباراتو د مسؤل ډاکټر میرویس لاس وو. انجنیر فیض الرحمن له ډاکټر فاروق وردګ سره اړیکې جوړې شوې وي، طالبان ادعاء کوي چې د ۵ لکه افغانیو په مقابل کې د انجنیر فیض الرحمن لخوا ډاکټر میرویس وژل شوې، او دوی ځکه انجنیر قصاص/اعدام کړ. والله اعلم

ډېر به خوشاله شو چې ورته مې وويل چې دومره قدر په اوس وخت کې کله میرمنې د خپل ژوند د ملګري کوي، موږ ته خو یې نه ډوډۍ راپخه کړي او نه یې ځان راسره بیخوبه کړی، هسي هم موږ په قطر کې مسافر وو، دروغ مې ورته نه ویل. سړی به من من غوښه اخیستله، چې کله الوتکې پرواز کاوو، کور ته یې ټلیفون وکړ، چې نور نو د خدای پامان، ډېره راسره ستړې شوې.

چې الوتکه هوا ته پورته شوه، موږ کولای شول چې نور نو د چوکۍ ټړونی (بیلټ) خلاص کړو، ملګري مې ډوډۍ راواخیستله، ربښتیا هم چې میرمنې یې ډېر ښه خواړه ورته چمتو کړي وو، څلاند، وحیدي او ستانکزي ته مې هم لږ لږ د چرګ غوښه ورڅخه ورکړه.

د ماښام پر ۵:۲۰ کابل هوايي ډګر ته راورسیدو، موږ ٦ تنو ملګرو مشوره وکړه چې د هوايي ډګر څخه د وتلو پرمهال چې کله پر پاسپورټونو د ننوتلو مهر لګوي، یوې غرفي ته به نه دریږو، جلا جلا به دریږو.

څلاند خو یې سمدستي وپېژاندی، موږ ټول پرته له ستونزې د مهروهلو له غرفو څخه راتیر شوو، د خپلو بکسونو په انتظار کې وو. د ټولو خلکو بکسونه خلاص شول، زموږ بکسونه، هلته نه وو، ځینې ملګرو ویل چې کیدای شي کابل هوايي ډګر کې یې د چیک او تلاشي لپاره ګرځولي وي.

د هوايي ډګر کارکوونکو وويل چې سبا اته بجې یې پوښتنه وکړئ، ستاسي بکسونه به رارسیدلي وي، تر اوسه له دوبۍ څخه نه دي راغلي.

# دویم څپرکی

**د امریکا سفارت ډیپلوماټانو، د ملي امنیت مشر او امنیت شورا  له غړو سره ناستې**

## میرویس ستانکزی او شاپور بختیار

د ډسمبر څلورمه نیټه وه، مازیگر مهال شاپور بختیار راته ټلیفون وکړ، ډیر په غوسه ښکاریدی، ویې ویل : (( ټوله ورځ مې سرگردانه وه، یوځل په خپل دفتر (د طلوع ټلویزون) کې راڅخه پوښتنې کیدی، چې تاسي هلته له طالبانو سره څه ویلي دي.

د امریکا سفارت غوښتی وم، هلته یې راڅخه د سفر او طالبانو په اړه ډیرې پوښتنې وکړې، یو ډول تهدید امیزه برخورد وو.

ملي امنیت ته یې وغوښتلم، د سفر، ملگرو او طالبانو اړوند یې ډول ډول پوښتنې کولې.

ښاغلي بختیار وویل چې ما هم هرڅه ربښتیا ربښتیا ورته وویل، او نور به په ژوند کې هم د امریکا سفارت خواته ورنه شم.

هغه وویل چې زموږ د ټلویزون اداري راڅخه وغوښتل چې طالبان دي بیرته زموږ ټلویزون ته خپلې خبرپاڼې او خبرونه را استول پیل کړي.

دا ډول د ټلویزون اداري وغوښتل که ممکن وي چې د قطر د سیاسي دفتر مشر او یا کوم غړی ورسره مرکه وکړي.))

ښاغلی سهیل شاهین په دوحه کې څو ځله د ملگرو څخه وغوښتل چې خپل د موبایل نمبرونه ورته ورکړي.

ښاغلي بختیار داکار ونه کړ، ویې ویل چې کله کابل ته ولاړم بیا به ځانگړی نمبر تاسي ته راولیږم.

بختیار ته مې د سهیل شاهین نمبر ورکړ، او سهیل شاهین ته مې د بخیتار نمبر ورکړ.

لږ وروسته یې خبرې شوې وي، ښاغلي بختیار پورته دوه غوښتنې ورڅخه کړې وي.

ښاغلي سهیل شاهین یې لـومړۍ غوښـتنه پـه موقـت ډول ورسره مـنلي وه، او د دوېمې اړوند یې ویلي وو چې په راتلونکې کې به پرې بحث کوو.

میرویس ستانکزي ته هم د ډسمبر پـر ۱۱مـه د مـلي امنیـت د خپرونـو څـانګې څخه ټلیفون شوې وو، هغه یې غوښتی وو چې د قطر سفر پـه اړه ورڅخـه پوښـتنې او معلومات ترلاسه کړي.

دا ډول یې اسد وحیدي تـه هـم ټلیفـون کـړی وو چـې د مـلي امنیـت د خپرونـو څانګې ته ورشي.

میرویس ستانکزی ورغلی وو، د استخباراتو د خپرونو څانګې مشر صـدیقي ورتـه ویلي وو چې څو نفره قطر ته تللي واست، هغـه ورتـه ویـلي وو چـې مـوږ ٦ تنـه وو، صدیقي ورته ویلي وو چې نه، تاسي څلور تنه واسـت، دوه تنـه (ځلانـد او مطمـئن) درسره طالبان تللي وو.

اسد وحیدي تر پایه هم د ا ستخباراتو دغې څانګې ته ورنغلی.

## د ناستو اړوند د طالبانو رسمې راپور

د ډسمبر میاشتې پر اوومه نیټه په ټولنیزو رسنیو کې د طالبانو لخوا د قطر د لیدنو اړوند خپور شوی راپور ډېر لیدل کیدی.

د طالبانو پر رسمې پاڼه الاماره هم راپور خپور شوی وو، اصل کې د ځلاند لخوا چې د طالب استازو سره د ناستو اړوند کومې لیکنې خپرې شوې وي، طالب استازو به ویل چې زموږ له خبرو څخه باید سم افهام وشي.

د ښاغلي ځلاند د دویمې ورځې لیکنه جنجالي وه، د نومونو په برخه کې تیروتنې، د بدخشان د معادنو اړوند ځینې جملې، همدا ډول د لویې جرګې یادونه پکې شوې وه.

ښاغلي سهیل شاهین ځلاند ته وویل : (( موږ ستاسي پر لیکنو نیوکه نه کوو، او نه هم کومه ځانګړې غوښتنه په دې اړه ستاسي څخه لرو، ولي په لیکنه کې که لږ دقت وشي، دا به ښه وي.))

د ډسمبر پر دویمه ورځ، له بحر څخه د بیرته راګرځیدو پرمهال ما ښاغلي سهیل شاهین ته وویل چې دا ملګري به هر یو لیکنې کوي، د مختلفو زاویو به شوې مجالسو ته ګوري، خپلې تبصرې او ورانديزونه به په لیکنو کې ځای کوي. مګر داپه دې معنی نه ده چې زموږ د ملګرو لیکنې ستاسي رسمي نظریات دي، که تاسي غواړئ چې د لیدنو کتنو پرمهال د مجلس د جزیاتو اړوند له سوء تفاهم څخه مخنیوی شوی وي، تاسي هم د یادو مجالسو اړوند لیکنه وکړئ، هغه به د رسنیو لپاره رسمي ماخذ وګڼل شي.

د طالبانو هغه لیکنه چې د دوی په رسمې ویب پاڼه الاماره کې خپره شوې، کټ مټ یې ستاسي مخ کې ږدم.

## د ګران هیواد نامتو شنونکو او ژورنالستانو سره د ا.ا.ا. امارت د سیاسي دفتر د هئیت ناسته

## ۲۰۱٦/۱۲/۰۷

محمد سهیل شاهین

د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي دفتر ویاند

د ۲۰۱٦ کال د نومبر د میاشتې له ۲۸ نیټې څخه د ډسمبر تر ۳ نیټې پورې د ګران هیواد نامتو شنوونکي او ژورنالستان لکه محترم فیض محمد ځلاند، محترم نظر محمد مطمئن، محترم اسدالله وحیدي، محترم عبداللطیف نظري، محترم شاپور بختیار او محترم میرویس ستانکزی د اسلامي امارت سیاسي دفتر سره د لیدنې لپاره دوحې ته راغلل. هدف دا و چې له دوی څخه مستقیماً د دوی اندیښنې او نیوکې واورو او دوی هم زموږ اندیښنې او نیوکې واوري.

افغانستان د ټولو افغانانو مشترک کور دی. د افغانستان هر اصیل وګړی د هیواد ښیګڼه غواړي. همدا شان د هیواد خپلواکي او د اسلامي اصولو لاندې ژوند کول د هر افغان مسلمان غوښتنه ده. لاکن پټ لاسونه غواړي د غلطو افواهاتو او د تحریف شویو معلوماتو په خپرولو سره د امارت او نورو افغانانو په تیره بیا د روڼ آندو افغانانو ترمینځ مصنوعي دیوالونه جوړ کړي. د اسلامي امارت هدف په افغانستان کې د اشغال خاتمه او د اسلامي نظام جوړول دي. سوکاله او ښیرازه افغانستان د اسلامي امارت هدف هم دی او د ولس هم او د همدې مقصد لپاره یې په دې وروستیو کې د ملي پروژو د ساتنې لپاره یوه اعلامیه خپره کړه. البته دا ضروري ده چې دا پروژې د عمومي ښیګڼې لپاره وي او د اسلامي امارت اصول رعایت کړي.

موږ غواړو د هیواد علمای کرامو، روڼ آندو، مشرانو، سیاسیونو او لیکوالانو سره لیدنو ته دوام ورکړو. د هغوی نظریاتو ته غوږ کښیږدو. هر هغه څه چې د هیواد د اسلامي او ملي مصالحو لپاره وي، په هغه عمل وکړو. دا یوه دوامداره پروسه ده چې د ولس په ګټه او خیر یې بولو.

موږ د کابل نه راغلیو درنـو میلمنـو سره څلـور غونـډې درلـودې. لـومړی ورځ تعـارفي غونډه وه. په نورو دوو غونډو کې د اسـلامي امـارت د ټـاکلي هئیـت او د راغلیـو میلمنـو ترمینځ آزاد بحث وشو. اجنـدا بانـدې محـدودیت نـه و. هـر یـوه کـولی شـول چـې هـره مسئله د بحث لپاره مطرح کړي او یا کومه پوښتنه چې لري وړاندې یـې کـړي. څلورمـه اختتامیه غونډه وه چې د سیاسی دفتر مشر او اعضاوو راغلو میلمنو ته مخه ښـه وویلـه. په عمومي ډول دغه لاندني موضوعات تربحث لانـدي راغلـل. پـه مجلـس کـې خـبرې تفصیلي شوي، خو موږ دلته د سیاسي دفتر د ټاکلي هئیت د ځوابونو لنډیز را اخلو :

### ۱. په افغانستان کې د خارجي اشغال په هکله

اشغال په افغانستان کې د جګړې جرړه تشکیلوي. ترڅو چې په افغانستان کـې اشغال موجود وي، جګړه به دوام کوي دا ځکه چې د خارجي عسکرو په موجودیـت کې موږ ازاد او خپلواک نظام نشو درلـودلای، هـدف د اشـغال خاتمـه او پـه ګـران هیواد کې د اسلامي نظام جوړول دي. هر هغه څـه چـې د هیـواد د پرمختـګ او د ولس سوکالی پکښې نغښتي وي نه دا چې اسـلامي امـارت یـې مخالفـت نـه کـوي بلکې دې ته ژمن دی چې ساتنه یې هـم وکـړي. د اسـلامي امـارت قـوت لـه ولـس څخـه راټـوکیږي. د امـارت اعضـا د همـدې ولـس زامـن دي. نـو دوی د ولـس روا غوښتنو ته چې د اسلامي اصولو سره سمون ولري، د عملي کولو کلکـه اراده لـري. یرغلګر او د کابل اداره غواړي چې په اصطلاح اوبه خـړې کـړي او ماهیـان ونیسي- هر ډول تورونه په امارت لګوي. خو امارت غواړي چې خپل ولس ته او د ملت ټولـو رونې آندو ته لکه چې پورته وویل شول، خپل اهداف واضح کـړي ترڅـو د امـارت پـه خلاف د تورونو او د امارت د اهدافو ترمینځ کرښـه واضـح شي او پـه دې برخـه کـې ابهام پاته نشي.

### ۲. د ملکي تلفاتو په هکله

ملکي تلفات د اسلامي امارت لپاره هم د اندیښنې وړ دي. که څه هم متأسـفانه

په جگړه کې کله کله ملکي تلفات رامینځ ته کیږي خو اسلامي امارت د ملکی تلفاتو د مخنیوي لپاره د نظامي کمیسون د ننه د ملکی تلفاتو با صلاحیته اداره جوړه کړې ده، دغه اداره د هیواد په ټولو ولایتونو کې کارکوونکي لري، د ملکی تلفاتو هر پیښه ثبتوي، د پیښې ځای ته ورځي، د پیښې د قربانیانو او د دې پیښې د عاملینو نومونه له ځان سره په جلا یاداښت کې لیکي او بیا هره میاشت د نوموړو پیښو په هکله ټول معلومات د راپور په بڼه کې خپروي. که څوک د اسلامي امارت په لیکو کې د ملکي تلفاتو مرتکب شي، هغه په گوته کوي او تحقیقات ورځنې کوي او د اسلامي امارت نظامي محاکمو ته یې راجع کوي. خو هغه کسان چې د کابل د ادارې د عسکرو او یا یرغلگرو له خوا په ډرون او بمبار کې شهیدان شوي، هغه پیښې د امارت په الیکترونیکي او چاپي خپرونو له لارې نشر ته سپاري. په دې برخه کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر هئیت د راغلیو میلمنو اندیښنې او وړاندیزونه واوریدل چې د ملکي تلفاتو ادارې سره به یې شریک کړي. د ځینو نورو پیښو په هکله دوی د اسلامي امارت توضیحات واوریدل. همدا شان یې د ملکي تلفاتو په هکله د کابل ادارې او یرغلگرو له خوا د شویو تلفاتو په باره کې زموږ اندیښنې واوریدلې.

### ۳. د سولې په هکله

سولې ته رسیدل د اسلامي امارت هدف دی. د همدې هدف لپاره یې په دوحه کې د سیاسي دفتر میشت کیدو ته اجازه ورکړه. لکن لومړی باید د سولې په وړاندې خنډونه معلوم شي لکه په گران هیواد کې خارجي اشغال، د واقعي اسلامي نظام نه شتون، بې عدالتي، د قدرت انحصار وغیره. سوله باید پروژه نه وي باید هدف او ستراتیژي وي. دوهم که د سولې لپاره جدت موجود وي نو باید د اسلامي امارت اعضأ له تورلیست څخه وایستل شي، سیاسي دفتر خلاص شي او امریکا د اشغال د خاتمې لپاره خبرو ته کښیني. خو که د سولې په وړاندې اصلي

خنډونه له پامه غورځول کيږي او سوله د ولس د موقتي قناعت لپاره د يوه شعار لپاره استعماليږي نو دغه ډول برخورد د سولې هدف اوړدوي او لا پيچلي کوي. اميد دی چې ټول ولس دې ته متوجه شي او په ګډه کار وکړي.

**۴. د کوکنارو د کښت او قاچاق په هکله**

د امارت د پيل نه مخکې د کوکنارو کښت او قاچاق په افغانستان کې موجود و لکن استعمال يې کم و. اوس يې کښت هم زيات شوی او استعمال هم. کله چې اسلامي امارت جنوبي سيمې ونيولې نو هغه مهال هم د کوکنارو کښت موجود و لکن زموږ مشر عاليقدر اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د کوکنارو په کښت او قاچاق مکمل بنديز ولګاوه. د اسلامي امارت پاليسي اوس هم هماغه پاليسي ده، په هغه کې بدلون نه دی راغلی؛ خو موږ وينو چې د اشغال نه وروسته د کوکنارو کښت او قاچاق ورځ تر بلې زياتيږي. اوس چې د افغانستان ځمکه او فضا د خارجيانو په لاس کې ده لکن بيا هم قاچاق تر سره کيږي. د کابل اداره چې ځان ته حکومت وايي، مسئوليت لري چې په هيواد کې د مخدره موادو د قاچاقو مخه ونيسي او د عائد بديل رامينځ ته کړي.

**۵. د تعليم په هکله**

اسلامي امارت په هيواد کې د تعليم مخالف نه دی. د امارت ټولو مشرانو په خپلو اختريزو پيغامونو کې د تعليم په اهميت ټينګار کړی. له مجاهدينو څخه يې غوښتي چې د اسلامي امارت تر لاس لاندې ساحو کې د ديني او عصري تعليم لپاره زمينه برابره کړي. د اسلامي امارت په وخت کې هم سره د دې چې د اسلامي امارت مالي توان کمزوری و، ټول پوهنتونونه فعال و، حتی محصلينو ته د طالبانو په نسبت زيات مصارف ورکول کيدل. اسلامي امارت د شرعي اصولو سره سم د ښځو له تعليم سره مخالفت نه لري خو بايد شرعي پرده رعايت کړي. د ښوونځيو سوزول او يا ورانول د نورو پټو لاسونو کار دی. اسلامي امارت په کراتو

دغه ناوړه عمل په اعلامیو او بیانیو کې غندلی دی.

### ٦. د بیان د آزادی په هکله

په حقیقت کې د بیان د آزادۍ اخذ د اسلام له مبارک دین څخه شوی دی. په ساده ټکو کې مطبوعات د یوې ټولنې د سترګو، غوږونو او ژبې په شان دي. مطبوعات هم لیدل کوي او هم اوریدل او بیا دغه معلومات ټولنې ته رسوي. د رسنیو کار د حکومت نیمګرتیاوې په ګوته کول دي. په حدیث شریف کې راغي چې تر ټولو لوی جهاد د ظالم حاکم په وړاندې د حق خبره کول دي. دا د رسنیو کار دی چې خلکو ته حقایق وړاندې کړي خو د شریعت او نړیوالو قوانینو په رڼا کې رسنې څه اصول هم لري چې باید رعایت یې کړي لکه.

اول: رسنۍ به د ملي منافعو خلاف کار نه کوي.

دویم: ملي اسرار به نه افشا کوي.

دریم: د هیواد د استقلال خلاف به ګام نه پورته کوي.

څلورم: د مذهب خلاف به نه وي.

څنګه چې افغانستان یو اسلامي هیواد دی نو دلته باید رسنۍ د اسلام خلاف څه ونه وایی. بل دا چې رسنۍ باید څه وکړي نو:

لومړی: باید د خلکو د حقوقو څخه دفاع وکړي.

دویم: ملي مصالح په نظر کې ونیسي.

دریم: د بادشاه یا حاکم هغه نیمګرتیاوې چې د ملت په برخه کې یې تر سره کړې، هغه باید ښکاره کړي خو شخصي اړخ یې ښکاره نه کړي.

دا و د ګران هیواد ځینو پیژندل شویو شنوونکو او ژورنالستانو سره د سیاسي دفتر د ټاکلي هئیت د خبرو لنډیز چې په پورته ډول ولیکل شو.

## د امریکا سفارت کې غرمنۍ

له افغان دولتي ادارو او چارواکو مخکې زموږ له ډلې سره د امریکا سفارت لخوا اړیکه ونیول شوه.

د ډسمبر پر ۵مه ۲۰۱٦ د امریکا سفارت د افغان کارکوونکي لخوا لومړی ښاغلي ځلاند ته ټلیفون او بیا یې له خپل رسمي بریښنالیک څخه د ډسمبر پر ۸مه د ناستي غوښتنه کړې وه.

د ډسمبر اتمه د پنجشنبې ورځ وه، په پنجشنبه او جمعې ډیر وخت ختمونه، ودونه او د دوستانو لیدنې وي.

داخل د افغان مدرسې د ۷۱ تنو حافظانو د پګړۍ تړلو مراسم هم په همدې ورځ وو، ۴۰ داسي حافظان چې له پېل تر ختم یې په افغان مدرسه کې حفظ کړي وو، او ۳۱ نور بیا هغه حافظان وو چې له نورو مدرسو همدلته ورته راغلي او حفظ یې بشپړ کړی وو.

زه باید همدې د حافظانو د پګړۍ تړلو غونډې ته ورغلی وای، د مدرسې بنسټ ایښودونکی ملاعبدالسلام ضعیف دی، او ماته هم بلنه راکړل شوې وه، که بلنه وای یانه، باید هلته تللی وای.

افغان مدرسه کې د حافظانو د دستاربندۍ په زړه پورې مراسم نیول شوي وو، د علماوو د تقریر اوریدل په زړه پوري وو، هیڅ مې زړه نه کیدی چې را ولاړ شم، ولي دا هم یو لوی مسؤولیت وو چې امریکایانو ته د افغانانو غوښتنې او اندیښنې مخامخ ورسوو.

له ښاغلي ضعیف څخه مې پر ۱۰:۱۵ سهار اجازه وغوښتله او ورته مې وویل چې نن امریکا سفارت کې موږ مجلس لرو، هغه هم اجازه وکړه.

د زنبق څلور لارې سره نږدې ډاکټر فیض محمد ځلاند ، استاد اسد وحیدي او زه سره ملګري شوو، سفارت ته د ننوتلو لومړي کنټرول ځای کې زما د نوم اړوند

چې د سفارت لخوا تخلص لیکل شوی وو، او زما د افغان پوهنتون کارټ کې یوازې نوم پرته له تخلص څخه لیکل شوی وو، موږ وځنډیدو، د سفارت افغان دري ژبي ملګري ځو ځله ډاکتر فیض محمد ځلانداو استاد اسد وحیدي ته وویل چې تاسي ولاړشئ، موږ د مطمئن د نوم تصحیح امنیتي کسانو ته بیرته ورلیږو، او لږ وروسته به درشو، مګر ډاکتر فیض محمد ځلاند ورته ویل چې موږ ګرده یوځای ځو، لږ وروسته میرویس ستانکزی هم راغی، بیا هم د سفارت افغان کارکوونکي له سفارت سره تر پرله پسې رابطو وروسته وویل چې د مطمئن نوم تصحیح باندي کار روان دي، تاسي درې نفره درځئ. مګر په موټر کې دننه ملګرو پریکړه وکړه که چیرته د مطمئن نوم کې مشکل وي او هغه مجلس کې نه وي، نو وبه غواړو چې کومه بله ورځ له سفارت سره مجلس وکړو. همدا پریکړه وشوه.

د سفارت افغان کارکوونکی بیاځل راغی او غوښتنه یې وکړه چې دوی درې تنه دې سفارت ته ننوځي، مګر ډاکتر فیض محمد ځلاند ورته وویل : (( که د مطمئن د نوم ستونزه حل شي، ښه ده، که نه وي کومه بله ورځ به بیا مجلس ته په ګډه راشو، هغه یې پوه کړ چې د مطمئن په نه شتون کې مجلس نه کوو.))

عبداللطیف نظري ته هم ډاکتر فیض محمد ځلاند ټلیفون وکړ، غوښتل یې چې هغه هم پوه کړي چې که ټول یوځای نه وو، له مطمئن پرته مجلس ته نه ځو، کله چې د سفارت کارکوونکی پوه شو چې پرته له مطمئن څخه دوی سفارت ته نه ورځي، ښاغلي ځلاند د خپل موټر مخ هم د سفارت دروازې څخه شا لورته وګرځاوو، د سفارت د امنیتي کسانو او افغان کارکونکي لخوا څخه په پرله پسې ډول نارې وې چې موټر راوګرځوئ، راځئ.

هغه ډول چې فکر کیدی، زموږ تلاشي یې ونه کړه، موټر مو ورته پریښود، دروازې خلاصې، موږ یې یو بل ځای ته ننویستلو هلته انتظار وو، لږ وروسته یې وویل چې راځئ موټر ته وخیږئ، همدا تلاشي خپله بهرنیانو کوله.

د امریکا سفارت/کونسلګرۍ د ودانۍ مخ کې مو موټر ودراوو، ودانۍ ته داخیلدو سره په لاره کې د کنټرول بریښنایي دروازه وه، هلته ورځخه تیر شوو، او له دروازې وتلو وروسته افغان کارکوونکی ولاړ وو، ومې ویل چې نورو ملګرو ته تم کیږو، هغوی هم راووتل، هلته د امریکا د پرمختیایي پروګرام USAID افغان کارکوونکی هم راغی، هغه ډاکتر فیض محمد ځلاند سره خبرې کولې، او بیا یې ماته وویل چې لیکنې دې لولم، فیسبوک کې دې هم تعقیبوم.

اوس نو ښاغلی کوین کانر د عامه اړیکو د ویاند مرستیال هم دلته له موږ سره ولاړ وو، هغه وویل (( په ټوله نړۍ کې د امریکا لوی سفارت په کابل کې دی.))

د کوین هدف دا وو چې وښیې چې امریکا ته د افغانستان اهمیت ډیر زیات دی.

ما (لیکوال) ورته وویل چې په زړه پوري ده، یو وخت د پخواني شوروي اتحاد سفارت هم د نورې نړۍ په پرتله دلته په افغانستان کې ډیر لوی وو.

زما له خپلې خبرې هدف دا وو چې روسان هم تر تاسي امریکایانو مخکې په دې نیت راغلي وو چې دلته لوی سفارت ولري او افغانستان تر خپل واک لاندې راولي خو ونه توانیدل، که تاسي هم هر څومره لوی سفارت ولرئ، افغانستان به ستاسي تر واک لاندي رانه شي.

ورزیاته مې کړه چې موږ پوهیږو چې افغانستان مهم دی ځکه د امریکا او روسیې لوی سفارتونه شتون لري.

لږ وروسته ټیري ډیویډسون د عامه اړیکو مشر/کونسلر هم راغی، له لنډ پیژندګلوي وروسته یې موږ د سفارت/کونسلګرۍ ودانۍ ته دننه کړو، داچې له لونګۍ سره ننوتلی وم، هلته د سفارت په رسټورانټ کې بهرنیان هم ناست وو، ځینو یې کتل، میرویس ستانکزي ویل چې دوی خو درته ګوري، ومې ویل چې هو! ښه ده چې حساسیتونه کم شي، دا جامه زموږ سمه جامه ده، ترهګر نه یو.

موږ قابونه راواخیستل او هر ملګري د خپل خوښې خواړه اخیستل، یو افغان ولاړ

وو، او کاچوغه په لاس هر ملګري ته یې د هغه د خوښې ماهی، وریجې او یا بل کوم څه اچول. ماسره یې په پښتو ژبه د خولي روغبړ وکړ، ممکن پېژندلی به یې یم، ومې ویل چې کوم ښه خواړه دي، هغه ماهي ته اشاره وکړه، او دوه ښې ټوټې یې زما قاب کې راته واچولي، ما لیدل چې نورو ته یې یوه ټوټه په قاب کې اچوله.

دویم منزل کې زموږ لپاره ځانګړی میز انتخاب شوی وو، د میز پر سر د هر ملګري نوم پر کاغذ لیکلي وو، دوه نور امریکایان هم راغلل، ټول څلور شول. څلور افغانان وو، فکر کوم له هر امریکایي سره همکار افغان هم دلته ناست وو، یوه امریکایي یې له لومړي سره ماته ډیر په ځیر ځیر کتل، او زما مخامخ ناست امریکایي فکر کوم د دوی د ځانګړو استخباراتو کس به وو.

زموږ مجلس له ټاکلي وخت یو ساعت وروسته ځکه پیل شو، چې په دروازه کې زما د تخلص ستونزه وه، په ۱۲:۳۰ بجې د ورځې مجلس پیل شو.

د امریکا سفارت د ټولنیزو چارو Public Affairs مشر ښه راغلاست ووایه، او ویې غوښتل چې زموږ خبرې واوري.

تر ټولو لومړی ښاغلي فیض محمد ځلاند د نورو ملګرو په مشوره خبره پیل کړه، هغه په قطر کې د لیدنې او طالبانو سره د سولې اړوند، ملکي وژنو د کموالي، بیان ازادي، د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش په اړه خبرې وکړې، د طالبانو څرګندونې یې په لنډ ډول سره ورته وویلې.

ښاغلي میرویس ستانکزي وویل : (( طالبانو د سولې لپاره خپل وړاندیزونه او چمتووالي وښود، هغوی د امریکا د نظامي حضور مخالف دي، طالبان وایي که امریکا د خپلو پوځیانو مهالویش وښیې، طالبان به هم له جګړې لاس واخلي او بین الافغانی تفاهم ته به زمینه برابره شي. ستانکزي زیاته کړه، موږ غواړو چې د امریکا دریځ په دې اړه واورو.))

ډیوډسون چې د همدې ناستې مشرې یې کوله وویل: (( موږ ډیپلوماټان یو،

ستاسي نظرونه اورو، او بيا يې د بهرنيو چارو وزارت کې خپلو مشرانو ته رسوو، موږ ستاسي لپاره سمدستي ځواب نه شو ويلای.))

په کابل کې د امريکا سفارت له کارکوونکو څخه زموږ تمه تر دي ډيره لوړه وه، موږ هيله درلودله چې کيدای شي د افغانستان د سولې اړوند له دوی څخه کوم پيغام ترلاسه کړو، ولي هغه کار ونه شو، يوازي يې زموږ خبرې واوريدي او له خپل لوري څرګندونو کې يې له پوره احتياط څخه کار اخيست.

ډيوډسون وويل چې طالبانو کوم ځانګړي پيغام درلود:

ما ليکوال ورته وويل :

طالبانو ډير ښکاره پيغام افغان او امريکايي ولس او دا ډول د امريکا حکومت ته درلود:

لومړی: طالبانو په ښکاره ډول سره ويل چې امريکا بايد د خپلو پوځيانو لپاره محدود مهالويش له تضمين سره اعلان کړي. تر څو بين الافغاني مذاکراتو ته لاره هواره شي، که امريکا د پوځيانو د وتلو مهالويش اعلان کړي، موږ طالبان به سمدسي اوربند او له افغان لوري سره د سولې مذاکرات پيل کړو.

دوېم: د بيان ازادي د هرچا حق دی، مګر د بيان ازادي کې بايد اسلامي شعايرو ته پام وشي، نصوص (قران او سنت) ته پکې توهين ونه شي. دا ډول د بانفوذه علماوو، شخصيتونو لپاره پکې توهين او د هغوی سپکاوی ونه شي. مذهبي، ملي، کلتوري او قومي دودونو ته پکې درناوی وي.

دريم: د نشه يي توکو په اړه زموږ پخوانی دريځ دی، او که موږ وتوانيږو، موږ کوکنار په ټولو سيمو کې بندوو، داچې اوسمهال د حکومت تر کنټرول لاندي سيمو کې د کوکنارو کرکيله کيږي، ستونزمنه ده چې اوسمهال موږ په ولس دا ومنو چې د کوکنارو کښت بند کړي.

ور زياته مې کړه، چې موږ افغانان نه غواړو چې د امريکا له ملت سره دښمني دوامداره وساتو، موږ غواړو چې د امريکايي او افغان ملتونو همکاري يو له بل سره

په راتلونکې کې دوام ولري، حکومتونه ستونزې جوړوې، مګر ډاډه یو چې ملتونه بیا داسې نه دي.

که له افغانستان څخه د امریکا پوځیان ووځي، بیا موږ نور له امریکایانو سره دښمني نه پالو، موږ غواړو چې امریکایان او نړیوال زموږ سره ډیپلوماتیک اړیکې وساتي، د پوځیانو پرځای له موږ سره په پوهنه، زراعت او د معدنو په استخراج کې مرسته وکړي.

امریکا سره جګړه د طالب نه ده، د افغان ولس جګړه له امریکا سره روانه ده، که طالبان یوازې وای، هغوی دومره زیات نه دي، هغوی ممکن اوس ختم شوې وای، مګر همدا ولس دی چې له امریکا سره جګړه کوي، او د ولس ماتول او له منځه وړل ناشونی دی.

تاسې امریکایان هم همداسې یاست که د کوم بل هیواد پوځیان ستاسې هیواد ته درشي، د امریکا ملت یې نه شي زغملای، او موږ افغانان نه یوازې امریکایان، که هر بهرني وسلوال که مسلمان یا غیرمسلمان وي چې د افغانستان اېل کېدل وغواړي نه یې شي منلای.

تاسې (امریکایانو) ته افغان دولتي او امریکاپلوه کسان ناسم معلومات درکوي، او د همدې ناسمو معلوماتو پر بنا تاسې هم ناسمې پرېکړې کوئ.

زه ډېر خوشاله یم چې تاسې نن موږ ته بلنه راکړې، تر څو د افغان ولس ږغ درته ورسوو، او حقایق درته ووایو، په افغانستان کې د امریکا له پوځي شتون سره افغان ولس مخالف دی، په جګړو او په زور کارولو سره دغه شتون نه شي ساتل کېدای.

کاش تاسې پخوا هم ځینې داسې کسانو سره ناستې درلودلای چې هغوی تاسې ته حقایق ووایي، او ستاسې په خاطر درته خوږې خبرې او ستاسې د پوځي شتون اړتیا ونه وایي.

دا جګړه ګټونکی نه لري، او نه يې هم ګټلای شئ، دا دی اوباما[1] هم وويل چې طالبان نه شي ماتيدای، ښه دا ده چې د جګړې پرځای د سولې او ډيپلوماسي ستراتيژي مخکې يوړل شي.

يوه بله ستونزه دا ده چې د جګړې يو اصلي اړخ تاسي امريکايان ياست، او دا جګړه تاسي پيل کړي، که په سم ډول او مسؤوليت سره يې ختمه نه کړئ، دا جګړه افغان دولت نه شي ختمولای او نه يې ګټلای شي، که تاسي د دربيمګړی رول[2] لوبول غواړئ، دا سمه نه ده.

طالبان وايي چې موږ هيڅا سره دښمني نه پالو، له ټولې نړۍ سره ښې اړيکې غواړو، نړيوال بايد له موږ افغانانو سره په بيارغونه، او د ملي پروژو په پلې کولو کې مرسته وکړی، د پوهنې په برخه کې طالبانو وويل چې مختلط نظام به نه وي، موږ د ميرمنو د زده کړې مخالف نه يو، دا ډول د ميرمنو او کوچنيانو حقونو ته د افغان کلتور په مراعتولو سره ژمن يو.

---

[1] د ۲۰۱٦ز. کال د ډسمبر پر ۷مه نيټه بهرنيو رسنيو د امريکا ولسمشر اوباما هغه خبرې خپرې کړې چې د ډسمبر پر ٦مه يې د پوځيانو يوې غونډې ته کړې وې. اوباما ويلي وو: موږ طالبان مات نه کړلای شوای.

[2] کله چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو خبره کيږي، طالبان وايې چې موږ د جګړې د ختميدو او سولې اړوند خبرې مخامخ له امريکا سره کوو، امريکايې چارواکې وايې چې طالبان بايد له افغان حکومت سره د سولې خبرې وکړي، موږ د افغانستان په کورنيو مسايلو کې کار نه لرو. حال داچې په افغانستان کې د امريکا له خوښې پرته افغان چارواکې د لويو پريکړو واک نه لري. ښه مثال يې د باګرام زندان څخه د زندانيانو د خوشي کيدو خبره ده، د حامد کرزي وخت کې ۸۴ بنديان چې دوسيې يې فيصله شوې وې، بايد خوشي شوي وای، مګر امريکايانو له باګرام زندان څخه خوشي نه کړل.

اوسنی د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ګډ حکومت هم د جان کيري په وساطت جوړ شو. او کله چې په ۲۰۰۹ کال کې د حامد کرزي او ډاکټر عبدالله ترمنځ په ټاکنو کې د درغليو اړوند نانډرۍ رواني وې، بيا هم د امريکا د بهرنيو چارو وزير جان کيري د دوی ترمنځ ستونزه حل کړه.

په تیرو ۱۵ کلونو کې طالبانو سره زموږ ناسته بې ساري وه، طالبانو ممکن کله هم په دومره وضاحت او تفصیل سره له نورو کسانو سره مخکې له دي دا ډول ناستې نه وي درلودلي، لومړی ځل دی چې طالبان مخامخ د ژورنالستانو او شنونکو اندیښنو او پوښتنو ته ځواب وایي، لومړی ځل دی چې طالبانو سره د مجلس اړوند لیکنې رسنیو ته ورکول کیږي، او لومړی ځل دی چې طالبان هم د ناستې په اړه په رسمې ډول په خپله پاڼه (الاماره) کې د دې ناستو د خبرو لنډیز خپروي.

موږ په رښتنې ډول داسي کسان وو چې د جګړې په کمیدو او سولې ته رسیدو مو ټینګار کړی او کوو یو، غواړو چې د جګړې ټغر له هیواده ټول شي. موږ نه وایو چې موږ به سوله راوستلای شو، بلکې د ښکېلو لورو پیغامونه به په صداقت سره یو بل ته ورسولای شو.

ومې ویل چې طالبانو افغان ولس او امریکا ته پیغام درلود، موږ غواړو چې ستاسي څخه هم ورته پیغام واورو، که تاسي یې واک نه لرئ راتلونکي مجلسونو کې یې تمه ده چې په اړه څه درڅخه واورو او په دي برخه کې مو ټینګار وکړ چې تاسي باید یو څه ولرئ.

نه پوهیږم چې زما خبرې به دوی ته څه ډول ښکاریدي، ولي ښکاریده چې خبرو ته یې په غور غوږ نیولی وو.

امریکایي کونر د بیان ازادي اړوند پوښتنه وکړه، ویې ویل : (( طالبان که د بیان ازادي ته ژمن وای بیا به یې ولي د طلوع ټلویزون په کار کوونکو برید کاوو.))

د طلوع ټلویزون له مشرانو سره تر ناستي وروسته زه (لیکوال) داسي فکر کوم چې ښاغلي بختیار به امریکایانو ته ویلي وي چې طالبانو د طلوع ټلویزون اړوند سختې څرګندونې درلودلې او د طلوع ټلویزون کارکوونکي یې د برید هدف دي.

ډاکټر ځلاند ورته وویل: (( طالبانو په ښکاره وویل چې دوی د بیان له ازادي، د رسنیو له خپلواکی سره ستونزه نه لري، ولي رسنی هم باید اسلامي، ملي او

افغاني ارزښتونه مراعت کړي. رسنۍ باید له تهمت لګولو او یو طرفه خبرونو او پریکړو څخه ډډه وکړي. د طلوع ټلویزون په اړه طالبانو له ښاغلي شاپور بختیار سره په تفصیل خبره وکړه، بخیتار صاحب هم وویل چې د طلوع ټلویزون سیاسي بحث (تودې خبرې) ګردې میز کې د کندز اړوند راپور چې طالبانو پر نجونو جنسي تیری کړی، موږ رد کړی.

دا دی په مشروط ډول طالبانو له طلوع ټلویزون څخه هغه بندیز لیری کړ چې خبرونه به یې ورته نه استول، له دي وروسته خبرونه او اعلامیې ورته استوي. که طلوع ټلویزون هم په خپلو تګلارو کې سمون راولي، ممکن چې طالبان له هر ډول نظامي عمل څخه لاس په سر شي.))

داځل ډیوډسون د طالبانو او داعش ترمنځ د رابطې پوښتنه وکړه، او د طالبانو نظر یې په دي اړه وغوښت:

موږ باوري یو چې ښاغلی ډیوډسون تر بل هر چا ښه پوهیدی چې د طالبانواو داعش ترمنځ جګړې شوې او یو له بل سره سخت اختلاف لري، داچې د دوی ترمنځ د رابطې پوښتنه یې وکړه، زه پوه نه شوم چې هدف به یې څه وو؟

د سمون او بدلون د مدني ټولني مشر ښاغلي محمد نعیم روان راته وویل : (( ۲۰۱٦ ز. کال کې موږ د مدني ټولنو استازو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د استازولي دفتر (یوناما) له عمومي مشر نیکولس هایسم سره په ګردیز کې ناسته درلودله، هغه د همدې ناستي له پاره له کابل څخه راغلي و، موږ ته ویل شوې وو چې د ولسي جرګې په راتلونکو ټاکنو باندي بحث کیږي.

کله چې غونډه پیل شوه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر مشر- ښاغلي نیکولس هایسم تر ټولو لومړۍ پوښتنه داوه چې تاسي د داعش په اړه څه فکر کوئ؟ هغوی څومره قوي دي؟

ښاغلی روان وایې چې موږ د ملګرو ملتونو د دفتر مشر- ته وویل چې داعش

کومې وسلې کاروي، هغه په افغانستان کې پخوا نه دي لیدل شوي.

نیکولس هایسم پوښتنه وکړه چې تاسي څه فکر کوئ چې دا وسلي له کومه شوې، ښاغلي روان ورته ویلي و چې پرته له امریکا له بل چا سره به نه وي.

بیا نیکولس هایسم وویل چې دا ستا نظر دي او که د نورو خلکو هم دا ډول خبره ده، ښاغلي روان ورته وویل چې زموږ د کلي هر سړی په دي پوهیږي چې داعش د چا لخوا ملاتړ لري.

ښاغلی روان وایې چې غونډه همدومره وه، نه یې د ټاکنو خبره وکړه او نه هم کومه بله پوښتنه. نیکولس هایسم بیرته کابل ته روان شو، او له همدې مجلس وروسته بیا زه د مدني ټولنې په استازیتوب د ملګرو ملتونو دفتر لخوا کومې غونډې ته نه یم ورغوښتل شوی.))

دکتور عبداللطیف نظري ډیوډسون ته وویل: (( طالبان په دي نظر دي چې داعش افغاني ښکارنده نه ده، د بهرنیانو لخوا یې ملاتړ کیږي. نظري زیاته کړه چې عام افغانان په دي نظر دي چې داعش او په سیمه کې نورې ترهګرې ډلې د امریکا ملاتړ له ځانه سره لري، امریکا غواړي د همدې ډلو په واسطه خپلو ستراتیژیکو اهدافو ته ځان ورسوي. امریکا په سوریه کې جبهة النصرة، لیبیا کې د خپلواکي غوښتونکو ډلې، عراق او سوریه کې هم له ورته ډلو څخه ملاتړ کوي.

ورځ تر بلې له طالبانو سره د ولس ملاتړ زیاتیږي. ستاسي امریکایانو د ناسمو تګلارو له کبله موږ ولس د طالبانو ملاتړ ته اړ شوي یو او د طالبانو ملاتړ کوو، ځکه هغوی له ترهګرو ډلو سره په ربښتونې توګه جګړه کوي او نه غواړي چې افغانستان دې د بل چا تر واک لاندي وي.

طالبان د اشغال او د امریکا د پوځي شتون پر خلاف جګړه کوي، په دې برخه کې له طالبانو سره د ولس ملاتړ شته، د امریکا نظامي حضور دلته څوک نه شي منلای او زغملای. ))

ښه وو چې پورته خبرې د اهل تشیع د هزاره توکم څخه ډاکټر نظري ورته وکړې، که زموږ له ډلې کوم بل یوه دغه ډول سختې او ښکاره خبرې امریکایانو ته کړې وای، هغوی به سم له واره د طالب ټاپه پري وهلې وای.

هلته په مجلس کې دوه افغان هزاره وروڼه هم ناست وو، هغوی به ډیر ځله امریکایانو ته ویلې وي چې طالبان د یو ځانګړي قوم پورې تړاو لري، او طالبان د اهل تشیع او ځانګړي ډول هزاره توکم سره دښمني پالي، خو د ډاکټر عبداللطیف نظري خبرو چې د اهل تشیع  او هزاره توکم د اکثریت نظر دی، کیدای شي امریکایان هم له ډیرو پوښتنو سره مخ کړي وي، او د ځرګندونو په اړه به یې تر ډیر وخت پورې غور کوي.

ډیوډسون په ډیر قهرامیزه ډول د دکتور عبداللطیف نظري د نظر مخالفت وکړ. د دکتور عبداللطیف نظري خبرې پرې درنې تمامې شوې، هغه وویل : (( امریکا په افغانستان او نړۍ کې د ترهګرۍ ملاتړ او ننګه نه کوي، ځینې ډلې د امریکا په اړه درواغجن پروپاګنډ کوي، دا یوه پوچه ادعا ده چې  وایي امریکا د داعش ملاتړ کوي. هغه زیاته کړه، کیدای شي ستاسي معلومات نیمګړي وي.

که امریکا د داعش مرسته کولای، دلته له موږ سره نور ایتلافي  هیوادونه او ځواکونه هم شته، هغوی به کله دا منلي وای.))

مګر خلک په دي هم پوهیږي او داهم پټه نه ده چې امریکا په نړۍ باداري چلوي، او له دوی سره راغلي متحدین یې د کړنو مخالفت کله هم نه کوي.

ډیوډسون  وویل : (( موږ منو چې امریکایانو ته په افغانستان کې په ښه سترګه نه کتل کیږي، مګر طالبانو په نوښمه لسیزه کې ډیرې لویې تیروتنې وکړې، هغه هم افغانان نه شي هیرولای، طالبانو په جګړو کې ډیر افغانان وژلي نو ځکه افغانان ورځخه کرکه لري.))

امریکایان لا هم په تیروتنه کې دي، هغه کسان چې په رښتونې ډول افغان

ولس ورڅخه کرکه لري، دوی یې تر شا ولاړ دي او په افغان ولس یې د حکومت په بڼه کې تپلي دي.

ښه بېلگه یې د ولسمشر لومړی مرستیال عبدالرشید دوستم دی، چې د هر ډول جرمونو سربیره دادی اوس پرې د جنسي ځورونو تور هم لگیدلی دی، ولې بیا هم د امریکا په مرسته د هیواد دویم سړی دي، هغوی هم په واک کې دي چې د افغانانو په سرونو کې یې میخونه ټک وهل، ځینې نور مثالونه هم موږ لرو، د اوس لپاره یې د امنیتي ستونزو له کبله ذکر نه شو کولای.

ډاکتر فیض محمد ځلاند وویل : (( طالبان وایي چې داعش زموږ دښمن دی، او موږ ورسره جگړه کوو، د اچین مثال یې ورکړ، هغوی ویل چې داعش جنگیالي مو په نورو سېمو کې پسې واخیستل، مگر په اچین کې قومي خلکو له موږ څخه وغوښتل چې له سیمې څخه لیري شو، دوی ویل چې افغان ځواکونه راځي او له داعش سره جگړه کوي، موږ ورته سیمې په خپله خوښه پریښودې، کله چې افغان ځواکونه راغلل، هغوی د داعش سره هغه ډول چې ولس غوښتل جگړه ونه کړه، او تر دې چې داعش جنگیالي هغو سېمو ته هم راغلل چې پخوا له طالبانو سره وي، اوس د ولس خلک بیاځل له طالبانو غواړي چې د داعش په وړاندې یې ملاتړ وکړي. ځکه هغوی په دولت بې باوره شوې.))

ښاغلي کونر وویل : (( افغانستان کې موږ ډېرې پرمختیایې پروژې پلې کړي، د کجکي بند مو بیا ورغاوو، سړکونه مو جوړ کړي، پوهنتونونه مو رغولي، ښوونځي مو جوړ کړي، د بشري حقونو په برخه کې مو ډېر کار کړی، امریکا په ټوله نړۍ کې د انساني ارزښتونو، سولې او ثبات، امنیت راوستلو لپاره ژمنه ده، همدا زموږ امریکایانو لپاره لوړ ارزښتونه دي، او په دې برخه کې په ټوله نړۍ کې کار کوو.))

داځل امریکایانو د جگړې د ډگر د پرمختگ خبرې نه کولې، هغوی په ملکي برخه کې د خپلو مرستو یادونه کوله، د دوی له خبرو، نظرونو او ناسته کې له چلند

څخه ښکاريده چې په پټه خوله يې په افغانستان کې پـه نظـامي برخـه کـې خپلـه ماتې منلې ده.

ښاغلي کونر پوښتنه وکړه چې د حزب اسلامي او افغان حکومـت د سـولې اړونـد ستاسي نظر څه دی؟

ما (ليکوال) ورته ډير لنډ وويل چې د حزب اسلامي اړوند تـاسي پـه ټولـه کيسـه ښه پوهيږئ، وخت ته په کتلو سره پـه اړينـو موضـوعاتو بحـث کـوو، د حـزب سره د سولې مذاکرات زړه کيسه ده.

کونر وويل : You are very expert person

مفهـوم يـې داسي دی ( تـاسي ډيـري مسـلکې څرگنـدونې او خـبرې کـوئ) يـا داسي (تاسي ډير ځيرک/متخصص تن ياست)

او د حزب اسلامي د سولې مذاکراتو اړوند نور بحث هم ونه شو.

ډوډۍ ختمه شوه، ښاغلي ډيوډسن وويل ډير ښه آيس کريم لاندي شته، راځئ چې راوايې خلو، ملگري کښته پوړ ته ولاړل، ما يوه افغان ځوان ته وويل چې اودس او لمونځ کوم، هغه راسره مرسته وکړه، زه يې د سفارت/کونسلگرۍ ودانۍ کې هغـه ځای ته ورسولم چې هلته د اوداسه لپاره مناسب ځای وو، او په سـفارت کـې دننـه يو اطاق د لمانځه ادا کولو لپـاره د مسـجد پـه نـوم ځـانگړی شـوی وو، هلتـه پکـې مصلی وه، او په ډير ارام مې فرض لمونځ ادا کړ، دوه نور ځوانان پـه مسجد کـې او يوه هم اودس کاوو. مگر هغه ملگری چې زما لارښـوونه يـې کولـه ماتـه د مسـجد د باندې منتظر وو.

موږ يو گيلاس شين چای هم له ځان سره واخيست، زمـا ملگـرو زمـا برخـه آيـس کريم هم راته راوړی وو. مجلس پيل شو.

ډاکتر فـيض محمـد ځلانـد امريکايـانو تـه وويـل: ((کـوم ډول چـې د طالبـانو او روسيې د روابطو خبره کيږي، دا روابط دومره هم ټينگ او نږدې نه دي، روسيه لـه

دي څخه پوره ګټه پورته کوي.))

ځلاند رښتیا خبره ورته وکړه، ولي په کار دا وه چې د طالبانو او روسانو اړیکې ډیر مهم او نږدې ښودل شوي وای، حتی دا هم ویل شوې وای چې که امریکایي پوځیان له افغانستان څخه ونه وځي، کیدای شي روسان د طالبانو سره د الوتکو او چورلکو ویشتلو راکټونو کې مرسته وکړي، تر څو امریکایان متوجه شوې وای چې روسیه غواړي په افغانستان کې امریکایانو ته ستونزې لا زیاتي شي.

ځیني پټ داسي راپورونه هم ورکول شوې چې د نموني په ډول هوا ضد توغندي د روسانو لخوا طالبانو ته ممکن د ایران په واسطه ورکړل شوې وي، ځکه په پکتیا کې د امریکا ایف – ١٦ جیټ الوتکه د پرمختللي راکټ پواسطه را نسکوره شوې وه.

په دي کې شک نشته چې امریکا او افغان حکومت د طالبانو او روسانو نږدېوالی او اړیکو سخت وارخطا کړي دي، له خبرو او ګرګندونو یې له ورایه ښکاري چې اندیښنې لري.

ښاغلي ځلاند وویل : ((قطر کې چې موږ ناستې درلودلي هلته پکې د کوټې (رهبري) شورا ۴ تنه غړي وو، او زموږ سره یې په مجلسونو کې برخه درلودله. هغوی پر مسایلو پوهاوی درلود او واک او صلاحیت یې له همدې څخه معلومیږي.))

ما (لیکوال) پوښتنه وکړه چې د ډونالډ ټرمپ تګلاره به د افغانستان په اړه څه وي، هغه به د اوباما تګلاره پر مخ یوسي او که بدلون به ولري.

دا مې هم وویل چې موږ د ټرمپ په راتګ خوشاله یو، کیدای شي، نادر کارونه وکړي.

امریکایي ډیپلوماټانو بیا هم ډیر د سوداګری په برخه کې د مرستو، د رغوني او جوړیدني پروژو او پوهنې په برخه کې خبرې کولې، دوی په نظامي برخه کې په افغانستان کې د نظامي لاسته راوړنو څخه یادونه ونکړه، بلکې په ملکي برخو کې یې د امریکا د لاسته راوړنو خبرې کولې.

امریکـایي ډیپلومـاټ وویـل : (( د افغانسـتان کامیـابي د امریکـا کامیـابي ده، د سولې په برخه کې پرمختګ ته اړتیا ده، موږ تګلاره جوړونکي نه یو، ولي خپـل او د نورو وړاندیزونه تګلاره جوړونکو ته وړاندي کوو.

د ټرمپ بهرنۍ تګلاره راته نه معلومیږي، نه پوهیږو چې څـه ډول بهرنـۍ تګـلاره به غوره کړي. ښه دا ده چې ښي او کیڼ لورته نه بلکي مستقیمه تګلاره وي.

کولمبیا هیواد کې ۵۰ کاله مخکي جګړې وي، ستونزې وي، یو وخت زموږ لـوی سفارت هلته و، مگر اوس هغه امریکایانو پـري ایښـی دی، هلتـه سـوله ده، امنیـت دی، موږ امید لرو چې یو وخت سوله ییز افغانستان ولرو او دلته د بیارغوني کارونـه په ښه ډول سره روان وي.))

زما (لیکوال) د معلوماتو له مخې چې کیـدای شي د ټرمـپ اداره تـر ډیـره د بـې پیلوټه الوتکو بریدونه پر طالب مشرانو زیات کړي، او طالب مشران تـر بریـد لانـدي راولي، دا ډول شپنۍ چاپې به په افغانستان کـې زیـاتي کـړي، نـه ښـکاري چـې د سولې مخامخ خبرې دي له طالبانو سره پیل شي.

ښاغلي اسد وحیدي خبرې پیل کړي: (( موږ له طالبانو هم داسي پوښتنه وکـړه چې عام ولس وایي چـې جګـړه د امریکـا د ګټـو لپـاره ده، او د جګـړې د دوام ګټـه امریکا ته رسیږي، تر کومه به تاسي طالبان ورسره جګړه کوئ؟

تاسي ته هم وایو چې د افغان ولس عام ذهنیت د امریکا خلاف دی، اوباما وایي چې طالبان نه شو ماتولای.

داچې طالب په جګړه کې نه شي ماتیدلای، او د افغان ولس عام ذهنیت هـم د امریکا خلاف وي، اخر تاسي څه کوئ؟ کومه بله لاره هم شته؟ له افغان ولـس سره تاسي څه کوئ؟

موږ طالبانو ته هم وویل چې یو خبرې او ویل دي، بل ځمکنـي حقـایق دي، ځمکنـي حقایق له هغه سره توپیر لري چې په ځینو مسایلو کې تاسي یې وایاست، د ملکـې خلکـو

د مرگ ژوبلې مسئله او د پوهنې په ډگر کې په حقيقت کې ستونزې وجود لري.

تاسي ته هم وايو چې د امريکا پلوي او امريکا د خوښي رسنۍ هم نور د امريکا خلاف د افغان ولس ذهنيت نه شي پټولای، په بحثونو کې د امريکا خلاف ذهنيت نږدې په هر سياسي بحث کې ليدل کيږي.

په دغسي يو حالت کې د سولې لپاره عملا امريکا څه کوي؟ امريکا د جگړې يو اړخ دی. د بين الافغاني مذاکراتو اړوند هم کوم پرمختگ او يا کومه طرحه نشته.))

ښاغلي ځلاند ورزياته کړه: (( طالبان وايي چې زموږ د جگړې اصلي لوری امريکا ده، افغان حکومت د دوی لاسپوڅی دی. ))

ډيوډسون په لنډ ډول ډيپلوماټيک ځواب ووايه: (( نه غواړم دې مسئلې ته ډير ننوځم، موږ د افغان سولې مذاکراتو ملاتړ کوو. که طالبان د افغان حکومت سره د سولې مذاکراتو ميز ته کښيني او د سولې خبرو ته حاضر شي، امريکا د دغسي سولې مذاکراتو ملاتړ کوي.

افغان حکومت قانوني حکومت دی، او د سولې مذاکراتو پرمخ وړل د افغان حکومت حق دی.))

ډاکتر فيض محمد ځلاند وويل: (( افغان حکومت قانوني نه دی، قانون يې تر پښو لاندي کړی، دلته اساسي قانون ته درناوی نه دی شوی، د امريکا د بهرنيو چارو وزير جان کيري راغی او گډ حکومت يې جوړ کړ. اصل کې موږ کوم قانوني حکومت نه لرو. [1]))

امريکايي ډيپلوماټ وويل: (( که افغان حکومت قانوني نه وي، نو بيا ولي تاسي ورسره ناستې لرئ، ولي د امنيت شورا مشر محمد حنيف اتمر، د ملي امنيت مشر-

---

[1] دولسې جرگې رئيس ابراهيمي، لومړي مرستيال ظاهر قدير، ځينو وکيلانو او سناتورانو، د بلخ سرپرست والي عطاء محمد نور، ډاکټر انوارالحق احدي او نورو ډيری سياستوالو ځينې وختونه ويلي چې اوسنی حکومت قانوني يا مشروع حکومت نه دی. بلکې د جوړجاړي له مخې جوړ شوی دی.

معصوم ستانکزي له حزب اسلامي سره مجلسونه او د سولې مذاکرات درلودل؟))

ډاکترځلاند وویل: (( مجلسونه له هر چا سره کیدای شي، له حزب اسلامي سره د سولې پروسه کې هم ستونزې شته، او د امریکا نظر پکې شرط وو.))

ما (لیکوال) وویل چې د افغانستان په معاصر تاریخ کې دومره کمزوری حکومت نه دی لیدل شوی، ټاکنې وشوې، مگر د ټاکنو پر بنا حکومت جوړ نه شو، حکومت د جان کیري په خوښه جوړ شو، زموږ معلومات دا دی چې لومړیو ولسمشر-یزو ټاکنو کې گټونکي ډاکټر عبدالله عبدالله وو[1] ، مگر هغه ته واک ونه سپارل شو. او پوهیږو چې په ټاکنو کې لاسوهنې کیږي، د امریکا د خوښې سړی به په رأس کې راځي.

په وروستي وخت کې مې امریکایي ډیپلوماټانو ته وویل چې ممکن د دغسې-لیدنو کتو (دوحه کې له طالب استازو سره ناستې) د سبوتاژ لپاره حکومت او ځینې کړی کار وکړي، ځکه کله چې د جاپان او فرانسې نړیوالو کانفرانسونو کې طالبانو گډون وکړ، پرمختگ وشو، ترکمنستان کې د کیدونکي کانفرانس مخه پخواني ولسمشر کرزي ونیوله.

---

[1] موثق معلومات دادي چې لومړی ځل ټاکنې ډاکټر عبدالله عبدالله گټلي وي، د ټولټاکنو د خپلواک کمیسون د شکایتونو مشر ضیاء الحق امرخیل جاوید کوټوال د ولسمشر دفتر ته لیږلی و، چې ولسمشر حامد کرزی خبر کړي چې عبدالله عبدالله نږدې ۵۴٪ ټاکنې گټلي دي. جاوید کوټوال چې د ولسمشر د دفتر مشر عبدالکریم خرم ته داخبره کړې وه، هغه کرزي ته خبره رسولې وه، ویل کیږی چې کرزي ورته ویلی وو چې څه ډول مو خوښه وي، یا خو یې دا ویلي وو چې ټاکنې یې گټلي نو اعلان دي کړي.

خرم بیا جاوید کوټوال ته اصل خبره نه وه کړي، ورته یې ویلی وو چې کرزی وایې چې ټاکنې دي نه اعلانیږي، تر څو عبدالله وړونکی نه شي. همهغه وو چې په ټاکنو کې لاسوهنه وشوه، او دویم ځل ټاکنو ته خبره ولاړه.

ډاکټر غني پوهیدی چې لومړی ځل ټاکنې عبدالله گټلي، همدا ډول په دویم ځل ټاکنو کې هم د ډاکټر غني په گټه ډیره لاسوهنه شوې وه، فکر کیږي چې له همدې امله به یې د عبدالله عبدالله سره گډ حکومت جوړ کړی وي.

اوس هم زموږ سفر قطر ته او د طالبانو د سیاسي دفتر د غړو سره لیدنې کتنې گټورې وي، دا دی ستاسي سره مو هم وکتل، ممکن د دولت له لوړ پوړو کسانو سره هم وگورو، که تاسي د حکومت چارواکو ته هم وریاد کړئ چې د دغسي لیدنو کتنو مخنیوي ونه شي.

زموږ دوه ساعته ناسته پر ۲:۳۰ ماسپښین پای ته ورسیدله، یوه امریکایي چې په غالب گومان د استخباراتو کارکوونکی به وو، زه یې ورجلا کړم او ماته یې وویل : (( ولي خلک د دولت پر ځای د طالبانو مرسته کوي، علت یې څه دی؟))

ومې ویل: لومړي وخت کې چې د کرزي حکومت راغی، خلک ارام وو، خلکو تمه درلودله چې یو سم نظام به راشي، په ۲۰۰۴ ز.کال کې ډیرو خلکو کرزي ته رایه ورکړه او هغه یې ولسمشر وټاکی.

د امریکا د ناسمو تگلارو له امله ده چې بیرته یې پخواني جنگسالاران په واک کې راوستل، هغه خلک چې د هغوی پرضد ولس له طالبانو سره ملگری شوی وو، امریکا بیرته واک ورته وسپاری.

دا ډول طالبان په کورونو کې په ارام پرې نه ښودل شول، شپنۍ چاپې ورباندې ووهل شوې، په خپلو کورونو او کلیو کې پرینښودل شول. د ترهگر په نوم هر چا په تکلیف کول.

امریکایان د افغانانو له کلتور سره بلد نه وو، اسلامي شعایرو ته سپکاوی وشو، کلتور ته سپکاوی وشو، د خلکو حقونه تر پښو لاندې شول، همدا لاملونه دي چې خلک طالب سره ملگري دي.

په حکومت کې پراخ فساد، محاکمو کې رشوت هغه څه دي چې خلک د طالب سره ملگرتیا ته ترجیح ورکوي.

څلور سره امریکایان تر دراوزې راسره راغلل، د هغوی افغان همکاران هم ورسره وو، دوی وویل چې کیدای شي بیا هم دا ډول ناستې ولرو.

## د امنيت شورا له غړي سره ناسته

ډاکټر فيض محمد ځلاند صاحب، استاد اسد وحيدي صاحب، دکتور عبداللطيف نظري صاحب او زه درې واړه يوځای د ماسپښين پر ۳:۲۰بجو د ډسمبر پر ۱۲مه ۲۰۱٦ د ښاغلي حليمي ځای ته ورغلو.

مخکې له دې چې موږ د استخباراتو له مشر معصوم ستانکزي سره کينو، د امنيت شورا له غړي ښاغلي محمد قاسم حليمي سره موږ ناسته درلوده.

محمد قاسم حليمي وويل : (( چې کله تاسي له قطر څخه راغلاست، امنيت شورا کې مې دا خبره وکړه چې تللي کسان د طالبانو د سياسي دفتر له کسانو سره به اړيکې ولري، مگر دا معنی نه ده چې زموږ دښمنان دي.

سوله کې هغه څوک رول درلودای شي چې له کوم لوري سره دښمن نه وی. ښه دا ده چې بېطرفه وي.

که دوی قطر کې له طالبانو سره ناسته کوي، بيا هم استوگنه يې کابل کې ده.

ښاغلي حليمي موږ مخاطب کړو، ويې ويل: هغه طرحې، نظرونه او پوښتنې چې تاسي له طالبانو سره مطرح کړي، ممکن دولت دا ډول واضح نه وای مطرح کړی. هغه وويل ، تاسي د ملت نماينده گې کړې ده.

ښاغلي حليمي وويل چې د امنيت شورا غونډه کې مې وويل چې حکومت دې سمدستي ورسره کښېني او پوښتنه دې ورڅخه وکړي چې تاسي څه واوريدل؟ څه مو وويل؟ کوم کار ده چې طالب يې وکړي او کوم کار ده چې حکومت يې وکړي.

د طالب پېغام او حکومت پېغامونه غيرمستقيم ډول تبادله کول ستاسي لخوا ښه پرمختگ کيدای شي، راتلونکې کې څه کول غواړو.

اړينه نه ده چې سوله دې د پير سيد احمد گيلاني، شيخ هبة الله، حکومت، نظامي طالب او يا بل چا لخوا وشي، ممکن همدا کسان ښه رول ولوبولای شي.

سم پېغام رسول، سمې پريکړو ته زمينه مساعدوي، غلط عمل او معلومات غلط

تصمیم نیولو ته زمینه برابروي، او غلط تصمیم نیول د غلط پیغام په صورت کې کیږي.

همدا ځوانان ممکن سالم پیغام ورسولای شي. په دي فکر کول په کار دی چې موږ له دوی سره څه کولای شو.

ښاغلي حلیمي ویل حکومت وایي:

۱ – سوله کوو. ۲- جنګ ته مجبوره شوې یو. ۳ – سوله طالبان نه کوي.

ښاغلی حلیمې ډیر ټوکي هم دی، وایې چې په کندهار کې د دوو کسانو ترمنځ خبره اوښتې وه، دا یوه چې به هر ډول ښکنځل ورته کول، دویم به هغه ډول ښکنځل ورته کول، اخر لومړی کس حیران وو چې څه وکړي، ځکه یواځې د ده د ښکنځلو تکرار ورته کوي، له لږ او ډیرو ښکنلځو وروسته یې ورته وویل چې ښکنځل بدل کړه چې جنګ سره وکړو.

ښاغلي حلیمې ویل چې شورای امنیت کې مې ویل چې د سولې لاره بدله کړئ چې سولې ته داخل شو.

هغه یوه بله د طالبانو دوخت ټوکه هم وکړه، طالبان او په ځانګړې ډول د کندهار طالبانو ډیرې خبرې نه کولي او نه هم ډیرو تشریفاتو خوند ورکاوو. په غزني ولایت کې د اطلاعاتو کلتور رئیس فیض احمد فیض کندهاري طالب ته ورغلي وو، هغه طالب د ټرانسپورت او سوځیدونکو توکو د ویش مسؤول وو.

ښاغلي فیض ورته د طالبانو صفت پیل کړ، ویل یې چې طالبان ماشاء الله ډیر ښه په مخ روان دي، ډیره ښه رهبري لري، ډیر ښه قومندانان لري، او ډیر ښه مطیع جګړه کوونکي طالبان لري، ډیر ژر یې ولایتونه یو په بل پسې ونیول، دا دی میدان ښار ته هم رسیدلي دي. ښاغلي فیض همدا د طالبانو صفت ورته کاوو چې د کندهاري طالب خلق تنګ شو، ورته ویې ویل نفس دي راوکیښ، ژر راته وایه! تیل غواړي که لرګي!

اوس هم د دولت د سولې اړوند ډیرې خبرې او ډیرې ادارې مګر اصل د تیلو یا

لرګیو غوښتلو خبره پر ځای پاتې ده.

طالبانو تـه د حکومـت لخـوا دا پیغـام رسـول پـه کـار دی چـې د خـبرو لپـاره پـلاوی رالیږئ که یې موږ درولیږو. راځئ سره کینو، چیرته سره کینو، چـې مـوږ درشـو، څـوک غواړئ؟ په کومه سطحه خبرې کوئ؟ عادي، متوسط یا هم د لوړ پوړو چارواکو سره.

زموږ اوسنی مجلس حکومتي نه دی، او نه حکومتي طرحـه ده، حکـومتي سـړی یم، مګر د طالب ضد نه یم.

د امنیت شورا ته مې وویل: د دوی خبرې به واورو، که لږ ښه خبره وي، په هغـې به فکر وکړو. که ۱٪ پرمختګ هم وشي، دا به ښه وي.

موږ ۲۴ ساعته په جنګ کې لګیا یو، ۲ ساعته د سولې لپاره هم وخـت ورکـړئ. په لوړه او مهمه سطحه دا خبره مطرح کړئ.

د معصوم ستانکزي سره مې اړیکې د ملګرتیا دي، هغه ته مې وویل چـې د قطـر څخه راغلي کسان دفتر ته نه بلکې کور کې درسره ګوري، که دفتر ته درشـو هلتـه بیا نوري خبرې کیږي.

ښاغلي حلیمې ژمنه وکړه چې د حکومت له لوري د سولې په هر ډول هڅه کـې درسره همکار یم، ولي هغه لور (طالبانو) ته تاسي د سولې په برخه کې کار وکړئ.

د ښاغلي حلیمي دا خبره مې خوښه شوه چې ویـې ویـل: د دولـت او بهرنیـانو لـه خوا به سختې خبرې واورئ، حالت تحمل کړئ، توهین هم د سولې لپاره وګالئ.))

ډاکتر فیض محمد ځلاند وویل :

(( ځینې کړئ به د همدې (قطر) سـفر لـه املـه مشـکل جـوړوي، طالـب تـه مـو وویل چې د یو ملکي کس ژوند هم وژغورلای شې مهمه ده، حل لاره سوله ده، کـار به ورته کوو.

ولس وایي جګړه پردۍ ده، موږ پکې وژل کیږو، دا پیدا کول پـه کـار دي چـې د پردیو لپاره څوک جګړه کوي؟

ډاکټر غني او معصوم ستانکزی چې د سولې لپاره رښتونې وي، مخالف څوک دي؟
تاسي په ټلویزونو کې د سیاسي بحثونو میزونه لیدلي، سختي پوښتنې وي، د حکومت له پلوه جواب نه وي.
موږ په قطر کې طالب استازو ته هم وویل چې ملي اردو، ملي پولیس ونه وژل شي، په جګړه کې کموالی راشي.
ښاغلي جهانګیروال ویل چې نوبهار د زابل ولسوالی کې چې هر ډول د نجونو یا هلکانو مکتب وي خلاص دي کړي، که ستونزه وه موږ ورته ستونزې حلوو.
هغوی دا هم وویل چې معصوم ستانکزی او حنیف اتمرغیر رسمي راځي، خبرې ورسره کوو. طالب استازي نورو هیوادو ته هم ځي هلته ناستې کیږي.
اوباما وایي چې طالب نه ماتیږي، مګر دولت وایي جګړه ګټو. هغه چې امکان نه لري، پرته له سولې بله لاره نه طالب او نه حکومت لري.))
ښاغلي اسد وحیدي وویل: (( طالبانو ته مو وویل چې امریکا جګړه د ۱۰۰ کلو لپاره په سیمه کې غواړي، تاسي څه کوئ؟ هغوی وویل چې تاسي مسلمانان یاست؟ ۱۰۰۰ کاله ورسره جګړه کوو. په ملي اردو، ملي پولیسو مرګ باندي مو ډیره خوا بدیږي، ځکه د هغوی په وروستي برخلیک خفه کیږو.))
د ښاغلي قاسم حلیمي مشوره دا وه چې د حکومت مشرانو ته وویل شي چې:

۱ – موږ د ملت پیغام ترلاسه کړ، هغه مو طالبانو ته وړاندي کی، د افغان حکومت پیغام مو غوښت خو ترلاسه مو نه کی.

۲ – طالبانو زموږ پوښتنې واوریدي، جوابونه یې ورکړل، داچې قناعت وشو، یا نه بېله خبره ده، مګر حکومت د خبرو اوریدو تحمل نه لري. خبره نه شي تحمل کولای.

۳ – د طالبانو لخوا پیغام او جواب مو ترلاسه کړی، غواړو ستاسي پیغام هم له ځان سره ولرو.

## د ملي امنيت مشر ، معصوم ستانکزي سره ناسته

د استخباراتو له مشر معصوم ستانکزي سره د مجلس لپاره شش درک ته روان شوو، هر یو پخپل موټر کې ولاړی، په لاره د موټرو ډیره ګڼه ګوڼه وه، موږ ۵ بجې د ښاغلي ستانکزي د حویلۍ مخي ته ورسیدو، همدلته میرویس ستانکزی هم راسره ملګری شو، پنځه ملګري پوره شوو، شاپور بختیار بیا هم ونه لیدل شو.

د تالاشۍ په غرفه کې يې زموږ ګردو ټلیفونونه وګرځول، حویلۍ ته دننه شوو، یو ښایسته سالون ته ننوتو، پکې د استخباراتو مرستیال مشر اجمل عبید عابدي ، د استخباراتو د مطبوعاتو او نشراتو مشر او ویاند حسیب الله صدیقي، د امنیت شورا غړی حلیمي او د امنت شورا غړی قسیم لودین ناست وو.

د ماښام لمانځه وخت و، ومو ویل چې لومړی لمونځ کوو، بیا به وروسته مجلس وکړو، نوي جای نمازونه يې راوړل، ځلاند ته مې وویل چې داخو ډیر نوي جاینمازونه دي، هغه ویل چې دوی نو کله لمونځ پري کوي!

په دي وخت کې معصوم ستانکزی نه و راغلی، موږ سره یوازې قاسم حلیمي په جماعت همدلته لمونځ وکړ، هغه نور دري تنه ووتل.

زه تر لمانځه وروسته د اودس کولو لپاره ووتلم، چې د ښاغلي اسد وحیدي او صدیقي ترمنځ خبره راغلي وه، وحیدي ورته ویلي وو چې تاسي ماته احوال رالیږلی وو چې درشم، ومې نشوای کولای.

صدیقي ورته ویلي وو چې موږ احوال نه دي درلیږلي، که مو احوال درلیږلي وای او تاسي نه واست راغلي، بیا مو موټر درپسي درلیږی. [1]

خبره لږ جنجالي شوي وه، یوه ورځ مخکې میرویس ستانکزی هم د صدیقي لخوا د پوښتنو لپاره د ملي امنیت اداري ته غوښتل شوی وو.

---

[1] د صدیقي هدف دا وو چې که زموږ له احوال سره سمدستي نه وای راغلی، بیا مو د پولیسو موټر کې پولیس درپسي درلیږل او په زور مو حاضرولي.

د استخباراتو مشر معصوم ستانکزی راغی، هغه له هر یوه سره روغبړ کاوو، هر یوه ته یې لاس ورکاوو، ماته یې هم یو لاس راکړ، چې کله متوجه شو، ویې لیدم، غیږ یې راباندي وگرځوله، ویل یې شیخه دا ته یې!

د لنډې پېژندگلوۍ وروسته په ۵:۲۰ ماښام زموږ مجلس پېل شو، ډاکتر فیض محمد ځلاند وویل :

(( موږ له طالبانو سره په قطر کې ولیدل، زموږ له ډلې هر یوه د هغوی څخه خپلې پوښتنې او غوښتنې درلودلې. ځینې خبرې مو ورته وکړي. د موسهې پېښه، پکتیکا کې د یحی خیلو پېښه چې د والیبال ملکي کسان پکې ووژل شول[1] ، په مجموع کې د ملکي کسانو وژنې، د کندز د نیولو پیښه چې گټه چا وکړه؟ دا خبرې مو ورسره مطرح کړي.

موږ لیکنې هم خپرولې، هغوی ویل چې دا کار به څنگه وي، موږ وویل چې دا زموږ لپاره مهمه ده، هغوی به سهار لیکنه کې ځینې ځایونه په نښه کړي وو، مگر موږ خپل د خوښې لیکنې کولې، ولې زموږ د لیکنو مخالفت یې نه کاوو، بیا همهغه وو چې طالبانو هم خپل رسمي دریځ د لیکنې په کولو خپور کړ. خو موږ خپلې لیکنې سانسور نه کړي او زموږ له راتگ وروسته طالبانو راپور خپور کړ.

د حکومت پلاوي مخکې هم تللي وو، مگر سفرونه پټ ساتل شوي وو.))

د ښاغلي ځلاند پر خبرو باید ور زیاته شي چې د طالبانو د سیاسي دفتر له غړو سره په قطر، دوبۍ او ځینو بهرنیو هیوادونو کې د افغان حکومت کسانو لیدنې کتنې درلودلې دي، ولې هغه ټولې پټې پاتې شوې.

په لیدنو کې د سولې په تړاو پرمختگ هم نه دی شوی، همدا لامل به وي چې لیدنې پټې ساتل شوې.

---

[1] د پکتیکا په یحی خیلو ولسوالۍ کې د والیبال لوبې ته ولاړو ننداره کوونکو منځ کې ځانمرگي برید په ۲۳ نومبر۲۰۱۴ وشو، تر ۵۰ زیات کسان مړه او تر ٦۰ زیات پکې زخمیان شول.

ښاغلي ځلاند وويل: (( د ملي اردو او پوليسو د وژلو خبره مو له طالبانو سره وکړه، چې ژوندي ونيولي شي هغه ونه وژل شي.

طالبانو ويل چې موږ خپل د جګړې په ډګر کې نيول شوې بنديان په لوړ قيمت راخلاصوو، مګر حکومت د خپلو بندي پوځيانو پوښتنه نه کوي.

جهانګيروال راته وويل چې د زابل والي دي هر ډول ښوونځي خلاص کړي، زه ورسره همکاري کوم، د پوهنې مخالف نه يو. په دي برخه کې اعلاميه هم خپروو.

هغوی ويل چې د سولې د خبرو لپاره دفتر لرو، که د نړيوالو لخوا په رسميت وپيژندل شي دا به يو ښه پرمختګ وي.

د اوربند په اړه طالبانو ويل: که امريکا ۱۰۰ کاله جګړه کوي، موږ ورسره ۱۰۰۰ کاله جګړې ته تيار يو چې د بهرنيو پوځيانو د وتلو مهالويش ونه ټاکي ، مشکل به همداسي پر ځای پاتې وي، مهالويش غواړو، چوکی نه غواړو. پرته له دي اوربند شونی نه دی.

هغوی دا خبره هم کوله چې زموږ تر ټولو سخت دريځ مولوي قلم الدين و، له هغه سره په کابل کې ګوزاره کيدای شي، بيا له موږ سره يې څنګه ګوزاره نه شي کيدای؟

شيخ دلاور دا هم وويل چې ملا محمد عمر اخوند او ملا اختر محمد منصور طالبان وو، مولوي هبة الله عالم دی، شير محمد عباس ستانکزی پوځي سړی دی، موږ سياسي بهير غواړو، حکومت ، نړۍ او ولس په دي برخه کې مرسته نه ده کړي.

روسيې سره اړيکې مو له ۲۰۰۷ کال څخه دي، مګر داسي نه ده لکه روسان چې وايي. طالبان د روسيې لپاره جګړه نه کوي.

زموږ هدف د شر او فساد له منځه وړل وو، اوس مو هدف د اشغال خاتمه ده. د بهرنيو پوځيانو مهالويش مهم دی.

هغوی دا هم وويل چې موږ له معصوم ستانکزي سره مخکې اړيکې درلودلې.))

د پاريس غونډه کې مولوي شهاب الدين دلاور او معصوم ستانکزي يو له بل سره

لیدلي وو، او کیدای شي په دوبۍ او نورو ځایونو کې هم ورته لیدنې شوې وي.

ښاغلي ځلاند وویل : (( په مجموع کې روحیه ښه وه، زموږ لخوا په لیکنو باندي يې تهدید نه کړو، مګر دوی خپله لیکنه خپره کړه، د ناستو دوام يې وغوښت، تر څو د باور فضا ته زمینه مساعده شي.

دا چې طالب ته هر څوک ورځي، خو چې دفتر يې په رسمیت وپېژندل شي، ستونزه به څه وي؟

د بندیانو اړوند که یوه لاره ورسره جوړه شي، طالبانو ویل يې چې د حکومت بندیان پریږدو هغوی هم جګړې ته ځي.

د بهرنیو پوځیانو د مهالویش غوښتلو لپاره لویې غونډې او له بهرنیانو سره مخامخ خبري دي وشي.

طالبانو په ښکاره وویل چې هیچاته اجازه نه ورکوي چې مذهبي تاوتریخوالي ته لمن ووهي.))

ملګرو ما (لیکوال) ته نوبت راکړ، ومې ویل :

غواړم د طالبانو پیغام لنډ او په سم ډول هر چاته ورسوو، هغوی د بهرنیو پوځیانو د وتلو محدود مهالویش د لویو هیوادونو له تضمین سره غواړي.

طالبان وايي چې د مهالویش له اعلان وروسته سمدستي اوربند او افغاني مذاکرات پیلوو.

د پوهنې په برخه کې يې وویل چې هر ډول همکارۍ ته چمتو یو، دا يې هم وویل چې د پوهنې وزارت باید ناپیېلی وی، او ناپیېلی کس د دغه وزارت په رأس کې وي.

د بیان ا زادي په اړه يې وویل چې موږ ورته ژمن یو، ولي د مذهبي، ملي، کلتوري او اسلامي شعایرو درناوی پکې حتمي دی.

د نشه يي توکو سره د مبارزې اړوند طالبانو ویل چې تګلاره يې پخوانۍ ده، ولي ولس سره ځان په جګړه کې ځکه نه شي اخته کولای چې د حکومت تر واک

لاندي سېمو کې د کوکنارو کرکیله کیږي.

نوبت دکتور عبداللطیف نظري ته ورسید، هغه وویل : (( طالبان پوهنې، د هیواد پرمختګ او د ملي بنسټونو په ښنو دریدو ته ژمن دي.

طالب سولې ته ژمن دی، خو د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش، د سیاسي دفتر او تورلسټ څخه د طالب مشرانو د نومونو لیري کیدو غوښتنې یې مهمې وي.

د سولې لپاره اړینه ده چې محور وجود ولري، حکومتي محور نه، موقتي محور نه، بلکي بااعتماده د سولې محور ته اړتیا شته.

طالب د سیمې له هیوادو سره اړیکې لري، ولي په کار ده چې د نیابتي جګړو څخه مخه ونیول شي.

افغاني تفاهم د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره ستونزې حلولای شي،، که حکومت کې هم لیوالتیا وي، پرمختګ شونی دی.))

ښاغلی اسد وحیدي چې د صدیقي ګوت څنډنې نا ارامه کړی وو، ځان یې د خبرو پر مهال کنټرول کړی وو، هغه وویل:

(( له طالبانو سره په ناستو کې مې پر هغوی جدي انتقادونه وکړل، دا ډول په حکومت باندی هم انتقاد کوو، حکومت جواب نه دي ویلي، طالب جواب درلود. ځینې ځوابونه یې قناعت کوونکي وو. ځینې ځوابونه یې قانع کوونکي نه وو.

طالبانو ویل چې د بهرنیو پوځیانو مهالویش اعلان شي، اوربند کوو، خبرې کوو، د امارت نظام نه غواړو، د افغانستان د خلکو د غوښتنې اړوند نظام غواړو.

ما (وحیدي) ورته وویل چې ډیره سخته به وي چې امریکایي ځواکونه ووځي، امریکا نږدې دوه زره میلیارده ډالر مصرف کړي، چې بهرنیان وي جګړه به دوام لري. کندز نیول د امریکایي پوځیانو له وتلو سره کوم تړاو درلود؟ دولتي مامور وژل کومه اړتیا ده؟ پکتیکا کې برید او ملکي کسان پکې ولي ووژل شول؟

د طالبانو جواب دا وو چې افغان دولت ته امریکا امکانات ورکوي. ما ورته وویل

دا د جګړې لپاره مشروعیت نه دی. زه له ادبیاتو پوهنځي فارغ یم، تاسي علما یاست، د جګړې د دوام استدال د قناعت وړ نه وو.

طالبانو دا هم وویل چې کله د ملي پروژو د ساتنې اعلان کوو، کله چې شین څراغ ورکوو، لکه د تاپي او نورو ملي او ټولګټو پروژو اړوند، د حکومت له لوري عکس العمل دا وي چې د تاپي پروژې اړوند اعلان ځکه وشو، چې د پاکستان په کې ګټه ده.

که طالبان د اقینه [1] او نورو ملي پرژو اړوند مثبت ګام اخلي، شین څراغ ورکوي، ښه دا ده چې د حکومت لخوا منفي جواب ونه ویل شي.

ښاغلي وحیدي زیاته کړه: احساس مي کړه چې تونـد مسایل مـو مطـرح کـړي، ولي طالبانو یې جوابونه په حوصله راته ویل.

فاصله زیاته نه ده، که خبري دوام پیدا کړي، ښـه بـه وي، د جګـړې وحشـت لـه منځه وړل په کار دی.))

میرویس ستاکزي د خپلو خبرو پر مهال وویل: (( د طالب مسایل له طالـب سره او د حکومت مسایل له حکومت سره دي، زموږ په ډله کې داسي کس نشته چې د اوسنۍ سولې پروسې له امله له طالب څخه متاثره شوی وي [2].

مهمه دا ده چې پر دي فکر وشي چې موږ څه وکړو، څه کولای شو او څه غواړو.

زموږ د ناستو اړوند عکس العمل متفاوت وو، په کوردننه یې اغیز درلود، نرمـې او توندي خبرې شوې دي.

طالب وایي چې حکومت د امریکا غلام دی، حکومت وایي چې طالب د پنجـاب غلام دی، په دغسي یو حالت کې موږ څه کولای شو؟

---

[1] د۲۰۱٦ نومبر ۲۸مه چې د اقینه بنـدر پـروژه د افغانسـتان او ترکمنسـتان ولسمشرـانو لخوا پرانسـتل کیده، طالب استازو ویل چې یوه اونۍ مخکې یې خپلو ټولو وسلوالو ته ویلي وو چې د یادي پـروژې د افتتحاح د مراسمو لپاره په سیمه کې امنیت ونیسي، ترڅو په دي ورځ کومه ناوړه پیښه ونه شي.

[2] یوه ورځ وړاندي میرویس ستانکزي ته صدیقي ویلي وو چې ستاسي ډلـه لـه طالبـانو څخـه ممکـن متاثره شوې وي، ځکه به اوس د طالبانو په پلوي نظریات ورکوي.

موږ سوله نشو راوستلای، نه یې کولای شو، نه حکومت دا کار په یوازې ډول کولای شي. سوله اوږده او غټه مسئله ده.

ځیني واړه مسایل شته، په شروع کې انعطاف کیدای شي، د مشخصو مسایلو اړوند اعلامیه، لومړی ځل دی چې طالبانو د ملي او ټولګټو پروژو اړوند اعلامیه خپره او ډیر نرم دریځ نیسي، د تعلیم تربیې په برخه کې به هم ممکن اعلامیه ورکړي.

موږ باور لرو، هغه مسایل چې د افغانانو په واک کې او په وس یې پوره دي، په همهغو مسایلو به خبره کیږي، په جهتونو د منلو هڅه به یې کیږي[1] .

د طالبانو د قطر دفتر په رسمیت پېژندل به له هغوی سره رسمي ناستو ته زمینه برابره کړي، موږ داسې حالت ته ترجیح ورکوو چې افغان لوری پکې زیان ونه کړي.

په هر لوري کې د سولې اړوند هڅو منتقدین شته، که په ربښتوني ډول د سولې هڅې وشي، د سولې شورا، مدني ټولنې، د سولې ببلاببلې ډلې او همدا ډله ځوانان ډیر څه کولای شي.

که جګړه نه دریږي، د موقت اوربند اړوند ناستې او په جګړه کې د کموالي په اړه خو هڅې کیدای شي.))

د ښاغلي محمدقاسم حلیمي زغم ځکه ختم شو،چې ددوی د کلي ښوونځی تړلی پاتې دی، ویې وویل:

(( ملا عزت الله زموږ د سیمې دی، د هغه په کلي کې مکتب شته زما په کلي کې نشته، موږ هر ډول نړیوال کانفرانس ته حاضر یو، مګر طالب یې نه غواړي.

مکه مکره کې د کانفرانس تحریم همدې طالبانو وکړ، له نورو اسلامي هیوادو یې هم وغوښتل چې ورنه شي.))

د ښاغلي حلیمي دا خبره سمه نه وه چې ویل یې موږ هر ډول نړیوال کانفرانس کې د ګډون لپاره چمتو یو، ولې په ځینو مواردو کې یې پخوا د حامد کرزي د

---

[1] د پوهنې او روغتیا په برخه کې د امنیت، خوندیتوب او اسانتیاوو برابرول.

واکمنی پر مهال او دا ډول د ډاکټر غني حکومت پرمهال په نړیوالو غونډو کې د طالبانو د ګډون مخنیوی شوی.

د ولسمشر غني له ډیره وخته همدا پلان وو چې په سعودي عربستان کې د اسلامي هیوادونو د علماوو لویه غونډه وشي، پریکړه وشي، او یا هم وویل شي چې د افغان حکومت سره جګړه جایز نه ده.

ډاکتر غني له واک ته رسیدو وروسته لومړنی سفر هم مکې مکرمې ته وکړ، د خپل واک په دوو کلونو کې یې هڅه داوه چې د اسلامي هیوادونو د علماوو غونډه په سعودي عربستان کې وشي، د سعودي عربستان چارواکې چې د غونډې له امله په سېمه کې دحساسیت درک کولای شو، لومړی وخت کې چمتو نه وو، افغان حکومت وغوښتل چې ترکیه کې ناسته وشي، د نامعلومو دلایلو له کبله د ترکیې چارواکو هم مثبت جواب ورنه کړ. له ډیرو هلوځلو وروسته په رسنیو کې راپورونه ورکول شول چې د اسلامي هیوادونو د علماوو نړیوال کانفرانس به د افغانستان په غوښتنه د ۲۰۱٦ ز.کال له ختمیدو مخکې د سعودي عربستان په جده ښار کې کیږي. طالبانو د غونډې له کیدو مخکې مفصله اعلامیه د ۲۰۱٦ نومبر پر ۸مه نیټه خپره کړه، ویې ویل چې د امریکا بله استخباراتي هڅه ده تر څو په افغانستان کې خپل پوځي حضور ته دلایل پیدا کړي.

طالبانو یواځې په اعلامیه خپرولو بسنه ونه کړه، د ځینو اسلامي هیوادونو له استازو سره یې وکتل او له هغوی څخه یې وغوښتل چې په غونډه کې ګډون ونه کړي. د افغانستان ګوټ ګوټ ته یې خپل استازي جیدو او مشهورو علماوو ته ولیږل او له هغوی څخه یې هم وغوښتل چې د جدې د اسلامي هیوادونو د علماوو په نړیوال کانفرانس کې ګډون ونه کړي، همهغه وو چې یاده غونډه د طالبانو د مخالفت له کبله ونه شوه.

ښاغلي حلیمې وویل : (( چې د ارتداد ( له دین څخه اوښتلو) خبره شرعي

مسئله ده، دا پوښتنه ستاسي له خوا وشوه که نه؟ سمه ده چې خلک دښمنې کوي، مګر په یو او بل د ارتداد حکم نه کوي.))

طالبانو په دي برخه کې وضاحت درلود، هغوی د ارتداد خبره ردوله، ویل یې چې دواړو لورو ته مسلمانان او افغانان د جګړې قرباني دي.

ښاغلي حلیمي زیاته کړه : ((د لارو مسافر، نجوني، سپین ږیري ولي د طالبانو لخوا وژل کیږي؟ څومره مطمئن یاست چې قطر دفتر د کوټې، پېښور، هلمند او زابل د سرناخلاصو جنګیالیو طالبانو استازیتوب کولای شي.

ښاغلي حلیمي داهم وویل چې د طالبانو لخوا د پوهنې اړوند اعلامیه خپرول ممکن د ژمي او سړې هوا د موسم را رسیدو له امله وي، د وخت تیرولو هڅه به وي. [1]))

ولي موږ وایو که د پوهنې څخه د ملاتړ په برخه کې د طالبانو له خوا اعلامیه خپریږي، دا یو مثبت قدم ګڼو، او حکومتي چارواکي دي د خپلو غلاوو او فساد له امله په دي برخه کې د طالبانو د اعلامیو مخالفت نه کوي.

د ښاغلي حلیمې دا ډول څرګندونې زموږ ځینو ملګرو ته سوال برانګیزه وې، خو داچې هلته د ملي امنیت مرستیال عابدي هم ناست وو، ممکن حلیمې په قصدي ډول پورته سختې خبرې کړي وي.

---

[1] د افغان حکومت چارواکې ادعاء لري چې هر کال د ژمي سوړ موسم په را رسیدو د طالبانو سره د سولې د خبرو اوازې زور اخلي، تر څو د ژمي موسم کې پر طالبانو د حکومت لخوا جګړیز بریدونه ونه شي، ځکه په ژمي کې طالبان په سړه هواء کې د جګړې توان نه لري، بل داچې په سېمو کې ونې پاڼې نه لري، کښتونه وچ وي، د طالبانو لپاره پټنځایونه هم نه وي.

طالبان په ځینو سېمو کې په کښتونو او ونو کې د ژر پټیدو له کبله په جګړه کې مخ ته ځي، ولي داخبره سمه ده پخوا چې د طالبانو په واک کې ډیرې سیمې نه وی، دوی د ژمي په سړه هواء او وطن د وچوالي له امله جګړه نه شوای کولای، ځکه د بهرنیو الوتکو او د افغان ځواکونو د ټانکونو او توپونو نښه په اسانه ګرځیدای شوای.

ښاغلي څلاند وویل: (( موږ ته کومه ځانګړې اجنډا نه وه را استول شوې، د پاکستان اړوند یوه مشر طالب وویل چې پر موږ باندې فشار راوړي، زموږ کسان یې ونیول، زندان ته یې یوړل، مګر موږ ورته وویل چې د پاکستان لور ته ډیورنډ خاورې څخه له خپلو کورنیو سره یوځای وځو، ولې د پاکستان دلارې، د پاکستان تر نفوذ او فشار لاندې له افغان حکومت سره خبره نه کوو.

د کوټې شورى ۴ کسان هلته قطر کې حاضر وو، موږ سره ناست وو، طالبانو د ملکي وژنو د مخنیوي اړوند د نظامي محکمې د درلودو خبره وکړه، ویل یې چې د جرم د ثبوت څخه وروسته حدود او د قصاص پر خپلو جنګیالو طالبانو هم عملي کوي.

په سعودي عربستان کې د غونډې اړوند یې وویل چې دا کانفرانس د امریکا لخوا حمایه کېده، د سعودي عربستان له نوم اخیستلو او اوریدو سره طالبانو حساسیت درلود، هغوی ویل چې له سعودي سره یې اړیکې نشته، او یو په بل بې باورې هم شته.))

زما (لیکوال) معلومات دادي چې د طالبانو د نظام د نړیدو پر مهال په سعودي عربستان کې ځینې طالب مشران ونیول شول، زنداني شول، اوسمهال هم په سعودي عربستان کې د طالبانو ځینې غړي بندیان دي.

کلونه وړاندې پخواني ولسمشر حامد کرزي له سعودي عربستان څخه وغوښتل چې د افغانستان سولې کې مرسته وکړي، سعودي هیله درلوده چې د سولې اړوند طالبان او افغان حکومت دوی ته د پریکړې واک ورکړي، که هر ډول پریکړه یې وکړه، هغه به دواړه لورې مني.

داچې سعودي عربستان د پاکستان هیواد سره ډیر نږدې اړیکې درلودل، دا ډول یې له افغان حکومت او امریکا سره هم نږدې اړیکې درلودلې، طالبانو د سولې په برخه کې د سعودي عربستان دا ډول غوښتنه د سعودي د مړ شوي پاچا ملک عبدالله په وخت کې ونه منله، همهغه وو چې د سعودي عربستان او طالبانو تر منځ اړیکې نورې هم ترینګلې شوې.

د ملکي خلکو د وژنو اړوند ښاغلي اسد وحيدي هم طالب مشرانو ته  په قطر کې د ناستو پر مهال وويل : (( آيا تاسي په کوندو، رنډو او يتيمانو حکومت کول غواړئ؟ ځکه خلک مو په جګړو کې وژل کيږي.))

طالبانو دا هم وويل چې په ترکمنستان او قراکستان کې د سولې اړوند غونډو مخالفت دولت وکړ.

د ملي امنيت مشر ښاغلي معصوم ستانکزي زموږ د خبرو له اوريدو وروسته په ټيټ اواز او ارام ډول سره په خپلو خبرو پيل وکړ:

(( زموږ ټولنه ويشل شوې او اجماع له منځه تللې. سياسي ټولنو، د علماوو ټولنو او مدني ټولنو، ټولو يې ضربه ليدلې. هر سړی او ټولنه له شرعي اړخه ځان ښه ثابتول غواړي.

دا ډول فضا جنګ جوړه کړي، د سولې او امن ډير فرصتونه ضايع شول، اوله مرحله، اولو وختونو کې د سولې خبره چې به کله هم کيدله، مطبوعاتو هم تنقيد کوی، چې ولي دا کار کيږي؟ [1]

هغه وخت کې عام ذهنيت نه وو برابر، هر چا (پرديو) د افغان په اوړه ټوپک ورکړی وو او  خپل بل ورور يې وربandي واژه.))

په دي برخه کې ډيره پړه په ښاغلي معصوم ستانکزي هم اچول کيږي، ځکه هغه د سولې شورا د دارلانشاء مشر و، دوی د سولې شورا له ادرسه په ميليونو ډالر مصرف کړل، ولي کومه لاسته راوړنه يې نه درلودله.

ښاغلي ستانکزي وويل : ((د بيان ازادي د چوکاټ له مخې د منلو وړ ده، دلته په هيواد کې دننه قومي او محلي تعصبات  شته، حقايق تحريفيږي.

[1] د ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۱ ز.کال پوري د سولې هره هڅه چې به کيدله، په کابل کې ځينو ډلو، سياستوالو او په ځانګړې ډول د ميرمنو ټولنو به منفي غبرګون ښودی، ويل به يې چې له طالبانو سره بايد د سولې خبرې ونه شي، هغوی قاتلان او جنايتکاران دی، هغوی بايد د جګړې په زور له منځه يوړل شي.

سیاستوال مو شخصي ټلویزون لري، ټولنه کې وګړي یو له بله لیري شوې، اختلاف، درز او جګړه ده.))

ولي ښکاري چې دښاغلي ستانکزي او ښاغلي حنیف اتمر په وخت کې د بیان ازادي او رسنو په اړه محدودیتونه ورځ تر بلې زیاتیږي، د پخواني ولسمشر کرزي په وخت کې د بیان ازادي په برخه کې ډیر محدودیتونه نه وو، ولي د ډاکټر غني د حکومت پر مهال په کور دننه د بیان ازادي په برخه کې محدودیتونه وضع شوې او لا هم دا لړۍ جریان لري، له رسنیو غوښتنه کیږي چې ځینې مسایل وربانديي جبري کړي.

زما په ګډون شنونکې او په رسنیو کې څرګند کیدونکي اشخاص په یو او بل نوم ویرول کیږي، په غیر مستقیم ډول د حکومت لخوا ورڅخه غوښتنې کیږي چې د څرګندونو پر مهال باید ډیر احتیاط وشي.

ښاغلي ستانکزي وویل : ((سېمه او نړۍ زموږ د هیواد په جغرافیه کې متضادې ګټې لري، انعکاس يې په ټولنه کې هم راځي.

دولت کافي اندازه او له حده زیاتې ستونزې لري، زموږ په ټولنه کې هم ستونزې شته، جګړه پردۍ ده، په افغانان تحمیل شوې، له دغسي حالت څخه د وتلو لپاره صبر او زغم ته اړتیا ده، احساسات او خبرې نه، د افغانانو اتحاد او یووالي خبره ډیره مهمه ده، چې جګړه ودریږي، سوله د افغان ولس اتحاد او یووالی راوستلای شي.

هرې ډلې او شخص ته خپل ماحول ښه ښکاري، په یو چا ټاپه وهل کیږي چې داعش او پر بل بیا د جاسوس ټاپه وهل کیږي، په هره ډله او شخص باندي یوه ټاپه وهل شوې، په تاسې (قطر ته ٦ تللي کسانو) هم ډول ډول ټاپې وهل شوې.

د نورو له نظره چې وګورو، بیا ډیرسوالونه وي، کومه ډله یا شخص بیا بې طرفه نشي کیدای.

طالبانو سره لومړۍ ناسته به مو ښه تیره شوې وي، تاسي ته به په زړه پورې ښکاره شوې وي، که دویم ځل ورسره کینئ، له هغوی به تکرارې خبرې واورئ، نوي خبره

به وانه ورئ، کوم پیغام چې تاسي راوړی، ماته يې ويلی دی، راته نوي نه دي.))

موږ ٦ تنو له طالبانو سره درې ورځې پرله پسې ناستې درلودلې، په ډېرو مسايلو بحث وشو، د هغوی سره ناستې سترې کوونکې نه وې، بلکې معلوماتي وې، ولي د ملي امنيت له مشر سره ناستې موږ ته هيڅ هم رانه کړل، او نه هم موږ کوم واضح پيغام ورڅخه ترلاسه کړ.

ښاغلي ستانکزي وويل: (( د بهرنيو پوځيانو د وتلو د مهالويش اړوند، له ۲۰۱۴ ز.کال وروسته د امريکا يوازې ۱۰۰۰ پوځيان بايد د هغوی په سفارت کې وای، امريکايان به هغه وخت وځي چې دلته جګړه کمه شي.))

پورته خبره اوسمهال ځينې چارواکې کوي، مګر په هغه وخت کې هم افغان حکومت په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر د خلاصيدو مخالفت کاوو او دا ډول يې په نړيوالو غونډو کې د طالبانو د استازو د ګډون مخنيوی کاوو.

ستانکزي زياته کړه : (( هلمند کې ډير بهرني عسکر وو، هغوی ووتل، امريکايان خپله هم له طالبانو سره کيناستل، خبرې يې ورسره کړي.

د افغان حکومت لخوا رسمي اعلانونه شوې، پر دي بحث شوی، چې راځئ سره کينو او د بهرنيو پوځيانو پر مهالويش باندي خبره وشي.))

ستونزمنه ده چې د ښاغلي معصوم ستانکزي پورته خبره دي ومنل شي، ځکه ډير ځله افغان حکومت له امريکا څخه غوښتي چې خپل پوځيان له افغانستان څخه ونه باسي، بلکې د نورو پوځيانو د راستولو غوښتنه يې وخت په وخت کړي، بيا به څه ډول د افغان حکومت پر دي خبره څوک باور وکړي چې دوی هم غواړي د بهرنيو پوځيانو د وتلو پر مهالويش خبره وکړي، يوازي چل، فريب او د وخت ضياع به وی.

که افغان حکومت د بهرنيو پوځيانو پر وتلو عقيده درلودلای بيا به يې د ډاکټر غني حکومت د خپل واک په دويمه ورځ له امريکا او ناټو سره امنيتي تړون کله لاسليک کړی وای.

افغان حکومت د امریکا له ولسمشر ټرمپ څخه غوښتنه کړې چې افغانستان ته نـور اضـافي امریکـایې پوځیـان د طالبـانو د ځپلـو لپـاره راواسـتوي. لـه دې سره ولسمشر غنـي لـه امنیـت شـورا غوښـتي چـې د طالبـانو د مشر شـیخ هبـةالله اخوندزاده نـوم د بنـدیزونو پـه تـور لیسـت کـې ورزیـات کـړي. د ولسمشر غنـي دا غوښتنه د ډېرو شنونکو له خوا نقد شوه.

ښاغلي ستانکزي وویل: (( راځئ چې خبرې وکړو، مګر تر خبرو مخکې شرطونـه به نـه وي، د خـبرو د لارې د سـتونزې د حـل لاره پیـدا کـړو، کـه هرڅـه حـل وي، ستونزې نه وي، بیا خو خبرو ته اړتیا نشته.

موږ طالب ته وایو چې اجنډا راوړه د میز په سر یې کېږده، له دواړو لـورو (طالـب او حکومت) څخه دي کسان کیني او بیا دې د حل لارې تصمیم لـه ملـت سره پـه شریکه ونیول شي.

د قاضي ګلرحمن [1]، استاد محمد زمان مزمل [2] او ځینې نـورې د سـولې لپـاره فعالیـت کوونکو ډلو استازي قطر ته تللي، د طالبانو لخو همدا تکراري خبره ورته کیږی.))

ښاغلی ستانکزی ښه پـوهیږي چـې طالبـان کـه تکـراري خـبره کـوي یـا نـوي، مګـر د افغان حکومـت لخـوا یـې تـر اوسـه هـم جـواب نـه دی شـوی، طالبـان وایـي چـې افغـان

[1] د سولې او نجات په نوم ټولنه چې مشر یې قاضي ګل رحمن دی، ډېری علماء، د پوهنتون استادان او د ولس د مختلفو طبقو کسان یې غړیتوب لري، ویل کیږي چې ددې ټولنې تـر شـا د پخـواني ولسمشر حامد کرزي لاس دی.

[2] د بهرنیو اډو پر ضد د ملي یـووالي جبهـه چـې مشر یـې پخـوانی لـومړی وزیـر انجنیراحمـد شـاه احمدزی او مرستیال یې پېژندل شوې جهادي شخصیت، لیکـوال او د سـولې فعـال محمـد زمـان مزمل دی. یاده جبهه د اجرائیه شورا اته غړي درلودل. دوی لومړنې ولسي او غیـر دولتـي کسـان دي چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو او هغوی ته په افغانستان کې د اډو ورکولو سره یې د مخالفـت اواز جګ کړی دی. د نومبر ۱۰مه ۲۰۱۳ ز. کال په کابل کې نږدې ۴۰۰۰ کسـانو جرګـه وکـړه او پـه هغـې کې یې امریکاته د پوځي اډو ورکولو مخالفت ښکاره کړ.

حکومت د پریکړو واک نه لري، ځینې مسایل باید له امریکایانو سره مخامخ مطرح شي.

دا ډول طالبان وايي چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو د مهالویش داعلان غوښتونکي دي، مګر افغان حکومت د دي پر ځای چې د طالبانو لخوا یادې خبرې ته مثبت ځواب او یا قانع کوونکی ځواب ووايي، له امریکا او ناټو څخه غواړي چې د طالبانو د ځپلو لپاره نور پوځیان هم راولیږي.

ښاغلي ستانکزي وویل چې زموږ پیغام دا دی:

(( د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر د رسمیت خبره مو کړي، تر یو ځایه پرمختګ شوی، ولي په دریږیم هیواد کې د طالبانو لپاره د دفتر خلاصېدل په افغان حکومت پوري اړه نه لري.

هدف مو دا دی چې هیواد کې یو واحد نظام شتون ولري، د افغانستان بیرغ یو دی.))

د ښاغلي ستانکزي پورته خبره تر ډیره سمه نه ده، ځکه همدا اوس هم عملاً په هیواد کې د حکومت چارې د دوو کسانو (ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ) لخوا په مساویانه ډول پر مخ وړل کیږي، سړی ویلای شي چې موږ واحد نظام همدا اوس هم نه لرو.

(( طالبانو ته د سیاسي دفتر خلاصېدل شرایط لري، بحث غواړي، راځئ سره کینو، که طالبان له موږ سره مخامخ خبرې وکړي، موږ به وپوهیږو چې کومه همکاري وکړو.))

د طالبانو غوښتنه دا ده چې د دوی د قطر سیاسي دفتر دي رسماً ومنل شي، تر څو د سولې مذاکراتو ته لاره اواره شي، داچې ښاغلي ستانکزی او افغان حکومت وايي چې د دفتر د خلاصیدو په شرایطو به خبرې ورسره کوو او بل ځای بیا همدوی وايي چې د سولې اړوند مخکې له مخکې شرایط باید نه وي، خو خپله بیا په قطر کې د طالبانود دفتر د خلاصیدو لپاره هم شرایط وړاندي کوي.

معصوم ستانکزي وویل: (( سیاسي اراده مهمه ده، چې د سولې لپاره اراده نه

وي، دا ستونزه ده، کـه تـاسي د حکومـت د يـوه نفـر لـه ادرس څخـه خـبره وکـړئ، طالب وايي په دې خبره کې توطيه ده، کـوم طالبـان چـې تـاسي لیـدلي هغـوی تعلیم یافته دي، ډیپلوماټان دي او تجربه لري، هغوی غواړي چـې د سـولې برخـه کې پرمختګ وشي، د افغانستان ستونزه د خبرو د لارې حل شي.))

داچې زموږ ٦ تنو لخوا لیدل شوي طالبان هر څـوک وو، تعلـیم یافتـه وو یـا خـو ديني عالمان وو، همدغه کسـان د طالبـانو لخـوا د سـولې د مـذاکراتو لپـاره ټاکـل شـوي، دا خـو لا ښـه ده چـې پـه خـبره ډېـر پـوه کسـان د طالبـانو لخـوا د سـولې مذاکراتو لپاره ګومارل شوي، په کار ده چې په مثبت نظر ورته وکتل شي.

ستـانکزي وويـل : (( زمـوږ کسـانو طالبـانو تـه د يـو مجلـس لپـاره پـه میاشـتو، میاشتو انتظار ایستلي تر څو له طالب سره مخامخ خبرو ته کیني.

طالبانو له رسنيو ويره درلودله، چې خبرې رسـنيزې نـه شي، دا خـبره شـوې وه چې طالبـانو تـه سیاسي دفـتر هـم ورکـړل شي، بيـا وروسـته طالبـانو ويـل چـې امریکایان دې راسره کیني، ومو منله، امریکایان هم ورسره کیناستل.

د سولې په مخ کې د خنډونو اړوند بهاني هر لوری جوړولای شي، مګر د سـولې لپاره صداقت ته اړتیا ده.))

موږ به له ښاغلي ستانکزي سره ومنو چې تـاسي سـوله غـواړئ، ولي قطـر تـه تـر تګ مخکې زه (لیکوال) او ځلاند ونه توانیدو چې له ځان سره د دوی پیغـام ولـرو، هڅه مو کړي چې د افغان حکومت ښکاره پیغام ترلاسه کړو، خو نه یو توانیدلي.

ښاغلي معصوم ستانکزي وويل : (( ستاسـی دا خـبره چـې اجتماعـي فشـار پـه دواړو لورو راشي، معقوله خبره ده، مهمه دا ده چې فتوی د جنګ/جهاد بنده شوې نه وي، شیخ عبدالحکیم او مولوی عبدالرووف د حکومت سره د جهـاد فتـوی بیرتـه نه وي اخیستي، د طالبانو د سیاسي کمیسون غړي په دغسي یو حالت کـې خـبرو ته نشي کیناستلی.))

طالبان وايي چې د بهرنيو پوځيانو شتون د جګړې لامل دی، موږ له ښاغلي ستانکزي او افغان حکومت څخه غواړو چې راځئ د طالبانو دغه بهانه ورختمه کړو، له امريکا څخه وغواړو چې د خپلو پوځيانو د وتلو محدود مهالويش اعلان کړي.

دا ډول طالبان هم بايد نړيوالو ته تضمين ورکړي، که د بهرنيو پوځيانو مهالويش اعلانيږي، دوی به اوربندا او بين الافغاني مذاکراتو ته چمتو وي، نه داچې د جګړې د لارې به کابل ته ننوځي.

ښکاري چې مولوي عبداالرووف يو ازاد ديني عالم دی، او هغه د طالبانو رسمي استازی نه دی.

ستانکزي د خبرو په دوام وويل : (( راځئ پر دې غور وکړو چې د منفي څخه مثبت ته څه ډول تلای شو، جګړه کې افغانان ضايع کيږي، زموږ منابع په کوم حالت کې دي، د هيواد په پولو کې مو څه نه تيريږي.

په هره جګړه کې زموږ هيواد کوچنی شوی، د جګړو پرمهال مو خپل هيواد لوی کړی نه دی، ګاونډي هيوادونه د افغان جګړې څخه خپلې ګټې لري.

ستونزمنه ده چې يوه معقوله سياسي پروسه مخکې يوړل شي، په لوی لاس دغه ډول پروسې خرابيږي.

په نيويارک ټايمز امريکايي ورځپاڼه کې مقاله خپره شي، بيا دلته په هيواد کې دننه درې ورځې پرې بحثونه کيږي. د مثبت پر ځای منفي اړخونو ته لمن وهل کيږي.

افغانستان کې ازادي شته، دلته چوکاټ نشته، مګر سی ان ان، بي بي سي او الجزيره هر يو يې خپل اهداف لري.

ځينې وختونه موږ فکر کوو چې د هيواد په ګټه کار کوو، مګر په اصل کې زموږ هغه کړنه د هيواد په زيان وي.

موږ د هيواد ملي ګټو د ساتنې، د جګړې بنديدو، د افغان وژنې بنديدو لپاره هر مثبت اقدام ته هرکلی وايو.))

ولي د بهرنیو پوځیانو د زیاتوالي غوښتنه، د شپې چاپې او په زندانو کې له بندیانو سره بد چلند د دي ښکارندویي کوي چې د افغان دولت لخوا سولې ته ژمنتیا نشته، او جګړې ته لمن وهل کیږي.

هغوی چې د سولې لپاره کار کوي ستونزې او خنډونه ورته پیدا کیږي، او له تهدید سره مخ کیږي، همدا موږ درې تنه (ښاغلی ځلاند، ښاغلی وحیدي او زه) ډیرکله د سولې له امله په کابل کې له تهدیدونو سره مخ یو، ډول ډول دوسیې راته جوړیږي تر څو بدنام کړل شو او یا خو زندان ته یوړل شو.

ستانکزي وویل: (( چې ناستې ګټوري دی، خو په کار ده چې په ښکېلو لورو مثبت رواني فشار راوړل شي ترڅو د سولې مذاکراتو ته چمتو شي.

داسي دربیمګړې ډلې ته اړتیا ده چې سولې ته د رسیدو معقوله لاره وښیې، د هیواد ملي ګټې په نظر کې ولري.))

موږ (د سولې ډلې) ډیر ځله له افغان حکومت څخه غوښتنه کړي چې یو دربیمګړې ډله باندې باور وکړي، تر څو د حکومت او طالبانو ترمنځ پیغامونه تبادله شي، ولي تر دي مهاله نه افغان حکومت او نه هم طالبانو چمتووالی ښودلی دی.

په افغان حکومت کې دننه ولسمشر غني د سولې د خبرو خپل ځانګړی ټیم لري، معصوم ستانکزی او حنیف اتمر خپل جوړښت لري، اکرم خپلواک او ځینې نور یې بیا بله ډله ده چې د سولې لپاره په ناهمږغي سره کار کوي، او شمال ټلواله یې مخالفت کوي.

ښاغلي ستانکزي وویل: (( د افغانستان مسئله ډیره پېچلې ده، زموږ زیربنا ته تاوان رسیږي، په ارزګان او هلمند کې قیر سړک خرابیږي [1]، په هرو ۵ دقیقو کې

---

[1] د ۲۰۱٦ ز. کال په نیمایې کې د کندهار ارزګان او کندهار – لښکرګاه پاخه سړکونو، په ځینو برخو کې طالبانو له سړک څخه قیر لیري کړی، ترڅو په یاده نقطه کې موټران خپل سرعت کم کړي، او طالبان یې وڅاري.

په هیواد کې دننه یوه پیښنه کیږي، ملي سرمایه مو له منځه ځي، په جنګ مسئله نه حل کیږي، د ستونزې یوازنی حل سوله ده.

د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر د خلاصون په موخه به زه خپله قطر ته ولاړشم، خو که دفتر خلاص شي، بیا به څه کوو؟ طالبان دي هیئت تعین کړي چې د دفتر له خلاصیدو وروسته د سولې مذاکرات وکړو.

داچې تاسي وایاست په قطر کې د طالبانو د کوټې شورا (رهبري شورا) څلور کسان موجود وو، په قطر کې یو ډول فضا ده، خو د جګړه کوونکو طالبانو په شتون کې جنګي فضا بل ډول ده، د جګړې په لیکو کې طالبان قطرمیشتو طالبانو ته امریکایي طالبان وایي. [۱]))

د ښاغلي معصوم ستانکزي هڅه دا وه چې زموږ باور د طالبانو قطر میشتو استازو باندی کم کړي، هغه څه چې زه یې د سولې مخالف کار ګڼم، ولي موږ پوهیږو چې د سولې مذاکراتو له پاره په قطر کې میشت طالبانو ته واک ورکړل شوی، او هلته د طالبانود رهبري شورا قوی غړي هم حضور لري. ان په ۲۰۱۴م

---

[۱] د فدایې محاذ په نوم د طالبانو د یوې ډلې له ادرسه بریښنا پاڼه کې قطر میشتو طالبانو ته امریکایې طالبان ویل کیږي، د فدایې محاذ مشرتوب د وردګو ولایت مولوی نجیب الله کوي، هغه په لومړیو وختو کې د طالبانو سره ملګری وو. مولوي نجیب الله او ملګري یې د طالبانو لخوا په یوه نیول شوې بهرني باندي پهره وو، طالبان شک لري چې هغه بهرنی د مولوی نجیب الله لخوا پاکستاني استخباراتو ته په لاس ورکول شو، خو مولوي نجیب الله وردګ ویل چې هغه وتښتیدی، ویل کیږي چې دوه میلونه ډالر مولوي نجیب الله تر لاسه کړل. له دي وروسته طالبانو غوښتل چې هغه ونیسي او محاکمه یې کړي. ویل کیږي چې مولوی نجیب الله په کراچۍ کې اوسیږي او د پاکستان له آی ایس آی سره نږدې اړیکې لري. طالبانو د پاکستان بلوچستان ایالت،کوټې ښار ته نږدې د مولوي نجیب الله ورور وواژه.

دملامحمد رسول اخوند تر نوم لاندي ډله چې وایاند یې ملاعبدالمنان نیازی دی، هغوی هم قطر کې میشت طالبانو ته امریکایې طالبان وایې. داسي راپورونه هم ورکول شول چې ملاعبدالمنان نیازی کابل ته تګ راتګ کوي، او دافغان حکومت سره اړیکې لري.

کال کې امریکایانو له طالبانو په لاس کې د خپل اسیر سرتېري د خلاصون لپاره له همدغو طالب استازو سره خبرې اترې وکړې.

ښاغلي ستانکزي وویل : (( د سیمې او نړۍ له تغیراتو سره ځان باید عیار کړو، زموږ لخوا له طالبانو سره د بحث لپاره تیاری شته، تاسي هم پیغام ورته ورسوئ.

امریکا سره مو خبره کړې، هغوی ویلی وو چې موږ افغان حکومت سره په یوه خبره هوکړه کړې، حکومت مو په رسمیت پېژندلی، همدا راته قانوني حکومت دی، له طالبانو سره د سولې مذاکراتو ملاتړ یې کاوو [1] . ))

ستونزه داده چې افغان حکومت د سولې مخامخ خبرو کولو غوښته کله له پاکستان او کله هم له طالب څخه کوي، ولي اصلي ستونزه دا ده چې امریکا د افغان سولې په اړه ځان دربیمګړی معرفي کوي، په داسي حال کې چې د جګړې یو اصلي او مهم لوری خپله امریکا ده، امریکا جګړه پېل کړي او په مسؤولیت سره باید همدا جګړه ختمه کړي.

که له امریکایانو څخه پوښتنه وشي چې کله دوی پر افغانستان حمله کوله، دلته د چا حکومت وو، آیا هغه حکومت د حامد کرزي که ډاکټر غني لخوا رانسکور شو،او یا خو یې په قانوني ډول واک ورته تسلیم کړ؟ خو همدا تاسي امریکایان واست چې د طالبانو نظام مو رانسکور کړ او پرځای یې تاسي کرزی او بیا ډاکټر غني راوست، که اوس هم امریکایان نه وی، ولس ته خو اوسنی نظام د منلو وړ نه دی.

ښاغلي ستانکزي وویل : ((په میدان وردګ کې د طالبانو لخوا محصل ووژل شو، هر چا د هغه اړوند اتهام وارد کړ، خبره ډنډوره شوه، مګر هغه یو مسکین او بې چاره محصل و، څه ډول طالبان وتوانیدل چې د هغه جرم ثابت او د هغه د اعدام لپاره داسی ژر پریکړه وکړي، دا یو وحشت دی [2] . د یوې کورنۍ جنجال وو، خو قرباني یې محصل شو.))

---

[1] کټ مټ هغه ډول خبره وه چې د امریکا سفارت کې موږ ته ډیوډسون وکړه.

[2] د ښاغلي ستانکزي هدف انجنیرعزیز الرحمن وو، کوم چې طالبانو د دوی د سیمئیز استخباراتي مسؤل د قتل په مقابل کې اعدام کړ. طالبانو اعلامیه خپره کړه، چې یاد انجنیر د ملي امنیت

ښاغلي ستانکزي ونه ویل چې ډېر ځله د طالب په تور ځینې زده کوونکي او د پوهنتون محصلین د حکومت لخوا وژل شوي، مګر چا یې پوښتنه هم نه ده کړې، له پورته پیښې دوه میاشتې وروسته د غزني ولایت په قره باغ ولسوالي کې د کابل څخه ورغلی محصل په دي تور ووژل شو چې پلار یې له طالبانو سره اړیکې لري.

د کندهار پوهنتون له لیلیې څخه محصل یوړل شو، او بیا یې مړی په داسي حال کې پیدا شو چې سخت شکنجه شوی وو.

بل خوا هڅه کیږي چې ځینې زده کوونکي او محصلین د پټو استخباراتو له خوا په دندو وګومارل شي، کله چې هغوی ته ستونزه پیدا کیږي، رسنۍ یې په یوه خوله غندنه کوي، خو کوم محصل چې د حکومت له خوا له ستونزو سره مخ کیږي، د هغه په اړه رسنۍ پټه خوله وي.

ښاغلي ستانکزي موږ ته وویل: (( منفي خبرې په مثبت او خپلې خبرې په عامو بدلې کړئ، دا پاتې خلک بیا وایي چې ولي طالبانو موږ نه یو غوښتي. حکومت کې هم دا خبرې دي، وایي چې زه نه وم تللی، دا کار او غونډه خرابه وه، تاسي متوجه اوسئ چې خپل اعتبار له لاسه ورنه کړئ.

طالبانو ته وواياست چې بریدونه ولي کوئ، راځئ خبرې وکړو، چې ولس ګټه وکړي، د حکومت او طالبانو ترمنځ بدګوماني لاهم زیاته ده.))

طالبان بیا وایي چې کله موږ بریدونه کم کړو، په لوی لاس افغان حکومت او نړیوال زموږ خلاف تبلیغات کوي چې طالبان کمزوري شوي.

مګر موږ ولس له افغان حکومت څخه هم غواړو چې بریدونه کم کړي، زندانونه

---

کارکوونکی وو. ولي افغان حکومت دا نه مني، یوه ډله د جګړې ضد ځوانانو ځیړنو دا ښودله چې انجنیر عزیز الرحمن د ملي امنیت کارکوونکي، او د پوهنې د پخواني وزیر فاروق وردګ سره یې نږدې اړیکې درلودلې. د دوی څیړنو کې راغلي وو چې انجنیر عزیزالرحمن د فاروق وردګ د وررو شیرولي وردګ د مرګ په غچ کې د طالبانو د سیمئیزو استخباراتو مسؤل ډاکټر میرویس وژلی وو.

دي په افغان ځوانانو نه ډکوي، او لـه بهرنیـانوسره دي پـه شـپنیو چـاپو وهلـو کـې مرسته نه کوي.

د ښاغلي معصوم ستانکزي تر خبرو وروسته ډاکتر فیض محمد ځلاند وویل:

(( طالبانو هم ویل چې په دواړو لـورو (حکومـت او طالـب) ولسيـ فشـار راوړئ، جگړه کې افغان وژل کیږی، او گټونکی نه لري.

ځلاند دا خبره هم وکړه چې کله مې د مازیگر لمونځ وکړ، یوه طالب په غوږ کـې راته وویل چې د گاندي په ډول عام ولس پوهول په کار دي[1] .

ځلاند دا خبره هم وکړه چې طالبـانو رفرینـډم شروع کـړی، چـې نظـامي کسـان اجازه ورکړي چې د افغان حکومت سره د سولې خبرو ته زمینه مساعده شي[2].))

معصوم ستانکزي باندي دا خبره ښه تمامه شوه، ویل یې : (( دا ښه خـبره ده، د دې لپاره به په گډه کار کوو.))

ښاغلي قاسم حلیمي بیا هم د خبرو نوبت ونیوی، هغه وویل:

((پـه قطـر کـې د طالبـانو دفـتر د مـذاکراتو لپـاره و، اول ځـل ٦ نفـره طالـب اسـتازي ورغلل، اوس هلته ۲۱ نفره دي، د دفتر د بندیدو خبره په حکومت کې چا نه ده کړي.))

فکر نه کوم چې ښاغلی حلیمي به تر اوسه هم پر دي نـه وي خـبر، بلکـي ښـه خـبر دی چې د قطر د دفتر د رسمیت مخالفت په ډاگه سره د افغان حکومت لخوا کیږي.

ښاغلي حلیمي وویل : (( چې طالبان دي واضح کړي چې د مرستو ټولولو او که

---

[1] د هند گاندي وتوانیدی چې د هند ولس د بریتانویانو څخه د ازادۍ اخیستلو لپـاره سره یـو مـوټي کړي، او له بریتانویانو څخه له هند څخه په یوه خوله د وتلو غوښـتنه وکـړي. گانـدی وتوانیـدی چې هند کې میشت د بېلابېلو مذاهبو او دینو پیروان د هند د ازادي لپاره یووالي ته راوبولي.

[2] په دومره صراحت سره د طالب استازو څخه ما (لیکوال) داخبره وانه وریده، که ښاغلي ځلاند تـه یـې په ځانگړې مجلس کې کړي وي، نه یم خبر، خو طالب استازو ویـل چـې تـر څـو د امریکـا لـه خـوا د امریکایې پوځیانو د وتلو مهالویش نه وي اعلان شوی، دوی له افغان حکومت سره خبرو ته نه کیني.

د مذاکراتو دفتر غواړي، که دفتر خلاصوي، خبرو ته ضرورت دی.))

د پورته خبرې اړوند باید وویل شي چې ټول عرب هیوادونه له افغان حکومت سره ښې اړیکې لري، افغان حکومت کولای شي د ډیپلوماټیکو اړیکو پر بناء خپلې اندیښنې له عرب هیوادونو سره شریکې کړي، مګر دا د حل لاره نه ده چې د طالبانو د سولې د مذاکراتو دفتر دي تړلی پاتې وي.

ښاغلي حلیمي وویل : (( چې طالبان څه وخت او چیرته له موږ سره خبرې کوي؟ د دولت لخوا به تاسي (هغوی چې قطر کې یې طالبانو سره ناسته درلودله) سرټیټې نه شئ.))

یوازې د وخت تیرول وو، د خبرو پر مهال د یو بل په سترګو کې خاوري شیندل و، موږ افغان حکومت ته په واضح ډول د طالبانو دا پیغام ورساوو چې تر څو د بهرنیو پوځیانو د وتلو د محدود مهالویش اعلان نه وي شوی، طالبان له افغان حکومت سره خبرې نه کوي، مګر د افغان حکومت کسان داخبره کله هم نه اوري.

حلیمي وویل: (( که د دفتر غوښتنه وي، هغه باید د هوکړې مطابق یوازې د سیاسي فعالیتونو لپاره وکارول شي، نه د نورو کارونو لپاره [1].

آیا زموږ پر طالبانو زړه نه بدیږي؟ حتمې ده چې زړه مو پرې بدیږي، دا جلا مسئله ده، د دفتر کسان زموږ ملګري دي، هغوی روڼ اندي دي.

د تور لسټ څخه د طالب مشرانو د نومونو لیرې کول، د طالبانو د قطر دفتر په رسمیت پیژندل او د بهرنیو ځواکونو مهالویش ټاکل د خبرو د لارې کیږي.))

د ماښام ٦ بجې او ١٥ دقیقې وي، د ملي امنیت مشر- معصوم ستانکزي وویل چې بل مجلس لرم، خلک راته منتظر دي، ستانکزی او ورسره یې مرستیال ښاغلی

[1] افغان حکومت کې لوړ پوړي چارواکې شک کوي چې په قطر کې د طالبانو استازي د طالبانو د ډلې لپاره مالي مرسته له عرب شیخانو او اسلامي نړۍ څخه راټولوي او بیا یې خپلو مشرانو ته لیږي، تر څو د جګړې په شدت کې ورڅخه کار واخیستل شي.

عابدي او وياند صديقي هم د مجلس له سالون څخه ووتل.

د ښاغلي صديقي اړوند ډاکتر فیض محمد ځلاند او استاد اسد وحیدي ښاغلي حلیمې ته وویل : (( صدیقي د مجلس په جریان کې یـو ډول تمسـخر امیـزه خنـدا کوله، مجلس ته یې بې اعتنایې کوله.))

میرویس ستانکزي وویـل : (( پـرون زمـا سره د صـدیقي د مجلـس پـر مهـال دوه خبرې یې ناسمې وې، داچې ویل یې چې تاسي ټولو له طالبانو سره پـه مجلسـونو کې د هغوی پلوي کړې، بل دا چې ښاغلي اسد وحیدي په قطـر کـې ویـلي و چـې افغانستان کې کفري حکومت دی، ولي ما ورته وویل چې داسي خبره نه ده شوې، خو صدیقي یو ډول تهدید کاوو.))

موږ پنځه واړه د ښاغلي حلیمې په غوښتنه همدلته د لږ نور وخت لپـاره هـم تـم شوو، هغه وویل: (( د امنیت شورا مشر ښاغلي محمد حنیف اتمر دنده راکړې چـې زه او د امنیت شورا بل غړی ښاغلی قسـیم لـودین درسره کینـو، مـوږ او تـاسي خـو مجلس کړی، ښاغلی لودین به خبره وکړي.))

د امنیت شورا غړي ښاغلی لودین موږ ټولو ته او په ځانګړې ډول ما او ځلاند ته ګواښوونکې کنایي خبرې کولې، موږ د هغه په کنایو پوهیـدو چـې زمـوږ اړونـد یـې ګواښوونکې او ناسمې خبرې کولې.

هغه وویل : (( له ښاغلي معصوم ستانکزي سره مې پنځه کلونـه د سـولې عـالي شورا کې کار کړی دی. کافي تجربه په دې برخه کې لرو، ډېر ځلـه مـو لـه طالبـانو سره په کوردننه او دباندې لیدلي دي، دا کار ډېر شوی دی.

موږ روڼ اندو ته په کار ده چې واحد نظر ولرو، د پېښو او مسایلو اړوند زغم ولرو.))

مګر د ښاغلي لودین له خبرو معلومیدله چې نه خو د سولې په برخـه کـې تجربـه لـري او نه هم زغم لري او نه هم د نورو روڼ اندو په ډول له مسایلو څخه پوهاوی لري.

ښاغلي لودین وویل : ((کابل کې خلک په موږ پسې ناسـمې څرګنـدونې کـوي،

واحد نظر او واحد موقف نشته، ډیری د سولې دښمنې کوي، ځینې خلک داسي هم دي چې کابل ښار ته ځانمرګې راننباسي، د کابل له بګرامي ولسوالۍ څخه دا کارونه کیږي، مګر بیا هم حکومت پراخه سینه لري، هغه خلک چې دا کارونه کوي، ښه یې پېژني خو بیا هم حکومت له زغم څخه کار اخلي.))

د سولې بحثونو کې دغه ډول څرګندونې د پرمختګ پر ځای د سولې د بحثونو د مخنیوي لامل ګرځي.

موږ بیا وروسته له ښاغلي حلیمي وغوښتل چې که بیا ځل مجلس کیدی، هیله ده چې قسیم لودین په مجلس کې ګډون ونه لري.

لودین په هغه ناسته کې وویل : (( ځینې هیوادونه په افغانستان کې خپل لوړ او ځانګړي اهداف لري، ولي موږ به د خپل هیواد د سولې او امن لپاره هغه څه کوو چې له توان څخه مو کیږي.

که طالب رښتیا هم د سولې خبرو صلاحیت ولري، ښه به وی چې د خبرو اصلي محتوی ته داخل شي.

د طالبانو ټولې ډلې دي اعلان وکړي چې دوحه زموږ د سولې مذاکراتو ادرس دي، ځکه زموږ سره په اړیکه کې ځینې طالب سرچینې وایي چې موږ ته د خپل مشر-خبره مهمه ده[۱]، موږ د حکومت سره مذاکراتو ته اماده یو، د قطر د طالبانو خبره نه منو.))

کوم کسان چې افغان حکومت د طالبانو په نوم ورسره اړیکې لري، دوی هڅه کوي چې همدا اشخاص د ډلو مشران وښیي، ولي په اصل کې ټول پوهیږي چې د طالبانود سولې د مذاکراتو ادرس په قطر کې دی.

لودین داخبره هم وکړه: ((قطر کې طالبان ځکه د دفتر په رسمي کیدو ټینګار

---

[۱] ممکن هدف یې دا وو چې طالبان څو ډلې دي او د طالبانو د قطر دفترد ګردو طالبانو ادرس نه دی. یو ځل د ملا محمد رسول ډلې له ادرسه ملا عبدالمنان نیازي هم ویلي و چې موږ له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته چمتو یو(۸ نومبر ۲۰۱۵).

کوي، لامل یې دا دی چې د دوو کلونو لپاره د طالبانو په قطر کې د پاتې کیدو هوکړه شوې وه، اوس یې هغه دوه کلن قرارداد پوره کیږي، نور به د قطر طالبان بې سرنوشته کیږي، قطر هیواد وایي چې همدا طالبان دې له دي وروسته افغانستان ته وغوښتل شي [1]))

د ښاغلي لودین دا خبرې د ښاغلي حلیمي له خبرو سره ټکر درلود، ځکه ښاغلي حلیمي ویل چې په قطر کې د طالبانو د دفتر د بند ساتلو لپاره افغان حکومت ستونزه نه جوړوي.

زموږ معلومات دا دي چې که د سولې مذاکرات کامیابیږي او یا ناکام، په قطر کې میشت د طالبانو د سیاسي دفتر استازي به هلته هستوگن وي، او قطر هیواد همدا هوکړه هغه وخت ورسره منلي وه کله چې طالبانو د خپلو سیاسي استازو او سولې مذاکراتو لپاره قطر هیواد ومانه.

لودین وویل : ((طالبانو په دوبۍ کې سیاسي دفتر وغوښت، مگر دوبۍ ورسره موافقه ونه کړه.

کله چې د سولې اړوند طالبان د خبرو اصلي محتوی ته راشي بیا وایي چې له پاکستان سره خبره وکړئ،او پاکستان قانع کړئ [2].))

د ښاغلي لودین دغه ډول بې مسؤولیته او دروغ څرگندونې د ښکېلو جهتونو

---

[1] طالبان په ۲۰۱۰ کال کې قطر ته تللي دي، دا چې دوه کلن هوکړه لیک له قطر سره لري، د منلو نه دی، او دا چې په قطر کې میشت طالبان به افغانستان ته د قطر څخه غوښتل کیږي، دا خبره هم کوم اساس نه لري.

د ۲۰۱۷ فبروري په ۱۸مه د جرمني هیواد په مونیخ ښار کې ولسمشر غني د قطر هیواد د بهرنیو چارو له وزیر څخه غوښتنه وکړه، که طالبان تر راتلونکي پسرلي (یوه میاشت وروسته) پوري له افغان حکومت سره د سولې مذاکراتو ته چمتو نشي، د هغوی د قطر سیاسي دفتر فعالیت هم باید بند کړل شي.

په مونیخ کې تر امنیتي غونډې وروسته افغان حکومت له نړیوالو و غوښتل چې د شیخ هبةالله په گډون د نورو طالب مشرانو نومونه هم د ملگرو ملتونو په تور لست کې شامل کړل شي.

[2] ما ته دا خبره ناسمه ښکاره شوه، ځکه طالبان به کله هم دا ډول ناسنجیده خبره ونه کړي، او افغان حکومت دی چې پر طالب د پاکستان د غلام تور لگوي. که طالبان دا ومني چې له پاکستان سره خبره وشي، بیا خو ۴ اړخیزه ناستي پر ځای اقدام و او باید نتیجه یې ورکړي وای.

ترمنځ فاصلې نوري هم زياتوي، نه خو عقل او نه هم منطق مني چې طالبانو بـه دا ډول خبره افغان چارواکو او يا هم افغان سياستوالو ته کړي وي.

لودين زياته کړه: (( موږ ډاکټر غني ته وويـل چـې د سـولې اصـلي خـبره طالـب سره نه ده، جګړه پاکستان سره ده، خبره هم بايد پاکستان سره وشي.))

د افغان حکومت يوه لويه تيروتنه همدا وه چـې طالبـانو سره د مخـامخ خـبرو پـر ځـای يې له پاکستان سره د سولې د مذاکراتو پر مخ بيولو هڅې پيل کړې، دوی يـوازې ولسـونه وغولول او وخت يې ضايع کړ، د سولې برخه کې هيڅ ډول پرمختګ يې ونه کړ.

لودی داهم وويل: (( ولسمشر غني او په حکومت کې ځـانګړې ډلـې سـولې تـه جدي اراده لري، او حزب اسلامي سره د سولې تړون يې ښه بېلګه ده.

د حزب اسلامي استازي وايي چې ٦ کاله مو د پخـواني ولسمشرـ حامـد کـرزي په وخت کې د سولې خبرې وکړي، کله به چې پروسه د امنيت شـورا تـه ورسـيده، خبرې به له بن بست سره مخ شوې.

له حزب اسـلامي سره اتلـس مياشـتي مـذاکراتو دوام وکـړ، ولي هـوکړې تـه هـم ورسيدو، د کابل ښار په نوي ښار کې مو دوه غټ کورونـه ورکـړي او ټينـګ امنيتـي تدابير مو ورته نيولي دي.

د ګرځيدو لپاره مو ترانسپورتي او نقلي وسايط ورته برابر کړي، د بهرنيـو چـارو د وزيـر په لاسليک د ملګرو ملتونـو د نړيوالـو بنـديزونو کميټـې تـه ليـک اسـتول شـوی چـې د حزب اسلامي د مشر ښاغلي ګلبدين حکمتيار نوم له تور لسټ څخه وايستل شي.))

د ۲۰۱۷ ز. کال د فبروري په ۳مه نيټه د ملګرو ملتونو لخـوا پـر حـزب اسـلامي لګيدلي بنديزونه ليري شول، او د دغه ګوند د مشر ښاغلي ګلبدين حکمتيار نوم د ملګرو ملتونو د امنيت شورا له تور لسټ څخه ليري کړل شو.

۲۸ اپريل ۲۰۱۷ يې لغمان کې د حزب اسلامي له ځينو پخوانيو غړو او نورو کسانو سره وليـدل، پـر ۲۹مه يې په لغمان، پر ۳۰مه يې په جلال اباد او د مئ مياشتې پر ۴مه نيټه يې په کابل کې وينا وکړه.

**دربیم ڤپرکی**

پگواش – کابل غوندہ

## د پګواش له مشر پاولو سره خبرې

له ښاغلي معصوم ستانکزي څخه تر مجلس وروسته زموږ (ځلاند او مطمئن) د پګواش ادارې له مشر ښاغلي پاولو سره د لیدو وعده وه، د کابل ښار کانټیننټل هوټل ته ماښام په ۷:۳۵ بجې ورسیدو، له ښاغلي پاولو سره مو په ماښامنۍ کې د سبا ورځ پګواش غونډې او نورو مسایلو اړوند بحث درلود.

ښاغلي پاولو وویل: ((غوښتل مو قطر یا کوم بل بهرني هیواد کې دا ځل د پګواش غونډه جوړه کړو، خو حکومت ورسره مخالفت کوي، فکر کوم چې د قطر هیواد ته یې ویلي چې د غونډې مصارف او هلته د غونډې جوړیدو اجازه ورنه کړي. تیر ځل د غونډې ټول مصارف قطر هیواد په غاړه اخیستي وو، دا ځل یې ونه منله.

ځکه مو په کابل کې د غونډې تابیا ونیوله، سبا به غونډه کوو، او تورن اسماعیل خان هم رارسیدلی دی، اوس لږ وروسته ورسره ګورو.))

موږ ورته د معصوم ستانکزي سره د ناستي وویل، داچې ستانکزي وویل چې د سولې هڅو ملاتړ کوي، ښاغلي پاولو و ویل: په کوم بهرني هیواد کې د سولې دغسي ناستو ته چې طالبان هم پکې ګډون ولري، افغان حکومت اجازه نه ورکوي.

ښاغلي پاولو داهم وویل چې : (( داځل د غونډې غوښتنه د تورن اسماعیل خان لخوا شوې وه، چې په کابل کې دغه ډول ناسته ولرو.))

د سولې اړوند خنډونو باندي موږ سره خبرې وکړي، قطر کې د طالب استازو او امریکا سفارت کې د لیدنو اړوند مو ورته لنډه یادونه وکړه.

# پګواش - کابل غونډه

د ملا عبدالسلام ضعیف کور له کابل ښاره وتلی په بګرامی کې دی، که له خپل کور څخه د کابل ښار ته سهار د وخته را راون نه شي، بیا د موټرو د زیاتې ګڼې ګوڼې له امله ښار ته راتګ ډېر خسته کوونکی وي.

سهار چای موږ او ښاغلي ضعیف یوځای وڅښی، همدا ځای کانټیننټل هوټل ته نږدې وو.

د ډسمبر ۱۳مه ۲۰۱٦، د سهار تر لس بجې مخکې د رسنیو کارکوونکي کانټیننټل هوټل ته رسیدلي وو، تر لسو بجې پورې د غونډې ډیری ګډونوال هم په نسبتاً وړوکې هال کې دننه ناست وو.

د غونډې ګډونوالو پریکړه وکړه چې رسنیو ته دي د غونډې تر ختمیدو وروسته د مطبوعاتي کانفرانس په ډول معلومات ورکړل شي.

غونډه د قران کریم په تلاوت سره پیل شوه، اصل کې اجنډا دا وه چې د پګواش اداري لخوا په چمتو شوې د سولې په ۱۹ ماده ییز وړاندیز باندي بحث وشي، ولي داسي ونه شول، عام بحث وشو.

د غونډې ګډونوال وو :

ملا عبدالسلام ضعیف، تورن اسماعیل خان، محمد یونس قانوني، ډاکټر انوارالحق احدي، محمد عمر داودزی، حاجي دین محمد، ښاغلی پاولو، صادق مدبر، اکبر سعادتي، تمیم نورستانی، عبدالخالق فراهي، محمد امین کریم، عتیق الله ساپی، جعفر مهدوي، اسدالله خالد، فریدون مومند، باختر امین زی، ضیاالحق امرخیل، ډاکټر فیض محمد ځلاند، حاجي روح الله، خلیل ساپی، ځدراڼ، سناتور شاغاسي، ډاکټر فاروق اعظم، مولوي عبدالحکیم منیب، سناتور عبدالصمد شاغاسي او زه.

د پیل خبرې د پګواش اداري مشر ښاغلي پاولو کوټا راموسینو وکړي، هغه وویل:

(( دوحه کې مو له طالبانو څخه واوریدل چې طالب انحصار نه غواړي، د واک

شراکت غواړي [۱].

پېښور کې مو طالب مشرانو سره مجلس وو، ویې ویل چې په تنهایی سره یوه ډله حکومت نه شي کولای [۲].))

د ښاغلي پاولو د انحصار خبره سمه ده، ولي د طالبانو سره د لیدنو کتنو پر مهال موږ کله هم له هغوی څخه نه دي اوریدلي چې په واک کې شراکت غواړي، بلکي وایي چې په هیواد کې افغان شموله حکومت غواړي.

د یوې جلا ناستې پر مهال بیا وروسته ما (لیکوال) له ښاغلي پاولو څخه وپوښتل چې موږ له طالبانو څخه نه دي اوریدلې چې هغوی په واک کې شراکت غواړي، ښاغلي پاولو وویل : (( زما هدف دادی چې طالبان د واک انحصار نه غواړي، دا معنی چې په حکومت کې د واک ویش ته چمتو دي.))

ښاغلي پاولو وویل: ((هدف دا دی چې کومه ډله هم حکومت یوازي نه شي کولای، بلکې سیاسي ډلې به په ګډه په حکومت کې عادلانه ونډې ولري.

موږ د سولې اړوند چې جګړه پای ته ورسیږي، ۱۹ مادې ترتیب کړي، د ټولو سیاسي جهتونو نظریات مو اوریدلي او راټول کړي، بیا مو پري کار کړی، تر څو د حل لاره پیدا کړو.

---

[۱] جنوري ۲۳مه ۲۰۱٦ز. کال. دوحه کې د پګواش غونډه. د طالبانو استازو په کې ګډون درلود.

[۲] د ۲۰۱٦ نومبر پر ۲۲-۲۳مه اسلام اباد میرټ هوټل کې د پګواش غونډه وشوه. ډاکټر انوارالحق احدي وویل چې موږ ته د پګواش اداري لخوا ویل شوي وو چې د طالبانو د کوټې شوار دوه تنه به هم هلته د کانفرانس له ختم وروسته له موږ سره ګوري. د طالب استازو سره د لیدو لپاره راته وویل شول چې د چهارشنبې ورځ ۲۳مه د نومبر هغوی رارسیږي، موږ هم غوښتل چې د طالبانو د کوټې شورا کسان وګورو. بیا د پګواش اداري کسانو وویل چې سبا پنجشنبه رارسیږي. ښاغلی احدي وایې چې زه ورځخه کابل ته راغلم. ممکن ښاغلي پاولو په همدې سفر کې په پېښور کې له ځینو طالبانو سره لیدنه شوې وي. پرون شپه ماښامنۍ کې ښاغلي پاولو داهم وویل چې پېښور کې د طالبانو سره مجلس کې د افغان حکومت کسانو هم برخه درلودله.

دا ۱۹ مادې مسوده ده، نهایي نه ده، موږ او تاسي بحث پري کوو، ستاسي نظريات او تجربې راټولوو، گورو چې په مسوده کې کوم ټکي سم اوکومو نورو ټکو ته اړتيا شته، چې کله مو نظريات راټول کړل بيا به په همدې ۱۹ ماده ييزه مسوده کې رغنده بدلون راوړو.

مهمه دا ده چې موقت حکومت يوه ښه د حل لاره ده، چې ډېرى سياسي مشرانو او ډلو ويلي دي.))

داچې د پگواش ادارې په وړانديز کې د لنډ مهاله حکومت غوښتنه شوې، له همدې امله ده چې افغان حکومت د پگواش ادارې سره په دې برخه کې ستونزه لري، افغان حکومت د لنډمهال حکومت د جوړيدو د طرحې مخالفت کوي، کابل ته د دغې ادارې د مشر په راتگ کې هم ستونزې جوړوي، د پاولو د تير ځل راتگ څخه وروسته موږ ته د يوې ناستې پر مهال ښاغلي عمر داودزي وويل چې د پگواش ادارې مشر ته د افغانستان حکومت ويزه نه ورکوله، دوه ځله مې د هغه د ويزې ورکولو په برخه کې له ښاغلي پاولو سره مرسته کړې ده.

داسي ښکاري چې د لنډمهاله ادارې د جوړښت او بهرنيو پوځيانو د مهال ويش اړوند به ښاغلي پاولو له امريکايانو سره هم خبرې کړې وي.

ښاغلي پاولو د خبرو په دوام وويل : (( د طالبانو اساسي غوښتنه د مهالويش مطابق د بهرنيو پوځيانو وتل دي.

دا هم ډيره مهمه ده چې څه ډول طالب له نظامي ليدلوري څخه سياسي خوځښت ته راشي، ډير سخت کار دی، مگر د بحث وړ دی.

که موږ د موقت حکومت بحث کوو، پوښتنه دا ده چې د حکومت جوړښت به څه ډول وي.

زموږ د نن ورځي مجلس نارسمي او نادولتي دی، يوازي د نظر لرونکو اشخاصو نظريات اخيستل کيږي، او په دي وړانديز کې بايد د ټولو جهتونو نظرونه واخيستل شي.

داچې موږ په بېلابېلو وختونو کې مختلف مجلسونه جوړوو، غـواړو د ټولـو خـواوو نظريات له ځان سره ولرو.

د مهمو سياسي شخصيتونو او دولتي کسـانو د نظريـاتو راټولـول مهـم دي، مـوږ نظريات را اخلو، په دي معنی نه چې نهايي نظر به وي، بلکې بحث پرې کوو.

که اوس يا وروسته هر وخت تاسي وړانـديز ولـرئ، ښـه راغلاسـت ورتـه وايـو، لـه غونډې وروسته هم کولای شئ چې خپل رغنده نظريات راسره شريک کړئ.))

موږ د بېلابېلو ناستو پر مهال ښاغلي پاولو ته دا هم ويلي چې د سولې په برخـه کـې د ولس د ربښتونې استازو نظريات ډېر مهم دي، په دي برخه کې فکـر کيـږي د پګـواش اداره نه ده توانيدلي چې ځينو غونډو ته د هيواد دولايتونو او ليـري پرتـو سـېمو څخـه د ولس ربښتونې استازي راوغواړي او د هغوی نظريات هم له ځان سره ولري.

د پګواش ادارې او راپور اړوند ښاغلي پاولو وويل: (( پګواش غير دولتـی موسسـه ده، څه چې تاسي واياست ټکي په ټکي به په راپور کې نه راځي، مهم ټکي به نوټ کيـږي، او پـه هغـه بـه خـبره کيـږي، نظريـات مهـم دي، مـوږ يـې د راپـور پـه ډول راټولوو، عمومي راپور ورڅخه جوړوو او د نومونو يادونه پکې نه کوو.))

په افغانستان کې د سياستوالو ستونزه دا ده چې خپله خـبره کـوي او د نـورو نـه اوري، د ولسمشر پخواني مرستيال يونس قانوني وغوښتل چې تر ټولو لومړی خپل نظر وړاندي کړي، ځکه بيا بل ځای بل مجلس ته ځي.

يونس قانوني وويل :

((زه ډېر متاسف يم چې په ننني مجلس کې د ښځو ځای خالي دی[1].))

فکر نه کوم چې د ښاغلي قانوني به دا د زړه خبره وه، غواړي چې پـه دغـه ډول څرګندونو بهرنيو کړيو ته پيغام ورسوي چې دوی د لويديځ غوښتنې پـه هيـواد کـې منلای شي.

[1] د پګواش کابل غونډې ته ميرمنې نه وي راغوښتل شوې، ممکن قصدي به داکار نه وي شوی.

ښاغلي قانوني وويل : (( سوله زموږ ورکه ده، ملي ضرورت دی، د سولې اهميت ټولو ته معلوم او تلاش يې کوو.

اساسي سوال دا نه دی چې موږ سولې ته اړتيا لرو، بلکې د سولې لارې کومې دي؟ څه ډول کولای شو چې عادلانه او تلپاتې نظام ولرو.

سولې ته د افغانانو ليوالتيا له دې هم زياته ده. موږ تلپاتې عادلانه سوله غواړو، موقته سوله نه غواړو، له هيواد څخه بهر چې د سولې کومې غونډې وي، موږ او طالبانو په ګډه ويلي چې جنګ د حل لاره نه ده، د حل لاره د سولې مذاکرات دي، دا مثبته خبره او ښه پرمختګ وو.))

کله چې طالبانو د ښاغلي قانوني په ګډون غونښتل له اووه تنو افغان سياستوالو سره ليدنه ولري، تر ډېره فکر کيږي چې يونس قانوني به پېغام په سم ډول له مارشال فهيم سره نه وي شريک کړی، او ده خپله هم پکې ليوالتيا نه درلوده.

قانوني وويل : ((د حراست او ثبات شورا، سولې ته د رسيدو د هرې ښې او وړ لارې ننګه کوي، د نن ورځې د سولې هڅې څخه هم حمايت کوو.))

د ښاغلي قانوني پورته خبره سولې ته اميدونه پيداکوي، د حراثت او ثبات شورا په خپل جوړښت کې د سولې کميټه هم زياته کړې ده، او د سولې لپاره فعاليت کول غواړي، ولې په ټوله کې په ياده شورا کې ډېری هغه کسان راټول شوې چې په تيرو وختونو کې يې د سولې پر ځای د جګړې تګلاره خوښوله، او سولې ته يې تر ډېره ژمنتيا نه درلوده.

داچې د يادې شوار غړي سولې ته ژمنتيا ښيې يوه ښه پرمختګ دی، ولې د حراست او ثبات شورا د مشر استاد سياف نظر فکر کيږي داسې دی چې هغه غواړي طالبان هم د افغان حکومت برخه شي، او داسې سوله وشي لکه له حزب اسلامي سره چې حکومت د سولې هوکړه لاسليک کړه.

قانوني وويل : (( وړانديز شوې ۱۹ ماده ييزې طرحه مې ولوستله، مختلف ټکي

دي، ځينې مثبت او ځينې حساس دي، د حکومت نظر اخيستل ورباندي مهم دی.

وړانديز مې دا دی چې د سولې پروسه کې حکوت، طالبان او دريمه ضلع سياسي احزاب او مدني ټولنې هم ورزيات شي. د دوو لورو په ځای درې ضلعي شي، چې د خلکو استازيتوب پکې تمثيل شي.

حکومت يو رسمي بنسټ دی، غير رسمي مذاکرات به هم له حکومت سره شريک وي، پرته د حکومت له مشارکت څخه به هرڅه غير عملي وي.

ملي اجماع ته اړتيا ده، د حکومت د سولې طرح نشته، حکومت دي خپله طرح تعريف کړي، ودي وايي چې ادغام مجدد (طالب په حکومت کې مدغمېدل) غواړي يا سوله؟ ))

د حراست او ثبات شورا له نظره داسي ملي اجماع غواړي چې د افغانستان د راتلونکي نظام په اړه پريکړه وکړي، او دوی هم په کې غوښنه برخه ترلاسه کړي، تر ډيره ددغسي اجماع او ښاغلي قانوني له خبرو سره نور سياستوال هم نظره نه دي.

ښاغلي قانوني د سولې او ادغام تعريف وغوښت، ويې ويل : (( موږ بايد پوه شو چې طالبان په ادغام مجدد يا سوله باندي باور لري، د ادغام تعريف کول په کار دی، طالب ادغام ته چمتو نه دی، توهين او حقارت يې بولي.

که سوله داسي وې چې د واک ويش وي، آيا حکومت چمتو دی؟ که جواب هو وي، حکومت په کوم ميکانيزم د واک ويش ته چمتو دی. ))

زما (ليکوال) له نظره د واک د ويش خبره اوس مهال د سولې په برخه کې له وخت مخکې ګڼم، ځکه طالبانو کله هم له حکومت سره د واک د ويش خبره نه ده کړي، او بل داچې په افغانستان کې دننه سياسي احزاب او د حکومت شريکان هم د واک په ويش راضي نه دي، يو له بل سره ستونزې لري، دا دی د جمعيت اسلامي د کسانو ترمنځ هم ستونزې مخ په زياتيدو دي، عطامحمد نور غواړي چې د جمعيت اسلامي برخه باندي له ډاکټر غني سره سياسي معامله [1] وکړي،او د ډاکټر عبدالله واک ننګوي.

---

[1] ډاکټر غني مزار ښار ته ورغی (۲ وری ۱۳۹٦)، له عطاء نور سره يې سياسي جوړجاړی وکړ.

دا ډول د ولسمشر لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم په اړه ډول ډول اوازې دي چې نړيواله ټولنه او ولسمشر غني غواړي هغه د بېلا بېلو فشارونو له امله مجبوره کړي چې له خپلې دندې استعفی ورکړي.

ښاغلي قانوني وويل: (( د طالب لخوا هم روښانه طرح نشته، او د روښانه طرحې لپاره اړتيا ده، د طالب له ادرسه يوازې هيله واوريدل شوې، سمه ده چې د بنديانو خلاصون، له تورلستې څخه د طالب مشرانو د نومونو ليري کيدل مهم دي. مګر نورو مهمو کارونو ته هم اړتيا شته.

د افغانستان مشکل يوازې د افغانانو نه دی، دلته بهرني هيوادونه شامل دي، ولې افغانان قرباني شوي.

د سولې لپاره داسي طرحه او ميکانيزم ته اړتيا ده چې نړيوال او سيمه ييز ملاتړ ولري، که داسي نه وي، بهرني جهتونه موږ جګړې ته کشوي.

د افغان حکومت لخوا طالب سره د سولې بحث تر اوسه پروژه ده، پروسه شوې نه ده، ولې حزب اسلامي سره د سولې خبرې پروسه شوې.

د حراست او ثبات شورا د تلپاتې او عادلانه سولې غوښتونکې ده، په دې برخه کې مرسته کوي، د نړيوالو او سيمه ييزو هيوادونو نظرونه اخيستل هم په دې برخه کې مهم ګڼي، تر څو مخامخ خبرو ته زمينه برابره شي.))

تر کومه به د ښاغلي قانوني په دغه ډول خبرو باور وشي، د ۲۰۱۲ کال د جولای مياشت کې چې په جاپان کې د سولې اړوند غونډه وه، او د طالبانو استازو پکې ګډون درلود، له دې څخه څو ورځې وړاندې په فرانسه کې د سولې غونډه وه، د فرانسې غونډې ته ښاغلی قانوني هم بلل شوی و، کله چې موږ له جاپان څخه را ستنيدو د دوبۍ په هوايي ډګر کې مې ښاغلی قانوني وليدی، ورغلم، له روغبړ وروسته مې ورته وويل چې تاسي رياست، وزارت، د ولسي جرګې مشرې وکړي، بس به وي چې نور د سولې لپاره قرباني ورکړئ ، د چارو واګې ځوان نسل

ته پریږدي او د سولې لپاره تاسي د هغوی تر شا ودریږئ، ولي په عمل کې ولیدل شوو چې په تیرو کلونو کې د دوی لخوا سولې ته ژمنتیا ونه ښودل شوه.

دوېم نوبت د بریښنا او انرژۍ پخواني وزیر اسماعیل خان واخیست، هغه وویل:

(( جګړه پر موږ تحمیل شوې، سولې ته اړتیا ده، د افغانستان د کشالې د حل لاره پیدا کول په کار ده، نږدې ۴۰ کاله کیږي چې جګړه روانه ده، یوه تحمیل شوې جګړه ده، قربانیان یې افغانان دي.))

زه د وزیر اسماعیل خان خبره لږ تصیح کول غواړم، ستونزه دا ده چې جګړه د دوی (ځینو پخوانیو مجاهدینو) عادت ګرځیدلي چې کله هم په حکومت کې برخه ونه لري، دوی حکومت ګواښي او د مجاهد له کارتۍ څخه کار اخلي، همدا د حراست او ثبات شورا د سولې په موخه نه، بلکې د دي لپاره ده چې څه ډول دوی په واک کې پاتې شي، او په کوردننه افغان حکومت ننګوي.

ښاغلي اسماعیل خان وویل: ((د پګواش اداري څخه مننه کوم چې د سولې اړوند طرحه یې وړاندي کړي، د بحث لپاره مخکې لیکل شوی مسوده کیدای شي، وروستۍ نه ده، نور ډیرڅه (نظرونه) لرو چې بحث پري کیدای شي.

سوله د هیواد اوسنی ضرورت دی، د حل لارې ورته مشران پیدا کوي.

د طالب جګړه د افغان ملت سره نه شته، بلکې طالب وسیله دی چې جګړه یې زموږ پر ولس تحمیله کړې ده.))

د اسماعیل خان دغه وروستۍ خبره او یو پر بل تورونه لګول د سولې خبرو ته زیان رسوي ، طالبان بیا وایي چې د امریکا تر چتر لاندي یوه ډله کسان وو چې د خپل ولس په مقابل کې ودریدل او د امریکا د ګټو خوندیتوب لپاره له افغان ولس سره په جګړه بوخت دي.

وزیر اسماعیل خان وویل: (( د جګړې لورو (حکومت او طالب) ته چې وګورو، سخته ښکاری چې ستونزه به په اسانی سره حل شي.

د ډاکټر نجیب الله له حکومت څخه د واک سوله ییز انتقال لپاره د هغه وخت د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د استازي د بېنن سیوان د سولې طرحه عملي نه شوه، زموږ مخکې د لومړی او دویمې نړیوالې جګړې تجربې شته، د افغانستان کشالي ته یوه د حل لاره باید پیدا کړو.))

شواهد داسي دي چې د بېنن سیوان د سولې د طرحې د عملي کیدو مخه په هغه وخت کې د جبل السراج ایتلاف ونیوله، په جبل السراج کې د شورای نظار د مشر احمدشاه مسعود او پرچم ډلې ترمنځ هوکړه وشوه، چې د ډاکټرنجیب الله حکومت به نسکوروي او واک به په لاس کې اخلي، همداسي یې وکړل،او ښاغلی تورن اسماعیل یو له مهمو قومندانانو د جمعیت اسلامي څخه ګڼل کیدی.

ده هم د هیواد په لویدیځ د هرات ولایت کې واک په خپل انحصار کې ونیوی، پښتانه یې وځپل او ناامنیو ته یې زمینه مساعده کړه.

هغه مهال چې طالبان راپیدا شول، بیا هم د سولې پرځای دوی له طالبانو سره سختې جګړې وکړي، او په زرګونو افغان ځوانان دواړو لوروته ووژل شول او په زرګونو نور ژوبل شول.

د نوي ملي جبهې مشر، د مالیې پخواني وزیر ډاکټر انوارالحق احدي پګواش غونډه کې وویل:

(( زه خپل پېل په مثبت نظر سره کوم، ښاغلي قانوني وویل چې د ښځو غیاب نقیصه ده، مګر زه وایم چې د غونډې د ګډونوالو ښه ترکیب دی، تعادل په نظر کې نیول شوی، مشکله ده چې د ټولو خواوو کسان حاضر وي، زه فکر کوم چې په قصدي ډول به څوک نه وي پاتې شوي، د نن ورځې بحث یو دروند بحث دی.

تر ۲۰۱۰ ز.کال پوري د حکومت تګلاره دا وه چې طالبانو ته یې ویل راشئ، تاسي نه تعقیبوو، وسله کیږدئ، طالب ته یې له قوي موقف نه خبره کوله.

یو کال مخکې د اوسلو غونډه کې هم حکمت کرزي همدا خبره وکړه، چې

طالبان دي راشي او په حکومت کې دي شرکت وکړي.

طالب ویل چې له افغان حکومت سره خبرو ته حاضر نه یو، غواړو مخامخ له امریکایانو سره خبره وکړو.))

زما لیکوال د معلوماتو له مخې د ۲۰۱۵ ز.کال د جون میاشتې پر ۱۶-۱۷مه دوه ورځې د ناروې هیواد په اوسلو کې غونډه وه، تر ۵۰ د زیاتو هیوادونو استازو پکې ګډون کړی وو، د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر مشر سید محمد طیب اغا او ورسره نور طالب استازي د یادې غونډې ګډونوال وو، د افغان حکومت له لوري یونس قانوني، حاجي دین محمد، حکمت کرزی، محمد محقق، ډاکټر انوارالحق احدي او ځینې نورو د اوسلو فورم ۲۰۱۵ کانفرانس کې ګډون کړی وو.

د ناروې هیواد د بهرنیو چارو وزارت یو لوړ پوړي کارکوونکې راته وویل چې په یاد کانفرانس کې د طالبانو د ګډون یو عامل داهم وو چې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر او امریکایې چارواکو ترمنځ د غونډې په څنډو کې ناسته وشي، دواړو لورو منلي وه چې مخامخ خبرې به کوي، طالبانو او امریکایانو په کانفرانس کې ګډون وکړ، کله چې د ناستې لپاره چمتووالي نیول کیدی، امریکایانو وویل چې طالبان دي د ناستې غوښتنه وکړه، او طالبانو داکار نه کاوو، هغوی ویل چې د ناروې هیواد په وساطت ناسته ده، او موږ له امریکایانو څخه نه غواړو چې همدلته راسره کښیني، بلکې د دواړو لورو غوښتنه ده، همهغه وو چې ناسته ونه شوه. ماته دناروې هیواد د بهرنیو چارو وزارت ډیپلوماټ وویل چې مخکې امریکایانو داخبره نه وه کړي چې طالبان دي دناستې غوښتنه وکړي، بلکې منلي یې وه چې له طالبانو سره دغونډې په څنډو کې مخامخ خبرو ته چمتو دي.

ډاکټرصالح د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر غړي راته ویلي وو : ((د ناروې کانفرانس څخه مخکې په جاپان کې هم دا ډول ناستې لپاره هر څه ترتیب شوي وو، دوه تنه طالب استازي جاپان ته ولاړو، کله چې دناستې وخت راغی، امریکایانو وویل

چې طالبان دي د ناستې غوښتنه وکړي، طالبانو بیا هم ویل چې د جاپان هیواد په وساطت کینو، او د ناستې غوښتنه د دواړو لورو څخه ده. هغه ناسته هم ونه شوه. ))

جاپاني ډیپلوماټ ما (لیکوال) ته وویل : (( امریکا دغه غوښتنه هغه وخت وکړه چې کله طالبان جاپان ته راغلي وو، او د ناستې وخت لنډ شوی وو، د طالبانو سره د غونډې د خبرو دچمتووالي د خبرو په جریان کې امریکایانو دا ډول غوښتنه نه وه کړي.))

ښاغلي احدي وویل : ((په قطر کې د پګواش غونډې (جنوري ۲۰۱۶) پر مهال طالبانو درې شرطونه وړاندې کړل، ښه وو، فاصله زیاته وه، خو د بحث وړ ټکي دي.

۱ – د راتلونکي رژیم ماهیت په اړه یې خبره وکړه چې څه ډول به وي، اوس مهال د رژیم ماهیت ډیموکراسي ده.

طالبانو دا هم وویل چې د واک انحصار نه غواړو، یو ډول انتخابات هم کیږي، امارت خپله جمهوریت ته ورته نظام دی.

۲ – د انتقالي دورې بحث وو چې طالبانو د واک د انتقال موضع بحث کړه.

۳ – د طالبانو لخوا بهرنیو پوځیانو د وتلو غوښتنه وه.

د پګواش اوسنۍ طرحه یو ډول همدې ټکو ته جواب وایې، د راتلونکې نظام اړوند دا کاغذ (طرحه) نیمګړي ده، خو بیا هم په دي برخه کې یو څه پکې شته.

په وړاندیز کې د ښځو حقونه، ټاکنې او نور غټ ټکي/مسایل ذکر شوي. که صادقانه د سولې مذاکرات پیل شي، توافق ته رسیدل شوني دي.

د لنډ مهاله حکومت اړوند زما په فکر چې اوسنی نظام (افغان حکومت) یې نه غواړي، د اوربند اړوند چې کوم ټکي د پګواش ادارې په طرحه کې ذکر شوې، ویره مې ده چې که د طالب سیمه کې طالبان او حکومت سېمه کې حکومت اوربند اعلان کړي، دا به تجزیې ته لاره هواره کړي.

د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش ۳ کلونه ویل شوې، کافي وخت دی، کیدای شي کم او زیات شي، بهرنیان هم ممکن پاتې کیدو ته لیواله نه وي.

له طالبانو سره زموږ بحث  پر دي هم وشو چې اوس مهال د دولت مصارف خارجیان ورکوي، که دوی لاړ شي دا مصارف به څوک ورکوي، دلته په طرحه کې يې ذکر شوی، چې له بهرنيانو سره به د ښو اړيکو دوام وي؟

له دي څخه نور هم د حل ښه لاره  پيداکولای شو، په دي برخه کې د طالبانو نظر مهم دی، خو چې لږ مثبت وي.

که یاده طرحه له طالب سره  شریکه شوې وي او یا له دي وروسته  وشي، دا به ښه وي، مثلا د اوربند مسئله ده، طالب سره خبرې پرې وشي. ))

ډاکټر احدي په مختلفو ناستو کې ويلي چې د سولې واک ۸۰ سلنه له طالبانو سره دی، که طالبان د سولې په اړه خپله تګلاره واضح کړي، موږ کولای شو چې د فشار د لارې يې پر حکومت ومنو، او نړيوال هم مجبوراً غواړي چې د افغانستان ستونزه حل شي.

د بهرنيو پوځيانو د وتلو مهالويش او لنډمهاله اداره ښه وړانديزونه دي چې سولې ته د رسيدو حل لاره کيدای شي.

ډاکټر باختر امين زي دغونډې بل ګډونوال وويل:

(( سوله د ولس غوښتنه ده، طالب او حکومت چمتو دي ، ټول ملت د سولې لپاره ليوال او غواړي يې.

له ۲۰۰٦ څخه تر ۲۰۱٦ پوري زموږ ډلې د افغانستان د سولې ملي جرګې تر نوم لاندي په ملي او نړيواله کچه  هڅې وکړي، ملتونه سره ورونه دي، دا اړيکې نه شکيږي، د اعتماد فضا ته اړتيا ده.

د حامد کرزي حکومت کې خلکو د سولې لپاره کار کړی، خو نظام همکاري نه ده کړي، بلکې شک يې کاوو. د پګواش غونډه د سولې برخه کې اميدواري ده.

ولس سولې ته منتظر دي، موجوده اداره د سولې لپاره ليوالتيا نه لري. ولي ولس سوله غواړي.

د سولې دغه حرکت دي د محدودې مودې لپاره نه بلکې په عمل کې د سولې شرايطو د تطبيق لپاره کار وکړي.

موږ هم د سولې طرحه درلودله، د ملګرو ملتونو مرکزي دفتر ته مو ورکړي وه. او په کابل کې د ملګرو ملتونو استازی کا آی ډي راسره همکار و.

ملګرو ملتونو سره مو په ګډه د سولې اړوند غونډې درلودې، کله چې موږ داسي مرحلې ته ورسيدو، چې په کابل کې د ملګرو ملتونو د استازولي دفتر يوناما اعلان وکړ چې ۳۰۰ افغانان راټول او د بحران څخه د وتلو لاره او ميکانيزم جوړ شي. غوښتل مو د ۳۰۰ افغانانو غونډه په ترکمنستان کې جوړه شي، تابيا مو نيوله چې د حامد کرزي نظام يې ممناعت وکړ.))

ډاکتر باختر امين زی يو له هغو کسانو څخه دی چې ښکاره ثبوت وړاندي کوي چې پخواني ولسمشر کرزي د سولې مخالفت کاوو.

په اسلام اباد کې پخوانی سفير، له طالبانو سره زما ژوند [1] کتاب ليکوال ملاعبدالسلام ضعيف خبرې پېل کړي :

(( د سولې راوستل د خلکو ملي ارمان دی، ولس جنګ نه غواړي، ولس له جنګ څخه متضرره دی.

---

[1] د طالبانو سره زما ژوند My life with the Taliban د ښاغلي ضعيف کتاب دی، چې تر ۱۵ زياتو مشهورو نړيوالو ژبو ته ژباړل شوی.

د اکسفورډ پوهنتون سره د تړلي خپرنخونې، Oxford University Press (OUP)، پنځه هغه کتابونه نومولې چې وايي نړۍ ته يې تغيير ورکړ. د ۲۰۱۵ کال د پوهنتون د انتشاراتو اوونۍ او د اکاډميک کتاب اوونۍ په مناسبت، د اکسفورډ پوهنتون خپرنخونې د ۲۰۱۵ کال په نومبر مياشت کې د هرسټ خپروونکو Hurst Publishers له لورې د پنځه تر ټولو اغېزښونکو کتابونو نوملړ خپور کړ. د هغه راپور له مخې چې د اکسفورډ پوهنتون پريس OUP لخوا خپور شوی، د ملا عبد السلام ضعيف کتاب ((له طالبانو سره زما ژوند)) يو له دغو پنځو نړۍ بدلوونکو کتابونو څخه دی. دا کتاب په انګرېزي کې د My Life with the Taliban تر عنوان لاندې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۰ کې د هرسټ خپروونکو لخوا چاپ شو.

د ولس استازیتوب خلک نه په دي غونډه کې او نه هم په نورو غونډو کې کړی او یا کوي[۱] .

ملت خاموش دی، هغوی پوهیږي خو تصمیم نشي نیولای، د حالاتو تقاضا به دا ډول وي.

د افغان ولس په استازیتوب موږ یو هم خبره نه شو کولای، یوازی خپل نظر او د روانو حالاتو لپاره د حل لاره باندی  چې خبرې وشي. ))

د ښاغلي ضعیف پورته خبره ډیره پر ځای ده، ډیر وخت په غونډو، ناستو او د ټلویزون په بحثونو کې ځینې افغانان ادعا کوي چې دوی د ولس په استازیتوب خبره کوي، دا کار په کابل کې د ځینو سیاستوالو عادت گرځیدلی، او ځان داسې ښیي چې گواکې د ولس له ادرسه خبره کوي، په داسي حال کې چې ولس پر دوی بې باوره دی.

بهرنیان په دي برخه کې لویه ستونزه لري، هغوی ته هم د ځینو توکمونو، ځینو ډلو او ځینې سیاستوال د ولس له ادرسه خبره کوي، هغوی فکر کوي چې دا خلک به په رښتیا هم د ولس استازي وي، همهغه ده چې په تیرو ۱٦ کلونو کې بهرنیانو په افغانستان کې لویې تیروتنې وکړې، او لاهم تیروتنې کوي.

ملا عبدالسلام ضعیف وویل : (( سوله کې د هرچا گټه ده، د حیواناتو پکې گټه ده، د سوداگرو پکې گټه ده، د هیواد، سیمې او نړۍ پکې گټه ده.

اوسنی جنگ اختیاري نه بلکې تحمیلي دی، دا چې څوک ځان په حقه گڼي الله ته معلومه ده، هر څوک له ځان سره قضاوت کوي، دي خبرو ته نه ځم.

جنگ د حل لاره نه ده، زموږ لپاره گټه نه لري، د بل چا لپاره به گټه ولري، د افغانانو په گټه نه ده.

[۱] ډیر وخت ځینې کسان په غونډو کې وایې چې دخپل قوم یا ولس په استازیتوب خبرې کوي.

جګړه به لږ وخت د ځینو لپاره ګټه ولري، مګر په استمراري ډول جګړه خلکو ته ګټه نه کوي، هغوی ته هم ګټه نه کوي چې فکر کوي په جګړه کې یې ګټې نغښتي دي. ))

د ښاغلي ضعیف داخبره سمه ده چې په تیرو ۱٦ کلونوکې د جګړې له امله ځینې افغانان میلونران شول، شتمن او واکمن شول، د واک او ځواک څښتنان شول، هغوی د خپلو شتمنیو، چوکیو او ځواک لرل د بهرنیو په شتون کې خوندي ګڼي.

ښاغلي ضعیف وویل: (( داچې دلته نن د مختلفو نظرونو خلک ګورو، لامل یې جګړې دي، په تیرو وختونو کې ټکرونه راغلي دي، ولي بیا هم نن وایي سوله یوازنۍ د حل لاره ده. که دا یې د زړه خبره وي، ولس ته ښه زیری ورکوي.

د ښاغلي پاولو هڅې د تقدیر وړ دي، زموږ لپاره یو ډول ترغیب او پېغور دی، له ایټالیې څخه راځي او خلکو سره ګوري، بیا هم موږ خپله نه سره کینو، عوامل به وي، خو داسي هم نه ده چې موږ د سولې راوستلو جریان نورو (بهرنیانو) ته پریږدو.

د سولې په میکانیزم به اختلاف وي، د نظر شریکولو باندي مسئله حلیږي.

ښاغلي قانوني ښې خبرې وکړې، فرانسه کې په دریو کانفرانسو کې موږ یوځای وو.

حاجي دین محمد هم وو، اول ځل غونډه کې طالبان نه وو، په دویمه غونډه کې وو، او په دریمه غونډه کې طالبان او د افغان حکومت کسان هم وو، د هرې ډلې موضوع رانږدي شوه، یو ښه پرمختګ وو.

امید وو چې حل ته به رسیږو، د غونډو او په ځانګړې ډول دریمه غونډه کې چې د پاریس په چانټلي ښار کې وه، هلته د ښکیلو جهتونو د ګډونوالو لخوا جذبه کنټرول نه شوه، هغوی چې په سوله کې یې ګټه نه وه، هڅه یې وکړه چې جریان ختم شي، او بالاخره د هغه ډول ناستو جریان ختم شو[1] . ))

---

[1] د پاریس په چانټلي (۲۰-۲۲ ډسمبر ۲۰۱۲) کې چې د طالبانو استازو او د شمال ټلوالي کسانو مخامخ یو بل سره خبرې وکړې، ډیر نږدیوالی راغلی وو، د طالبانو استازي او د شمال ټلوالي مهم

زما (لیکوال) معلومات هم دادی چې د فرانسي- تر کانفرانس وروسته ښاغلي قانوني په ځینو مجالسو کې د پرمختګ څخه یادونه کړي وه، هغه ویلي و چې له طالبانو سره یې په خبرو کې فاصله زیاته نه وه، همدا لامل و چې په کور دننه کرزي د شمال ایتلاف او طالبانو د نژدیکت له امله اندیښنې درلودلي، او د خپل واک لرل او ساتل یې د طالب او شمال ټلوالې په دښمنۍ کې باله، ځکه یې د نورو نړیوالو غونډو مخه په هغه وخت کې ونیوله.

ښاغلي ضعیف وویل: ((مشوره مې دا ده چې دا ډول مجلسونه زیات په ګټه دي، د افغانستان جګړه یوازي تر افغانانو محدوده نه ده، سیمه، نړۍ او ذیدخله هیوادونه هم باید قانع شي چې د افغانستان سوله کې یې ګټه ده.

د نن ورځې غونډه کې د حکومت مستقیم استازي به نه وي، د هغوی نظر مهم دی، طالب هم په غونډه کې شتون نه لري، موږ یې استازیتوب نه شو کولای، د هغوی نظر هم مهم دی.

د غه ډول اجماع چې د سولې لپاره کار وکړي، حکومت او طالب ته سولې ته د رسیدو او جګړې پای ته رسیدو لپاره قناعت ورکولای شي.

حکومت به وایي د دوی د خوښې سوله خیر ده، موږ وایو سوله د ولس خیر ده، که په هر ډول وي، سولې ته باید کار وکړو او راوستل شي، تر څو وینه تویولو، قتلونو او ظلم څخه مخنیوی وشي.

سیاسي جهتونه دي خپلو اختلافاتو ته لومړیتوب نه ورکوي، تر څو د افغانانو نوره وینه تویه نه شي.

---

غړی یونس قانوني له غونډې او د غونډې په څنډو کې مخامخ خبرو څخه خوښ ښکاره کیدل. دهغه وخت ولسمشر حامد کرزی چې د طالبانو او شمال ټلوالي د استازو له نږدیوالي او په خبرو کې پرمختګ څخه خبر شو، ویره یې درلودله که طالبان او شمال ټلواله موافقې ته سره ورسیږي، بیا دده له پاره واک نه پاتې کیږي، همهغه وو چې په ترکمنستان کې د راتلونکي غونډې مخه یې ونیوله.

موږ او د غونډې ګډونوالو ته په کار ده چې په صداقت د سولې خبره وکړو، د صداقت خبره ګټه کوي. زه پر چا شک نه لرم، ولي د سولې اړوند مجالسو کې په سیاسي جهتونو پورې تړلي خلک باید د زړه خبره وکړي.

د عدالت لپاره فشار راوړل په کار دی، ترڅو چې عدالت نه وي، د محرومیت او محکومیت فضا د سولې لپاره خنډ ده [1] .

د بهرنیو پوځیانو شتون مهمه موضوع ده، بهرنیان تر یو وخت پاتې کیدل غواړي، او د بهرنیو پوځیانو پاتې کېدل سولې سره په ټکر کې ده، که حکومت د بهرنیو پوځیانو شتون د پیسو لپاره قبلوي، د حکومت په ګټه، دولس او هیواد په ګټه نه ده، افغانستان داسي نه ده لکه عرب هیوادونه، زموږ څلور لورو ته ګاونډي هیوادونه په افغانستان کې د بهرنیو پوځیانو له شتون سره مخالف دي.

افغانان او بهرنیان دي د اقتصادي پروژو په عملي کولو یو له بل سره مرسته وکړي، خو اقتصادي پروژي په پوځي زور سره نه عملي کیږي.

له بهرنیانو سره ډیپلوماټیک اړیکې او ملګرتیا د متقابل احترام په لرلو سره اړین دي، ولي د پوځي اډو په درلودلو سره د بهرنیانو ارمان دلته نشي پوره کیدای.

د بهرنیانو اقتصادي ګټې او اصلي خبره په سیمه کې اقتصادي پروژي دي، تفاهم کول ورسره په کار دی، په کار ده چې افغان حکومت قانع او بهرنیانو ته هم قناعت ورکړل شي.

د طالبانو او افغان ولس د سولې لپاره لیوالتیا شته، د حکومت هم په سوله کې خیر دی، په ګډه د سولې لپاره کار کوو.

سوله د ټولو جهتونو لپاره خیر ده، هڅه دي وشي چې کوم لوري پکې متضرر نشي. ))

---

[1] ښاغلی ضعیف هدف داوو چې طالبان محکوم او محروم دی، تر څو چې د سولې غونډو کې د محکومیت او محرومیت خبره وي، ستونزمنه به وي چې نتیجه ورکړي. بل لورته حکومت نړیوال ملاتړ لري او ځان قوي ګوري.

د ملاعبدالسلام ضعیف پر کور (۲۳ ډسمبر ۲۰۱٦) برید وشو، یو تن پکې مړ شو، ځینې شنونکې په دي نظر دي چې کیدای شي د ښاغلي ضعیف د سولې په برخه کې د هڅو د مخنیوي له امله به د هغه پر کور وسلوال برید شوی وي.

د سولې شورا غړي حاجي دین محمد وویل :

(( په زړه پوري موضوع ده، دا مې لومړۍ او وروستۍ ناسته نه ده، چې ماته به په زړه پورې وي، داهم نه وایم چې مهم ده، دا هم د نورو ناستو په ډول یوه ناسته ده، ځکه ما ډیر داسي مجلسونه درلودلي دي، ډیر امیدونه وي، بیا وروسته بې نتیجې پای ته ورسیږي.

زه د حکومت او سولې شورا په استازیتوب نه یم راغلی، د یو ازاد افغان په حیث مې په ناسته کې ګډون کړی دی.

د طالبانو او مجاهدینو، د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ترمنځ د سولې لپاره ګرځیدلي یو، هغه وخت به هم خلکو ویل سوله نه راځي، مګر موږ به ویل چې بله لاره نشته.

د خبرې حق هر څوک لري، موږ ټول متضرر یو، یو طرف طالب وو اوس داعش هم پکې راپیدا شو، بل لوری حکومت + نړیواله ټولنه ده، او دریم لوری هم ولس دی چې د هر لوري لخوا متضرره شوی.

په جګړه کې ښکېل لوري دي خبرې وکړي، ولس ته په کار ده چې یو ځای او پر ښکېلو لورو فشار راوړي، ولس دي حرکت وکړي، تر څو د فشار په نتیجه کې جهتونه ولس ته د زړه خبره وکړي.

د سولې پروژې هم له ځینو هیوادو څخه راځي، نمایشي۔ غونډې وشي، خبره خلاصه شي.

د فرانسې او مري د سولې مذاکراتو کې مې د یوه لوري مشرې کوله، خبرې او مذاکرات وشول، ولي ځینې جهتونه شته چې تر څو د هغوی ستونزه نه وی حل

شوي[۱]، سوله مشکله ښکاري.

د افغانستان مسئله د هیواد څخه د باندي هم بعدونه لري، طالبان په پاکستان کې اوسیږي، که د پاکستان د رایې خلاف خبره وکړي، ستونزې ورته پیدا کیږي، طیب اغا چې له پاکستان سره پر یوه لاره نه تلی، د هغه ورونه یې ورته بندیان کړل، پاکستان د سولې په مذاکراتو کې خپله ونډه غواړي. ))

د حاجي دین محمد اشاره پاکستان ته وه، هغه په دي نظر دی تر څو چې د پاکستان غوښتنې په نظر کې نه يې نیول شوې، سوله به ستونزمنه وي.

پر حاجي دین محمد تور پوري کیږي چې د پاکستان له استخباراتو سره نږدې اړیکې لري، او د سولې په برخه کې د پاکستان ګټې خوندي کیدو ته به ژمن وي.

په وروسته وخت کې یې د اسلامي حزب په نوم ګوند هم رسماً په کابل کې ثبت کړ، اوس ځان د مولوي خالص بابا د اسلامي حزب د ګوند ځای ناستی ګڼي.

حاجي دین محمد وويل: (( قطر کي ناست طالبان چې دي، د هغوی خرڅ او مصارف څوک ورکوي؟ نړیوال.

د افغان حکومت لوري مصرف څوک ورکوي؟ نړیوال

پاکستان یا نړیوال به چمتو وي که افغانان خپلو کې سره کیني، او بهرنیان ووايي چې موږ يې پریږدو، تر څو ښکیل اړخونه توافق ته ورسیږي.

دا خبره چې په کوردننه کیږي په تکرار سره کیږي چې د ۱۵ کلونو لاسته راوړنې باید وساتل شي، تر کومه ځایه دغه ډول خبرو ته موږ اړتیا لرو، دا ډول خبرې د پردیو د خوشالۍ لپاره دي.

په دي غور وشي چې د سولې خبره له کومه ځایه شروع شي، د طالب او

---

[۱] له جهتونو څخه يې هدف ممکن یو د پاکستان هیواد وي، چې له افغانستان سره د ډیورنډ مسئلې حل غواړي، له همدې امله د افغانستان سوله کې ستونزې پیداکوي، او ممکن ځینې نور بهرني هیوادونه هم د افغانستان له سولې څخه خپل امتیازات ترلاسه کول وغواړي.

حکومت ترمنځ وساطت افغان ولس وکړي او که د نړیوالو لخوا وساطت وشي، د داعش مسئله پکې نوي ده.))

دا لویه ستونزه ده، د حاجي دین محمد په ګډون د حکومت هر سړی پر دې پوهېږي چې طالبان نه غواړي په رسمي ډول له دوی سره د سولې خبرې وکړي، ولي افغان حکومت په هره ناسته کې وایې چې طالبان سولې ته اراده نه لري، ځکه هغوی د پاکستان تر نفوذ لاندې دي.

ښاغلي دین محمد وویل : (( څلور اړخیزو ناستو نتیجه ورنه کړه. دا ډول همدغه مجالس چې له ٦ کالوراهیسې دوام لري نتیجه یې نشته.

هغه زیاته کړه چې قانوني صاحب ویل په ناسته کې ښځې ګډون نه لري، د استاد برهان الدین رباني د حکومت پر مهال د پوهنې وزیر وم، اندونیزیا ته په رسمې سفر روان وو، د الوتکې یوه ښځینه کارکوونکې وه، فکر کیدی چې نوي به یې دنده پیل کړي وه، د مجاهدینو د حکومت پر راتګ د الوتکو د ښځینه کارکونکو یونیفورم بدل شو، هغې چې وکتل دلته مجاهدین ناست دي. یو ډول درنه ورته تمامیدله.

هغې د الوتکې ښځینه کارکوونکې ته مې وویل چې پخوانی لباس ( د ډاکټر نجیب الله د وخت) ښه وو، که اوسنی لباس؟ هغې وویل تاسي (مجاهدین) دي خدای ج خپلو منځو کې سره جوړ کړي، موږ به برقې (چادرۍ) پر سر کړو.

که سوله راشي دوی هم خوشاله کیږي، یوازې فورمولتې ده چې ښځې دي په ناسته کې موجودې وي.

ولس جنګ نه لري، هغه طرف نه دی، له دواړو لورو متضرره دی، مګر د فشار لپاره د ولس خبره سمه ده، خو د سولې د طرف په عنوان سمه نه ده.))

د حاجي دین محمد پورته خبره به څومره ومنل شي، په حقیقت کې هغه لوری قوي وي چې ولس یې ملاتړ کوي، دا خبره ډېره روښانه ده چې افغان ولس په

هیواد کې د بهرنیو د شتون سره مخالفت لري، او په خپلو سېمو او کورونو کې یې طالب جنګیالیو ته ځای ورکړي دی.

د ښاغلي‌دین محمد وروستی خبره مهمه وه، هغه وویل: ((د سولې مختلف حرکتونه دي، د سولې طرحې او وړاندیزونه لري، په کار ده چې د سولې هڅه کوونکې ډلې خپلو منځو کې تفاهم ولري. د قضیې اطراف چې په ناستو کې حاضر وي ښه به وي، داسې نه چې حکومت فکر وکړي چې دغه ډول ناستې یوازې د موقت حکومت جوړولو طرحه ده.))

د ولسي جرګې غړي جعفر مهدوي ته نوبت ورسید، هغه وویل:

(( د سولې مذاکراتو کې د طالب او حکومت دوه افغاني لوري کم دي، په کار ده چې سیاسی احزاب هم چې د سولې پروسه کې ګډ او درې ضلعي د سولې خبرو جوړښت جوړ شی، نړیوال هم د سولې په پروسه باندي خپل تاثیر لري.))

د ښاغلي مهدوي د وړاندیز په اړه اندیښنه هم شته، په کابل کې تر سلو زیات سیاسي جریانونه ثبت شوې، هره ډله یې ځان د ولس استازي ګڼي، ادعاء لري چې کورنی او بهرنی ملاتړ له ځان سره لري، همدا ستونزه ده چې ځینې کسان غواړي په راتلونکې کې مطرح شي.

د امریکا لخوا هڅه روانه ده چې زاړه قوي جهادي ګوندونه کمزوري شي، او کمزوري کړي یې هم دي، امریکا په ځوانانو کار کوي، تر څو د پخوانیو زاړه پالو او اسلامپالو ډلو ځای ونیسي.

ښاغلي مهدوي وویل : (( د سولې پروسه کې د نړیوالو برخه ۷۰ – ۸۰ سلنه ګورم، په دي برخه کې د افغانانو برخه ۲۰ – ۳۰ سلنه ګڼم تر څو د سولې او امنیت لپاره کار وکړي.

د هیواد امنیت خرابي لور ته روان دی، په کار ده چې د سولې مذاکراتو څلور ضعلي شي، طالب، حکومت ، سیاسي احزاب او نړیواله ټولنه.

دلته په هیواد کې قوتونه او د هیوادو استازي شته، افغان حکومت او سیاسي ډلې هم شته، خو د طالب تعریف نشو کولای، یو مشخص فهم او شناخت ورځخه نه لرو.

طالب ترهگر دی، آیا دا تصور سم دی؟ آیا نظامي تجزیه غوښتونکې ډله ده؟ خپلسرې ملیشه او یا هم بهرنی نظامي ځواک دی؟

او یا داچې طالب یوه سیاسي افغاني نظامي ډله ده، چې یوه ځانگړې تگلاره لري، تعریف باید واضح کړو، تر اوسه هم مشترک تعریف ورځخه نه لرو.))

د مهدوي غوښتنه د طالب د تعریف اړوند پر ځای ده، ځکه د طالب، ترهگر، سولې، شهید او مجاهد تعریفونه دلته په هیواد کې دننه ډیر گونگ دي، بهرنیانو یې یو ډلو تعریف له ځان سره لري، افغان حکومت بل ډول او طالبان بیا له خپله اړخه ورته تعریف لري.

ښاغلي مهدوي وویل : (( حکومت د سولې رسمي لوری دی، د سولې مذاکراتو د لاسلیک واک له حکومت سره دی، حکومت خپل مشکلات لري، د مشروعیت اړوند یې، د قانون اساسي نه مراعت کولوستونزه یې شته، او طالب هم وایي چې په دغه ډول حکومت کې به کله ورته ځای وي.

د حکومت د ملي مشروعیت اړوند سروې ښیې چې ۹۰ سلنه خلک وربانديي باور نه لري.

په نړیواله کچه د حکومت د مشروعیت په اړه پرته له امریکا هیڅ یو باور پرې نه لري. روسیه، چین، ترکیه او ایران هیوادونه له طالبانو سره اړیکه کې دي، ځکه طالب واضح پیغام لري، بل لور ته افغان حکومت کې د ظرفیت د نشتون خبره ده.

عادلانه سوله یا هم د جگړې ختم، عادلانه سوله خپل تعریف لري، ترڅو چې ژوره خبره نه وي شوې، عادلانه سوله نه کیږي او سخته به وي چې تلپاتی امنیت راشي.

د نورو هیوادونو د دخالت او نفوذ د مخنیوي لپاره ځانګړي تګلاره او فارمول نه لرو، واقعیتونه باید ووایو چې طالب سیاسي او نظامي ځواک دی، که ترهګر یې ګڼو سوله نه کیږي.

سولې ته لومړیتوب او په دي لاره کې بیړه نه کیږي، واقعیتونه باید درک کړو، افغان حکومت د سولې لپاره ظرفیت او مشروعیت نه لري، که طالب له حکومت سره کیني، توافق ته رسیږي، بیا به تلپاتي سوله وي.))

د ولسي جرګې غړي اسدالله سعادتي وویل:

((د پګواش ادرې لخوا په ترتیب شوې د سولې وړاندیز کې ځینې موضوعات حساس دي.

۱ – د اساسي قانون خبره د، آیا همدا اساسي قانون منو که نه؟ ځینې برخې او یا ټول تعدیل شي؟ که تعدیل راځي، کوم مواد باید تعدیل شي، په اساسي قانون کې د ماشومانو حقونه هم ذکر شوي، که تعدیل کیږي، آیا ممکن ده چې تر دي هم ښه وي.

۲ – د انتقالي حکومت غوښتنه ده، آیا پرته له دي بلې سولې ته د رسیدو لاره شته؟ یعنی صفر ته (شاته) تګ ممکن دی، دا کار د د ولت په زیان دی.

۳ – د نظام د ماهیت په اړه خبره او توافق مسئله ده.

۴ – ادغام مجدد یا د وسلوالو مخالفینو خلع سلاح کېدل؟

۵ – د واک عادلانه ویش د اقوامو په تناسب ته اړتیا ده، بدبختانه داغټ مشکل دی، قومی ستونزې غټ جنجال دی، باید روښانه بحث وشي، چې قومي مشارکت مطرح شي.))

د ښاغلي سعادتي له خبرو ښکاري چې د اهل تشیع مشران فکر کوي چې په حکومت کې د دوی ونډه کمه ده، ولي په تیرو ۱۶ کلونو کې دوی ته د امریکایانو او بهرنیانو لخوا ځانګړي توجه کیدله، له دي سربیره د ایران اقتصادي او تعلیمې

مرستې یې هم ترلاسه کولې.

پاولو ته سعادتي وړاندیز وکړ: ((جزیات نه بلکې د سولې اړوند یو عمومي متن جوړ کړي، په متن کې د جزیاتو ځای کیدل به پوښتنې او اندیښنې پیدا کړي.))

د ټاکنو د کمیسون د شکایتونو پخواني رئیس ضیا الحق امرخیل نوبت واخیست، تر ډېره د سولې پر ارزښت او ضرورت یې خبره وکړه، د سولې د ډلو په یووالي او همږغي یې خبره وکړه، او سوله یې دافغان ولس لپاره اړینه وګڼله.

د کورنیو چارو پخواني وزیر عمرداودزي خبرې پېل کړي، هغه وویل:

(( ښاغلی پاولو دی خدای ج مسلمان کړي، چې الله ج د سولې د همدي هڅو اجر ورکړي.

د ښاغلي پاولو لخوا د ۱۹ ماده ییزه طرحې اړوند یې له موږ سره مشوره شوې، ځینې خطري ټکي پکې دي، موږ ورسره موافق نه یو، او ځینې داسي ټکي شته چې باید په طرحه کې ځای کړل شي.

دا سمه نه ده چې دا ۱۹ مادي ومنل شي، موږ ندي منلي، بحث مو پري کړی.

موقته اداره د راتلونکي نظام اړوند لازمه او سمه نه ده، ملي مشارکت حکومت ښه اصطلاح ده او قانوني ستونزه هم نه پیدا کوي.

د موقت حکومت اړوند چې ولسمشر استعفی ورکړی، دا به مشکله وي، حوصله به ونه لري. ))

په سیاستوالو په سختۍ باور کیدای شي، عمر داودزی هغه څوک دی چې زموږ سره په ناستو کې یې د لنډمهاله اداري د جوړیدو ملاتړ کاوو، کله چې وپوهیدی چې په لنډ مهاله اداره کې ده ته واک نه ورکول کیږي، اوس د لنډمهاله اداري راتګ قانوني ستونزه ګڼي او د ملي مشارکت خبره کوي.

د ۲۰۱٦ سپټمبر میاشت کې همدغه طرحه چې هغه وخت کې ۱۷ مادي وه د ښاغلي پاولو لخوا د سولې جرګې دفتر (وزیراکبرخان) کې ولوستل شوه، او په

ځانګړي ډول له عمر داودزي سره هم شریکه شوې وه، هغه وخت د موقت حکومت اړوند چا نیوکه ونه کړه. عمر داودزي له دي غونډې نږدې درې میاشتې مخکې له ښاغلي ملاعبدالسلام ضعیف او ما (لیکوال) سره د مجلس پرمهال وویل چې که طالبان پر موقت حکومت راضي شي، د سولې لپاره ښه چانس دی. عمر داودزي هڅه کوله چې که ممکن وي موقت حکومت باندي طالبان او افغان حکومت موافقي ته ورسیږي او دموقت حکومت په رائس کې همدی راشي، امریکا ته یې سفرونه وکړل، پوه شوی به وي چې امریکایان دحکومت په رائس کې دده له راتګ سره ځکه موافق نه دي، چې پخواني ولسمشرحامد کرزي ته نږدې شخص یې ګڼي. سید اسحق ګیلاني د ډسمبر پر ۱۴مه ما (لیکوال) او استاد محمد زمان مزمل ته وویل چې داودزي به ځکه دا ډول خبره کړي وي، د ډاکټر غني لخوا د سفارت ژمنه ورسره شوې.

ښاغلي داودزي وویل: (( د زړه خبره مې دا ده چې حکومت، طالب او ولس دي د سولې پروسه کې ګډ کار وکړي.

له طالب څخه ولس خفه دی، د خپل نظام په وخت کې یې ځینې داسي کارونه کړي چې ملت ورڅخه ناراضه دی، که طالبان په حکومت کې مشارکت کوي، هغه ډول حق او برخه نه ورکول کیږي لکه پخوا چې دوی درلودله.

د طالبانو په وخت کې موږ جینکۍ ونه لیدی چې تعلیم وکړي، د نارینهو تعلیم هم کم وو، د تعلیم لرونکي لپاره د کار کولو ستونزه وه، ځکه د انجنیر په ځای هم طالب مقرر وو.))

داسي معلومات شته چې د طالبانو د نظام پر مهال چې کله عمر داودزي د ملګرو ملتونو په دفتر کې کار کاوو، طالب مشرانو سره یې نږدې اړیکې درلودلې او د اسلام اباد سفارت سره یې په ځینو مواردو کې همکاري کړي ده، نظرونه یې ورکړي، او وړاندیزونه یې ورسره شریک کړي، نه پوهیږم په هغه وخت کې به کوم

لامل و چې هغه يې د طالبانو سره مرستي کولو ته ليواله کړی وو.

عمر داودزي وويل : (( په دوحه کې د پګواش غونډې پر مهال مو له طالب څخه دوې ښې خبرې واوريدې.

۱ – نفس اساسي قانون مني.

۲ – پخوا يې داسي سوله غوښتله چې دوی ته حکومت تسليم شي، ولی اوسمهال په حکومت کې مشارکت غواړي [۱].

انديښنه مې دا ده چې د بهرنيو پوځيانو د وتلو خبره کيږي، شخصاً خپل نظر لرم، سمدستي مې ۱٦ کاله مخکې حالت سترګو ته دريږي، آيا هغه وخت غواړئ که نه؟ لومړی مې قانع کړه چې له موجوده نظام نه ښه نظام درته جوړوم.

د بهرنيو پوځيانو وتل يوازي په ټوپک نه بلکې د اجماع، جرګې او واحد موقف د لارې غواړو چې په احترام يې رخصت کړو.

که طالب وايي تر هغه وخته جګړه کوي چې بهرني پوځيان دلته وي، موږ وايو چې جګړه کې څوک وژل کيږي؟ کله چې د کورنيو چارو وزير وم، موږ ته به ډيره سخته چې هر ورځ به موږ ته د ۲۰ څخه تر ۳۰ د پوليسو تابوتونه راتلل، او بيا به مو هغه تابوتونه د هغوی کورنيو ته سپارل، اوسمهال هره ورځ سل تابوتونه ورته راځي.

آيا پوليس او اردو درلودل جرم دی؟ او که جرم نه وي، ولې يې وژنئ؟ دا بل اړخ (حکومت) هم مشکلات لري، مګر نن خبره په طالب ده.

د سولې اړوند د طالبانو دريځ خو لږ معلوم شو، د حکومت دريځ پخوا او اوس نه دی معلوم، سهار يوه تګلاره او ماښام بله تګلاره لري.

يوه ورځ وايي چې زمريان يو خورو مو، بله ورځ بيا وايي چې راشه سوله وکړه[۲].

---

[۱] داچې طالبانو په حکومت کې د شراکت خبره د پګواش غونډې کې کړې وي، د پګواش غونډې نور ګډونوال يې نه تايدوي.

[۲] د پګواش – کابل غونډې څخه يوه اونۍ مخکې ولسمشر غني افغان ځواکونو ته د وينا پرمهال وويل چې موږ (حکومت) زمريان يو، او دښمن (طالبان) خورو. د عمر داودزي همدې خبرې ته اشاره وه.

دولت په دوه لارې کې دی، نرمه خبره د عسکر له املـه نـه شي کـولای، ځکـه د عسکر مورال او موقف ته يې صدمه رسيږي، کـه د جګـړې خـبره کـوي سـولې تـه زيان کوي.

يوازنۍ د حل لاره سوله ده، موږ په دې نـه شرميـږو چـې طالـب سره سـوله کـوو، طالب مو ناراضه افغان ورور دی، سوله او مشارکت ورسره کوم، خو عملي يې څنګه کړو، په طالب کې لوی فکري تحول راغلی.

د سولې د خبرو لپاره د ادرس ورکولو مخالفت مه کوئ، پخواني حکومت تیروتنه وکړه چې د طالبانو د قطر دفتر يې بند کړ، اوسـنی حکومـت تیروتنـه کـوي چـې د طالبانو لپاره د قطر دفتر نه مني، زموږ مشوره دا ده چې بايد په قطر کې د طالبـانو دفتر خلاص شي، دولت او طالب د نیک‌نیتۍ اقدام وکړي.))

په لومړي ځل چې د طالبانو د قطر د دفتر د خلاصيدو مخالفت ښـاغلي کـرزي وکړ، هغه وخت ښاغلی عمرداودزی د ولسمشر د دفتر رئيس و، که هغـه وخـت يـې ذهنيت جوړونـه کـړې وای، او کـرزي تـه يـې يـو ډول قناعـت ورکـړی وای چـې پـه قطرکې د طالبانو د سیاسي دفتر د خلاصيدو مخالفت مه کوئ، ښه به وای.

داودزي وویل : ((د ګوانتانامو څخه خلاص شوې بنـديان پاسـپورټ غـواړي مګـر حکومت ورته وايي چې پاسپورټ درکړو، مقابل کې يې تاسي څه راسره کوئ[1] .

طالب دې ځينې کورني او بهرني بنديان خـوشي کـړي، ړانـده راکټونـه دې پـه سيمو نه ورخوشي کوي، د دولت او بهرنيانو لخوا دې بمونه اچول بند شي، راکټونه ويشتل او په ځانګړي ډول په ښارونو باندې يې ورخوشي کول خو جهاد نه دی.))

---

[1] دګوانتانامو زندان څخه ۵ تنه خوشي شوې زندانيان چې قطر کې ميشـت دي، غوښـتل يـې چـې د عمري حج ته ولاړ شي، ددې لپاره د پاسپورټونو اړتيـا وه، افغـان حکومـت د پاسـپورټو ورکولـو پـه مقابل کې ورڅخه سياسي غوښتنې درلودلې، داخبره بيا رسنيزه شوه، او پاسپورټونه تر دې مهالـه نه دې ورکول شوي.

کله چې ښاغلی عمر داودزی د کورنیو چارو وزیر و، هغه وخت په ځینو سېمو کې د افغان اردو او پولیسو په راکټي بریدونو کې ملکي کسان ووژل شول، د هلمند ولایت سنگین ولسوالي کې د واده په ورا د ملي اردو راکټي برید کې د میرمنو او ماشومانو په گډون ۵۹ تنه مړه او تر ۷۲ زیات بې گناه ملکي کسان ژوبل شول، د میدان وردگ سیداباد ولسوالي کې د ملي اردو لخوا د راکټي برید له امله ۸ ماشومان او ۴ سړي ووژل شول، د غزني ولایت مرکز ته څیرمه د والیبال لوبه کوونکو باندې د راکټ لگیدو له امله مرگ ژوبله واوښتله، دا ډول نورې پېښې هم شوې دي، خلکو شکایتونه وکړل، په موقت ډول د پخواني ولسمشر-کرزي لخوا د خلکو د استوگنو پر ځایونو د ملي اردو لخوا د لویو توپونو د مرمیو ویشتل بند اعلان شول، ولې د کرزي پریکړه عملي نه شوه، دادی تر نن پورې د حکومت لخوا د خلکو په استوگنیزه ځایونو کله ناکله راکټي بریدونه کیږي، او ملکي وگړو ته مرگ ژوبله پکې اوړي.

د پگواش د تیرو غونډو گډونوال دکتور فاروق اعظم گیلې درلودلې، هغه وویل:

(( موږ افغانان خپله نشو راټولیدای، بل څوک مو راټولوي، داهم غنیمت دی، سوله هر څوک غواړي، هغه چې نه یې غواړي هغه هم د سولې ناري وهي، هر څوک چې د سولې د غوښتلو ږغ کوي، باید استفاده ورڅخه وشي.

د سولې خبرو لپاره میکانیزم مهم دی، ښکېل لوري د زړه خبره د میکانزم په وخت کې کوی، اوس وخت کې اصلي خبره نه کوي.

د سولې شورا د ادغام مجدد لپاره جوړه وه، ځکه کامیابه نه شوه، خلک یې حکومت ته تسلیمول او بیا به یې ویل بې طرفه یو. د سولې لپاره د دولت او طالب لخوا په ځانگړي ډول کومه اداره نشته چې یوازې د سولې لپاره کار وکړي.

د استاد برهان الدین رباني د حکومت په وخت کې جنگ وو، موږ د جگړې د ښکېلو خواوو ترمنځ وگرځیدو، د هیواد ۵۰ قوي بانفوذه کسان مو راپیدا کړل،

استاد رباني، ښاغلی حکمتیار او استاد سیاف مو انډیوالان وو، واضح مو ورته خبره کوله، چې دا ملک زموږ دی، موږ هم مجاهدین وو، هغه وخت نسبتاً لږ کامیابه وو، اوس خو بهرنی شتون مطرح دی، هغوی ته څنگه ورځې، خپل اهداف درته نه وایي، له همدې کبله ده چې مسئله مشکله شوې.

که موږ هر یو له ناستو کسانو څخه ږغ وکړو، ۵ کسان راته نه راځي، پگواش اداره لانښه ده، موږ یې سره راټول کړي یو.

ولس به څه ډول ځان تمثیل کړی، بیچاره شوی، د انجوگانو مشران یا کارکوونکي وایي چې د ملت نماینده یم، داچې ملت به راپورته شي، وبه وایي جنگ بس دی او د عادلانه نظام لپاره به هم پریکړه وکړي، په دې برخه کې مشکلات دي، ولس ته د ږغ پورته کولو حق نه ورکول کیږي.

دوه وړاندیزه لرم:

۱ – چې د سولې اړوند یو تشکل جوړ او نړیوال یې ملاتړ وکړي، موږ افغانان یو بل ومنو، یو مشر وټاکو او نورورپسې ودریږي.

۲ – له نړیوالو ادارو سره په ملگرتیا کار وشي، د سولې منځگړې ډله حتمي ده، پرته له دي سوله نه کیږي.))

د سولې په برخه کې ډاکټر فاروق اعظم ځان د مشرتوب مستحق گڼي، که د سولې هره هڅه کیږي، هغه وایې چې په دي برخه کې یې ډیر کار کړی، باید د سولې د هڅو مشرتوب ورکړل شي، او که دریم گړی گروپ ټاکل کیږي هم باید مشرې یې ده ته ورکول شي.

کله چې د سولې شورا پخوانی مشر استاد برهان الدین رباني ووژل شو، ډاکټر فاروق اعظم ډیره هڅه وکړه چې د سولې شورا مشر شي، کرزي ورسره ونه منله.

د لنډ مهاله اداري د مشرتوب لپاره تر بل هر چا ځان مستحق گڼي، هغه وایې زه پخوانی مجاهد یم، د خلکو په وینو مې لاسونه سره شوې نه دي، دیني او

عصري زده کړې لرم، کولای شم هیواد له بحران څخه خلاص کړم.

همدغه ستونزه ده، چې هر څوک د مشرتوب او واک ترلاسه کولو لیواله دي، ځکه خو په هیواد کې امن او سوله نه راځي، یو بل نه منلای او نه هم زغملای شي.

د ولسي جرګې وکیل فریدون مومند خبرې پیل کړې :

(( ټوکه یې وکړه ویې ویل: پاولو ترهغه مه مسلمانیږه ترڅو چې سوله نه وي شوې. د ننګرهار په کامه کې جاپاني انجنیر و، ځینو کسانو ورته وویل چې مسلمان شه، نورو ورته وویل چې ترهغه وخته یې پرېږدئ چې د کونړ پر سیند د کامي سربند جوړ کړي، که مسلمان شو، بیا به سربند پاتې شي.

افغانان سوله غواړي، ناست مجلس یې ثبوت دی، طالب، حکومت، مجاهد، دلته ناست دي، مګر ګاونډي هیوادونه سوله نه غواړي، د جګړې لپاره یوځل یوه او بیا بله ډله پیدا کوي.

که طالبان سوله ومني، پاکستان، ایران او نور بهرني هیوادونه به بیا بله ډله پیدا کوي چې جګړه وکړي.

ولس بندي شوی دی، د ولس استازیتوب څوک نه کوي، طالب، حکومت او ناټو قوتونه دي، او د دوی ترمنځ جګړو کې ملت وژل کیږي، هغه څوک هم وژني چې د دوی د ګټو مخالف خبره کوي.

په کار ده چې طالب، حکومت او ناټو په اوربند باندي قانع شي، ولس ته دي واک او اختیار ورکړل شي، او دا کار دي وکړي.

د طالب دا غوښتنه چې د بهرنیو پوځیانو وتل دي، په طالب پوري مربوط نه ده، دا د افغانانو غوښتنه ده، موږ د طالب سره د ملګرو خارجیانو وتل هم غواړو، ټول خارجیان به ووځي. د هیواد د ازادۍ او له هیواده د بهرنیانو د وتلو افتخار به د افغان ملت وي، که طالب موږ ګوډاګیان معرفي کوي، موږ هم دا ډول افتخار نه شو ورکولای، که ورورې کوي یو بل به سره منو.))

ښاغلی فریدون مومند په داوړو خواو کې افتخارات غواړي، ځینو کسانو د امریکا سره ۱۵ کلونه ملګرتیا وکړه، اوس تمه لري چې د امریکایې پوځیانو دوتلو ویاړ هم په راتلونکي کې دوی ته ورکول شي.

همدغه ډول ادعاء د ډاکټر نجیب الله پلویان هم لري، ښاغلی فریدون هم له دي جملې څخه دی، هغوی وایې چې روسان له افغانستان څخه د دوی په غوښتنه ووتل، او دغه ویاړ د دوی دی، په داسي حال کې چې دوی د روسانو سره په ګډه د افغان ولس په وړاندي جګړه کوله، اوس هم هغوی چې د امریکایې پوځیانو سره په ګډه یې د افغان ولس سره جګړه کوله، ولي غواړي چې د امریکایې پوځیانو د وتلو ویاړ دي دوی ته ورکول شي.

فریدون مومند وویل : (( نظام ته راتلل (له حکومت سره یوځای کیدل) طالب ته پیغور دی، یوځای کیدل به مشکل وي.

درې کاله وروسته چې د افغان حکومت وخت پای ته رسیږي، موقت حکومت دي جوړ شي.

په حکومت کې مشارکت نشو کولای، طالب ۵۰ سلنه برخه غواړي، د نورو قومونو لپاره به څه پاتې شي.))

د مومند پورته خبره سمه نه ده، کله هم طالبانو د ۵۰ یا له دي څخه د کم او زیات ونډي غوښتنه په حکومت کې نه ده کړي، هغوی وایې چې د دوی لپاره لومړیتوب د بهرنیو پوځیانو وتل او یا هم د هغوی د وتلو د مهالویش اعلان دی.

مومند وویل : ((طالب او حکومت وایي ولس له مور سره دی، سیاسي مشران وایي چې ولس له مور سره دی، حق دي ملت ته ورکړي چې څوک غواړي.

په اساسي قانون کې تعدیل مور ته ول غواړو، د میرمنو حقونه داسي دي چې د نر حق پکې ورک شوی، لویدیځوالو د نارینه وو حقونه پکې له منځه وړي، د ولسې جرګې د وکالت لپاره یوه ښځه ۸۰۰ رایې وړي، خو سړی ۱۰ زره رایې اخلي، حق

پکې تلف کیږي.))

په ولسي جرگه او ولایتي شوراگانو کې د میرمنو حقونه ۲۵ سلنه ده، په داسي حال کې چې خپله په امریکا کې میرمنو ته دومره سلنه حقونه په کانگرس کې نه دي ورکړل شوي، دا یوازي د مومند نه، بلکې ډیری افغانانو خبره ده، د امریکا له جوړیدو تر نن ورځې امریکایانو میرمني ته دا حق ورنه کړ، رایه یې ورنه کړه چې میرمن دي د امریکا ولسمشره شي، ښه بېلگه یې میرمن هیلري کلنټن ده، چې یو ځل یې د تور پوستي اوباما په مقابل کې ماتې وخوړله او بل ځل یې د ډونالډ ټرمپ په مقابل کې ماتې وخوړله، هغه ټرمپ چې میرمنو ته په درناوي قایل نه دی.

ښاغلي مومند وویل : (( د اساسي قانون د تعدیل لپاره لویې جرگې ته اړتیا ده، او د قانون تعدیل د مشرانوجرگې وکیلانو صلاحیت دی، دا کار حکومت او طالب نه شي کولای.

په قانوني لویه جرگې کې د ټاکنو، حکومت او بهرنیانو د وتلو پریکړه کیدای شي.

د افغان په نوم جگړه اصل کې د امریکا ، روسیې، ایران او پاکستان جگړه ده، د دوی سفیران د جگړې او په افغانستان کې د دخالت په اړه خبرې او پریکړې کوي.

که سوله افغانانو په یوازیتوب سره کولای شوای، ډاکټر نجیب الله استعفی ورکړه، خو مجاهدینو خپل منځ کي جگړې پیل کړي.

پخوانی طالب نن ورځ په کور کې ناست دی، د نوي او ځوان طالب فتوی بل ډول ده، د ناست طالب اړوند هم ښه نظر نه لري، د سولې لپاره ولس ته مراجعه کول په کا ر ده.))

فکر نه کوم چې داسي به وي لکه چې ښاغلی فریدون مومند وایې، اوس هم هغه پخواني طالبان د طالبانو سیاسي او پوځي مشران دي، او ځوان طالبان هم د پخوانیو مشرانو طالبانو ډیر احترام کوي.

د گوانتانامو څخه خوشي شوې ( ۲۲ اگست ۲۰۰۲ تر ۸ مئ ۲۰۰۸) بندي

حاجي روح الله وکیل  وویل :

(( ملت سوله غواړي، طالب افغان دی، ښاغلی حکمتیار ۱۵ کاله وجنګیدی، نن ورته د حکومت خلک ورور وایي.

ښاغلی پاولو له ٦ کالو راهیسې لګیا دی، موږ ورسره ملګري یو، د افغانانو نظریات یې راټول کړي.

طالب سره خپل اهداف دي، موږ د سولې جرګه یو، دواړو لورو ته ښه الفاظ کارول په کار دي، د پیوستون لپاره دي کار وشي.

د پاکستان پلازمینې اسلام اباد کې  په میرت هوټل کې ناسته وه، د آی ایس آی او پوځ ۱۵ کسانو پکې ګډون درلود ، هغوی قانع شوو چې خطا شوې، او دافغانستان اړوند تګلاره یې غلطه وه.))

له حکومت سره د حزب اسلامي د سولې د مذاکراتو د پلاوي مشر انجنیر محمد امین کریم وویل :

(( له حکومت سره د تلپاتې سولې د مذاکراتو لپاره داسي وړاندیزونه چې سولې ته رسیدای شو، د سولې لپاره پرنسیپونه لرو، سرتاسري سوله غواړو.

یو عقیدتي لیدلوری دی او بل هم سیاسي موقف دی.

آیا درې عمده جریانونه کولای شي چې خپلو منځو کې ژوند وکړي؟

تجدد ګرایي افراطي (له لوېدیځ متاثر) ، نوی اسلام ګرایي او سنتي تفکر، دا ممکن ده چې درې سره یو ځای ژوند وکړي؟

تجدد ګرایي او اسلامي روشنفکري، دلته عملا ګورو په افغانستان کې کیږي، ولي سنتي تفکر نظامي برخورد او جګړه کوي.

طالب د اسلامي نظام اړوند خاص تیوري نه لري او تعریف هم ورته نه لري.

الحق لمن غلب (حق د هغه چا لپاره دی چې غالب شوی وي)، طالب له خارجي (امریکا) سره مذاکره غواړي،  مګر له حکومت او د افغانستان له خلکو سره جګړه کې

دي. دلته بهرنيان نه، بلکې افغانان وژل کيږي، د افغانانو تر منځ جګړه ده.
آيا طالب حاضر دی چې د واک له انحصار څخه لاس واخلي؟))

ځينو کسانو د ښاغلي امين کريم پر خبرو له دي کبله نيوکه درلودله، چې ده ته په کار و چې د خپلې ډلې حزب اسلامي اړوند يې خبرې کړي وای، ځان يې د طالب مقابل نه وای ښودلای، او يا خو د طالبانو د نظر او فکر خبره يې نه وای کړی، بلکې د حزب اسلامي د نظرياتو او تفکر اړوند ځرګندونو باندي يې اکتفا کړي وای.

که انجنير امين کريم طالبان له افغان ولس سره په جګړه کې بولي، مګر حزب اسلامي هم دا ۱۵ کاله د افغان حکومت ، امريکا او ناټو په ضد د جګړې کولو ادعاء کوله، او په کابل کې د ځينو ځانمرګو بريدونو پړه يې هم په غاړه اخيستله.

انجنيرامين کريم ونه ويل چې تير ۱۵ کلونه حزب اسلامي له چا سره جګړه کوله، له حکومت سره د سولې تړون خو د ۲۰۱٦ز.کال سپټمبر ۲۲مه نيټه لاسليک شو.

ددې پرځای چې د حزب اسلامي او حکومت ترمنځ د مذاکراتو په اهميت او لاسته راوړنو خبره وکړي، وينا يې پر طالبانو انتقادي بڼه درلودله.

د جنورې ۲۲مه ۲۰۱۷، اريانانيوزټلويزون د انجنير امين کريم د مرکې يوه برخه داسي وويله چې حزب اسلامي ۱۰۰۰۰ وسلوال جنګيالي لري، او د افغان حکومت سره به د امنيت په راوستلو کې مرسته وکړي، په ټول افغانستان کې به ۵۰ سلنه امنيت ښه شي. په دي معنی چې دحزب جنګيالي به د حکومت سره يوځای د حکومت د مخالفو وسلوالو سره جګړه وکړي، يوه ورځ وروسته انجنيرآمين کريم وويل چې دده خبرې تحريف شوې او د طالبانو سره جګړه کول نه غواړي.

ښاغلي امين کريم وويل : (( د حزب اسلامي او حکومت ترمنځ د مذاکراتو تجربه کې درې اصله وو.

۱ – بين الافغاني مذاکرات، مګر طالب وايي چې يو جهت طالب او بل جهت خارجي دی، ملت په نظر کي نه دی نيول شوی. طالبانو هم تنازل ښودلی،

لکه د ټاکنو په مسئله کې، پخوا یې ټاکنې حرام ګڼلې.
۲ – د بهرنیو پوځیانو وتلو موضوع ده، طالب مستحق دی چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو اړوند مذاکره ورسره وشي، دا ډول حکومت هم مستحق دی چې خبره ورسره وکړي، په دې برخه کې طالب د باور جوړولو کومه نښه نه ده ښودلې، ترڅو چې ملت یې ونه مني، دا مسئله ستونزمنه ښکاري.))

د انجنیر امین کریم خبره سمه ده چې د حزب اسلامي د سولې په لومړینو شرطونو کې د بهرنیو پوځیانو د وتلو موضوع شامله وه، ولي وروسته حزب اسلامي له یادې غوښتنې څخه په شا شو، ځکه امریکا نه غوښتل چې په دي برخه کې دي افغان حکومت له حزب اسلامي سره بحث وکړي.

موږ باوري یو چې افغان ولس د بهرنیو پوځیان وتل غواړي، او بهرني پوځیان په افغان حکومت کې د ونډې اخیستلو او افغان حکومت کې د ګډیدو په نتیجه کې نه وځي.

ښاغلي کریم وویل : (( حزب اسلامي سره مذاکراتو کې د ولس لخوا د حکومت انتخاب او د بهرنیانو وتل د مذاکراتو جز دی.

د طالبانو دا خبره چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو لپاره دي معقول مهالویش اعلان شي، دا ښه خبره ده، حمایت باید ورڅخه وشي.

د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کیري وویل: که طالب غواړی چې بهرنیان له افغانستان څخه ووځي، لکه د حزب اسلامي په شان خبرې دي وکړي.))

غواړم چې ښاغلي امین کریم ته وریاد کړم چې د حزب اسلامي مشر- ښاغلي حکمتیار به ویل چې تر څو یو بهرنی د افغانستان په خاوره کې شتون ولري، موږ به جګړې ته دوام ورکوو، طالبان وضاحت کوي چې تر څو د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش نه وي اعلان شوی، له افغان حکومت سره خبرې نه کوي، ځکه په ځینو مواردو کې افغان حکومت د پریکړو واک نه لري.

کله چې ډاکټر عبدالله عبدالله د حزب اسلامي سره د سولې د تړون لاسلیک کول ځنډول وغوښتل د امریکا سفارت له خوا په یوه ماښامنۍ کې هغه وپوهول شو، چې باید د حزب اسلامي سره د سولې تړون زیات ونه ځندول شي.

که د امریکا سفارت خوښه او مداخله نه وای کیدای شي چې دحزب اسلامي سره د افغان حکومت د سولې تړون لا ډیر وخت ځنډیلی وای.

امین کریم وویل : ((شریعت او عدالت د حزب اسلامي شعار دی، طالب د اسلامي حاکمیت او شریعت اړوند ۱۰۰ نور تعریفونه لري.

۳ – د واک انحصار باید نه وي.

۱ – طالبانو ته ښکاره وویل شي چې د نظام مالک موږ افغانان یو.

۲ – د اسلامي امارت څخه طالب تیر شي.

۳ – د بهرنیو پوځیانو د وتلو ویاړ طالب ته نه بلکې ولس ته وي.))

موږ یې له ښاغلي امین کریم سره منو چې حزب اسلامي شرعي نظام غواړي، مګر د بهرنیو پوځیانو په شتون کې به څه ډول حزب اسلامي د شریعت او عدالت غوښتنه وکولای شي او یا خو به عملي جنبه ولري. ترڅو چې بهرني پوځیان په افغانستان کې شتون ولري، هر څه به د دوی د خوشي مطابق کیږي، نه به اسلامي حاکمیت راشي او نه خو به عدالت او د ولس حقونه ورکړل شي.

طالبانو په وضاحت سره ویلي داسي نظام غواړي چې خپلواک وي، او افغانان پکې د پریکړو واک ولري، هغوی ویلي چې د واک انحصار نه غواړو، ولي داچې بیا هم هغه ډلې چې د بهرنیو پوځیانو شتون یې په یو ډول د اشکالو په افغانستان کې منلي وي، او که چیرته د افغان ولس د فشار په نتیجه کې بهرني پوځیان له هیواده وتلو ته مجبوره کیږي، او بیا دوی دغه ویاړ کې ځان شریک ګڼي، دا نو له افغان ولس سره جفا ده.

د سولې برخه کې فعال ډاکتر فیض محمد ځلاند وویل :

(( له پګواش اداري او امیر صاحب [1] څخه مننه کوو، چې د دغسې ناستې زمینه یې برابره کړې ده.

چې یو لوری پر او بل بریځ نه کړو، بې طرفه خبره وکړو، د طرحې۱۹ مادو کې د سولې مخکې، د سولې جریان کې او د سولې وروسته مسایل ګډ وډ دي.

د ډاکټرنجیب الله د وخت او اوسني اساسي قانون ترمنځ عقیدتي توپیر به نه وي، یوازې اقتصادي توپیر لري.

ډاکټر نجیب الله سره ولي سوله ونه شوه، د هغو ناکامو تجربو تکرار بیاځل ونه شي.

ځوانان باور نه لري چې موږ رښتونې سوله غواړو، مشران د جګړې اصلي مسؤول دي، باید مسؤولیت ومني او جګړه ختمه کړي.

سولې ته د رسیدو لپاره ولسي فشار په جهتونو راوستل په کار دی.))

د ښاغلي ځلاند پر خبرو ور زیاتوم چې ډېری ځوانان په دې ګروه دي چې د جګړو لپاره لمن پخواني مشرانو او سیاستوال وهي، هغوی په جګړو کې خپلې ګټې او واکونه خوندي ګوري.

سناتور عبدالصمد شاغاسي نادرې څرګندونې درلودلې، هغه وویل:

(( له پګواش او امیر صاحب څخه مننه کوم چې دغسې- یوې ناستې ته یې زمینه برابره کړې.

له طالبانو سره د لومړي بن غونډه کې غدر شوی، د طالب اوسنی د بهرنیو پوځیانو د مهالویش وړاندیزمهم دی، دا د ملت غوښتنه ده.

طالبان په ټول افغانستان کې هر ولایت کې تر ۷۰ سلنه خاوره تر واک لاندې

---

[1] د جهاد پر مهال په جنوب لویدیځه حوزه کې تورن اسماعیل خان د امیرصاحب په نوم یادیده، اوس هم د یادې حوزې خلک او ځینې کسان یې امیرصاحب، ځینې یې والي صاحب او ځینې یې وزیرصاحب بولي.

لري. د روسانو او افغان کمونستانو سره د جهاد پرمهال د مجاهدینو په وخت کې هم حالات همدا ډول وو، اطراف له طالب سره او مرکز له حکومت سره دی.

د کرزي حکومت نه له طالب او نه هم له حزب اسلامي سره د سولې رښتونې خبرې کولې.

موږ باعزته سوله غواړو، افغانستان د ټولو مشترک کور دی، طالبان ټول پښتانه نه دي، هرڅوک پکې شته، د طالب ۹۵ سلنه خاروه تر لاس لاندي وه، عدالت يې خلکو ته ښودلی، اوس يې هم ښيې، پر ما اوسمهال هم په لوګر کې د طالبانو په محکمه کې يوه تن عريضه کړي، طالب راته ټليفون کوي چې راشه عريضه درباندي شوې [۱] . ))

د محاکمو اړوند د سناتور خبره پر ځای ده، د افغان دولت اړوند محاکمو کې فساد ډير زيات دی، داسي عادي دوسيې شته چې کلونه کيږي لا هم پريکړه نه ده شوې، تر ډيره په محاکمو کې د خلکو څخه د پيسو غوښتنه کيږي، له دواړو لورو (دعوه کوونکي او متهم) څخه وخت په وخت پيسې اخيستل کيږي، ولي پريکړې يې قاطع او پر وخت نه وي.

د طالبانو اړوند محاکمو کې اوسمهال د فساد او اختلاس خبره نه شته، په چټکې سره پريکړه کوي او تر خپل واک لاندي سيمو کې يې عملي کوي هم.

سناتور شاغاسي وويل : (( چې اوسنی حکومت سولې ته لېوااله دی، ډاکټرغني وايي سوله کوم، طالب تروريست نه دی. موږ وايو چې اصل تروريسټ هغه ده چې بمونه غورځوي او د طالب نظام يې له منځه يوړ.

---

[۱] کورنيو رسنيو څو ځله راپورونه ورکړي چې ولسي خلک په حکومت کې د فساد له کبله خپلې عريضې د طالبانو محاکمو ته ور وړي. د اروپايي ټولنې سفير فرانز مايکل ميليبن هم مارچ ۲۰۱۷ کې وويل چې د حکومت په عدليې او قضايي ادارو کې د فساد له امله خلک د طالبانو محاکمو ته د خپلو شخړو اړوند دوسيې ور وړي.

د مجاهدینو هم په وینه لاسونه سره دي خو په حکومت کې دویم نمبر واک لري، طالب ولي په نظام کې نشي منل کیدای؟

په غور ولایت کې داعش چا راپیدا کړ؟ که د طالب مرکزیت موجود وي، زموږ ګردو په ګټه دی، که د داعش مرکزیت جوړ شي، بیا به نه ته یې او نه زه، طالب او حکومت دواړو ته به سرخوږی وي، راځئ یو بل سره ومنو.

د تلپاتي سولې لپاره په کار ده چې طالبان ادرس ولري او اوربند ته لاره هواره شي.))

اوس نو ما (لیکوال) ته نوبت ورسیدی، ومې ویل :

د سولې لپاره په اوس وخت کې ولسي فشار ته ډیره اړتیا لیدل کیږي، تر څو د جګړې پر ښکېلو لورو فشار راوړي چې سولې ته غاړه کیږدي.

د سولې مخ کې لوی خنډ د بهرنیو پوځیانو شتون دی، په کار ده چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو محدود او معقول مهالویش وټاکل شي.

د ملت پوري اړوند ارزښتونه او دودونه ساتل زموږ دنده ده، له بهرنیو او پردیو څخه خلاصون د ملت کامیابي ګڼل کیږي.

په مجالسو او رسنیو کې د ښکېلو لورو لخوا د ښو الفاظو کارول فاصلې لنډوي.

نږدې ۴۰ کاله په هیواد کې جګړه روانه، ډیری ځوانان، پېغلې، ماشومان، زاړه او واړه مو شهیدان، ژوبل او مهاجر شوو، ولس له جګړو ستړی شوی، مشران دي د سولې اړوند هڅو کې د ځوانانو ترشا ودریږي، پر دوی څوک باور نه کوي.

سیاسي او قومي مشرانو ته په کار ده چې د سولې د هڅو ملاتړ وکړ، بهرنیان مو له خپل ولس څخه نه شي ساتلای، بلکې ولس مو له بهرنیانو څخه ساتلای شي.

د یو بل منل، زغم او حوصله په کار ده، طالب، حکومت، مجاهد، پخواني چپیان، ټول افغانان دي، ټول باید په یوه داسي حکومت توافق ته ورسیږي چې افغان شموله نظام وي.

په خبرو کې رښتینولي ډیره اړینه ده، همدا نن هم ممکن ځینو د خپلو

سیاسي اهدافو له امله د زړه خبرې نه وي کړي، د سولې لپاره لـه واک او شخصي‌ـ
ګټو تیریدل په کار دي.

لنډمهاله حکومت د سولې راوستلو لپـاره چـې بهـرني پوځیـان هـم د وتلـو لپـاره
لیوالتیا وښیې یوه ښه بدیل کیدای شي.

د حرکت انقلاب اسلامي د یـوې شـاخې مشرـ ، د حـج او اوقـافو مرسـتیال وزیـر
مولوی عبدالحکیم منیب وویل:

(( د پګواش اداري څخه مننه کوم، ۹ کلونـه وړانـدي مـې لـه ښـاغلي پـاولو سره
ولیدل، هغه وخت کې د سولې دا ډول وړاندیز هوا راتـه ښـکاریده، اوج د غـوسي د
طالب، حکومت او امریکا راته معلـوم وو. مګـر دا دی ۹ کالـه وروسـته پګـواش کـې
مختلف خلک راټول شوي یو.

سوله مو ملي ارمان دی، پر طالب او حکومت باندي ږغ وشي چې سـوله قربـاني
غواړي، د سولي لپاره قرباني ورکول په کار ده، چې قرباني او اراده نه وی، سوله نه
کیږي.

سوله د ادغام مجدد په بڼه یوه استخباراتي لوبـه ده، سـوله بایـد حقیقـي وي، د
طالب لپاره ادرس ورکول اړین دی، دا ډول طالب ته په سیاسي او پوځي واک کـې
د مشارکت زمنیه چمتو کول په کار ده.

خارجی موجودیت هیڅ افغان نه مني، د اروزګان والی وم، هلته بهـرني پوځیـان
موجود وو، یوه یې پوښتنه وکړه چې زموږ موجودیت ته په کومه سترګه ګـوري، ومـې
ویل چې د اسوال تاته راجع کوم، چې ته مې ستا په هیواد کې د وسلې سره نشي
منلای زه مو څه ډول ومنم.

په ۱۹ ماده ییزه طرحه کې ځینې ټکې د منلو وړ او د ځینو ټکو په اړه خپل نظر لرم. ))

تورن اسماعیل خان زما (لیکوال) په خبرو چې پښتو وې سم پـوه نـه شـو، سـوء
تفاهم وشو.

هغه د غونډې په ورستيو شيبو کې زه مخاطب کړم او دا خبره يې وکړه: ((عدالت تعريف کړئ، که مور نه واى ستاسي د نوم له اخر سره به اوس اوف واى. که مور نه واى دا ملک به اوس ازاد نه واى.))

په دي معنی چې که مجاهدينو د پخواني شوروي سرو لښکرو ته ماتې نه واى ورکړي، افغانستان به د پخواني شوروي اتحاد لاس‌لاندې هيواد واى، او د افغانانو د نومونو په وروستۍ برخه کې به هم لکه د منځنۍ اسيا د وګړو له نومونو سره چې اوف ويل کيږي، دا ډول اوف به ورسره يوځاى واى.

ومې ويل چې تورن صاحب سوء تفاهم وشو، زما خبرې پښتو وي، تاسي لکه چې سم پري پوه نه شوئ.

بيا وروسته زه او تورن اسماعيل خان د هوټل په لوى سالون کې سره مخامخ شوو، روغبړ مو وکړ، ورته مې وويل چې زما خبرې د مجاهدينو خلاف نه وي، مشرورور مې د روسانو سره د جهاد پر مهال په مخامخ جګړه کې زخمي شوى او تر ۲۵ ځله زيات عمليات شوى، اوس يې هم زخمونه کړوي.

د پګواش ادارې مشر ښاغلي پاولو وروستۍ خبرې داسي وکړې:

(( داچې طرحه طالب منلي يا نه، دا يوه پروسه ده، عمومي پيغام دا دى چې مثبت نظر موجود دى.

مذاکرات به وي او اړين دي، مګرپرته له مذاکراتو اوربند ممکن نه دى.

د طالبانو په نظامي کسانو د حاکميت مسئله هم مهمه ده، چې د سولې ملاتړ وکړي.

د سولې مذاکراتو وخت به محدود او لنډ وي، بيا د امادګۍ مرحله ده، اساسي موضع موقته اداره ده، هيله هم شته.

دلته د ۴۰ کلنې جګړې او يرغلونو له کبله افغانان د بهرنيانو سره حساس شوي.

بهرنيان مطلق قوت نه لري، تيروتنې کوي، دوى نه پوهيږي بايد پوه شي، بحث ورسره وشي.

طالب سره سخته ده چې د سیاست په هکله ورسره بحث شوي وي، هغوی منزوي پاتې شوي.

د امسایل باید له طالب او هر چا سره مطرح کړو چې موږ څه کولای شو؟

ځینې له جګړې ګټه ترلاسه کوي او ځینې له جګړې څخه متضرریږي، له جګړې څخه فایده تر لاسه کوونکي سولې ته خوشاله نه دي.

باید بحثونه وکړو، او دا خبرې هر چا سره وکړو، مشترکه لیوالتیا د سولي په اړه شته، ځینې طالبان هم غواړي سیاست کې داخل شي، دا د سولې یوه پروسه ده، هو او نه پکې نشته، دوام به لري، نتایج دا دي چې مشترکات موجود دي.

غونډه د ماسپښین پر ۲:۳۰ بجې پای ته ورسیدله، تر لمونځ اداء کولو او ډوډۍ خوړلو وروسته مطبوعاتي کانفرانس ورکړل شو.

د پګواش اداري لخوا چمتو شوې ۱۹ ماده ایزه طرحه داسي ده:

په ساینس او نړیوالو چارو کې پګواش کنفرانسونه

د ۱۹۹۵ کال د سولې نړیواله جایزه

لومړنی یاداښت: موږ لاندې ځینې هغه ټکي وړاندې کوو چې د افغانستان د دولت او د طالبانو د خوځښت تر منځ په یوه شوني تړون کې په پام کې نیول کېدلی شي. دغه ټکي ساده او نیمګړي دي او لا زیاتې څرګندونې او په عمومي ډول غځونې ته اړتیا لري. موږ سپارښتنو، مشاهدو، څرګندونو او د نورو ټکو شمولیت ته ښه راغلاست وایو. موږ په قوسونو [ ] کې ځینې شوني اضافي/ بدیل ټکي بیانوو. د ځینو احتمالي لانجمنو ستونزو د ښوولو لپاره یاداښتونه زیات شوي دي

## د افغان سولې پروسې د شوني تړون اړونده ځینې ټکي

د افغانستان خلک له ۳۸ کاله جنګ جګړو (او بهرنیو یرغلونو) څخه وروسته د سولې بیا راتلو ته ډېرې هیلې لري. ټول خلک له جنګ څخه ستړي دي. د دولتي ځواکونو او طالبانو تر منځ پرلپسې جنګونه به هېڅ یوه پلو ته بامفهومه ”برې“ ور

په برخه نه کړي. له همدې امله یوه بیړني جوړجاړي او تړون ته عاجله اړتیا لیدل کیږي څو په پای کې د افغانستان په ټولو سیمو کې وسلې پر ځمکه کېښودل شي. لاندې ځینې هغه لومړني ټکي وړاندې کیږي چې د دغه راز یوه تړون په تشریح کولو کې باید په نظر کې ونیول شي.

۱. د تړون د لاسلیک کېدلو پر وخت باید په ټول افغانستان کې اوربند رامنځ ته شي. د تړون په وخت کې باید طالب ځواکونو ته په خپلو ځایونو کې د پاتې کېدلو اجازه ورکړل شي څو بیا پخلاینې لپاره یوه توافق ته سره ورسیږي څنګه چې یې لاندې یادونه شوې ده. د قلمرو د کنترول په اړوند، دوه اصلي لوري (اوسنی افغان دولت او طالبان) د افغانستان د قلمرو په همغږي مدیریت باندې موافقه کوي. د اوسنې دولت او د طالبانو د خوځښت تر منځ د انتقالي حکومت لپاره د وړاندیز په اړه هم باید په مناسبه توګه پوهه ترلاسه شي[1]. په لمړني ممکنه فرصت کې د اور بند تامین د افغانستان د ټولو خلکو مشترکه هیله ده.

۲. د اوربند د تصدیق لپاره باید یو مناسب مېکانېزم رامنځ ته شي. د اوربند په تصدیق کې ځانګړي رول، ځانګړو ملي کمېټو،ولایتی کمیټو او په احتمالي توګه ملګرو ملتونو یا د اسلامی کانفرانس سازمان ته ورکول کېدې شي.

۳. تړون کوونکې دواړه لوري به یو ځاې کار وکړي څو د افغانستان په ټوله خاوره کې د توکو او د خلکو د خوځښت او ګرځېدنې د بشپړې او چټکې ازادۍ ضمانت وکړي.

٤. هغه تور لستونه باید له منځه یوړل شي چې د طالبانو له خوځښت یا له کوم بل سیاسي خوځښت سره د تړاو لرونکو خلکو ګرځېدنه محدودوي.[2]

---

[1] په حقیقت کې د قدرت د وېش په اړه پوهېدنه یوه حساسه موضوع ده. د انتقالي حکومت تشکیل، موده او دقیق رول باید په مناسب ډول تشریح شي.

[2] د ملګرو ملتونو په پرېکړې د تورو لیستونو له منځه وړل د ملګروملتونو امنیت شورا یا UNSC پرېکړې ته اړتیا لري. د تړون لوري موافقه کوي چې د تورو لستونو د ژر تر ژره له منځه وړلو لپاره به قوي هڅې وکړي.

۵. په هغه صورت کې چې د تړون ټکي په ښه نیت سره پلي شي، د تړون له لاسلیک کېدو څخه وروسته د دریم کال په پای کې به د بهرنیو پوځي ځواکونو شتون ته د پای ټکي کېښودل شي. هغه ځواکونو ته به استثنا ورکړل شي چې په افغانستان کې د بېلا بېلو بهرنیو هېوادونو د ډیپلوماټیکو ماموریتونو خوندیتوب کوي.

٦. افغانستان به هېڅکله د هغو خلکو کوربه توب ونه کړي چې له کوم بل هېواد، په ځانګړي ډول د مختلفو سیاسي، مذهبي او اقتصادي جوړښتونو درلودونکو هېوادونو سره نړیوال جنګ ته د ودې ورکولو موخه ولري. ټولې خواوې په دې برخه کې د همکارۍ کولو لپاره په بشپړه توګه ژمن دي.

۷. د طالبانو د خوځښت [یا نورو وسلوالو ډلو] جنګیالي، چې اوسمهال بندیان دي، په احتمالي توګه د بښنې د اوسني قانون [او موافقه شوو تعدیلاتو] مطابق باید ازاد شي. په دې بخښنه کې به د ملکي وګړو د نړیوالې وژنې، زبر زنا یا نورو شخصي تاوتریخوالو اړونده قضیې تر پوښښ لاندې ونه نیول شي.

۸. ټول هغه افراد چې له طالبانو سره بندیان دي باید آزاد شي، په هغه صورت کې چې د قتل د جرم، زبرزنا او یا د شخصيـ تاوتریخوالي د نورو ډولونو مرتکبین شوي وي، باید د محاکمې لپاره د افغانستان دولت ته وسپارل شي.

۹. د تړون دواړه لوري باید د بیان او نظر د ازادۍ تضمین وکړي. هر ملکي وګړي به قانون ته په درناوي د وینا د ازادۍ حق ولري. د بشري حقونو او په ځانګړي ډول د ښځو حقونو بشپړ درناوې باید وشي او دغه درناوې باید د قانون له لوري تضمین شي.

۱۰. افغانستان یو اسلامي هېواد دي او د افغانستان قوانین دغه اصل ته درناوې کوي. البته له هیچا سره باید د مختلف مذهب یا یوې ځانګړې سیاسي نظرېې درلودلو له مخې تبعیض ونه شي او نه سزا ورکړل شي. د اسلام څخه

سرغړونې او د اديانوسپکاوي ته به اجازه ورنه کړل شي او د اوس په څېر به د سرغړونې په صورت کې مجازات شي.

۱۱. په اساسی قانون بايد له سره بيا کتنه وشي، نوې اساسي قانون به د دي تړون له لاس ليک څخه يو کال وروسته افغان ولس ته د تصويب لپاره وړانـدې شي. په بيا کتنه کې بايد د تړون د پلي کيدو لپاره ټول اړين مواد او نـور هغـه مـواد شتون ولري چې په احتمالي توګه د افغانسـتان د سياسي ډلـو او خوځښـتونو له لوري يې په ګډه سپارښتنه کيږي. ټاکـل شـوی اداره ( لويـه جرګـه) کـولې شي د اوسـني افغـان حکومـت او طالبـانو لـه لـوري نـور ځـانګړي وړانديزونـه تصويب او يا رد کړي.

۱۲. په اساسي قانون کې بايد پـه هـر حالـت د جـنس، نـژاد ، مـذهبي او سـياسي باورونو څخه په ازاد ډول د ټولو افغانـانو پـر حقونـو ټينګـار وشي، څـو خلـک د ډېرې لوړې کچې پوهنيز سيستم ته لاسرسې پيدا کـړي، (قـانوني) اقتصـادي فعـاليتونو تـه وده ورکـړي، ټولـو دولتـي منصـبونو تـه د رايـه ورکولـو او رايـې اخېستلو، د شخصي ملکيت اړونده يو شان حقونه او همدا راز عدالت، طبيعي زېرمو او روغتيايي خدمتونو ته يو شان لاسرسې ولري.

۱۳. دواړه لوري موافقه کوي چې افغانستان به د اقتصادي ودې، د طبيعي زېرمو د مـديريت او د چاپېريـال او کلتـور سـاتنې لپـاره نړيـوالې همکـارۍ تـه ښـه راغلاست وايې. افغانسـتان بـه د نـړۍ لـه نـورو هيوادونـو پـه ځـانګړي ډول لـه نـږدې او لـرې ګاونـډيانو سره دوسـتانه او د همکـارۍ اړيکـي ولـري. د هغـو بهرنيانو شتون ته به ښه راغلاست وويل شي چې د افغانستان پـه بياجوړونـه او پرمختګ کې مرسته کوي.

۱٤. افغانستان ته بايد داسی شرايط برابر کړې شي چې پـه کـې ټولـو اتبـاعو تـه د ټرانسپورټ، تعليم ، روغتيا او د نورو خدمتونو په شمول اسنتياوې برابرې کـړې

شي، البته دا کار د نړیوالې ټولنې په مرسته شونې دی.

۱۵. د طالبانو د تحریک جنګیالیو د بیا یو ځای کېدنې او پخلاینې یوه پروسه باید تعریف شي. د بیا یو ځای کېدنې په یادولو سره، موږ په ځانګړې ډول له وسلوالو ځواکونو او ملي او ولایتي پولیسو سره په خپله خوښه د پخوانیو جنګیالیو یو ځای کېدنې ته رجوع کوو.

۱۶. د ناقانونه نشه یې توکو د کرنې ، پېر او پلور مخنیوې باید وشي.

۱۷. د تړون له لاسلیک څخه وروسته به په یو مناسب وخت کې[۱] عمومي ټولټاکنې (په دواړو ملي او ولایتي کچو) ترسره شي. د ټولټاکنو د پروسې مناسبه څارنه باید وشي. له ټولټاکنو څخه وروسته به د هېواد اداره په بشپړه توګه نوي ټاکل شوي حکومت ته وسپارل شي. ګټونکې ګوند یا د ګوندونو ایتلاف به په اساسي قانون کې د ټاکل شوې مودې لپاره د هېواد چارې اداره کړي.

۱۸. د هېواد قوانین باید د شریعت له احکامو سره برابر وي. د دغه اصل د پلي کولو لپاره به د انتخاب شوو او بې پرې علماوو د یوې ادارې پنځول اړین وي.

۱۹. د قدرت د غیر مرکزي کولو د پروسې شونتیا هم باید په پام کې ونیول شي، چې ممکن خلک دا فرصت ولري تر څو منتخب والیان او ولایتي شوراګانې وټاکي او هغوئ د ملي قوانینو مطابق د ولایتي قوانینو د تصویبولو صلاحیت ولري.

کله چې تړون نهایي شي، هغه ټول هېوادونه به د دغه تړون د مادو د درناوي لپاره راوغوښتل شي چې په افغانستان کې ځانګړې علاقه لري او د دغه تړون د بریالي پلي کېدو لپاره به د ښه نیت له مخې او تر خپله وسه همکاري وکړي.

*****

د یادې غونډې په پښتو کې چمتو شوی راپور ښاغلي پاولو د ۲۰۱۷ ز.کال د مارچ په لومړۍ نیټه راته راکړ، کټ مټ یې درسره شریکوم.

---

[۱] یا زیاته موده څنګه چې د اداري لوژیستیکي محدودویتونه ورته اړتیا ولري.

## په کابل کې د پګواش غونډې راپور

۱۳ ډسمبر، ۲۰۱٦

پاولو کوټا راموسینو

د ۲۰۱٦ کال د ډسمبر په ۱۳ نېټه پګواش موسسې د کابل په انټرکانټیننټل هوټل کې یوه غونډه تر سره کړه، چې د بېلابېلو اړخونو څخه په کې شاوخوا ۴۰ سیاسي مشرانو ګډون وکړ.

د غونډې اصلي موخه په افغانستان کې د سولې پروسې په اړه د بېلابېلو نظرونو( اندونو) څېړل او د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د ترسره شوي بریالي تړون په رڼا کې د طالبانو سره د ورته احتمالي هوکړې ته رسېدل و، البته په دې توپیر سره چې حزب اسلامي د طالبانو په پرتله د هېواد په ډېری سیمو واک نه درلود. د دې ترڅنګ په افغانستان کی د سولې په اړه د پګواش نړیوالې موسسې ۱۹ ماده ایزه طرحه هم د ګډونوالو د بحث یوه مهمه برخه وه.د پګواش د سولې طرحه یوه کاري او عملي طرحه ده، چې لا ډېر وضاحت ته اړتیا لري، چې په راتلونکې کې به دغه پلان په افغانستان کې د بېلابېلو سیاسي مشرانو او طالبانو د نظرونو په مرسته لا پسې غني کړای شي.

ټولې خواوې په دې ټینګار کوي، چې افغانان په خپل هېواد کې د تلپاتې سولې غوښتونکي دي، دا ځکه چې په افغانستان کی د ۴۰ کلنې جګړې، بهرنی لاسوهنې او په دغه هېواد باندې د بېلابېلو بهرنیو قواو له خوا تپل شوي جنګ سولې ته یوه هیله را ټوکولې.د دوی په آند د اوږدې مودې لپاره د بهرنیو قواو شتون د دغه هېواد لپاره نه ګټور او نه هم قانع کوونکی و او بهرني هېوادونه چې هرڅومره زر کېدای شي، له دې خاورې باید خپل ځواکونه وباسي. افغانان باید په راتلونکي کې له ټولو هېوادونو سره د یو سوله ییز چوکاټ په ترکیب کې همکاري وکړي. په افغان ټولنه کې سوله ، داقتصادي پرمختګ او د ټولنیز انکشاف بنسټیز

اصل دی.دوی زياته کړه چی دابه ستره نيمگړتيا وي، چې د طالبـانو څخـه دې د سملاسي تسلمېدو غوښتنه وشي. په تېـر وخـت کـې افغـان حکومـت څـو ځلـه پـه طالبانو غږ کړی و ،چې خپلې وسلې په ځمکه کېږدي، پـه داسـی حـال کـې چـې طالبان يوازې له امريکايانو سره د خبرو غوښتونکي وو. په هر حال ، په واک کـې د طالبانو گډون د افغان ناورين د حل يوه مهمه برخـه ده او دا بـين الافغـاني خـبرې اترې دي چې په ياده برخه کې به گټورې تمامې شي. پـه يـاده ناسـته کـې يادونـه وشوه ،چې د افغانستان حکومت هم بايد اړ کـړای شي، تـر څـو پـه دې برخـه کـې ځانگړي تنزل ته چمتو اوسي. په دې ناسته کې د افغان حکومـت ډيـالوگ هـم پـه څرگند ډول مهم او گټور دی.

ديو گډونوال په وينا، د حکومت له مرستې پرتـه بـه د سـولې خـبرې اتـرې هـېڅ پايلې ونه لري او دا هم وويل شول چې په بې پلوي ډول د حکومت له مرستې پرتـه هم د سولې هڅې ډېرې اړينې دي. د ځينو گډونوالو په نظر د افغانستان حکومـت دا مهال تر ډېره بريده په بهرنيو مرستو تکيه کوي، کوم چی شـايي د ډېـرې مـودې لپاره پايښت و نه کړي، ځکه نو له همدې امله غوره گڼـل کېـږي، چـې لـه طالبـانو سره دې خبرو اترو ته لار ومونډل شي. د يـادونی وړ ده چـې پـه دې غونـډه کـې د سولې پروسې سره د نړيوالې ټولنې مرستې اساسي اصل وگڼل شوې.

طالبان بايد په ټوله کې تروريستان ونه گڼـل شي، بلکـی دوی د افغـاني ټـولنې څخه يوه راټوکېدلې سياسي برخه ده. طالبانو څو ځلې صراحتاً ويلي چـې دوی د سولې غوښتونکي دي او په واک کې شريکېدل غواړي او په عين حال کې د قدرت انحصار هم ردوي. دوی ټولو بشري او د ښځو حقوقـو تـه ژمـن دي، چـی دا يـې تـر ټولو مثبت اقدام گڼل کېږي ، خو دا چی په قدرت کې د شريکېدنې ميکـانيزم څـه ډول تعريف شي، يوه ځانگړي پوهاوي ته اړتيا ده، چې بايد ورغـول شي. دا چـی د سولې په دې ۱۹ ماده يزه طرحه کې د موقت حکومت يادونه شوې ، نـو د بېلابېلـو

لاملونو له امله دا خبره د ډېرى ګډونوالو د پوښتنې لاندې راغله. آيا د لنډ مهالې اداري مانا همدا ده، چې موږ دې له صفر څخه پيل وکړو ؟ آيا دا به منونکې لار وي ؟ د لنډ مهالي حکومت موده (چې د نويو ټولټاکنو نه مخکې به ترسره کېږي ) هم يوه پوښتنه را پورته کوي. او بله مهمه پوښتنه داده، چې د اوسني حکومت دريځ به څه ډول وي ؟ او ايا د لنډ مهالي حکومت په چوکاټ کې موږ يوازې دواړه اړخونه ( طالبان او حکومت ) د غور لاندې نيسو؟ د لنډ مهالي حکومت پر ځای يو ګډونوال د "ملي مشارکت حکومت" غوښتنه وکړه، خو ددغې اصطلاح دقيق تعريف ته اړتيا ده، چې په سمه توګه بايد تشريح کړای شي.

د هر ګډونوال له انده اوربند يو له مهمو شرايطو څخه دی، چې د طالبانو او نورو افغانو ډلو تر منځ دښمني د سياسي رقابت په پديده بدله کړي، کوم چې د سولې پر لور يو بنسټيز ګام بلل کېږي. له اور بند څخه وروسته به طالبان په زور دې ته نه اړ کېږي چې د دوی تر کنټرول لاندې سيمې دې له هغوی څخه واخيستل شي ، خو ډېری ګډونوالو په دی اړه يو ځانګړی دريځ درلود، چی ګواکې دغه کار به د بېلابېلو ډلو په لاس د افغانستان جغرافيه په لوی لاس وېش او تجزيی ته برابره کړي. د افغانستان ځمکنی بشپړتيا يو ګډ هدف دی، چې د ټولو د توافق له مخې بايد په هېڅ صورت په خطر کی وانه چول شي. افغانستان کې د يووالي راوستل او په ځانګړې توګه په دې هېواد کې د قومي درزونو مخنيوی کول هغه څه دي، چی د ټولو افغانانو په سترو لومړيتوبونو کی شمېرل کېږي. دټولو افغاني قومونو د حقوقو ساتل د سولې په برخه کې اساسي عنصر دی. دا هغه څه دي چی په ياده غونډه کې پرې خبرې وشوې.

د بېلابېلو جرګو د جوړولو د امکاناتو په اړه هم څو ځله يادونه شوې، خو سيمه ييزې او ملي لويې جرګې ته په کې لومړيتوب ورکړل شوی. ددې ترڅنګ د تقنيني لويې جرګې د جوړولو يادونه هم وشوه، کوم چې په اساسي قانون کې د

احتمالي تغير څخه بحث کوي او په ډېری برخو کې دا دطالبانو هیله هم ده.

طالبان باید یو سیاسي ادرس ولري، تر څو له دوی سره په اړیکو نیولو کې آسانتیا رامنځته شي او په عین حال کی دوی ته باید د ازاد تګ راتګ او له افغانانو سره د خبرو اترو زمینه هم برابره شي. د سولې په اړه دغه ۱۹ ماده یزه طرحه په عمومی ډول یو ښه میکانېزم وګڼل شو، کوم چې باید لا پسې واضح ، سم او تصحیح کړی شی. د ۲۰۱٦ کال د ډسمبر د ۱۳ نېټې د غونډې ګډونوالو د سولې ددغه پلان او نظریاتو د لا څېړلو ملاتړ کوي. د سولې له خبرو اترو څخه د طالبانو ملاتړ هم یو له مهمو ټکو څخه دی، ځکه د دوی له خوا په افغانستان کې د سولې په موخه حل لاره لټول ډېره اړینه او مهمه ده، په غونډه کې دا هم وویل شول، چې په افغانستان کې د داعش د شتون په وړاندې د طالبانو مخالف دریځ ګټور او اغېزمن پریوځي او له همدې کبله طالبان باید په قانوني ډول یوه سیاسي ډله وپېژندل شي.

# ځلورم څپرکی

## کندهار او د سولې چېغه

# کندهار او د سولې چیغه

د ۲۰۱٦ز. کال د نومبر ۲۵مه وه، د ماښام لمانځه وروسته حاجي عطاالله صادق، حاجي خان محمد اسحاقزی او حاجي فاروق خان زموږ کور ته راغلل، د سولې اړوند هڅو بحث وشو، دوی د شپې تر ناوخته همدلته پاتې شوو، د سولې پر اړتیا او د ولس پر غمیزو مو خبرې کولې.

د ښاغلي صادق مجلس په زړه پوري و، هغه چې له امریکا څخه تازه راغلی و، ویل یې چې له کندهار څخه د ۵۰۰۰ ولسي کسانو د یوې لویې غونډې پرمهال د افغان ولس لخوا څخه د سولې ږغ پورته کوو، زما څخه یې غوښتنه وکړه چې په دې برخه کې ورسره ملګرتیا وکړم.

د نومبر پر ۲۷مه سهار ۱۱ بجې بیا موږ سره ولیدل، ښاغلی صادق خبر و چې قطر ته سفر لرم، هلته طالب استازي ګورم، یو لنډ پیغام یې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ته راکړ[1] .

د قطر له سفر څخه تر راګرځېدو وروسته بیا هم ښاغلي صادق راسره اړیکه ونیوله، هغه په کندهار کې و، د سولې اړوند غونډې باندې لګیا وو.

زما څخه یې غوښتنه وکړه چې د ډسمبر پر ۱۵مه کندهار ته د سولې لویې غونډې اړوند په مخکنیو ناستو کې د ګډون لپاره ورشم، هغه دا هم وویل چې نور ملګري هم خبر او وهڅوم چې کندهار کې د سولې په لویه غونډه کې ګډون وکړي.

زه خپله په کندهار کې په دغسي ناستې کې د ګډون لپاره زړه او نازړه وم، په غونډه کې د ګډون لیوالتیا مې درلودله، ولې ویره مې لرله چې د کندهار د امنیه قومندان عبدالرازق لخوا به امنیتې ستونزه راته جوړه شي، ځکه په کندهار کې هر ډول واک د امنیه قومندان سره دی، هغه د کندهار ټولواک دی.

---

[1] د ښاغلي صادق لخوا طالبانو ته د پیغام ذکر په مخکنیو پاڼو کې شوی دی.

ښاغلي صادق سره مې خپله اندیښنه شریکه کړه، هغه ماته د ټلیفون پر کرښه اطمینان راکاوو چې په کندهار کې به هیڅ ډول امنیتي ستونزه ستاسي لپاره نه وي، هغه دا هم وویل چې د امنیه قومندان رازق خان اوس ډیر تغیر کړی، هغه د سولې پلوي دی، هغه د سولې په غونډه کې له موږ سره ملګری دی.

د شپې ناوخته بیاځل ښاغلي صادق راسره اړیکه ونیوله، هغه وویل چې د کندهار والي همایون عزیزي سره مې ستاسي د راتګ خبره شریکه کړه، هیڅ ډول امنیتي تشویش مه کوئ، تاسي به د ولایت په ځانګړي میلمستون کې اوسیږئ.

سهار وختي حاجي فاروق چې د ښاغلي صادق ملګری او ورسره همکار دی، زموږ د میلمنو په کوټه کې ناست وو، هغه هم ټینګار درلود چې موږ باید کندهار ته ورشو او د سولې په دې لویه غونډه کې ګډون وکړو.

له ځینو ملګرو سره مې کندهار ته د تګ اړوند مشوره وکړه، او د ښاغلي صادق لخوا د امنیت په اړه د ډاډ راکولو خبره مې هم ورسره وکړه، دوستانو او ملګرو راخوښه کړه چې کندهار ته ولاړشم.

ښاغلي صادق د نورو دوستانو ترڅنګ د ځینو مشرانو نومونه یاد کړل که هغوی بلنه ومني، ملا عبدالسلام ضعیف، مولوي وکیل احمد متوکل او حاجي اکبراغا.

متوکل صاحب د خپلې ناروغۍ د درملنې لپاره هند ته تلی، او ښاغلي ضعیف د ډسمبر پر ۱٦مه د جمعې لمانځه وروسته د ولسمشر غني سره د مجلس وعده وه، حاجي اکبراغا بیا د ډسمبر پر ۱۴مه او ۱۵مه دوه ورځنۍ د سولې غونډه په کابل کې درلودله.

موږ پنځه کسان (ښاغلی محمد زمان مزمل، ښاغلی احمد وحید مژده، استاد اسد وحیدي، ښاغلی دکتور عبداللطیف نظري او زه) د ډسمبر پر ۱٦مه نیټه د مازیګر پر ۴ بجې له کابل څخه په اریانا الوتکه کې کندهار ته روان شوو او کندهار ته نږدې ۵ بجې ورسیدو.

د الوتکې سره نږدې د کندهار هوايي ډګر کې حاجي عطاالله صادق زموږ د ښه راغلاست لپاره ولاړ و، په همدې الوتکه کې سردارمحمد نادر نعیم او ښاغلي محمود هم وو.

کله چې د هوايي ډګر د ترمنیل ودانۍ ته ور ننوتلو هلته یوه ډله ځوانان زموږ ښه راغلاست ته ولاړ وو، روغبړ وشو، د ماښام لمانځه وخت وو، موږ خپلو ملګرو همدلته د هوايي ډګر په ودانۍ کې په جماعت سره لمونځ وکړ.

د هوايي ډګر د ترمینل له ودانۍ څخه تر وتلو وروسته دوستانو زموږ انتظار کاوو، ځوانانو انځورونه اخیستل، درې مرمۍ ضد کروزین موټرونه ولاړ وو، یو د کندهار د والي او دوه د امنیه قومندان موټران وو، موږ د کابل څخه ورغلي میلمانه یې پکې کینولو، دغه ډول موټران خپله د برید هدف وي، خو وايي چې میلمه د کوربه په واک کې وي.

داچې په کندهار کې نسبي امنیت و، له همدې امله وه چې په دغسې موټر کې لوړه درجه ویره راسره نه وه، ولي موږ په دې هم پوهیدو چې د امنیه قومندان او والي موټران په کندهار ښار کې ډېرى کسان پېژني، طالبانو ته هم امنیه قومندان ډېر لوړ هدف دی.

په زړه پورې دا وه چې په دریو سره موټرانو کې یوازې چلوونکي سره وسله وه، او له دې موټرانو مخکې او یا وروسته کوم د وسلوالو رنجر یا بل موټر نه و چې بدرګه یې کړي.

موږ په یو تیاره ښار وردننه شوو [1]، زړه مې درد وکړ، شپه وه خو څراغونه بل نه وو، داچې د جمعې ورځ وه، د کندهار ځوانان د عینو مېنې څخه د ښار په لور په

---

[1] کندهار ته برېښنا د هلمند د کجکې بند څخه راځي، داچې د ناامنیو له امله د کجکې د بند برېښنا نه ورته رسیږي او یا ډېره کمه ورته را رسیږي، دغه ښار کلونه کیږي چې د برېښنا له ستونزې سره مخ دی.

موټر سایکلو روان وو، هغوی بـه ځینــې دوه نفـره هـم پـه مـوټر سـایکل ناسـت وو[1]، یوازي جامي او پټو (څادر) به یـې پـه ځـان وو، او ځوانـانو موټرسـایکلان یـو لـه بـل څخه مخکې کول، د ځوانانو د موټرسایکلو دغه غیر ارادي سیالۍ په زړه پورې وه.

موږ گرده یې په کندهار ښار کې د منډیگک مانۍ [2] ته وردننه کړو، مانۍ تـه لـه ننوتلو سره سم د سړي سترگې د پخواني ولسمشر حامـد کـرزي پـر انځـور لگیـږي، هلته د ولسمشر غني انځور نه و ځوړند شوی.

دوه کوټې یې موږته په نښه کړي، او خپل لاسي بکسونه مو پکې کېښودل.

د ماښام اووه بجې وي چې یو ځـوان هلـک ږغ وکـړ چـې ډوډۍ چمتـو ده، مـوږ ټول پنځه ملگري یو ځای له خپلو کوټو څخـه ور ووتلـو، چـې همدلتـه نـږدې زمـوږ مخکې د کندهار امنیه قومندان عبدالرازق ولاړ دی، زمـا او وحیـد مـژده لـه نـوم او قوارو سره اشنا وو، روغبړ مو وکړ، نور درې ملگري مو ور وپېژندل.

د ډوډۍ خوړلو سالون ته چې ننوتلو، امنیه قومندان زما او ښاغلي مژده پـه مـنځ کې کیناست، لومړۍ خبره یې د سولې وه، هغـه وویـل : (( لـه جگـړې سـتړي یـو، جگړه د حل لار نه ده، او جگړه کوم لوری (حکومت یا طالب) گټلای هم نه شي.

ویې ویل چې ژوند مو داسي دی لکه د بندیانو، نه گرځیـدلای شـو، او نـه هـم د سم ژوند کولو زمینه مساعده ده، په موټر کې، پـه دفـتر کـې او پـه کـور کـې داسي ژوند کوو لکه بندیان.

---

[1] د امنیتي ستونزله امله په کندهار ښار، قلات، غزني او ځینو نورو ښارونوکې پر موټر سایکل د دوو کسانو سپریدل په ښار کې ممنوع اعلان شوې.

[2] منډیگک غونډۍ چې یو وخت د کندهار تاریخ جوړونکی مـدنیت پکـې ښـودل کیـدی، د اوسـني ښار څخه نږدې ۵۵ کیلـو متـره شـمال لویـدیځ تـه پرتـه ده، زوړ تـاریخي ښـار همدلتـه ودان وو، څېړونکې وایې چې ۵۰۰۰ کاله په خوا د منډیگک غونډۍ / ښـار یـو لـه مهمـو سـوداگریزو ځـایونو څخه گڼل کیدی او هلته پکې د مارانو او غوایانو مجسمې کلالانـو جـوړولي. د کنـدهار پـه یـاد دولتي میلمستون د منډیگگ مانۍ نوم د تاریخي قدامت یادونې په خاطر ښودل شوی.

قومندان عبدالرازق وویل ډیرې جګړې مو وکړې، ډیر مړي دواړو (زموږ او طالبانو) لورو ته وشول، ډیری ځوانان مو د لاسه ورکړل، ولي کومه نتیجه مو ترلاسه نه کړه، نور باید جګړه بس کړو، نور ځوانان له لاسه ورنه کړو، داچې په لکونو ځوانان او خلک مو مړه شي، له هغه وروسته سوله کوو، ښه به وي چې اوس سوله وشي او جګړه ودرول شي.

پر وینه توییدو ستونزه نه حلیږي، او نه هم وطن پر یوازي ډول جوړولای شو، طالبانو ته هم په کار ده چې نور د سولې لپاره چمتو شي.

موږ پوهیږو چې طالبان هم له جګړې ستړي شوي، هغوی هم نور زیاته وینه توییدل نه غواړي، یوازي غیرت سره نیولي یو او جګړې کوو.))

له ډوډۍ خوړلو وروسته د مجلس لوی سالون کې د چای څښلو لپاره کیناستلو، بیا هم د سولې اړوند خبرې وي، استاد محمدزمان مزمل چې د سولې راوستلو لپاره یې د مجاهدینو د خپلمنځي جګړو له وخته ډیرې هڅې کړي، او ډیرې خاطرې لري، د سولې د ارزښت په اړه خبره کوله، مژده صاحب سولې ته د طالبانو د لیوالتیا خبره کوله.

"کندهار به منې" د استاد مزمل په لیکنه کې هم دا راغلي، موږ ته یوه ځوان یو ګیلاس د شین چای مخکې کیښود، همدا یو ګیلاس ځینو ملګرو وڅښی، خو د نور چای درک نه وو، امنیه قومندان له مجلس څخه ولاړ شو، په اشپز پسې یې نارې وهلی چې چای راوړي، لږ وروسته بیا هغه ځوان زموږ ګیلاسونه له شین چای څخه راته ډک کړل.

استاد مزمل خندوونکې ادبي ټوکې کولې، د کندهار د انارو اړوند یې ډیره په زړه پورې ټوکه وکړه، قومندان، د هغه ملګرو، سردار نادر نعیم او موږ ګردو ډیر زیات وخندل. قومندان هم ولاړ شو چې کوم کس ته ووایې چې په دې شپه کې انار راورسوي، هغه ځوان ورته وویل چې څو کریټه انار په میلمستون کې شته.

زموږ هڅه دا وه چې امنیه قومندان د سولې لپاره لا زیات وهڅول شي، په همدې شپه مو ورته وویل چې سوله اسانه هم نه ده، ډېر خنډونه مخکې ورته شته دي، هر څوک چې د سولې لپاره هڅه کوي، ستونزې ورته جوړېږي، ممکن ستاسي د سولې د هڅو د مخنیوي لپاره هم د ورته اقداماتو شاهدان واوسو، داسي پېښې به وشي چې د سولې د خنډ لامل شي، ولي حوصله او زغم به کوئ.

قومندان عبدالرازق وویل : (( طالبان مو د وطن خلک دي، هغوی چیرته ولاړشي، په کار ده چې د هغوی د کورنیو لپاره د امن  سیمه ورکړو.

د ځینو طالب مشرانو کورنۍ هلمند ته راغلي، دا یو ښه کار دی، موږ خپلو کسانو ته ویلي چې د طالبانو له کورنیو سره غرض ونه لري، د هغوی د کورنیو غړو ته ستونزه جوړه نه کړي.

ځینې خلک له مجبوریته د طالبانو په لیکو کې جګړې کوي، په بولدک کې یو کور و، هغوی زموږ په سیمه کې اوسېدل، وروسته خبر شوم چې د کورنۍ یو غړی یې په کندز کې د طالبانو قومندان دی، د هغه ورور مې راوغوښت چې دا خبره رښتیا ده، هغه ومنله چې ورور یې په کندز کې د طالبانو قومندان دی، ویې ویل چې ځمکه زورواکو او تاجکو راڅخه نیولي ده، مجبور یو چې له طالب سره ودرېږو، که طالبان نه شو، خپلې ځمکې نه شو تر لاسه کولای.

قومندان عبدالرازق دا هم وویل چې زه پوهېږم چې طالبان د پاکستان کسان نه دي، مجبوره شوي، چیرته ولاړشي، موږ یې په هیواد کې دننه نه پرېږدو، کورنۍ یې خلک نه پرېږدي، له مجبوریته په پاکستان کې ژوند کوي.

امنیه قومندان وویل چې زما د کورنۍ ۲۶تنه غړي وژل شوي، ډېر یتیمان راپاتې دي، ولي له دي پرته بله لار هم نشته، موږ ته په کار ده چې سوله وکړو، په وینه توییدو ستونزه نه شو حل کولای.

امنیه قومندان وویل چې د افغانستان په هر دره او هر ځای کې یو کوچنی مسجد

وي، هلته د مسجد ملا هم وي، د مسجد ملا پنځه وخته خلکو ته لمونځ ورکوي، او خلکو ته خبرې کوي، خلک د طالبانو پلوي او د حکومت مخالفت ته بولي.

زموږ د حکومت کسان په کال کې دوه ځله خلکو ته خبرې کوي، هغه هم د دوو اخترونو په ورځ، دا به څه ډول امکان ولري چې موږ په کال کې له ولس سره دوه ځلې خبرې کوو، او د هیواد په هر کونج کې ملا خلکو ته پنځه وخته د حکومت پر ضد خبرې کوي.

له ملا سره جنګ لویه تیروتنه ده، څوک یې ورسره نه شي کولای، هغه چې مقتدیانو ته هر څه ووایي منی یې. زموږ خبره خو بیا د ملا په مقابل کې خلک نه مني، زموږ خلک ملا او سید ته عقیده لري، د هغوی له خولې چې څه اوري هغه مني، او په مقابل کې یې زموږ خبرو ته ولس غوږ نه نیسي او نه یې مني.))

د جګړې او افغانانو د ځینو خاصیتونو یادونه وشوه، امنیه قومندان وویل : (( یو ځل پر څو تنو طالبانو باندي د حکومت د امنیتي کسانو لخوا برید شوی وو، هغوی سخت محاصره وو، یو طالب پکې داسي و چې د ارزګان ولایت د امنیه قومنداني د امنیت امر یې نږدې تربور وو، هغه ته یې ټلیفون کړی و چې موږ ستاسي د کسانو لخوا په جګړه کې سخت محاصره شوي یو، که مرسته راته راولیږئ چې له محاصرې څخه ژوندي خلاص شو.

د امنیت آمر د دې لپاره چې بیا کوم وخت د ده تربور طالب پېغور ورنه کړي چې خپله ویریدلې او رانغلي نور کسان دي راولیږل، له څو تنو ملګرو سره خپله د جګړې ځای ته روان شو، سخته جګړه وه، طالبان یې له محاصرې څخه په پټه خلاص کړل، له خپلو پولیسو سره یې ډزې کولې، خو د تربور پېغور یې ځان ته نه خوښاوو، هغه و چې خپله د ولایت د امنیت امر په جګړه کې ووژل شو، مګر طالب یې له محاصرې خلاص کړ!))

د شپې تر پاوکم دولس بجو، پاوکم پنځه ساعته موږ له امنیه قومندان سره

مجلس درلود، ډيرې خبرې پکې قومندان، استاد مزمل او ښاغلي مژده وکړې.

د کندهار د امنيه قومندان په اړه چې موږ کوم تصور درلود، کاملاً يو بدل تصور وو، کله مې هم داسې فکر نه و کړی چې امنيه قومندان به د سولې د هڅو دومره په قوت او ليوالتيا ملاتړ وي.

## د کندهار غمجن سهار

د ډسمبر ۱۷مه سهار و، د سهارنۍ له خوړو وروسته موږ حويلۍ ته ووتلو، اسد وحيدي چې خپل فيسبوک وکتی، ويل يې خطرناکه پېښه شوې، د کندهار په منزل باغ کې د کندهار د هوايي ډګر پنځه ميرمنې کارکوونکي او يو تن د موټر چلوونکی وژل شوي.

پرون شپه موږ هر يوه د امنيه قومندان سره په مجلس کې ويلي و چې طالبان رښتونې سولې ته ليواله دي، او له کندهار څخه د سولې د ږغ اوچتول يو ښه او پرځای کار دی، ولې داچې سبا ورځ به د کندهار په زړه کې د سولې لويه غونډه کيږي، په زرګونو د ولس خلک به پکې ګډون کوي، يوه ورځ مخکې د پنځو ميرمنو وژل ټکان ورکوونکی وو.

په عمومي ډول د دغسې پېښو پړه پر طالبانو اچول کيږي، او يا خو کله طالبان د ځينو دغسې پېښو مسؤوليت هم په غاړه اخلي، زموږ ويره همدا وه که طالبانو دا کار کړی وي، د خلکو غوسه به راوپاروي، او د سولې غونډه کې به د سولې د ږغ پر ځای پر طالبانو د ملکي کسانو د وژلو پړه وراچول کيږي او انتقادونه به پري کيږي، او د سولې دغه مهمه هڅه به زيانمنه شي.

طالبانو په کندهار کې د پنځو ميرمنو د وژلو پړه ونه منله، او په پېښه کې يې هر ډول لاس لرل رد کړل، ولې ځينو کورنيو رسنيو يې پړه پر طالبانو وراچوله.

پر لس بجې د امنيه قومندان په موټر [1] کې موږ عينو مېنې ته روان شوو، زه او

[1] دکندهار امنيه قومندان يو ډول ، يو رنګ ضدمرمۍ ۹ موټران لري، کوم ځای ته چې ځي، د خپلو يو شان موټرو کاروان ورسره وي، او د تګ پر مهال کله په يوه او کله په بل موټر کې کښيني.

اسد وحیدي په یوه موټر کې کیناستو، استادمزمل، وحید مژده او نظري په بل موټر کې کښیناستل، پر لاره موټر چلوونکي په زړه پوري خبرې وکړي.

فرید جان ته مې وویل چې ژوند دې څنګه دی؟ هغه ویل: (( په ټول بدن کې مې روغ ځای پاتې نه دی، څو ځله د جګړو پرمهال ژوبل شوی یم، په بدن کې مې د چرګ غوښې هم کارول شوې.

فرید خان دا هم وویل چې موږ دې د ټلویزون پر شیشه ګورو، بیا موږ د قومندان صاحب (امنیه قومندان) ملګري په خپلو منځو کې بحث سره کوو، ستا خبرې مو خوښیږي، خو سوله په دې وطن کې نه کیږي، او سوله څوک نه غواړي.))

ورته مې ویل چې بچیان لري؟ هغه وویل : نه یې لرم. ومې ویل واده دې نه دی کړی که څنګه؟ هغه پریشانه شو، ویې ویل واده لرم، مګر د بدن ستونزه مې ده، ډیر ځله زخمي شوی یم، اولاد مې نه کیږي، او ډیر ځوریږم.

فریدخان وویل: (( ۱۳ کاله کیږي چې له امنیه قومندان سره ملګری یم، هیڅ پوه نه شوم چې زه څه کاره شوم، ۱۳ کاله مخکې چې راغلی وم، عسکر وم، اوس ۱۳ کاله وروسته هم عسکر یم.

کابل ته تللی وم چې رتبه واخلم، زما کارونه چې لږ مخکې ولاړل، هلته د کورنیو چارو وزارت کې یوه کارکوونکي راته وویل چې سبا به له ځان سره ۱۵۰۰ ډالر راوړې، ورته مې وویل چې د څه لپاره؟ هغه وویل چې رتبه غواړې نو له همدومره پیسو به هم تیریږي، ورته مې ویل چې دومره زیاتې پیسې خو نه لرم، ویې ویل چې بله چاره نشته، که پیسې دې راوړې رتبه درکول کیږي او که پیسې نه وې رتبه هم نشته، د کورنیو چارو له کارکوونکي سره مې جنجال شو، تر ګریوان مې ونیوی او ښه مې زړه ورباندې یخ کړ، بیرته کندهار ته راغلم، خپل مشر- (امنیه قومندان) ته مې دا کیسه وکړه.

اوس چې کور ته ځم، شرمیږم، ځکه هیڅ کومه رتبه نه لرم، یوازې عسکر یم، او

د دې لپاره چې د اولاد نه کیدو تداوي وکړم، ډیرو ډاکټرانو ته ولاړم، امنیه قومندان جرمني ته هم واستولم، مگر تر اوسه هم زما د اولاد کېدو ستونزه نه ده حل شوې.

کور او کلي ته نه شو تللای، د باندې نه شو وتلای، د چا پوښتنې ته نه شو ورتلای، ډیر سخت ژوند مو دی.

یو ځل مې پلار رنځور و، هغه په روغتون کې و، د لیدو لپاره یې د لږ وخت لپاره ورغلم، دوه نور ملگري هم زما سره وو[1] .

فرید وویل چې له ژوند څخه مایوسه شوی یم، اوس وایم چې کاشکي ۱۳ کاله مخکې دلته نه وای راغلی.))

په عینو مېنه کې په عینو [2] سالون کې نن ورځ غونډه وه، سالون مخکې له دي

[1] د کندهار امنیه قومندان خپل نږدې ملگري هم څارې، ویره لري چې که په خپل سر هرځای وگرځي، کیدای شي طالبان ورسره اړیکه جوړه کړي، او د امنیه قومندان لپاره امنیتي ستونزه جوړه کړي.

[2] عینو لیسه، عینو مینه او عینو سالون د عینو ادې په نوم نومول شوې، عینو ادې هغه کندهارۍ میرمن وه چې کله د احمدشاه بابا لښکرې د هند له جگړې راوگرځیدې ، تیاره ماښام کندهار ته راورسیدې، احمدشاه بابا امر وکړ چې د لښکر ټول غړي دې شپه تیره کړي او سبا سهار به کورونو ته د تلو اجازه ورکول شي. یو تن په همدې شپه په پټه خپل کور ته روان شو، کله چې یې دکور دروازه وټکوله، میرمن یې ورته راغله، ویې ویل چې څوک یې؟ میړه یې وویل چې زه یم، دروازه راته خلاصه کړه، د څو میاشتو مسافر د احمدشاه بابا د لښکر غړي خپل میړه ته دغې باعزمه میرمنې وویل: په دې نیمه شپه کې څنگه راغلې، له خپل سرلښکر/سالار څخه دې اجازه را اخیستې ده کنه؟ ممکن هغه وخت به معمول همداسې وو چې د شپې ناوخته لښکر له کوم ځایه کندهار ته رارسیدلی وای، د کور د تگ اجازه به د لښکر جنگیالیو ته نه ورکول کیدله، او یا ممکن همدا ځل چې ناوخته کندهار ته رارسیدلی وو، د احمدشاه بابا امر داسې شوی وی چې د شپې په ښار کې ویره، گڼه گوڼه او گډوډې خپره نه شي، سهار په رڼا به د لښگر جنگیالي خپلو کورونو ته ولاړ شي. د عینو ادې میړه ورته وویل چې اجازه مې نه ده را اخیستې، په پټه راغلی یم، دروازه راته خلاصه کړه، دغې باعزمه میرمنې ورته وویل تر څو چې د لښکرسالار او مشر احمدشاه بابا اجازه نه وي درکړې، پر تا زما د مخ لیدل حرام دي، د عینو ادې میړه ناچاره بیرته د لښکر خپلو ملگرو ته ولاړ، سهار مهال یې د خپلې میرمن لخوا کورت د ننوتلو نه اجازه ورکول کیسه خپل مشر ته وکړه، او بیا خبره احمدشاه بابا ته ورسیدله، احمدشاه بابا دغې باعزمه میرمنې ته د یوه کاریز ځمکه ورکړه چې د عینو کاریز په نوم یادیږي.

چې خلک ورننوځي، امنيتي کسانو ښه په ځير وکتی، وروسته خلک ورننوتل.

يادې غونډې ته د بېلابېلو ولايتونو قومي مشران او متنفذين راغلي وو، غونډه د قران کريم په تلاوت پيل شوه، د کندهار د ولايتي شورا غړي حاجي اغالالي دستگيري په کندهار کې د سولې د دغه نوښت اړوند خبرې وکړې، وروسته وويل شول چې ناست کسان به په ٦ ډلو ويشل کيږي، سولې ته درسيدو او جگړې د ختميدو اړوند نظريات به په ليکلي بڼه چمتو کوي او له غرمې وروسته به يې د ډلې په استازيتوب يو تن د گډونوالو مخ کې په دريځ باندې وايي.

په همدې ورځ تر سلو زياتو کسانو په غونډه کې گډون کړی وو، موږ د کابل ملگري جلاجلا په پنځو ډلو کې کيناستلو، زه په هغه ډله کې وم چې د هرات، ارزگان، زابل، کندهار، غور او هلمند کسان پکې گډ ناست وو.

درې پوښتنې شوې وې او د هغو پوښتنو لپاره مو د ځواب په ډول د ډلې د هر کس نظر اخيست، بيا مو د هرې پوښتنې د ځواب لپاره د ټولو گډونوالو له نظرياتو څخه مشترک ټکي غوره کول.

هرې ډلې خپل نظريات د کاغذ پرمخ وليکل، د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه، د ماسپښين لمونځ وشو.

دوه بجې ماسپښين بياځلي غونډه پيل شوه، د ډلو استازو هغه ليکلي بڼه د خلکو لپاره اوروله:

د يوې ډلې استازي وويل: (( د جگړې تگلاره په سياسي تگلاره بدلول، ښکيل جهتونه دي د سولې په لاره کې استقلاليت ولري، د جگړې ضد او سولې ته رسيدو له پاره عامه ذهنيت چمتو کول، د يو ټاکلي ادرس درلودل چې مذاکرات صورت ونيسي، د مذاکراتو د پيل سره سم اوربند، د واک انحصار ناکامه سياست دی، د واک عادلانه ويش، د بيکارۍ له منځه وړل، چې خلک مجبوره دي، او ځوانان اړ دی، له دې کبله جگړې ته ځي، د بريښنا، بندونو او معادن په برخه کې

کار کول د جګړې د دریدو لامل کیدای شي.

له طالبانو سره ناستې چې د جګړې اصلي لاملونه په نخښه شي، د زور لاره د حل او سولې لاره نه ده، ولس ته د سولې په لاره کې چانس ورکول، ولسي شورا د حکومتي شورا پر ځای جوړیدل، د نااهله کسانو پر ځای اهل کسانو ته د کار کولو زمینه برابرول.))

د بلې ډلې استازي بیا وویل: (( سولې ته د رسیدو لاره دا ده چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش اعلان شي، بین الافغاني تفاهم پیل شي، ولسي فشار پر ښکېلو لورو راوستل شي، باوري درېیمګړي ګروپ ته اړتیا ده، د بمبارد بندیدل، وسلوالو مخالفو جهتونو ته په حکومت کې ونډه ورکول، د رښتوني قومي مشرانو له رول او نفوذ څخه کار اخیستل، د سولې خبرو کې صداقت او عمل، د نظامي حل لارې پر ځای سیاسي حل لاره، د سولې په نوم یو ولایت مشخص کول او اعلانول سولې ته د رسیدو ښه لاره کیدای شي.

د سولې اړوند مثبت قدمونه اخیستل په کار دي، د ښکیلو اړخونو لخوا یو او بل ته ښه الفاظ کارول، د اعتماد فضا رامنځته کول، مثبت پېغامونه د ښکیلو لورو اړوند تبادله کول، د ولسي فشار څخه کار اخیستل، عامه ذهینت سولې ته اماده کول چې بهرنیان مو نشي ساتلای په خپل ملت تکیه وکړو.))

حاجي عطاالله صادق وویل: ((که موږ افغانان خپل منځ کې بهرنیان پریږدي، موږ یو باعزته او کامیابه ملت یو. الله ج زموږ سره دی، او الله ج ډیر لوی او قوي ذات دی، موږ یو بل زغملای شو او سوله کولای شو.))

همدې ته ورته نظرونه ورکړل شول، غونډه د مازیګر پر ۴:۳۰ ختمه شوه.

*****

له غونډې وروسته زما د لیسې او پوهنتون د وخت ملګری، د کندهار د ښارجوړولو رئیس انجنیر محمد حنیف عینو سالون ته راورسیدی، له هغه سره په

لوړه او کښته عینو مېنه [۱] کې موږ پنځه ملګري وګرځیدو، ښکلی ځای و، ښایسته هوا، ونې لا هم زرغونې وې، د اوبو فوارې وې، یوازې د برېښنا کموالی یې درلود.

د ماښام ډوډۍ مو له انجنیر محمد حنیف سره په عینو مېنه کې وخوړه، موږ د شپې لس بجې منډیګک ماڼۍ (میلمستون) ته د ښاغلي صادق سره یوځای ورسیدو.

د ښاغلي صادق سره د نن ورځې د غونډې په اړه بحث روان و، چې لږ وروسته پر ۱۰:۳۰ بجې امنیه قومندان عبدالرازق هم زموږ کوټې ته رادننه شو، هغه استاد محمد زمان مزمل ته ویل چې کاکا مې یې، د استاد مزمل مجلس یې ډېر خوښېدی.

تر ټولو لومړی استاد مزمل ورته وویل : ((د نن ورځې بده پېښه شوې، پنځه میرمنې وژل شوې، د کندهار خلک ډېر لوړ تهذیب لري، نه د غونډې پرمهال خلکو پر طالب هغه ډول بد وویل کوم چې د دغسې پېښو پرمهال په کابل کې ویل کیږي، او زموږ ویره دا وه چې یادې پېښې به د سولې اړوند ستاسي ذهنیت بیا هم خراب کړی وي، خو چې ومو لیدې له موږ سره د روغبړ پرمهال دي په تندې ګونځې نه معلومیدی.))

جنرال عبدالرازق وویل : (( موږ پوهیږو چې د هوایي ډګر ۵ کارکوونکي میرمنې او سړی چا وژلي، دا کار طالبانو نه دی کړی.))

د ورځې د غونډې جریان په لنډ ډول قومندان سره شریک شو، او استاد مزمل ورته وویل چې کندهار کې مې هر څه خوښ شوو، خو زموږ د نن ورځې غونډه کې

---

[۱] عینو مېنه یو ښکلي عصري او معیاري ښارګوټی دی، کله چې وردننه شي، فکر نه کیږي چې د افغانستان کوم ښارګوټی به وي، د حامد کرزي وروڼو محمود کرزی او احمد ولي کرزي یې بنسټ ایښی وو، ځمکه دولتي وه، لومړی یې یوه ټوټه ځمکه له دولت څخه واخیستله، وروسته یې د کندهار د فرقې ودانې هم ونړولي او هغه ځمکه یې د دفاع وزارت څخه په ډېره ټیټه بیه واخیستله، دا ډول د کندهار پوهنتون مربوط ځمکه یې هم په لوړه عینو مینه کې ونیوله. په هر حال د کرزي وروڼو یو ښه کار کړی، داچې له حکومت څخه ځمکه ارازانه او یا د کرزي په زور واخیستله بېله خبره ده، خو دکندهار خلکو ته یې په همدې ښارګوټي جوړولو سره غټ خدمت کړی.

زموږ په ډله کې حاجي بابی مې خوښ نه شو، هغه خپل نظر په کاغذ لیکی او د نورو نظر یې د مجلس پر مهال نه اوریدی.

امنیه قومندان ورته وخندل ویې ویل چې هغه ستاسي د حزب اسلامي غړی دی، دا ستاسي خپلمنځي ستونزه ده، موږ پکې کار نه لرو!

داچې سبا ورځ به لویه غونډه کیږي، د نږدې نیم افغانستان ۱۴ ولایتونو کسان به په غونډه کې ګډون لري، د سبا ورځې په اړه مو له امنیه قومندان سره بحث درلود.

امنیه قومندان وویل : (( د سولې لپاره په کار ده چې د طالبانو په غوښتنو باندې وپوهیږو، چې هغوی څه ډول سوله غواړي، کوم ډول شرایط لري.))

ښاغلي مژده خپل کوچنی ټب کمپیوټر راخلاص کړ، قومندان ته یې وویل چې د سولې اړوند طالبان غوښتنې لري، موږ به یې درته ووایو، ما (لیکوال) کاغذ او قلم راواخیستل چې په یوه پاڼه کې یې په لنډ ډول ولیکم :

۱ – چې د جګړې تګلاره د سولې په تګلاره بدله شي؛

۲ - د حکومت قوانین د اسلامي نظام مطابق وي؛

۳ – د واک انحصار د حل لاره نه ده، افغان شموله نظام حل لاره ده؛

۴ - اوسنی اساسي قانون باید له سره جوړ او توشیح شي، طالبان وایي که اوسنی قانون پاتې شي، د امریکایي قانون په نوم به یادیږي، لکه د پاکستان قانون چې د انګریزقانون په نوم یادیږي، موږ غواړو چې اساسي قانون له سره ولیکل شي، او په راتلونکې کې له بدنامۍ څخه مو خپل ولس ساتلی وي؛

۵ - ملي اردو او ملي پولیسو ته اړتیا شته، مګر چې په رښتونې ډول ملي وي، په اوسنۍ اردو او پولیسو کې باید اصلاحات راوستل شي، چوکاټ یې سم دی؛

٦ - طالبان وایې چې امریکا د خپلو پوځیانو د وتلو محدود مهالویش اعلان کړي، موږ سمدستي په هیواد کې اوربند اعلانوو او له افغانانو سره خبرو ته کښینو؛

۷ - د افغانستان تجرید او منزوي کیدل نه غواړي، طالبان وایي چې له نړیوالو

سره د ښو ډیپلوماټیکو اړیکو غوښتونکي دي؛

۸ – د افغانستان یووالي غواړي، د تجزیې سره یې سخت مخالفت ښيي؛

۹ - طالبانو په بېلابېلو ناستو کې ویلي چې د افغانستان له جغرافیې د باندي د جګړې او یا نور ځانګړې اهداف نه لري، هیڅکله هم اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې نور هیوادونه تهدید شي؛

۱۰ – د ښځو د حقونو اړوند وايي چې د تعلیم کولو حق لري، ولي زیاتوي چې مختلط تعلیمي نظام ته اسلام اجازه نه ورکوي؛

۱۱ - طالبان وايي، د ملي او ټولګټو پروژو ساتنه او امنیت نیسي؛

۱۲ - طالبان وايي غواړي چې د دوی د مشرانو نومونه دي له تور لسټ څخه ووځي او د دوی د قطر سیاسي دفتر دي په رسمیت وپېژندل شي؛

۱۳ – لنډمهاله اداره هم سولې ته د رسیدو لپاره یوه لاره کیدای شي، چې همدغه لنډمهال اداره د بهرنیو پوځیانو د وتلو او راتلونکې نظام پر جوړښت کار وکړي.

یوه بله خبره هم موږ ورزیاته کړه، چې افغانستان باید د یو بې طرفه هیواد په ډول د نړیوالو لخوا وپېژندل شي، داسي لکه سویس چې له دویمې نړیوالي جګړې وروسته د ناپېیلي هیواد په نوم د نړیوالو له خوا په رسمیت پېژندل شوی.

هغه پاڼه چې پورته ټکې مې پکې ولیکل امنیه قوماندان عبدالرازق ته مو ورکړه.

موږ بیا هم ټینګار وکړ که د بهرنیو پوځیانو د وتلو محدود مهالویش اعلان شي، طالبان به له افغانانو سره مخامخ خبرو ته سمدستي کښیني.

د شپې دولس بجې شوې، همدلته امنیه قوماندان او ملګرو انځورونه یو بل سره واخیستل، مجلس پای ته ورسیدی.

پرون او نن شپه مو داسي څه د امنیه قوماندان څخه واوریدل چې ډیر شباهت یې له هغو خبرو سره درلود، کوم چې په قطر کې مو د طالبانو له استازو څخه اوریدلي وو.

مژده صاحب به ویل چې فکر کوم په قطر کې طالبانو سره ناست یم.

## د سولې چېغه لويه غونډه

د ۲۰۱٦ ز. کال د ډسمبر ۱۸م سهار و، موږ پنځه واړه ملګرو چای په ګډه وڅښی، سردارمحمد نعيم خان، ښاغلی محمود او دوه درې نور د کندهار مخور هم د چای څښلو پرمهال ناست وو.

يو کس چې وړه مخابره يې په چپ لاس او ځيرک موبايل ټليفون يې په ښی لاس کې نيولی و، همدې ځای ته راننوتی چې موږ چای څښی، بيرته ووتی، ځکه موږ ټول په چای څښلو بوخت وو، لږ وروسته بيا هغه ځوان راغی، لاهم زموږ ځينې ملګري چای او د سهار ناشته خوړلو باندی بوخت وو، ځوان ډير ژر بيرته ووتی، د سهار نږدې ۹ بجې دي، لږ شيبه وروسته د کندهار والي همدې د چای څښلو ځای ته راننوتی، موږ ټول د هغه په ليدو ولاړ شوو، روغبړ مو همدلته ورسره وکړ، پريکړه وشوه چې د مجلس سالون ته به ولاړشو او هلته به مجلس وکړو.

دلته په هيواد کې دننه معمول دا دی چې مخامخ به د يو چا صفت کوې، ولي د کندهار والي په اړه د کندهار ځينو مشرانو او ځوانانو ويل چې د ولايت دروازه يې د خلکو پر مخ خلاصه کړي، او په کندهار کې يې مثبت بدلون راوستی دی، د فساد تور هم تر ډيره پري نه و.

د کندهار والي همايون عزيزي سره مو د سولې پر اړتيا او سولې ته د رسيدو پر لاره خبرې کولې، لږ وروسته امنيه قومندان عبدالرازق هم سالون ته راننوتی، لا خو ولاړ و هغه کاغذ چې ماښام مو ورته ورکړی و، هغه يې له جيب څخه راوکيښ، والي ته يې وويل چې ځينې ټکي په ياد کاغذ کې شته چې د طالبانو غوښتنې دي.

د بهرنيو پوځيانو پر مهالويش مو ډيري خبرې وکړي، والي ويل چې اوس اړينه نه ده، مګر قومندان ويل چې دا به پريکړه ليک کې راوړو.

زما ټينګار پر دې و چې که پريکړه ليک د ولس لخوا د رسنيو مخ کې ويل کيږي، اړينه ده چې د بهرنو پوځيانو د وتلو دمهالويش غوښتنه پکې ځای شي.

له ډير بحث وروسته پوه شوم چې والي سياسي عذر لري، او نه شي کولای چې په غونډه کې د دوی په شتون کې د پريکړه ليک د لارې د بهرنيو پوځيانو د وتلو د مهالويش خبره وشي.

زه له امنيه قوماندان سره په خبرو بوخت شوم، والي له استاد مزمل او وحيد مژده سره خبرې کولې.

زه پر دې هم پوه شوم چې کندهار والي ته د ملي امنيت د مشر- معصوم ستانکزي ټليفون راغی، سکرتر يې په کراره ورته وويل چې ستانکزی صاحب خبره درسره کوي، والي له سالون څخه ووتی، ما ته استاد مزمل او ښاغلي مژده وويل چې والي وايې چې مطمئن دي پر دی خبره چې د بهرنيو پوځيانو مهالويش غوښتنه دي په پريکړه ليک کې ځای شي، اوسمهال ډير ټينګار نه کوي، د سولې مخالفين شته، کيدای شي زموږ دا لوی کار ته ضرر ورسوي.

کله چې له کابل څخه کندهار ته تلم، د هغې ورځې پر سهار يو مشر- دوست راته وويل چې کندهار غونډه کې د اسدالله خالد، حنيف اتمر، معصوم ستانکزي، همايون عزيزي او قوماندان عبدالرازق لاس شته، هغه ته مې وويل که ياد کسان سوله وغواړي او د جګړې پر ځای د سولې ږغ وکړي، موږ خو همدا غواړو، دا يو ښه بدلون دی.

همدلته په دمنډيګک ماڼۍ کې دوه ساعته موږ له والي او امنيه قوماندان سره د سولې اړوند بحث درلود، د سهار نږدې ۱۱ بجې وې چې د سولې چيغه لوېې غونډې ته ور روان شوو.

غونډه همدې د منډيګک ماڼۍ ميلمستون ته نږدې د تاج محل لوی سالون کې جوړه شوې وه، والي، امنيه قوماندان، ښاغلی صادق، سردار نعيم نادر، ښاغلی

محمود او موږ ۵ ملگري یوځای ټول په پښو د غونډې سالون ته ور روان شوو، سالون ته عام خلک هم را روان وو، کله چې سالون ته ننوتلو، ډیرخلک انتظار وو، د کندهار د ولایتې شورا غړي، قومي مشران او گڼ گڼوونوال په چوکیو کې ناست وو، دریځ ته مخامخ لاندی امنیه قومندان ودریدی او له کابل څخه همدا موږ میلمانه یې هغه ځانگړې ځای ته د تلو لپاره رهنمایي کولو، داچې هلته ډیر معزز مشران ناست وو، موږ لازمه ونه گڼله چې په هغه ځانگړې ځای کې کښینو، په بله لاره شاته ولاړو، والي، امنیه قومندان او سردار نعیم خان همهلته کښیناستل.

غونډه د قران کریم په تلاوت سره پیل شوه، یو ځوان راغی، ویل یې مخکې ستاسي لپاره خالي چوکۍ شته، د مشرانو شاته دویم قطار کې یې چوکۍ خالي کړي وه، استاد مزمل او وحید مژده ته هم امنیه قومندان ځوک ورلیږلي وو، خو هغوی مخکې رانغلل.

د همدې سولې چیغې جرگې د پیل خبرې د کندهار والي وکړي.

دخبرو د اهمیت له پلوه غواړم چې دلته د کندهار والي او کندهار د امنیه قومندان خبرې کټ مټ را واخلم.

د کندهار د سولې چیغې غونډې کې د کندهار والي او امنیه قومندان خبرې مې په بشپړ ډول د ثبت شوې ویډیو څخه را اخیستي دي، او دا ډول د نورو ویناوالو د ویناوو مهم ټکي مې هم له ثبت شویو ویډیوگانو څخه را اخیستي دي.

یادونه: د یادې غونډې بشپړ راپور دکندهار محلي ټلویزونو خپور کړی دی.

# د کندهار والي همایون عزیزي خبرې

بسم الله الرحمن الرحیم

د کندهار هلمند ارزګان او زابل ولایتونو قدرمنو مشرانو، د هرات، فراه، غور او بادغیس قدرمنو او معززو مشرانو، د کابل څخه راغلو میلمنو او درنو حاضرینو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

تر هرڅه دمخه ستاسي راتګ د کندهار تاریخي او تاریخ جوړوونکي ښار ته ښه راغلاست وایم، هرکله راسئ، خدای ج مو راوله.

درنو حاضرینو! خبرې د قران کریم د انفال سورة د ٦١ م او ٦٢م ایت باندي شروع کوم، ترجمه یې ده ( که هغوی د سولې لپاره راپاڅي نو تاسي د امن لپاره راپاڅئ او په الله ج باور ولرئ. بي له شکه هغه اوریدونکي او د پوهي خاوند دی. او که هغوی ستا سره د سولې لپاره دوکه ورکول غواړي نو الله ج ستاسي لپاره کافي دی).

د دي مبارک ایت څخه معلومیږي چې په اسلام کی امن تر وروستي بریده مطلوب دی. ان تر دي چې که د سولې لپاره خطرات موجود وي، بیا هم ضرور دی.

سوله هغه پروسه ده چې اسلام یې غوره بولي او هر لوری چې د سولې په لاره کې ګام پورته کړي هغه خپل دیني مسؤولیت اداء کړي او د کلام الله مجید پیروي یې کړي ده.

درنو قدرمنو مشرانو تاسو ته معلومه ده چې زموږ ګران هیواد افغانستان او موږ ځوریدلي په تیروه څو لسیزو کې په مختلفو نومونو د جنګ ښکار شوې یو، داهم واضح ده چې د افغانستان جنګ د افغانانو جنګ نه دی بلکي خارجي عوامل لري.

مګر متاسفانه موږ او تاسي افغانان په دغه جنګ کي د خارجیانو د منافعو د تامینولو په خاطر زموږ او تاسي څخه د افزارو په شکل استفاده کیږي.

اوس چې دا ټول مسایل ملت ته روښانه شوې دي، نو ایا موږ انتظار وکړو چې د منطقوي او خارجی منافعو په خاطر تر کاملې نابودي پوري قرباني شو. او یا خو د

یو ستراو تاریخي ملت په توګه راویښ شو او اور د خپل کور، کلي، او هیواد څخه خاموش کړو.

تاسي ته معلومه ده چې د افغانستان د تاریخ په اوږدو کې زموږ نیکونو او قومي مشرانو علمای کرامو ډیر لوی مسایل حل کړي دي. هیواد او ولسونه یې له ډیري لویې توطیې څخه ژغورلي دي، زه اوس هم په دي بارو لرم چې تاسي قومی مشران، علماء کرام او مخور کولای شئ چې هیواد او افغان ولس له دغه ناورین څخه خلاص کړئ.

عزیزانو! جنګ په خپله په یو هیواد کې فساد، بې عدالتي او ناخوالو ته زمینه برابروي. روانې ناخوالي چې زموږ په هیواد کې جریان لري، ترهغه به پای ته ونه رسیږي چې موږ د ژبې پرځای د ټوپک سره خبرې وکړو. د افغانستان اسلامي دولت د سولې د خبرو اترو لارې او دروازې خلاصې پرې ایښې دي.

او د کلام مجید پر اساس سوله بهتر بولي. اوس د مخالف لوري دیني مسؤلیت دی چې که غواړي دغه ځوریدلی ولس او دغه ځوریدلی وطن د دغه بدبختۍ څخه خلاص کي نو باید خپل ټول مسایل د مذاکري پر میز کیږدي او دغه ناورین ته د پای ټکی کیږدي.

زه په دي معتقد یم چې دواړه خواوي (حکومت او طالبان) باید د خپلو مواضعو څخه انعطاف وښیي او د اسلامي او ملي منافعو پر بناء د سولې لاره خپله کړي.

زه د ټولو علماوو او مشرانوڅخه چې د مختلفو ولایتو څخه د کندهار تاریخي ښار ته راغلي دي، دري ورځې کیږي چې تاسي غواړئ چې د ملت د دردونو دوا شئ او ملت ته ټول دوا کیدل غواړي، د زړه له کومې درڅخه مننه کوم.

موږ چمتو یو، هرڅه چې د اسلام لپاره لازم وي، هغه عملي کړو، او هر څه چې زموږ د ولس او ملت په خیر دي په ورین تندي یې ومنو.

تاسي مشران د دې خاوري او هیواد د اصلي خاوندانو په صفت ډیر کلونه کیږي

چې د جنګ درونند بار په خپلو اوږو پورته کړي.

زه متقين يم چې د سولې په ډګر کې د دغسي يو ملي حرکت چې نن تاسي د سولې چېغه او سولې په نيت د کندهار د تاريخي ښار څخه دا ږغ پورته کړي، کولای شئ چې د يو بين الافغاني او افغاني ميکانيزمونو په طرح کولو سره د سولې لاره هم خلاصه کړئ.

خدای ج دي تاسي ته اجرونه او توفيق په دي کار کي درکړي، په دي هيله چې د سولې امن او رفاه د لمر وړانګې زموږ په ګران هيواد کې وځليږي، تل دي وي افغانستان او سرلوړي دي وي افغان ستر ملت.

د کندهار والي تر ډيره د سولې په ارزښت او سولې ته کار کولو باندي خبرې وکړي، هغه غوښتل چې خلکو ته وښيي چې سولې ته ليواله او ژمن دی، او غواړي په دي برخه کې له ولسي خلکو سره مرسته وکړي.

# د قوماندان عبدالرازق وینا

بسم الله الرحمن الرحیم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

((زموږ د لویدیځې حوزې څخه د هرات، فراه، غور، بادغیس، هلمند، ارزګان او زابل ولایتونو ټولو میلمنو ته د احمد شاه بابا اومیرویس نیکه کور او ټاټوبې ته ښه راغلاست وایو.

خدای ج دې وکړي چې دا تیرې درې ورځې په دوی په خیر تیرې شوې وي، او خدای ج دې هر قدم د نیکۍ په تله کې ورواچوي.

دا یو د خیر کار وو، چې دوی د وطن، سېمې او زموږ د افغانستان د حالاتو لپاره تکلیف وایست، پر دې به بسنه نه کوو، دا به دوامداره ساتو.

د سپین ږیرو، د وطن د مشرانو، د علماء صاحبانو، ددوی په کومک او د الله ﷻ په مدد، ان شاء الله دا د سولې په حرکت کې د الله ﷻ برکت هم شته، موږ به کوشش کوو.

څو خبرو ته جناب والي صاحب اشاره وکړه، وخت کم دی، د علماوو او سپن ږیرو نوبت پاتې دی.

یو شي باید چې ووایو نور په وینه تویدو داملت ستړی دی، موږ هم ستړي یو، حکومت هم ستړی دی، مخالف لوری یا زموم هغه خوابدي شوي وروڼه ، هغه به هم نور ستړي یې.))

لومړی ځل دی چې د طالبانو سرسخت دښمن جنرال عبدالرازق دغه ډول څرګندونې کوي، او هغه وایې چې له جګړې څخه ستړی شوی او جګړه د حل لاره نه ده.

امنیه قوماندان وویل : ((زموږ ددې ملت څخه غوښتنه داده چې دوی راپورته شي، په حکومتو او سفارتو نور تکیه ونه کړي، حکومتونه او سفارتونه نور نه شي کولای چې دې شي ته د پای ټکی کیږدي.

که چیرته یې کولای شوای په دي تیرو ۱٦ کلونو کې به دوی کار تر یوځایه رسولی وای، په دا ۱٦ کاله کې ډیر څه باید شوې وای، خو ددي پرځای چې هغه وشي، ورځ په ورځ نور هم خرابي خواته ولاړو.))

داچې حکومتونه او سفارتونه سوله په افغانستان کې نه شي راوستلای، ژوره خبره وه چې امنیه قومندان ورته اشاره وکړه، سولې ته هیلې پیداکیږي، ستونزه د بهرنیو سفارتونو او د پردیو په مرستو ولاړو حکومتونو څخه راپیښه شوې، که موږ خپلواک نظام درلودلای، د نورو هیوادونو د سفارتونو مداخلې نه وای، موږ افغانان په خپلو منځو کې یو بل منلای او زغملای شوای.

امنیه قومندان وویل : ((زموږ د ټول ملت څخه دا غوښتنه ده چې طالب په هر نامه چې دی، هغه د دي وطن سړی دی، موږ ددي وطن څخه نه دوی بارولای شو، نه دغه تذکره چې دوی یې لري ځینې اخیستلای شو، او نه یې دوی دبل چا څخه اخیستلای شي.

اخیر هم که دوه میلونه انسانان شهیدان شي دغه شي ته مجبوره یو چې سره کښینو، نو اوس وخت د چارې دی، چې په هر ځای او هر ډول افغان کشالې ته د پای ټکی ایښودل کیږی او زموږ هغه خوابدي وروڼه په څه رقم کیدای شي چې خپل وطن ته راشي، دغه ورور وژنه ، دغه وینه تویونه نوره بنده شي.))

د امنیه قومندان داخبره بیخې پر ځای ده چې مخکې له دې چې یو بل ته لا زیاته مرګ ژوبله واړوو، ښه ده چې اوس د سولې خبرو ته کښینو.

د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو په شتون کې د پخوانیو خلقیانو او پرچمیانو سره دوی په ګډه یو نیم میلیون افغانان شهیدان او تر یو میلیون ډیر یې ژوبل کړل، ولي کله چې روسان ووتل، د ډاکټر نجیب د حکومت په وړاندي مجاهدین جنګیدل، خو وروسته د جبل السراج د ایتلاف په نتیجه کې پرچمیان له جمعیت اسلامي + شورای نظار سره ملګري شول او خلقیان بیا له حزب

اسلامي سره ملګري شول.

د کرزي د حکومت پرمهال هم واک له پخوانیو مجاهدینو او پخوانیو پرچمیانو سره پاتې شو، اوس مهال ډېر واک له پخوانیو پرچمیانو سره دی.

ښاغلي عبدالرازق وویل: (( په دې کې شک نشته چې ځینې شرطونه او مشکلات به دوی (طالبان) هم لري، ځیني به حکومت هم لري، داسي نه ده چې ۱۰۰ سلنه حکومت پر حقه ده، حکومت کي هم مشکلات او ناخوالي شته، دا ناخوالي د جنګ څخه پیدا کیږي، چې جنګ وي، هر شی له کنټرول څخه وتلی وي.

هر څوک کولای شي چې د هغه (جنګ) څخه ناوړه استفاده، د خپلو شخصي ګټو لپاره استفاده وکړي. د پردیو او بهرني ملکو سفارتونه هم له ګډوډي استفاده کوي، د هغه جاسوسان هم ورڅخه استفاده کولای شي. په ګډوډي کې هر څه کیدای شي.

زموږ په طالبانو ورونو دا ږغ دی چې دوی خپل وطن ته راشي، او دا ملت په دي کي فکر وکي، ولاړ شي سره وپوښتي چې دوی چیری کولای شي چې د طالبانو لپاره یو د امن ځای یو د ارام ځای د دوی د کورنیو، د دوی د بچیانو لپاره ورته مشخص کي او د افغانستان دولت یا دلته چې څوک نور د دولت حمایه کوي د هغوی سره هم دا خبره وکي، د طالب لپاره، د طالبانو د بچیانو لپاره د افغانستان په داخل کې یوه د امن سیمه معلومه شي چې هغه به هم د طالب او هم زموږ په خیر وي، هم به مو خبرې د پردیو پر پاسپورټو او ویزو نه وي چې هغه یې دوی یا موږ ته د پنځه ساعتو یا پنځو ورځو لپاره راکړي وي، او بیا هم د دوی (پردیو) نفر ورپسي وي او څاري یې، په هره خبره کې بیرته د دوی په کنټرول کي وي، هغه که د دولت کسان وي که د طالب.))

داچې امنیه قومندان د امن سیمې په نوم د یوې سیمې د مشخص کیدو خبره وکړه، هغه څه ده چې اړتیا یې لیدل کیږي، او داچې د طالبانو د کورنۍ غړي تر تهدید لاندي نه وي، هم یو ښه او مثبت قدم دی، اوسمهال خو د پلار په تور یې

زوى او د زوي په تور يې پلار په ځينو مواردو کې وژل کيږي.

جنرال عبدالرازق وويل : (( ملت کولای شي د طالبانوسره خبره وکړي، طالبان د دي وطن خلک دي، بيگانه نه دي، ډير يې د لويديځې حوزې دي، د افغانستان د ټولو ولايتو کسان پکې شته، ولس کولای شي ارتباط ورسره ونيسي- او د دي لپاره يو اجرايه کميټه جوړه کړي، چې د دوی سره رابطه ونيسي، طالبانو ته ورشي هغوی دلته دعوت کی چې د دوی د بچيانو لپاره د امن ځای شته، د طالبانو د ۵ يا ٦ کسانو کورونه راغلي، هلمند کې ميشت دي، ځينې نورو چې کورونه يې راوړل، غوښتل يې چې کورونه راانتقال کي، هغه په تيره اوونی کي په پاکستان کې بنديان شوې. هغوی غوښتل چې کورونه يې هلمند ته راانتقال کي، ځان له دي چنگگ (پاکستان) څخه خلاص کړي، خو هغه اوس په دي تازه شپو کې بنديان شوي. اوس زموږ د گاونډي هيوادو په محبسو کې ولويدل، هغه چې ۱۴ کاله يې د دوی امنيت هم ساتی، د دوی لپاره يې هره زمينه برابره کړي وه، خو کله چې دوی دا فيصله وکړه چې خپل وطن ته ځو، بيا که مو جنگ کوی که سوله، په هغه ورځ دوی بنديان شوه، بچيان يې هم بی سرنوشته پراته دي، او دوی هم په بندي خانو کي پراته دي.))

زه (ليکوال) يې يو ښه فرصت گڼم، هغه قومندان چې يوازي د طالب سره اړيکې لرل يې د يو چا لپاره د مرگ سزا گڼله، نن ورځ له ولس څخه غوښتنه کوي، چې طالبانو ته ورشي او پر هغوی ږغ وکړي چې جگړه پردی ده، او قربانيان يې موږ او تاسي افغانان يو، راځئ نور دغه مرگ ژوبله ودروو.

امنيه قومندان وويل : (( چې موږ د دوی (طالبانو) لپاره بايد چې يو د امن ځای معلوم کړو، دا کار ملت کولای شي، زموږ دروازې ددوی پر مخ خلاصې دي، هر څه چي شوي هغه شوي دي، نور دا وينه توی نه کړو، په دغه ځای باندي اخري ټکی ورته کښيږدو.

دا کار ملت کـولای شي، اولنـی خـبره مـې هـم دا وه چـې دا کـار حکومتونـه او سفارتونه نه شي کولای، که یې کولای شوای دا ۳۸ کاله کې به یې کړي وای [۱] .

دغه ملت دا اختیار لري او شرعی هم داسې ده کـه یـو حکومـت فسـاد او نـاروا کوي او د اسلام د لارې لیري وي، اسلامي ملک وي، د دی حق څوک نه لري چې د ویني تویدو او ټوپک په پورته کیدو هغه له منځه یو سي، کیـدای شي ملـت سره یوځای شي د ملت په زور هغه نظام سم کړي او هغه حکومت تغیر کړي.

اخـري خـبره مـي دا ده چـې تـاسي کـولای شـئ او ملـت فیصـله وکـړي، د دوی (طالبانو) لپاره هم یو ځای وګوري چې کوم ځای کې د دوی بچیان کـولای شي راشي او ژوند وکړي. ملت ازاد تګ او راتګ ورته کولای شي او خبرې ورسره کولای شي.

موږ په ټول توان حاضر یو چې د دوی (طالبانو) لپاره زمینه برابـره کـړو چـې نـور یې له قطر او یا نورو دفترو، چې په نوور ملکونو کې دي، له دغه حالـت څخـه مـوږ راووځو او په دغه خپل وطن کي له دوی سره مشـترکه ژبـه ولـرو، هـره ورځ لـه دوی سره دا ملت مرکه وکړي، بیا به یو نتیجې ته هم سره ورسیږي.

زموږ په ملک کې اوس ډیرو خلکو لاسونه واچول، پخوا یو همسایه وو، اوس هغـه خلک چې زموږ د دوه نیم میلیونه انسانانو قـاتلان دي، زمـوږ د وطـن د ټـوک ټـوک کیدو عامل دي هغه روسان هم نن را روان دي او زموږ ځیني ورونه استعمالوي.

چې تر اوسه پوري یې زموږ پلرونه را شهیدان کول، زموږ وطن یې راتکه تکه کـړی، د دغو طالبانو د رهبري اول کس ملا محمد عمر اخونـد زخمونـه د روسـانو پـه مقابـل کي و، نن د ملامحمد عمر اخوند زوی له روسانو څخه د جنګ لپاره مدد غواړي.

دا به هم د افغانانو لپاره د خیر خبره نـه وي، کـه چیـري دی (ملامحمـد یعقـوب اخوند) د ملا محمد عمر اخوند زوی وي، او هغه د دې وطن یو مجاهد بولي، نو بیا دا ښه کار نه دی، او که هغه له روسانو مرسـته غـواړي، نـو ټـول افغانـان بایـد دیتـه

[۱] په افغانستان کې د وسلوالي جګړې ۳۸ کلونه بشپړ شوي.

متوجه شو چې هغه روسان چی زموږ دا دومره انسانان یې را شهیدان کړه، دا وطن تکه تکه سو اوس بیا د هغو په کومک او یا داچې زموږ سرنوشت کې لاس وهی، دا به یو پېغور هم وي، د وطن د خرابي یو بل عامل به وي. زموږ د ټولو څخه دا غوښتنه ده، که د مولوي عبدالحق صاحب زوی وي، که مولوي صاحب یعقوب دی، که هبة الله اخوند دی، که شیخ عبدالحکیم دی او که د دوی د رهبري غړي ملا نورالدین ترابي، ملاعبدالرزاق اخوند، ملا محمد حسن اخوند او امیرخان متقي دي، یا نور د رهبري شورا غړي دي چې دغه نوی کومک یا نوي خلک (روسان) چې د دوی سره په ارتباط کي شوي دي او د دوی سره روابط ساتي، دفترونه ورکوي، دا به زه وایم د افغانانو لپاره په هیڅ صورت سره د قبول وړ نه وي، او دغه هغه خلک دي چې زموږ وطن یې ډیر تکه تکه کی، دوی (طالبان) چې دا جهاد خرابوي، دلته دوی په دي سیمه کې و، دا ټول د طالبانو مشران همدلته وو، د ترابي صاحب پښې او سترګې له منځه تللي، ملا محمد عمر اخوند زخمي شوی، هغه ټول د شورویانو په مقابل کي وو، او نن څنګه دوی ( طالبان) له هغوی (روسانو) څخه کومک غواړي.))

د طالبانو او روسانو تر منځ اړیکو ته امنیه قومندان ډیر ځله اشاره وکړه، اصلي خبره همدا ده چې امریکایان او افغان حکومت د روسانو او طالبانو اړیکو اندیښمن کړي، دوی ویره لري که طالبانو ته روسیه د الوتکو او چورلکو ضد توغندي ورکړي، بیا به افغان حکومت په نظامي برخه کې له ډیر ضعف سره مخ وی، د امریکا او ناټو هوایې ځواک به یې هم هغه ډول مرسته ونه شي کولای کوم چې اوس یې کوي.

ښاغلي‌عبدالرارزق د خپلو خبرو په دوام وویل : (( تاسي ملت چې هر څه وایاست موږ یې په سر سترګو قبلوو، هیڅ دلایل نه کاروو، هر څه چې وایاست که مي محبس ته بیاست، که هره جزا راکوئ، موږ د دي وطن د سولې لپاره هر شي (جزا) ته حاضر یو، ناخوالي په موږ کې هم شته، ناخوالي او مشکلات شته، موږ پوهیږو چې موږ اصلاح نه یو، موږ پوهیږو چې موږ غلطیاني کوو، هره ورځ داسي

ده، په دولت کې هم غلطیانې روانې دي، دا د جنګ حالت دی، هدف او مطلب دا نه ده چې دلته یو څوک عام انسانان شهیدان کړي ددې لپاره چې مخته ولاړشي. ))

مهمه ده چې هغه قومندان چې د ظلم او وژنو کیسي- یې په هر ځای کې کیږي، هغه ولس ته وایي چې د سولې راوستلو په خاطر هر ډول جزا چې زما د کړنو له امله ولس راکوي ورته حاضر یم.

داچې په عمل کې داخبره ممکن ونه مني ولي د زرګونو خلکو په مخ کې د هغه لخوا دغه ډول اعلان پخپل ذات کې پوره اهمیت لري.

قومندان رازق وویل : (( ملت کولای شي، پخوا هم ملت فیصلي کولې، اوس هم دا ملت کولای شي چې د افغانستان مسئلې د حل لپاره تصمیم ونیسي-، د هیچا تر تاثیر لاندي رانه شي، خپل تصمیم ونیسي او هغه په دواړو خواوو عملي کړي.))

سردارمحمد نادر نعیم چې په کندهار کې شاه پلوي [۱] خلکو ورته ډیر زیات احترام درلود ویې ویل :

(( د هیواد حالت ترپخوا ډیر د اندیښنې وړ دي، د حکومت او مخالفو وسلوالو ترمنځ جګړو شدت پیدا کړی او هره ورځ په سلګونو کسان پکې قرباني کیږي.

هیواد مو د ټرویزم په نوم سخته صدمه لیدلي او زموږ د عزت او ابرو سوال یې تر پوښتنې لاندي راوستی دی.

ټول پوهیږو چې د افغانستان جګړه کې د نورو هیوادونو اهداف او ګټې دي، افغانان د جنګ غوښتونکي نه وو، نه دي او نه جګړه غواړي، تاریخ شاهد دی چې افغانانو په تیرو وختونو کې د ورونو په ډول یو له بل سره ژوند کړی دی، خپلو منځو کې یې تعصب نه درلود، دلته قومي، سیمه ییز او ژبنې تعصبات نه وو.

---

[۱] د هیواد په جنوب لویدیځ کې ډیری د پخوانی پاچاه ظاهرخان پلویان شته، او پاچا ظاهر ته په عمومي ډول د شاه په نوم خطاب کیږي.

د پاچا ظاهر څخه یوه خبریال پوښتنه وکړه چې څه ډول ستاسي په ۴۰ کلنه دوره کې امنیت او ارامي وه، علت يې څه و؟ پاچا ورته وویل: زموږ باور پر الله ج و، الله ج زموږ ساتونکی و، او د سولې په برخه کې د ولس ملاتړ و، هغه ملت چې له خپل هیواد سره يې مینه درلودله، ولس سوله راوستي وه.

اوسنۍ ستونزه د ۱۳۵۷ ل. کال د ثور کودتا اوومې څخه راپيل شوې، سردار داوود خان نه غوښتل چې هیواد يې د پردیو د لاس اله شي، او دلته د نورو هیوادونو مداخلو ته زمینه برابره شي، ولي هغه د کودتا په ترځ کې ووژل شو.

څلور لسیزې کیږي چې دلته جګړه روانه ده، یو نسل په جګړو کې ووژل شو، بل نسل د جګړو پرمهال تولد شو، او یو نسل اوس هم د جګړو په جریان کې وژل کیږي.

له تیرو ۴ لسیزو څخه مو زده کړه ونه کړه، اوس هم پر دي فکر نه کیږي چې ولې دا ملت وژل کیږي.

پر دي مو فکر نه دی کړی چې د یو او بل افغان له وژلو څخه موږ ته کومه ګټه رسیږي، آیا د اسلام دین د وروري دین دی که د ورور وژني دين دی؟ جواب دا دی چې اسلام د ورورۍ دین دی.

په دي باور یم چې کومه جګړه د قوي او ذیدخله هیوادونو لخوا په افغانستان کې روانه ده، د هیچا په ګټه هم نه ده. په یاد جنګ کې چې هر لور ته کوم کس وژل کیږي، هغه افغان او زموږ ورور دی.

دولس ټولې طبقې، علما، روحانیون، ځوانان، میرمنې او ماشومان دي پر دي پوه شوي چې د افغانستان د مسئلې د حل لپاره باید خپلو منځو کې سره کښینو او د افغان کشالې لپاره حل لاره پیدا کړو. ځکه په نړۍ کې هیڅوک پر موږ تر موږ خپله زړه سواندي نه لري.

په کندهار کې د سولې ږغ پورته کول مهم دی، د ولس غوښتنه د ولس لخوا ده، چې څه ډول سولې ته ورسیږو.

د کندهار ښخه د سولې د ږغ پورته کېدل په دي اساس وخت کې نیک اقدام گڼم، له کندهار ښځه د دغسي- اواز پورته کیدل د افغانستان پر مسایلو تاثیرلرونکی گڼم، هغه ولایت چې د تاریخ په اوږدو کې د جرگو او پریکړو او افغانستان اړوند مسایلو کې ټاکوونکی دی.

کندهار هغه ولایت هم دی چې د افغانستان د دښمنانو په مقابل کې یې زیاته قرباني هم ورکړي ده.

موږ ټول پوهیږو چې قوت په یووالي کې دی، دغه د سولې اواز چې نن له کندهار ښځه اوچت شوی په یوازي ډول کار نه کیږي، هیله لرم چې د کندهار او ناستي غونډې گډونوال د هیواد لویشت لویشت خاوري ته سفر وکړي، او په هیواد کې ټول سوله غوښتونکي سره متحد کړي، تر څو یو قوت ورڅخه جوړ او د جگړې د پای ته رسیدو لپاره په قوت سره کار وکړي.))

د سردار نادر نعیم خبرو کې که څه هم نوي او پریکنده خبره نه وه، ولي لیدل کېدل چې د غونډې گډونوال خاموشه ورته ناست وو، او داچې د سردار داوودخان لمسی دی، په جنوب لویدیځه حوزه کې له پوره عزت ښخه برخمن وو.

ښاغلي عطاالله صادق په غونډه کې د ارزگان ولایت د گډونوالو په استازیتوب خبرې وکړي، ویې ویل :

(( کندهار د تاریخ په اوږدو کې ټاکونکی او د عزت ټاټوبی پاتې شوی، داچې د لوی کندهار تر څنگ د لویدیځې حوزې علماوو، روحانیونو او مشرانو هم نن په یوه خوله د سولې اواز پورته کړي، باوري یم چې دغه کاروان به تر منزله رسیږي.

موږ مسافری کړي، ۳۰ کلونه له هیواده لیري پاتې شوی یم، چې کله دغې خاوري ته راشم، دامي د عزت او ابرو خاوره ده.

زموږ ورونه چې په هر نوم مرور شوې، ولي نن دا دی امنیه قومندان وایي چې دا وطن زموږ گردو گډ کور دی، هیڅوک او کوم قدرت نشته چې له دوی ښخه د

افغان تذکره واخلي، زه د قومندان صاحب خبرې له محبته ډکې ګڼم، هیواد د ټولو ګډ کور دی، راځئ په ګډه دغه وران کور اباد کړو.

فکر وکړئ چې که زموږ طالبان ورونه، زموږ ملي اردو، زموږ پولیس او زموږ ولس سره یو لاس شي، په آسیا کې به یې هیڅوک هم مخې ته ونه دریږي، او موږ به یو غښتلی ملت شو. ))

د ښاغلي صادق وروستی خبره د افغان ولس ارمان دی، که موږ افغانان په ګډه وکولای شو، چې د خپل هیواد له ارضي تمامیت څخه دفاع وکړو، او د خپل هیواد د پرمختګ لپاره کار وکړو، ډیری په دي خفه دي چې د مجاهدینو تر کامیابي وروسته زموږ د اردو او پولیسو بنسټونه ونړیدل، او نظامي تجهیزات مو له منځه یوړل شول.

ښاغلي صادق زیاته کړه : (( نفاق مو کمزوري کوي، او یووالي مو قوي کوي، په یووالي سره ولسونه پرمختګ کوي او د ښه ژوند خاوندان کیږي.

کله چې زموږ ولس وحدت درلود، واحد فکر او واحد مشر یې درلود، هغه وخت زموږ تاریخ په هند کې د پاني پت جګړې را یادوي، تاریخ په دي خاوره کې د ګرګین ماته ثبت کړې ده.

میرویس نیکه پر خپل ولس باور درلود، تر څنګ یې ولس ولاړ وو، هغه ټول ولس اتحاد ته رابللی وو، له تفرقي او نفاق څخه یې نفرت درلود، ځکه یې کامیابي، عزت او ویاړونه په برخه وو.

سوله خیر او عزت دی، تفرقه او نفاق شر دی، چیرته چې امن نه وي، هلته اقتصاد او معارف هم نه وي، فرهنګي ستونزې هم وي، په تدریجي ډول مرګ ته ولسونه ټېل وهل کیږي، راځئ په یوه خوله ږغ وکړو چې موږ واحد ملت، واحد صف او د سولې لپاره واحد محاذ غواړو.

که هیواد مو په عزت کې و، د هیواد سوالګر به هم په عزت کې وي، که هیواد مو بې

عزته شو، که د هیواد پاچا هم وي، هغه به بې عزته وي، راځئ د هیواد عزت وساتو.))

پر خپل ولس د باور خبره چې ښاغلي صادق وکړه، مهمه وه، کومو افغان مشرانو چې د تاریخ په اوږدو کې پر خپل ولس باور درلود، هغوی سرلوړي او د عزت وړ خلک ؤ، کومو مشرانو چې له ولس څخه فاصله نیولې،هغوی ناکامه او نهیلي ؤ. اوسمهال افغانستان هغه هیواد دی چې په نړۍ کې یې تر ټولې په ټیټه کچه پاسپورټ ته کتل کیږي، او د جګړو له امله افغانان هر ځای بې عزته شوې دي، کمزوري شوې دي او خپلواکې یې تر سوال لاندې راغلې ده.

(( ټول افغانان سوله غواړو، یو له بله بې خبره یو، که سره کښینو، خبره یوه ده، خو یوه نه یو چې ولې جګړه کوو، پردی ګټې، پردی سنګر او پردی ټوپک مو په اوږده دی، یوبل یې سره جلا کړي یو.

رانه په څه یې ګیله من، نه یم خبر جانانه

راشه چې بیرته جوړه وکړو مرورجانانه

راشه په سوله، په وحدت ویجاړ وطن اباد کړو

بس دی یو بل ته به تر څو نیسو سنګر جانانه

خدایﷻ دي داسي ورځ راولي چې طالب، ملي اردو او پولیس په یو سنګر کې ناست او د ګران هیواد څخه دفاع کوي.))

په غونډه کې د کندهار ولایت د ګډونوالو په استازیتوب د موی مبارک جامع مسجد خطیب محترم مولوي صاحب جنابي (حاجي خطیب صاحب) وینا وکړه.

(( موږ پوهیږو چې زموږ په وطن کې جګړه د پردو ده، جنګ زموږ په زیان دی، له یوه لوري د ګاونډیو اقتصادي منافع (زموږ معادن او اوبه) دي، د خپلو ناروا ګټو لپاره دلته جنګ ته لمن وهي، بل لور ته د لویو هیوادو ګټې دي لکه مسکو او واشنګټن، هغوی غواړي چې جنګ له خپلو هیوادو لیري وساتي، او زموږ په مقدسه خاوره کې یې جګړه روانه کړي او زموږ له ولس څخه د افزار کار اخیستل کیږي.))

نه یواځې حاجي خطیب بلکې داخبره چې جګړه پردۍ او قربانیان یې افغانـان دي، په رسنیو او عامو غونډو کې ډېره کیږي.

ولي حقیقت دا دی چـې د انګریزانـو، پخواني شـوروي اتحـاد ، امریکـا اوناټو د حملو او پوځي شـتون پـه وخـت کـې یـوه ډلـه لـه بهرنیـو پوځیـانو او هیوادونـو سره ملګري شوې او ولس یې په مقابل کې راپورته شوی دی.

حاجي خبیب وویل: (( چې د جګړې ماهیت هر چاتـه نـور معلـوم شـوی، ولـس اندیښنه لري چې دا کوم لږ او ډیر په هیـواد کـې څـه راپـاتې دي، کـه جګـړه دوام وکړي، داهم له لاسه ورکوو، نو ځکه ده چې د ولس د هر وکړي له خـولي د سـولې اواز را وچت شوی دی.

افغانانو هیڅکله پر بل چا اتکا نه ده کړي، خپـل وطـن مـو پـه خپلـه جـوړ کـړی دی، داچې له کندهار څخه د سولې چیغه اوچته شوه، د دي ملاتړ پکار دی.

وطن د خرابیدو خواته ځي، که موږ سره یو نه شو، تر دي هم خرابیږو، پـه اتحـاد او اتفاق کې مو ګټه ده، د بې اتفاقۍ او وطـن د خرابـۍ مخـه نیـول پـه کـار ده، د هیواد د بربادۍ مخه نه نیول ګناه ده.

د سولې لپاره باید هڅې وکړو، کومې ستونزې چې وجود لري، د جرګو، ناستو او نظرونو تبادلې په صورت کې یې ختمې کړو، او خپل هیواد جوړ کړو.

که موږ د انګریز قوت او روسي ښکیلاک ته د ماتې ورکولو وړتیا لرو، آیـا دا وړتیـا نه لرو چې په خپل کور کې سره کښېنو او خپلمنځـي سـتونزې حـل کـړو؟ دا تـوان زموږ په ولس کې موجود دی، یو له بل سره به کښیني، تفاهم به کوي او د سـتونزو د حل لاره به پیدا کوي.

که د دوو متخاصمو ډلـو تـرمنځ جنـګ وي، ثالـث بـالخیر خلکـو منځګـړي تـوب کړی او منځګړیتوب یې نتیجه هم ورکړې ده.

د دواړو خواوو (حکومت او طالبانو) سره به یو پر بل نیوکې موجود وي، خـو نیـوکې

دومره لویې نه دي چې هغه د حل وړ نه وي. یو له بل سره به کښېنو او هیواد به په ګډه جوړوو. د سولې لپاره به په ګډه کار کوو، که سره یو نه شو، ورکیږو.

که ولس سره یوځای شو، او بیا هر لوري ته ورشو، غوښتنې او نظریات تبادله شي، د دې لپاره عملي کار کول اړین دی، او د سولې لپاره به ولس په ګډه کار کوي، خیر که موږ قرباني شو، زموږ اولادونه خو به په سوله کې ژوند ولري.))

د حاجي خطیب له پورته خبرې سره پوره توافق لرم او موږ په دې باور لرو چې یوه ورځ به په افغانستان کې سوله راځي، موږ به د سولې قرباني کیږو، ولې غواړو چې راتلونکي نسلونه مو په سوله او ارامۍ کې ژوند ولري.

غونډې ته د هلمند ولایت څخه د راغلو کسانو په استازیتوب حاجي احمدشاه خان وویل :

(( دلته ناست خلک د دوه ډوله پېښو/ تجربو لرونکي دي، یو مو سپین ږیري او پوخ عمره خلک دي چې د ۳۸ کلنې جګړې شاهدان دي، او بل مو ځوانان دي چې د تیرې ۱٦ کلنې جګړې شاهدان دي.

زموږ ستونزه دا ده چې نه د ۳۸ کلنې جګړې څخه زموږ مشرانو زده کړه وکړه او نه یې عبرت واخیست او نه هم زموږ ځوانانو د ۱٦ کلنې جګړې څخه زده کړه وکړه او نه یې عبرت واخیست.))

پورته خبره مهمه او له عبرت څخه ډکه وه چې حاجي احمدشاه خان وکړه، رښتیا ده چې موږ افغانان ولې له تیرو پېښو زده کړه نه کوو، په کار ده چې له تیرو ناخوالو عبرت واخلو، په غزني ولایت کې د پولنډ هیواد پوځیان د پي آر ټي په چوکاټ کې دنده درلودله، هغوی په جګړو له خلکو سره زښت چلند کاوو، غوښتل یې سیمه تر کنټرول لاندې ونیسي او د پېښو ګراف را کښته کړي، ولې په هیڅ ډول هغوی ونه توانېدل، همدغه د ختیځې اروپا کوچني هیواد هم غوښتل چې د خپلو پوځیانو په تیروتنو او ناکامیو باندې څیړنه ولري، غوښتل یې په سیمه کې

پوښتنې وکړي چې کومې تیروتنې د دې لامل شوې چې پولنډي پوځیان ونه توانېدل چې هلته د پېښو او بریدونو مخنیوي وکولای شي، او کوم لامل وو چې افغانانو له پولنډي پوځیانو سره مرسته ونه کړه، بلکې هر افغان هغوی ته یې د دښمن په سترګه کتل.

موږ چې ۳۸ کلونه په جګړو کې لګیا یو، تر دې مهاله کوم معیاري او قوي څیړنیز مرکز هم نه لرو، چې هغوی وښيې چې د جګړې اصلي لامل او د جګړو د دوام باعث څه دی، اوکه چیرته اشخاصو د جګړې لاملونه په ګوته کړي هم دي، نړیوالو او افغان حکومت ورته توجه نه ده کړي.

حاجي احمدشاه خان وویل : (( نور ولسونه د خپلو هیوادو د ښه والي او پرمختګ لپاره کار کوی، موږ د خپل هیواد د بربادۍ په فکر کي یو.

د هیواد د خرابۍ پړه یوازې پر حکومتي خلکو نه اچوو، ولس هم پکې شریک دی، همدا ولس دي چې حکومت جوړوي، که چیرته فاسد حکومت وي، ولس یې پر ضد راولاړیږي او اقدام کوي.

پخواني افغان مشران خو نن نشته، هغوی مړه دي، نن همدا تاسي مشران یاست، پخوانیو مشرانو هیواد راته ساتلی وو، نن زموږ دنده ده چې د خپل هیواد څخه ساتنه وکړو.

موږ ولسونه یو چې ځانونه مو په قوم، سمت او ژبې ویشلی دی، که چیرته موږ ولسونه اتفاق وکړو، هغه پنځه کسان چې یوه ورځ مو تذکره نه مني بله ورځ افغانیت نه مني، هغوی ته وایو چې تاسي څوک یاست چې دلته اوسیږي او بیا زموږ د هویت په اړه ناسمې خبرې کوئ[1].

[1] د نویو افغان پېژندپاڼو اړوند د پښتنو او ځینو تاجک وروڼو ترمنځ پر دي جنجال روان وو چې د تاجکو ځینو سیاسي معامله کوونکو مشرانو ویل چې په پېژندپاڼه کې د افغان کلیمه ونه لیکل شي، ځکه دوی فکر کوي چې افغان یواځې د پښتون لپاره مختص نوم دی.

دغه ډول د سولې ږغ بايد په نورو ولايتونو کې هم پورته کړو، او د نورو ولايتونو د خلکو باور هم قوي کړو.

داچې امنيه قومندان نن ورځ اعتراف وکړ او وايي چې په موږ کې خاليګاوي شته، ماته نوي خبره ده، پخوا دا خبره چا نه کوله، ويل يې چې موږ نه يو ملامت، موږ هر څه ښه کړي دي، موږ ښه خلک يو.

موږ کولای شو چې د يوې سمې طرحې سره دواړو خواوو (حکومت او طالب) ته ورشو، که همدا نن دغه ډله خلک طالبانو ته ور روان شو، طالب موږ نه وژني، طالب زموږ ورور، زموږ د اکا زوی، زموږ وراره او زموږ خوريې دی، زموږ خبرو ته غوږ نيسي، ولي چې موږ نه يو ورغلي، دا زموږ ملامتي ده.))

دغه ډول رغنده څرګندونې د ولس لخوا سولې ته اميدونه پيداکوي، د حاجي احمدشاه خان خبرې رښتونې وي، طالبان د سيمې او ولس خلک دي، د همدې خلکو خپلوان نږدې قريبان دي کوم چې په کليو او ښارونو کې ژوند کوي، داسې ډيری طالبان شته چې د هغوی نږدې دوستان به په افغان حکومت کې لوړ پوړي چارواکي وي، له طالبانو سره اړيکې هم دولتي سړی او هم ولسي- خلک په ډيره اسانۍ سره نيولای شي، او طالبان هم هغه څوک دي چې خپلې غوښتنې هر چاته وايې، په کار ده چې د طالبانو پر ځينو غوښتنو غور وشي.

د هلمند ولايت حاجي احمدشاه خان وويل : (( تر څو ځان الله ﷻ او د الله ﷻ دين ته تسليم نه کړو، ستونزې به وی، په يوه اسلامي هيواد کې چې اسلامي احکام نه تطبيقيږي، هغه هيواد او خلک به د بربادۍ خواته ځي، اوسمهال په افغانستان کې نه شريعت لرو او نه قانون، کوم چا عمل ورباندي کړی؟

زورواکان په خپله خوښه ځان ته قانون جوړوي، په هغوی نه شريعت او نه قانون تطبيقيږي، دوی د ځان په ګټه د مقابل لوري په زيان له ځانه قانون جوړوي.

که شريعت عملي شي، بيا به نه غلا، نه تښتونې او نه هم رنځونه وي، دا ټولې

ناخوالې د شريعت د نه تطبيق له امله موږ ته راپېښې دي.

دابه ممکن وي چې ځان ته يو څوک قناعت ورکړي، چې تر نن ورځې مې کوم کار کړی، نتيجه يې ورنه کړه، غلطي راڅخه شوې، زه بايد نور له چوکۍ ليرې او دغه ځای بل لايق ور کس ته پرېږدم، هغه چې تر ما په کار ښه پوهيږي او کار هم کولای شي.))

يوه لويه ستونزه همدا ده چې زموږ پخواني سياستوال او پخواني د حکومت کارکوونکي نه غواړي چې کار اهل کار ته وسپارل شي، نه يواځې حاجي احمدشاه خان بلکې دولس ځوان استعدادونه هم سر ټکوي، ښې بېلګې يې د هيواد پوهنتونونه دي، چې بالاخره ډاکټر غني د يوه فرمان له مخې پخواني او زاړه شوې هغه استادان چې تقاعد شوې په کور کينول، هغوی کله هم نه غوښتل چې د دوی د خوښې خلاف نوي ځوانان چې ماسټري او دکتورا سندونه لري، هغوی دي پوهنتونو کې د استادي دنده ولري.

په وزارتونو کې همدغه حال دی، او سياستوال بيا ويره لري چې نوي ځوانانو ته ددوی هر عمل معلوم دی، که دغه ځوانان واک ته ورسيږي، د دوی سياسي ځواک ته زيان رسيږي.

ښاغلي احمدشاه خان ډير عاميانه مثال وړاندي کړ، ويې ويل: (( که کمپيوټر د نابلده کس په لاس ورکړو، خرابوي يې، که بس موټر د بزګر په لاس ورکړو او پنځوس کسان پکې ورسره سپاره کړو، چپه کوي يې، هم موټر خرابوي او هم خلکو ته مرګ ژوبله اړوي.

تر څو چې د سولې لپاره تر خپلو شخصي- ګټو تير نه شو، سوله به مشکل وي، راځئ نور د ملي ګټو په نظر کې نيولو سره تر شخصي ګټو تير او سولې ته ژمن واوسو.

تير وختونه هم زموږ هيواد له سختو ستونزو سره مخ شوی، مګر زموږ مشرانو هيواد ته نجات ورکړی، موږ هم بايد د خپلو نيکونو په ډول هيواد وساتو.

که فکر کوو چې هيواد په بهرنيانو ساتلای شو، داهيڅ امکان نه لري، پښتو متل دي وايې چې (پيشو د خدای لپاره موږک نه نيسي)، والله که يو څوک له امريکا څخه راشي چې زموږ غم ورسره ه وي، او زموږ پر سر د مهرباني لاس ونيسي، چې دلته ترهګر دي او تاسي وژني. بلکې ځان ته يې ښه ژوند برابرکړی او موږ په اور سوځوي.

امريکايانو چې په اولو وختونو (۲۰۰۱) کې پر افغانستان حمله وکړه، دوی ويل چې موږ د هوا څخه په ځمکه ۵ انچه شي وينو، دا خبره رښتيا ده، دوی په خپل قول کې صادق دي.

د دوو کورونو په منځ کې کور کې کوټه به يې وويشتله، د کوټې ديوالونه به نه وو نړيدلي، د کندهار د مېل پله لاندي يې موټر ويشتلي وو.

مګر زموږ د ولس د واده پر خلکو بمبارد کوي، بيا وايې چې موږ نه دي ليدلي، دا کار يې زموږ د ګټې که خرابي لپاره دی؟ چې زموږ ولسي خلک راته وژني.

موږ د امريکا مرسته نه غواړو، د دوی لخوا د خپل هيواد ابادي نه غواړو، که موږ په يوه ورځ ټول افغانان په اور کې سوځو، پرواه نه لري، خو تاسي امريکايان زموږ له هيواده ووځئ، راڅخه ولاړ شئ، نور مو تاسي په کار نه ياست.

دلته تر ۵۰ د زياتو هيوادونو مرستي او خلک راغلل، د دوی په شتون کې تاسي وليدل چې په اساسي ډول دي کومه لويه فابريکه په هيواد کې جوړه شوې وي؟))

زه د ښاغلي احمدشاه خان د خبرو په تايد وايم چې د کجکي د برېښنا بند په هيواد کې تر ټولو لوی د اوبو بند دي، او ډيره برېښنا توليدوي، په تيرو ۱۶ کالو کې نه خو په اساسي ډول ورغول او جوړ شو، او نه هم پراختيا ورکول شوه، د پاچا ظاهر په وخت کې کندهار او لښګرګاه کافي بريښنا درلودله، د طالبانو په وخت کې کافي بريښنا وه، ولي د نړيوالو په راتګ سره کندهار او لښکرګاه هم د بريښنا له سختو ستونزو سره مخ دی.

احمدشاه خان د خپلو خبرو په دوام وويل : (( د پاچا ظاهر او سردار داوود خان

په وخت کې موږ په ټول هیواد کې په لویو لارو کې ۹ تونلونه درلودل، مګر په تیرو ۱۵ کلونو کې امریکایانو او نورو بهرنیانو نه داچې کوم تونل جوړ کړي، بلکې د سالنګ تونل دننه سړک یې راته جوړ نه کی، ځکه موږ ته اساسي کار نه کوي وایې چې افغانستان په پښو ونه دریږي تر څو یې خلک زموږ غلامان و اوسي.

بهرنیانو ځینې ټانکونه او وسایل چې افغانستان ته یې راوړي وو، هغه یې بیرته پاکستان ته ورکړل، که د دوی سره د افغانستان د خلکو د مرستي خبره وای، نو بیا یې ولي دا نظامي تجهیزات پاکستان ته ورکول.

امنیتي ترون له امریکا سره وشو، په کونړ د پاکستان توغندي راشړل کیدل، سړي، میرمني او ماشومان مو شهیدان شول، د کونړ ځنګلونو اور واخیست، خو امریکایانو نه داچې مرسته یې ونه کړه، بلکې ویل یې چې موږ هیڅ هم نه دي لیدلي. په ځمکه ۵ انچه کوچنی شي ویني خو د پاکستان توپونه نه ویني، امریکایان پري ړانده دي، زموږ ګټه والله که د خارجیانو په شتون کي وي.))

د امنیت د خرابیدو اړوند د امریکایانو د دوه مخې خبري یوازي حاجي احمدشاه خان نه، بلکي ولس او سیاستوال یې په ګډه کوي، کله چې بهرني پوځیان د کونړ له ځینو غرنیو او ډیورنډ لیکې ته نږدې سیمو څخه، دا ډول د ننګرهار د ګوشتې له هغو سیمو وتل چې د ډیورنډ لیکې سره نږدې یې پوستې او اډې درلودلي، هغه یې پاکستاني پوځیانو ته په واک کې ورکړي، او د دوی له املـه ده چې پاکستاني پوځیان نور هم زړور شوو، او په وروسته وختونو کې یې د ډیورنډ لیکې د افغانستان لور ته نورې سیمې هم لاندي کړي.

حاجي احمدشاه خان وویل : (( راځئ یو بل ته لاس ورکړو، د نورو تر پلونو (وریجو او غوښو) مو خپله وچه ډوډۍ او شړومي راته ښه دي، همدا اوس په نشه یي توکو د روږدو کسانو شمیر مو تر دري میلیونه اوړي، نه یې په زندان کې ځایوالي شو او نه کوم بل ځای ورته لرو چې مخه یې ونیسو.

د بهرنیانو په غوښتنه او خوښه مو د خپلوځوانانو څخه د مواد مخدر د کارکوونکو په نوم زندانونه ډک کړل، خارجي ته نه شو ویلای چې تاسي ولي دلته د کوکنارو کښت کنټرول نه شو کړلای، ولي مو په تاریاکو د معتادینو مخه ونه شوای نیولای، داسي فکر کیږي چې د نشه یې توکو په قاچاق کې د بهرنیانو لاس دی، دوی یې قاچاقوي، دوی ته یې ډېره زیاته اقتصادي ګټه رسیږي، د تاریاکو څخه د هیروینو جوړولو لپاره تیزاب او کیمیاوي مواد دوی جوړوي او را لیږي یې، موږ خو په افغانستان کې کیماوي مواد نه شو جوړولای.))

هو د هلمند د قومي مشر داخبره سمه ده چې د نشه يي توکو د قاچاق په تور ډېر عادي کسان نیول کیږی، لوی قاچاقبر خپله په حکوم کې دي او یا خو د حکومت د لوړ پوړو چارواکو له خوا مرسته ورسره کیږي، د دې لپاره چې نړیوالو ته نمایش وړاندي کړي، ځینې عادي د تاریاکو خرڅوونکي نیسي، زندان ته یې وړي او بیا له جریمې سربیره تر لس کلونو زیاته موده د بند سزا ورکوي، لوي قاچاقبران خو اول نیول کیږي نه، که ونیول شي بیا یې واسطې تر ولسمشر۔ او د کابینې تر وزیرانو پوري وي، هغوی یې د خلاصون په لټه کي وي.

ښاغلي احمدشاه خان وویل : (( موږ ټول سره پوهیږو چې حکومت له ولس څخه نه دی خوشاله او ولس له حکومت څخه نه دی خوشاله، یوازي ورځ تیروو.

سمه ده چې له طالب څخه به ګیله من یو، مګر په نوره دنیا کې چیرته ۵۰ سلنه د واک شریکولو حکومت موجود دی، که وي نتیجه یې ورکړي، او که یوازي دغه کار پر موږ افغانانو عملي کیږي.

د حکومت یو کس والي ټاکي بل یې مرستیال، او بیا نو والي او مرستیال یې د یو بل خبره سره نه مني، ځکه یو د ډاکټر غني او بل د ډاکټر عبدالله کس وي.))

د حکومت کمزوري او دوه سري د سولې هڅې ټکنۍ کړي، د حاجي احمدشاه خان په خبرو ور زیاتوم چې د افغان حکومت د دوو مشرانو (ډاکټر غني او ډاکټر

عبدالله) ترمنځ دولتي چوکۍ ۵۰ سلنه ویشل شوې، نیمايې والیان د ولسمشر لخوا او مرستیالان یې د اجرايوي مشر لخوا ټاکل کیږي، او پاتې نیمايې والیان بیا د اجرایه رئیس لخوا او مرستیالان یې د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي.

نیمايې وزیران د ولسمشر لخوا او مرستیال وزیران یې د اجرایه مشر لخوا ټاکل کیږي او پاتې نیمايې یې بیا د اجرایه مشر لخوا معرفي کیږي او مرستیال وزیران یې ولسمشر ورته ټاکي.

همدا ډول لوی ریاستونه اوپه ولایتونو کې چوکۍ هم ګډې وډې ویشل شوې، همدغې کړنې د کارونو په پرمختګ کې خنډ پیداکړی، ځکه د ډاکټر غني د ډلې والیان او وزیران دهغه غوښتنې په نظر کې نیسي-، خو دهغوی مرستیالان بیا د ډاکټر عبدالله او شمال ټلوالي غوښتنې په نظر کې نیسي.

دا ډول که وزیران او والیان د ډاکټر عبدالله د ډلې وي، دهغوی مرستیالان یې د ځینو کارونو مخه ځکه نیسي چې د ډاکټر غني د ډلې غوښتنې ترلاسه شي.

حاجي احمدشاه خان پوښتنه وکړه : (( که خبره د ونډو وي د جنوب لویدیځې حوزي ونډه په حکومت کې چیرته ده؟ موږ خو واک تاسي ته درکړ چې کار اهل کس ته وسپارئ، مګر په ټوله جنوب لویدیځ حوزه کې د کار لپاره اهل سړی تاسي پیدا نه کړلای شو، او حکومت مو خپلو منځو کې سره وویشی، د ټولې حوزې څخه یو د اوبو او بریښنا وزیر لرو، چې د ټولې حوزې لپاره یو کس درکړي بیا نو څنګه دا حکومت کیدای شي، او له طالب سره د واک په کوم ډول ونډې خبره کیدای شي؟

زموږ د دکتورا او ماسټري سند لرونکي کسانو ته دنده نه ورکول کیږي، خو داسي کسان شته چې د تعلیم ټیټه سویه لري مګر دوی وزیران کړي دي.

راځئ په ګډه هم طالب او هم حکومت ته ورشو چې د سولې او امن لپاره کار وکړو.))

حاجي احمدشاه وروستي خبره ډیره ستوغه وه، هلته ډیری دولتي مشران او

چارواکي ناست وو، ویې ویل : (( مرگ د افغانستان پر دښمنانو او مرگ پر دغو خلکو چې په واک کې دي او خپل وطن پر بل خرڅوي!))

په غونډه کې د هلمند د خلکو د گډونوالو په استازیتوب یو بل تن حاجي احمدشاه جهان د اهل تشیع ورونو څخه وو، هغه ته د خبرو نوبت ورکړل شو، ویې ویل :

(( جگړه د افغانستان د تباهۍ او ورانۍ سبب شوې، په جگړه کې دواړو لوروته افغانان وژل کیږي، زموږ د هیواد زرگونه کسان ووژل شول او لا هم د جگړې قرباني کیږي، د کندهار څخه چې د سولې کوم ږغ راپورته شوی ، موږ ورسره ملگري یو.

د تاریخ په اوږدو کې مو نړیوالو لویو قوتونو ته خپله قهرماني ورښودلې ده، راځئ سره یو شو، د سولې په برخه کې هم قهرماني وښیو.

هغه مخالف وسلوال چې د افغان ولس سره جگړه کوي، دوی زموږ ورونه دي، د همدې کندهار، هلمند، زابل ، ارزگان او نورو ولایتونو خلک دي، ورسره کینو او مذاکره ورسره کوو، کوشش به وکړو چې د جگړې د دریدو لپاره قناعت ورکړو، ځکه دواړو لورو ته زموږ افغانان وژل کیږي.

جگړه د بهرنیانو لخوا پرموږ تحمیل شوې، تر څو چې سره یو موټی نه شو، همدا د جگړې اور به دلته بل وي، راځئ موږ افغانان سره یو موټی شو، د سولې او ارامۍ لپاره یو بل ته لاسونه ورکړو.

زموږ گاونډیان، سیمه او نړۍ موږ متحد کیدو ته نه پریږدي، افغانستان د دوی د ناوړه موخو او خپلو شومو موخو ته د رسیدو لپاره یې زموږ هیواد ډول ډول خیړنو ترسره کولو لپاره مرکز جوړ شوی.))

د ښاغلي جهان پورته خبره سمه ده چې گاونډي هیوادونه، سیمه او نړۍ د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ته په کتلو سره غواړي دلته خپلې گټې خوندي وساتي، دوی نه پریږدي چې افغانان خپلو منځو کې سره کښینې او ستونزه حل کړي.

په بېلابېلو وختونو کې گاونډیو، سیمې او نړۍ د ځینو ډلو وسله وال او

اقتصادي ملاتړ کړی، او جګړو ته یې په افغانستان کې لمن وهلې ده.

ښاغلي جهان وویل: (( راځئ یو بل ومنو، سولې ته غاړه کیږدو، دغه ډول د سولې ږغ له نورو ولایتو څخه هم اوچت کړو، او ناستې نمایشي پاتې نه شي.

د سولې خبرې دي له مخالفو وسلوالو سره پېل شي، او موږ ته په کار ده چې نړۍ ته وښیو، څه ډول چې د جګړې په ډګر کې پیاوړي خلک لرو، همدا ډول د سولې په ډګر کې هم پیاوړي کسان لرو.))

هو! سمه ده چې پیاوړي کسان لرو، خو ښاغلي جهان ته وایم تر څو چې نړیوال او په ځانګړي ډول امریکا ونه غواړي چې د افغانستان جګړه په مسؤولیت سره ختمه نه کړي، دلته سولې ته کار کول به تر ډیره نتیجه ورنه کړي، او سولې ته په کور دننه په حکومت کې هغه ډول چې لازمه وي، لیوالتیا هم نه شته، دوی غواړي چې طالبان ورته تسلیم او یا د دوی سره په واک کې شریک شي.

خلیفه نوین د هرات مشهور روحاني مشر، په غونډه کې د هرات ولایت د ګډونوالو په استازیتوب خبرې وکړي، هغه ویل:

(( د لوی خدای ج ډیر زیات شکر دی چې دلته موږ سره راټول شوي یو، د کړیدلي ولس لپاره د ستونزو د حل لپاره د سولې ږغ اوچتوو.

کندهار ته د سولې په غونډه کې د ګډون بلنه راکړل شوه، ومې ویل چې موږ چمتو یو چې دغه ډول د سولې غونډې ته له هرات څخه په پښو راشو، ثواب پکې دی او د الله ﷻ رضا پکې شته.

له سولې سره پیوستون د الله ج او د هغه د رسول محمد ﷺ اطاعت دی، ځینې کسان په سوله کې خپلو شخصي ګټو ته زیان ګوري، ریښتیا خبره نه کوي، حقایقو ته غاړه نه ږدي او د زور خبرې کوي.

اسلام له حسد او تعصب څخه منع کړي، خلک یې یوالي او ورورولي ته رابللي دي.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ

ژباړه: یقیناً مؤمنان سره وروڼه دي، نو د خپلو دوو وروڼو منځ کې سوله کوئ.

الله ج فرمايي چې د اختلاف او تفرقي لاره مه اختياروئ د اختلاف او نفاق په لاره مه ځئ. که موږ د خدای ج په رسۍ منګولې ولګوو، له تفرقې او نفاق څخه ځانونه وساتو، سولې ته کار وکړو، د الله ج فضل او رحمت به زموږ نصيب شي.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ

ژباړه: او هغوی چې کافر شوي (ټول) يو دبل دوستان دي، که تاسي دا ونه کړئ نو په ځمکه کې به فتنه او لوی فساد وي. (۷۳) الانفال

د امريکا متحده ايالات، د اروپا مشترک بازار، مشترکه د يورو کرنسي، متحده عرب امارات او نور ملتونه يوځای شوې، او د يوځای کېدو خواته ځي، ولي موږ افغانان نه پريښودل کيږوچې متحد واوسو، ولي نه پريښودل کيږو چې خپل هيواد اباد کړو، ولي موږ بايد يو له بل سره جګړې وکړو، قتل او قتال وکړو، او پري نه ښودل شو چې سوله وکړو او خپل هيواد اباد کړو.))

په نړيوالو د ښاغلي نوين او ولس دغه ډول باورونه نهيلي کوونکي دي، او داخبره رښتيا هم ده، په ټوله نړۍ کې واړه او غټ هيوادونه د خپلو ملتونو او سيمه ييزو هيوادونو د يوځای کيدو هڅې کوي، غواړي چې لږکې په ډيرکيو کې مدغم شي، ولي په افغانستان کې د دي پرخلاف د ګاونډيو، سيمه ييزو او نړيوالو لخوا د افغان ټولنې د ويش هڅې کيږي، او غواړي چې لږکيو ته د ډيرکيو په پرته زيات واکونه ورکول شي، تر څو په افغانستان کې جګړه وي، او بهرنيانو خپلو موخو ته رسيدل د افغانانو د بي اتفاقۍ په نتيجه کې ګوري.

نوين د قران دا ايت قرائت کړ:

وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ

ژباړه: او تر خپلې وسې د هغوی (د مقابلې) لپاره ښه ځواک او روزل شوي اسونه چمتو کړئ چې په هغه سره هم دالله ج او هم خپل غلیم وویروئ او هغه نور له دوی پرته چې تاسي يې نه پيژنئ، يو الله ج يې پيژني. (٦٠) الانفال

(( الله ج وايې چې مسلمان دي قوي وي، کمزوری دي نه وي، دمسلمان قوت يوازې په نظامي بعد کې نه ده، بلکي په نورو برخو کې هم بايد مسلمان قوي وي، زموږ بچيان بايد له جهالت (بې علمي) څخه ووځي زموږ دښمنان نه غواړي چې موږ علمي پرمختګ وکړو او قوي شو.

که سوله او امنيت نه وي، علم به نه وي، جهالت به وي، موږ هغه وخت قوي کيږو چې عالم او متمدن يو، او د نن ورځي علوم په سم ډول زده کړو.))

د ښاغلي نوين خبره پر ځای ګڼم، په لوی لاس په تيرو وختونو کې او دا دي په تيرو ١٦ کلونو کې داسي هڅې وشوي چې د يوې ځانګړي سيمې خلک له تعليم څخه محروم پاتي شي، زموږ يو نسل هلکان او نجوني په جګړه کې رالوی او د تعليم څخه بې برخې پاتې شوو.

نوين وويل : (( د حج او اوقافو وزارت څو کاله مخکي اعلان وکړ چې ١٦٥ زره مساجد له دوی سره ثبت دي، داچې غير رسمي څومره مساجد شتون لري او له دوی سره ثبت نه دي، هغه له دي څخه ډير زيات دي.

آيا د هر عالم په قومانده يو تن نه دی، که علما وغواړي علما مرسته وکړي، هغوی رول لرلای شي، که د ټاکنو لپاره وړ او مناسب خلک په ښه کړي، نظام جوړولای شي، سوله راوستلای شي.))

زه د ښاغلي نوين د خبرو له يوې برخې سره موافق يم چې عالم ته احترام شته، افغان علماء په ټولنه کې ډير مهم رول لري، او د ټولنې په خلکو نفوذ هم لري، ولي ديته هم انديښنه لرو چې د علماؤ له بې اتفاقي هم موږ ته ستونزي جوړې شوي، همدا اوس هم يوه ډله افغان علماء د حکومت ترڅنګ ولاړ دی، او حکومت ته

مشروعیت ورکوي، او بله لویه ډله علماء مو لـه طالبـانو سره ملگـري دی، د حکومـت پر مشروعیت قایل نه دي، او د حکومت په مقابل کې جگړې ته جهاد وایې.

نورمحمد تره کي، حفیظ الله آمین، ببرک کارمل سره هم ځینـې علـماء سـوء وو، د هغوی نظامونو ته یې مشروعیت ورکـاوو، د ډاکټـر نجیـب الله پـه وخـت کـې خـو شؤون اسلامي چـې افغـان علـماء پکـې وو، ډیـر زیـات وو، هغـوی د ډاکټـر نجیـب حکومت یو مشروع اسلامي نظام باله.

د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ترمنځ د جگړو مشروعیت هم ځینـو علـماوو ورکاوو، دا ډول د استاد سیاف او استاد عبدالعلي مزاري تر منځ مذهبي جگـړو تـه هم د دواړو خواو مشرانو او علماوو د مشروعیت په سترگه کتل.

د طالبانو سره د پخوانیو مجاهدینو جگړې هم ورتـه شـکل درلـود، د هـرې ډلـې علماوو د بلې ډلې سره د جگړې کولو مشروعیت ورکاوو.

زموږ په علماوو کې هم لویه سـتونزه شـته، ځینـې یـې د خپلـو شخصيـ گټـو او واکونو ترلاسه کولو لپاره د بهرنیو پوځیـانو شـتون او پـه افغانسـتان کـې هغـوی تـه نظـامي اډې ورکولـو لپـاره دلایـل تـراشي، د هغـوی سره د ملگرتیـا لپـاره قـران او احادیث تحریفوي، او د امنیتـي تـړون پـه ورځ د امریکـا سـفیر تـر شـا بیـا روحـاني مشران حضرت صبغت الله مجددي او پیر سید احمد گیلاني هم د تړون او بهرنیـو پوځیانو د شتون په ملاتړ دریږي.

ښاغلي نوین وویل: (( یوازې په دې مجلس بسنه مه کوئ، موږ چې خپلو سـېمو ته ولاړ شو، هر یو د سولې سفیر شئ، خلک سـولې تـه راوبـولئ، مـه پرېـږدئ چـې خلک جگړه او جدل وکړي.))

په غونډه کې د هرات ولایت یو بل گډونوال حاجي نیک محمد اسحاق ته هم د خبرو نوبت ورکول شوی وو.

(( وروڼو! موږ له تیاروخخه راغلي یو، زمـوږ خلکـو خپـل وروڼـه او پلرونـه پـه وینـو

لږلي ليدلي، کورونه يې سوځيدلي ليدلي، کـه حکومـت دی او کـه د طالبـانو ډلـه ده، ستاسي او ستاسي له بچيانو څخه جوړ دي.

که طالب دی، که لوی ملاصاحب دی که کـوچنی ملاصـاحب دی، دا سـتاسي بچيان دي، ستاسي څخه دا ډله جوړه شوې ده.

نړيوالو او حکومت سوله راوستلای نه شوه، همدي مجلس همدي ولـس تـه مـې وړانديز دی، چې تر کوم وخت پوري لا تاسي بيده ناست يئ او ولي نـه راولاړيـږئ، په مسجد کې ستا ملا وويشتل شو، ووژل شو، د مشر له سره څخه يې لنګوټه درتـه ليري کړه، په وطن کې د انسان پـه  سترګه څـوک درتـه نـه دی قايـل، نـور نـو څـه درسره وکړي، څومره سپکاوی درته وکړي، د هغه بدو مثالوڅخه تيريږم، دلته يې نه يادوم، کومې ورځ  ته ګورئ او کله تاسي د سولې او امن لپاره راولاړيږئ.

هر ځای او په هره برخه کې زموږ په وطن کـې اور بـل دی، هـر کـال چـې راپـور وړاندي کيږي، نړيوال تاسي ته  فاسد ترين خلـک وايـي، داچـې پـه کورنيـو رسـنيو کـې مـو راپورونـه خپريـږي، او د فسـاد او لـه شرمـه ډکـې خـبرې کيـږی، هغـه خـو پريږدې،  تر دي نو نور کوم بد نوم شته چې راته وويل شي؟))

د ښاغلي اسحاق پر خـبرو ور زيـاتوم، کلـه چـې د بهرنيـو هيـوادو لـه خلکـو سره سړی کښيني هغوی فکر کوي چې افغانان ټـول غلـه او پـه فسـاد کـې ککړ خلـک دي، په داسي حال کې چې دلته زموږ په هيواد کـې غلااوفسـاد تـاريخي پيغـور او شرم وو، د غله د کورنۍ لپاره د هغه د قوم لپاره پيغور وو، د لويـديځوالو دغـه د غـلا او فساد فرهنګ چې تر ډيره بيا هم له لويديځ څخه د راغلو افغانـانو پـه وجـود کـې يې  نمو وکړه، اوس مهال يې زموږ افغان ټولنه ډيره بدنامه کړي ده.

حاجي اسحاق وويل : (( موږ په يوه او بل نوم نور دولتونـه ملامـت کـوو، زه او تـه ولي د دي جوګه نه يو چې خپل اولاد په خپله غيږ کې ونيسـو. ولي مـو د بـل لاس دومره اوږد پريښود چې دلته را ورسيږي، او زموږ پښې راقطع کړي.

دواړو لورو (حکومت او طالب) ته ځوک وژل کیږي، راځئ چې په ایمان یې ووایو، په رښتیا یې ووایو، دغه ژوند چې نن یې زه او ته دلته تیروو، دا به د غلامۍ ژوند نه وي؟))

ډیری افغانان د ښاغلي اسحاق په څیر په دي نظر دي چې اوسمهال د افغانستان سیاسي، پوځي او اقتصادي چارې د امریکا په لاس کې دي، او افغان حکومت د امریکا له غوښتنو او لارښوونو پرته په لویو مسایلو کې د پریکړو حق نه لري.

اسحاق وویل : (( د جرگو وثیقه خرقه مبارکه [1] له تاسي سره په کندهار کې پرته ده، موږ ولس د سر په قربانۍ درته حاضر یو چې د سولې په دغه کاروان کې درسره منډه وکړو.

سمه ده ستونزه د ټول افغانستان ده، خو وايي ځمکه هغه سوځي چې اور پري بلیږي، موږ په اور کې سوځیږو، په اور کې لولپه شوو، وریندار گانې مو لوڅې پښې له کوره د جگړو له امله تښتي، ناوي د واده جوړه اغوستي وه ، هغه یې راته شهیده کړه. دا ټولې ناخوالي زموږ د بې اتفاقۍ له امله دي، راځئ چې سره یو ځای شو،سوله وکړو، دخپل هیواد د امن او ابادۍ لپاره کار وکړو.

د بهرنیانو لخوا هر ډول سیاست دسیسه ده، له بل څخه دا تمه چې ستا کور به درته جوړ کړي،دا دمنلو نه ده،منطق یې نه مني.

که حکومت کولای شوای، په تیرو ۳۸ کالو، او یا به نړیوالو په تیرو ١٦ کالو کې هیواد راته جوړ کړی وای، مگر موږ یې پکې ووژلو او زما او ستا وریندار لوڅې پښې له کوره وتلو ته مجبوره شوه.

ځوانانو تاسي ته وایم، موږ داسي ملت نه وو، لکه اوس چې تاسي موږ گورئ، موږ خپل امام او ملا ته په احترام قایل وو، زموږ په وطن کې چا غلا نه کوله،زموږ

---

[1] د رسول اکرم ﷺ مقدسه چپنه، د کندهار دخرقې مبارکې په تاریخي مسجد کې د احمدشاه بابا مزار ته نږدې ساتل کیږي.

په وطن کې د هرچا عزت خوندي وو، ولې ناخوالو موږ نن دي حال ته رسولي يو، ستاسي ځوانانو به فکر دا وي چې په دي وطن کې به پخوا هم دغه ډول فساد او بې باوري وه لکه چې اوس يې تاسي گورئ، داسي نه وه، موږ يو عزيز ملت وو.

زه د هغوی نومونه نه اخلم چې په حکومت کې يې غلاوي وکړي، اوس د ډيرو شتو خاوندان دي، ولي هغه سړی چې غلايې کړي او ښه کور لري هغه هم په خپل کور کې په ارامه نه دی، هغه سړی چې کور يې بمبارد شوی او په خيمه کې ژوندکوي د هغه ژوند هم په ارامه نه دی، داځکه چې موږ په قوم، ژبې او سيمو ويشل شوې يو، تعصبات پالو، او يو له بل سره جگړې کوو.))

د فساد اړوند د ښاغلي‌اسحاق خبره پر ځای وه، د امريکا او ناټو په شتون کې ځينې پخواني د جگړو قومندانان (پخواني مجاهدين او پخواني پرچميان) ميلونران شوو، د ډيرو شتو خاوندان شو، او يو شمير يې بيلونران شوو، اوس غواړي د خپلو شتو پر مټ د افغانستان په اوسني او راتلونکي سياست کې مهم رول ولري.

ښاغلي اسحاق په لوړ اواز وويل: (( که هر څوک وايې چې زه ازاد يم، دلته ازادي نشته، راځئ يو بل ته د اتحاد اواتفاق لاس سره ورکړو، او سوله زموږ ټولو په گټه ده.

په ټوله نړۍ کې به زموږ د حکومت په ډول جوړښت نه وي، چې ۵۰ سلنه واک د يوه نفر او ۵۰ سلنه واک دبل نفر سره وي، بيا هم که موږ يې غيبت کوو، د چا غيبت کوو، زما او ستا د همدي خاوري بچی دی.

بې باوري زياته شوې، د حکومت او طالب يو پر بل باور نشته، راځئ چې موږ يې ترمنځ د باور جوړولو لپاره وگرځو او د باور جوړولو لپاره کار وکړو.

د يووالي لپاره کار کول اړين دی، دلته د هيواد د تجزيې لپاره پلانونه په کار لويدلي دي، زه فکر نه کوم چې دا هيواد به تجزيه شي، ولي موږ به د جگړې په اور کې سوځيږو.))

د هيواد د تجزيې هڅې کيږي، د ښاغلي اسحاق انديښنه پرځای وه، پخواني

شوروي اتحاد هم  په افغانستان کې د خپلو سرو لښکرو د شتون پر مهال او بیا له هغه وروسته د افغانستان د تجزیې پلان درلود، ترڅو دغه هیواد په شمال  او جنوب وویشل شي، او شمالي افغانستان به د روسیې ګټې خوندي کوي.

دا ډول اوسمهال جرمني هغه هیواد دي چې د افغانستان د ویشلو د طرحې ملاتړ کوي، د امریکا د کانګرس مهم سناتوران هم د افغانستان د تجزیې او یا په افغانستان کې د فدرالي نظام غوښتنه لري، دا ډول روسان هم له خپل پلان څخه نه دي په شا شوې.

داچې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې قومونه یو له بل سره د وروروليژوند لري، او کوم ځانګړی قوم  ځانګړي سیمې په واک کې نه لري، اسانه هم نه ده چې افغانستان تجزیه شي.

اسحاق وویل : (( چې د سولې لپاره نه ډالرو او نه پیسو ته اړتیا لرو، که موټر نه وي، په پښو هم دواړو لورو ته ورتلای شو، هم طالب هم حکومت ته خبره کولای شو، یوازې حرکت کولو ته اړتیا ده.

چې غوښي پسي وهي په لاس به درشي

چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نشته ))

په غونډه کې د زابل ولایت څخه د ګډونوالو په استازیتوب مولوي محمد یوسف ته د خبرو بلنه ورکول شوه، هغه په دې ورځ رنځور وو، پر ځای یې یو ځوان ملا چې تر ډېره د حکومت پلوي ملا تور پرې دی، را ولاړ شو، او هغه خبري وکړي، ویې ویل:

(( خبرې مې بربنډي دي، نږدې ۴۰ کاله کیږي چې زموږ خلک د ډیورنډ هغې غاړې (پاکستان) څخه د قومونو پر نومونو ویشل شوې او نتیجه یې جګړه ده.))

موږ پوهیدو چې دا ډول خبرې د سولې په غونډه کې ملا صاحب د چارواکو لخوا پر ده د مرحمت لپاره کوي، د پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد پرمهال افغان مهاجرو او مجاهدینو ته پاکستان ځای ورکړ، او نړیوالو ورسره مرستي کولي،

په کار نه ده چې تیر جهاد ته سپکاوی وکړو،او د خپل جهاد امتیاز پاکستان ته ورکړو، دا ډول د افغان ولس قربانیو ته باید په درنه سترګه وکتل شي.

پاکستانیان زموږ د قومونو مشران نه دی، داچې په خپلو منځو کې یو بل سره نه منو، دا ستونزه زموږ ده، که موږ د بل دلاس اله نه شو، ولي به یو له بل سره د قومونو پر سر جګړې کوو.

د ملا نوم د غونډې ویاند هم وانخیست، ملا وویل : (( چې افغانان د جنګ قرباني او خاشاک دي، پردی جنګ پر افغانانو تحمیل شوی. دلته د جهاد او قتال په تعریف هم ځیني خلک نه پوهیږي، یوازې جګړه کوي.

دا پړه به یوازې پر طالبانو هم نه اچوو چې هغوی سوله نه کوي، طالبان هم اوس پوه شوی چې جګړه پردۍ ده، یوازې قربانیان یې افغانان دي.

پر حکومت به هم دا پړه وراچوو، د سولې په نوم یې په میلیارډونو ډالر مصرف کړي، دوی څه کړي، آیا اوس د طالب د راتګ لپاره د افغانستان په داخل کې نړیوال ضمانت موجود دی، آیا د طالب د راتګ لپاره داخلي ضمانت موجود دی، د زابل ولایت د ولایتي شورا رئیس ښاغلی عطا جان دلته ناست دی، هغه شاهد دی، کوم طالبان چې حکومت ته راغلي، هغه بندیان شوي او له هغوی څخه په زندان کې نوکان ایستل شوې.))

هو! دملا صاحب پورته خبره رسنیو کې هم راغلي، راپورونه ورکول شوط چې د سولې شورا له خوا تر اووه سوه میلیونه زیاتې پیسې په تیرو کلونو کې مصرف شوي، ولي کومه نتیجه یې نه ده ورکړي، دا ډول په ځینو سیمو کې چې د طالب په نوم ځینې کسان د سولې شورا ته راغلي، له هغوی سره ناوړه چلند شوی.

زما د معلوماتو له مخې تر ډیره نمایشيـ طالبان په ولایتونو او مرکز کې جوړیدل، د طالب په نوم به یې د حکومت سره د یوځای کیدو اعلان کاوو، پیسې به یې د همدې ډلو مشرانو او همدغو طالب په نوم کسانو ته ورکول کیدي.

هیچا هم پوښتنه ونه کړه، هغه وسلې چې د سولې شورا ته د طالبانو په نوم

ورکول شوي، هغه څه شوي؟ هغه کسان چې تسلیم شوو، هغوی چیرته دي؟ هغوی څه ډول طالبان وو؟ د جګړې په کموالي کې یې څومره اغیز وو؟

ملا صاحب وويل : (( طالب په سوله ښه پوهيږي خو که زموږ دولت دا کار وکړي، تقاضا له دولت څخه نه کوو، ځکه سوله نه کوي، دا وايو چې خدايه دولت مو را اصلاح کړې. له حکومت څخه د سولې او امن تمه نه لرو، موږ علما يې بيخې ورڅخه نه لرو، همدغه ځوانان به د سولې دا لوی کار کوي، که الله ج وغواړي او د دوی په توسط سوله راولي.

وطن به پنجابيانو ته نه پريږدو، دوطن ساتنه به کوو، حب الوطن من الايمان، د عالم، سپين ږيری او هر چا فريضه ده چې د وطن ساتنه وکړو.

مرګ د الله ج په لاس کې دی، نه پنجابی او نه امريکايي موږ وژلای شي. ورونو را ولاړشئ، نور ساکت مه کښينئ.))

فکر مې وکړ که ملاصاحب په دې هم پوه شي چې زموږ د ځينو په نوم علماوو ستونزه دا ده چې پر حقايقو سترګې پټوي، همدلته افغانستان کې امريکايي او بريتانوي پوځيان شتون لري، د نړۍ د ۴۸ هيوادونو استخبارات پکې فعاليت کوي، همدغه په نوم علماء يې تر څنګ ولاړ او ورسره مرستندويه دي، او بيا هم موږ وايو چې له پرديو به د هيواد او خاوري ساتنه کوو.

ملا صاحب د الله ﷻ د کلام مبارک ايتونه وايې خو پر ځان يې له عملي کيدو څخه تيښته کوي.

ملا صاحب دا ايت مبارک تلاوت کړ:

﴿وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ﴾

او هيڅکله به نه يهود درڅخه راضي شي او نه نصارا تر هغو چې د دوی د دين تابعداری ونه کړې. (۱۲۰) البقرة

**من تشبه بقوم فهو منهم – حدیث**

څوک چې د کوم قوم سره مشابهت کوي، دهغه قوم څخه دی

(( د پاکستان قانون د انگریز دی، د انگریز قانون پکی مروج دی، فلهذا دوی هم همداسي دي لکه انگریزان، زموږ دوست نه شي کیدای [۱].))

زموږ خبره همدي ښاغلي ملا او دده په څیر نورو علماء سوء ته دا ده چې راځئ هغه زموږ د خاوري او نیکونو اصلي دښمن انگریز چې اوس بیا راغلي، په گډه یې له خاوري وباسو، د پنجاب خبره پخواني کمونسټان کوي، هغوی غواړي چې د شوروي اتحاد سره د جهاد ویاړ له افغانانو څخه واخیستل شي، دا پخواني کمونسټان او اوسني امریکاپلوي غواړي چې امریکا سره د افغان ولس د جگړې ویاړ پاکستان ته منصوب کړي.

موږ وایو که پاکستان دومره قوي وي، له هند سره دي د کشمیر ستونزه حل کړي، دا افغان میړنی ولس دی چې د انگریز لښکري یې په دي خاوره کې په گونډو کړي، دا افغان میړنی ولس دی چې د پخواني شوروي اتحاد سرو لښکرو ته یې دلته ماتې ورکړی ده، او دا افغان میړنی ولس دی چې امریکا او ناټو ته یې په افغانستان کې د دوی د سر په کاسه کې اوبه ورکړي دي، همدوی هم ماتې خوړلي او ان شاءالله خپل پوځیان به زموږ له پاکې خاوري څخه باسي.

ملا صاحب وویل : (( نه د پاکستان ملگرتیا کوو، نه یې په مجالسو کې کښینو

---

[۱] مگر له مشابهت پرته د اصل انگریزانو پوځیان هم زموږ هیواد ته راغلي، دلته مو خلک راوژني، امریکایې او بریتانوي پوځیان زموږ ماشومان راوژني، خو دغه ډول دولتي امامان بیا دانگریزانو او امریکایانو د مړو په هغو مراسمو کې گډون کوي چې په ویر یې جوړ شوې وي، ځینې خو لاسونه هم ورته پورته کوي چې خدای ج دي درته وبخښي، او ځینې بیا د امریکایانو او بریتانویانو مړو ته شهیدان وایې.

د پاکستان د حکومت قانون به یواځي د انگریزانو لخوا جوړ شوی وي، ولي د افغانستان اوسنی اساسي قانون د امریکایانو او انگریزانو لخوا په گډه جوړ شوی دی.

او نه ورسره دوستي کوو، زموږ ماشومان د دوی د لاسه بې تعلیمه پاتې شوي او دلته یې تحمیلي جګړه شروع کړی ده.

طالبان پوه شوي چې پاکستان زموږ دښمن دی، چارواکي دي په دي برخه کې رغنده کار وکړي، یا خو دي طالب ته نړیوال او یا هم داخلي ضمانت ورکړي، داسي دي نه کوي چې د سولې له ۱۰۰ افغانیو څخه ۹۰ افغانۍ یې دوی په خپل جیب کې اچوي او ۱۰ یې د سولې په نوم مصرفوي [۱].

زه باوري یم چې طالبان سوله کوي، د کندهار د سولې له ږغ سره به ملګري یو، همدي ته به قوت ورکوو.))

د ملا خبرې ګڼې وډې وي، د سولې نه بلکې د نفرتونو د زیاتوالي‌خبرې وي، ترڅو چې علمای سوء د سولې خبرو په مجالسو کې ګډون ولري، ترڅو چې د سولې او جګړې د پریکړو اړوند اړه د علمای سوء فتوی او نظریات د حکومت له خوا منل کیږی، نه سوله کیږي او نه هم جګړه پای ته رسیږي.

زه یې نومونه اخیستل لازم نه ګڼم، په ارګ کې همدا علمای سوء د استاد رباني په څنګ کې یو وخت ناست وو، بل وخت یې بیا له طالبانو سره د اړیکو نیولو هڅې کولي، خو ښه وو، طالبانو همدوی پیژندلي وو، همدغه علمای سوء د پخواني ولسمشر- کرزي سره په ارګ کې کیناستل او هغه یې یو ملي زعیم او افغانستان ته نجات ورکوونکی ګاڼه.

همدغه علمای سوء دي چې نن د ولسمشر- غني په خوا کې ولاړ دی، او د جمعې لمونځ په ارګ کې د ثواب په نیت کوي، غني ته مفکر او د افغانستان د اقتصاد جوړوونکی وایي.

په غونډ ه کې د فراه ولایت د ګډونوالو په استازیتوب حاجي شیراغا لنډې

[۱] د سولې شورا په اړه ویل کیږي چې ډیرې زیاتي پیسې یې بېځایه لګول شوي او غلا شوي دي.

خبرې وکړي، ویې ویل :

(( د فراه له ډیرو خلکو سره مې خبرې کړی، هر سړی سوله غواړي، هغوی وایي چې نور زغم نه لرو چې هره ورځ د ولس پر ټغر د مړو فاتحې واخلو.

هر وخت د کندهار خلکو د هیواد د ناخوالو په له منځه وړلو کې رغنده رول درلودلی دی، د سولې او جوړې لپاره یې کار کړی دی، اوس هم په کار ده چې د سولې لپاره ډیر څه وکړي.

دوې خبرې کوم، هغه خلک دي له دي غونډې څخه مشخص شي چې طالبانو ته د سولې له پیغام سره ورځي.

د سولې د خبرو لپاره دي هغه ځای مشخص شي چې هغه د امن سیمه اعلان او د سولې دغې ډلې ته دي سیمه وسپارل شي چې له طالبانو سره په همهغه سیمه کې د سولې خبرې وکړي.

د امن سیمه دي داسي وي چې د طالبانو او حکومت خلک دي له وسلو پرته هلته تګ راتګ وکولای شي، د سیمې واک دي ولس ته وسپارل شي.))

په غونډه کې د بادغیس ولایت څخه د ګډونوالو په استازیتوب سناتورمحمد رنګین مشوانې وویل:

(( د نړی په هر کونج کې چې اور ولګیږي، توپان راشي، سونامي کیږي، هغه هره پېښه پای لري، ولي فکر به مې کاوو، چې یا الله ﷻ ! د افغانستان د جنګ پای به کله وي، تر کومه به دا مسلمانان وژل کیږي او ځوریږي، په کندهار کې د سولې ږغ امید راته پیدا کړی دی.

وړاندیز مې دا دی چې دغه د سولې حرکت ته دوام ورکړل شي ترڅو نتیجه هم پرې مرتب شي.

یو کمیسون دي د جرګې له خلکو څخه وټاکل شي، دنده دي ورکړل شي چې له دواړو لورو (طالبانو او حکومت) سره خبرې وکړي، د دواړو لورو خبري واوري

چې هغوی څه غواړي؟

خلک ټول له جګړې ستړي شوي او سوله غواړي، د طالبانو ډېر مشران پاکستان ونيول او هغه يې ووژل، ځينې طالب مشران يې په پاکستان کې بنديان دي، د افغانستان دننه طالب د ورځې او شپې تيرولو ځای نه لري، دلته خلک د بريدونو او چاودنو دلاسه د شپې مسجد ته نشي۔ تلای، اللهﷻ دې موږ له دې حالت څخه خلاص کړي، او اللهﷻ دې په هيواد کې سوله او ارامي راولي.))

د ښاغلي مشوانې پورته خبره پرځای ده چې سولې ته ليوالتيا شته، د ډېورنډ هغه غاړه پاکستان کې هم طالبان له سختو ستونزو سره مخ شوي او مخ دي، دا چې په خپله خاوره او نړۍ کې د ژوند کولو حق ورڅخه اخيستل شوی، هغوی تر بل هر چا ډېر سرګردانه او ناارامه ژوند لري، او تر بل هر چا سولې او امن ته ډېره ليوالتيا لري. هغوی تر بل هر چا د جګړې لوړ پور پرې کړی دی. د هغوی د ډېرو مشرانو او چارواکو ځوانۍ زندانونو وخوړې.

د غور ولايت څخه هم ځينې کسانو په غونډه کې ګډون درلود، په غونډه کې د غور د خلکو د ګډونوالو په استازيتوب حاجي نافع خبرې وکړې.

(( زموږ هيله دا وه چې جګړه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د لاري پای ته ورسيږي، پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په دې برخه کې کوشش کاوو چې د نړيوالو او سيمې په مرسته په افغانستان کې سوله راشي.

په تيرو دوو ورځو کې د خلکو نظريات د سولې اړوند راټول شول، په کار ده چې د هغو را ټولو شوو نظرياتو په رڼا کې مخکې ولاړ شو، که خدای ج وکړي چې سوله وشي.))

دغه سپين ږيری عالم حاجي نافع لا هم نه ده پوه، شواهد او ثبوتونه داسي دي چې امريکا په افغانستان کې د جګړې اوږديدل غوښتل، دا ډول ښاغلی حامد کرزی هم د سولې په مخ کې لوی خنډ وو.

ښاغلي نافع موږ ته یوه ورځ مخکي داهم وویل چې د سولې لپاره اړینـه ده چـې طالبان په زور سره مات شي، او تسليم شي.

د افغانستان د اځکزو د قوم مشر، د کندهار ولایت مخـور او درونـد قـومي مشر- څارنوالو محمـد عیسـی خـان تـر لـږ خـبرو وروسـته د سـولې چېغـې پریکـړه لیـک ولوست، هغه وویل :

(( فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ( نو د خپلو دوو وروڼو منځ کې سوله کوئ)

طالب او حکومت به ولي د ولس ږغ وانه وري او موږ او تاسي به ولي دا د سـولې کار پرېږدو؟

موږ ته دالله ﷻ له خوا امر دی چې تاسي د مسلمانانو ترمنځ سوله وکړئ .))

هو! د څارنوال محمد عیسی خان پورته خبره پر ځای ده، موږ ورسره توافق لـرو، که په رښتونې ډول ولس د سولې ږغ تر شا ودرېـږي، د سـولې پـه دغـه ډول هڅـو کې د افغان حکومت او پټو ادارو لاس نه وي، زه باوري یم چې دغـه ډول هڅـې بـه نتیجه ورکوي، ولي داسي هم نه ده چې دغه ډول ناستې دي پرتـه د افغـان دولـت له خوښي په دومره قوت سره وشي.

ولي په هر حال د سولې په برخه کې یو ښه پرمختګ ګڼـل کيـږي، او د دغسي- ناستو دوام د سولې په برخه کې مثبت تاثیرات لرلای شي.

څارنوال وویل : (( چې موږ او تاسي پوهیږو چې لوی کندهار [1] تاریخ جوړوونکي او ټاکونکي سیمه ده، د کومې مسئلې لپاره چې یې خلک راولاړ شوي، الله ج رحـم کړی او مثبت نتیجه یې ورکړې ده.

داچې له کندهار څخه دغه د سولې ږغ راپورته کېدل وځنډېدی، سبب يـې دا و چې موږ انتظار وو چې له نـورو ولایتـو څخـه څـوک راولاړيـږي کـه نـه؟ او کـه دغـه مشکل بیا هم ولس زمـوږ پـه غـاړه کـې را اچـوي، ډېـر انتظـار مـو وایسـت، ډېـرې

---

[1] په لوی کندهار کې خپله کندهار، هلمند، فراه، ارزګان او زابل ولایتونه راځي.

ستونزې راغلي او ډېر بچيان مو يتيمان شوو، ميرمنې کونډې شوې او ستونزې ترحد زياتې شوې، له ډېر انتظار وروسته مو مجبوراً دغه ږغ دا دی بيرته له کندهار څخه را اوچت کړ، ستاسي ټولو او د ټولو ولايتو له ولسونو څخه هيله لرو چې په ټينګ عزم زموږ سره ودريږي او د سولې د ږغ ملاتړ وکړي، تر څو د سولې دغه حرکت نتيجې ته ورسوو.))

زه د ښارنوال صاحب پر خبرو ور زياتوم چې اصلي ستونزه خپله کرزی و، هغه د کندهار ولايت اوسيدونکی دی، د هغه هڅه دا وه چې د پښتون قوم مشر- وپېژندل شي، او پښتون قوم داسي دی چې کوم څوک غلامي وکړي، پر هغه کله هم باور نه کوي.

اوس چې دغه ږغ له کندهار څخه راپورته شو، ماته تر ډېره د طالبانو او روسيې د اړيکو له امله ښکاري، امريکا او افغان دولت د طالبانواو روسيې اړيکو اندښمن کړي.

# پریکړه لیک

د سولې چېغه

(۱۶-۱۸ ډسمبر ۲۰۱٦)

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د افغانستان مسلمان او ځوریدلی ملت لـه څـو لسـیزو راهیسيـ لـه تحمـیلي او نامشرـوع جنـګ، نـاامنۍ او بې عدالتۍڅخـه کړیـږي او جګـړو د دوی دخـاورې زرګونه کورنۍ د غم پر ټغر کښینولي دي.

زموږ د هیواد اقتصادي او اجتماعي بنسـټونه یـې لـه منځـه وړي دي، او لـه دي تحمیلي ستونزو څخه لا هم ټول افغان ولس کړیږي.

بېلابېلو ملي او بـین المللـي اړخونـو ددې ستونزو دحـل لپـاره پـه مـلي اونړیوالـه سطحه هڅې کړي دي، خو متاسفانه تر اوسه یې محسوسه پایله نه ده ورکـړې، او پـر دي سربیره یې په ځینو مواردوکې یو شمیر هڅې له ناهیلۍ سره مخ کـړي دي. دغـو فشارونو له ولس څخـه د سـتونزو دهوارولـو تـوان اخیسـتی دی، او بـالاخره یـې ددې هیواد د اکثریت اوسیدونکي مجبوره کړي چې پخپله د سولې او ثبات د تحقـق لپـاره یو موټی شي، او ګډې هڅې وکړي، له دي امله د سـولې د چېغـې تـر عنـوان لانـدې دکندهار دجرګو په تاریخي ښار کې د درو ورځو (۲۵ – ۲۸ قوس ۱۳۹۵) په جریـان کې دکندهار، هرات، فراه، زابل، ارزګان، بامیان، غزني، بادغیس، غور او هلمنـد ګـڼ شمیرعلماء، روحانیون، قومي مخور، د خلکو اسـتازي، روشـنفکران او د نظرخاونـدان سره راغونډ شوې دي، تر بحثونو مفاهمې او تفاهم وروسته پر لانـدي ټکـو توافـق تـه سره ورسـیدل، چـې د افغانسـتان دخلکـو دغـه نظریـات بـه لـه افغـان حکومـت او د طالبانو دتحریک سره شریکوو او ددغو مسایلو دتحقق لپاره به پوره هڅې کوو.

**وړاندي شوې طرحې او پشنهادونه:**

اول: افغانستان یو اسلامي هیواد دی، موږ د دا ډول قوانینو غوښتونکي یـو چـې د اسلاميشریعت سره مغایرت ونه لري، که کوم قواعد، مقرارات او قـوانین چـې لـه

اسلامي شریعت سره مخالفت ولري، دهغو اصلاح غواړو.

دوېم: په هیواد کې د جګړو او وینې تویېدنې اصلي عامل د بهرنیو استخباراتي کړیوښکاره لاس وهنه ده، موږ د بهرنیو استخباراتي کړیود لاسوهني مخنیوی غواړو،موږ غواړو چې په هیواد کې د تصامیمو د نیولو لپاره یو ملي بستر وغوړوو، او په ملي سطحه به د پریکړو دصدور لپاره جدي هڅې کوو.

درېیم: د دولت لخوا په بېلابېلو اقتصادي، اجتماعي او انکشافي برخو کې کمزوري خدمات وړاندي کول د خلکو دنارضایتي یو له عمده عواملو څخه دی، موږ له دولت څخه د ښې حکومتولۍ ، متوازني اقتصادي پراختیا،په هره سیاسي او اداري برخه کې د هیواد د اتباعو اساسي حقوقو ته د احترام او د اداري فساد په وړاندي د جدي مبارزې غوښتنه کوو.

څلورم: په دولت کې د خاصو ډلو او کړیو لخوا دسیاسي ځواک انحصار ، امتیاز غوښتنه، قومي، مذهبي او ژبني اختلافات د ملت ترمنځ د ښو اړیکو لوی خنډونه دي، او دا باورونه له شرعي او اسلامي اصولو سره پوره ټکر لري. دهیواد له مشرتابه او مشرانو څخه غوښتنه لرو چې د دي ستونزو د له منځه وړلو لپاره جدي مبارزه وکړي.

پنځم: واقعي دوه اړخیز مذاکرات د کورنۍ جګړې او د سوء تفاهمونو د له منځه وړلو اصلي پایله ده، دحکومت او مخالفینو ترمنځ د خبرو کوونکو لپاره د یو واقعي ادرس شتون او تشخیص ډیر اړین دی، موږ له نړیوالې ټولنې، افغان دولت او طالبانو څخه جدي غوښتنه لرو چې یو مشخص ادرس رامنځته کړي، ترڅو وتوانیږو چې له مخالفینو سره مستقیمې اړیکې ونیسو.

شپږم: موږ د افغانستان اوسیدونکي هر ډول اختلافات چې د دښمن ګټې خوندي کوي ردوو یې، د سولې او عدالت د تامین لپاره د واقعي اقداماتو ملاتړ کوو، د ولس فریبي،جنایت او خیانتو په وړاندي دریږو، او بین الافغاني سولې ته د تګ او اسلامي ارزښتونو د ساتني لپاره جدي هڅې کوو.

اووم: د دغې ناستې ګډون کوونکي د طالبانو دلوړ پوړو او محلي چارواکو څخه غواړي چې د افغانستان دخلکو د رنځ او بدبختۍ شیبو ته د پای رسولو لپاره د پاک او سپېڅلي مسلمانانو په توګه لیڅې راونغاړي‌او په بین الافغاني خبرو کې ګډون وکړي، په دغه صورت کې به ولس په ټول توان ورته هرکلی ووایې.

اتم: موږ د اجرایوې کمیټې د جوړولو لپاره د کندهار په ګډون له هر ولایت څخه دوه تنه ټاکو، څو دافغانانو هغه ارمان پوره کړي چې د جانبینو ترمنځ مخامخ خبرې پېل شي.

خادم چې په رښتیا وي څوک د ملک او د ملت
ولس به یې پس له مرګه په مدفن فخر کوي

*****

دغه لویه او پرتمینه د سولې غونډه پر دوه بجې پای ته ورسیدله.

غوښتل مو چې په همدې ورځ مازیګر بیرته کابل ته راشو، ولي پرون ورځ لا ښاغلي صادق ویلي و چې تاسي دوه یا درې ورځې نور هم پاتې شئ، په کندهار کې به د ځینو قومي مشرانو او سیاستوالو سره ځانګړې ناستې ولري، دا ډول امنیه قوماندان هم غواړي له تاسي سره ځانګړی مجلس ولري.

موږ ومنله چې دوه ورځې نور هم پاتې شو.

مازیګر مهال بیا هم موږ عینو مینې ته ولاړو، د ګرځیدو لپاره یې پاکه هوا او پاک سړکونه، پارکونه په زړه پوري وو، په یوه ښایسته کور کې مو چای وڅښلي، د عینو مینې په یوه ځانګړې پارک کې مو په قدم وهلو ځانونه ستړي کړل، وروسته ځینو مارکیټونو ته ورغلو چې ویې ګورو، ماښام مهال بیرته منډیګک ماڼۍ ته ولاړو.

په همدې ورځ موږ هم ډیر ستړي شوي وو، بیا هم د شپې ۹:۳۰ بجې سردار محمد نعیم نادر زموږ کوټې ته راغی، د سولې په راتلونکو پلانو مو خبرې وکړي، او ومو ویل چې په کابل کې به کارونه همږغي کوو.

لږ وروسته امنیه قوماندان هم زموږ کوټې ته رانوتی، او د نن ورځې د غونډې، د قوماندان او والي پر خبرو مو تبصرې کولې.

## د امنیه قومندان عبدالرازق سره ځانګړې ناسته

د ډسمبر په ۱۹م سهار له چای وروسته د منډیګک مانۍ په حویلۍ کې ګرځېدو، د چاودنو درانه ږغونه واورېدل شول، وارخطا وو چې د سولې ضد کړیو د سولې له لویې غونډې یوه ورځ وروسته په قصدي ډول دا کار کړی وي. یو سپین ږیری حاجي صاحب وویل چې چاودنې په ښار کې شوې دي، په همدې ورځ امنیه قومندان هم تر اوسه نه و ښکاره شوی، نورې ورځې به هغه سهار زموږ پوښتنې ته راتلی.

موږ ملګري څکه خفه وو، چې چیرته هم د سولې ږغ کیږي، هلته ستونزې را ولاړیږي، لږ وروسته بیا ښاغلي صادق معلومات وکړل او ویې ویل چې امریکایانو ناچاودو توکو ته د ملاصاحب (ملا محمد عمر مجاهد) د پخوانۍ استوګنځای سره نږدې د غره په لمن کې چاودنې ورکړې دي.

نن ورځ دلته په منډیګک مانۍ کې ډیره ګڼه ګوڼه وه، قومي مشران ډلې ډلې راتلل او غوښتل یې چې له سردار محمدنعیم نادر او امنیه قومندان سره وګوري.

امنیه قومندان هم راښکاره شو، د باندې لمر ته په چوکیو کیناستلو، او لږ وروسته شین چای هم راوغوښتل شو. تر ډیره مجلس پر توکو ولاړ وو.

یوه سپین ږیري د امنیه قومندان ډیر زیات صفت وکړ، ویې ویل چې خدای ج دي زموږ له سره مه کموه، کندهار په تا جوړ دی، او ستا غوندي سړی بیا کندهاریان نه شي پیدا کولی. د امنیه قومندان یې له حده زیات صفتونه وکړل.

ما د سپین ږیرې له خبرو سمدستي وروسته قومندان ته وویل چې خفه نه شي، اوس خو خبره ده، په زړه مې راغله، تاسي ته یې هم کوم، قومندان وویل چې ښغمه، هر څه وایې، ستونزه نه شته، ومې ویل زموږ د خلکو ستونزه دا ده چې یو سړي ته د هغه اړوند په صفت کې ډیر زیاتوالی کوي، هغه ډول چې د چا شخصیت وي، تر هغه یې ډیر لوړ ښیې، ولي هر چا ته خپل ځان معلومیږي. زه دوه مثاله وایم.

زموږ یو ملګری دی، ډېر ښه سړی دی، هغه کله کله د ښاغلي ضعیف صاحب په مخکې وایي چې له ضعیف صاحب سره د دې لپاره ملګري کوم چې کله هغه جنت ته ځي او ما هم ورسره بوځي، اوس نو د دغه سړي دغه خبره څومره د ضعیف صاحب په حق کې بېځایه توصیف دی، ځکه خواتم خو الله ج ته معلوم دي، خدای خبر چې د محشر په ورځ به خپله د ښاغلي ضعیف څه حال وي.

د ډاکټر اشرف غني د حکومت تر یوه کال لږ زیات وخت تیر شوی و، له ډاکټر انوارالحق احدي سره ناست وم، هغه ویل چې له ډاکټر اشرف غني سره مې ژمنه کړې وه چې یو کال هیڅ هم نه وایم، اوس هغه وخت پوره شوی، پر دي غور کوم چې د حکومت په وړاندې د اپوزیسون جبهه جوړه کړم کنه؟

ښاغلي احدي وویل چې دوستان چې راشي هغوی ښه نظر لري، ما ډېر غټ ښېي او وایي چې ستا سره ډېر خلک دریږي، ډېر مې هڅوي، زه پوهیږم چې دا د هغوی حسن ظن دی، مګر ماته خو خپل ځان معلومیږي چې زه څومره وزن په ټولنه او د افغانستان سیاست کې لرم، نو لږ ډېر فکر پر دي مسئله کوم.

پوهیدم چې زما خبرې په قومندان بدې نه بلکې ښې ولګیدي، ما دا هم ویل چې هر سړي ته د خپل ځان وزن معلومیږي، په کار نه وي چې تر اندازې زیات یې صفتونه وشي، هغه سپین ژیری سړی دي هم خیر یوسي، بیا یې په وروسته مجلسونو کې دا ډول خبرې ونه کړي، خو زموږ مجلسونه یې په لوڅو او بیخونده مسخرو سره بې خونده کول.

مازیګر درې بجې وي چې خپله امنیه قومندان زموږ کوټې ته سر را دننه کړ، ویې ویل چې موږ او تاسي به مجلس کوو، خپل د بلې کوټې ملګري مې هم راخبر کړو، موږ یې د ماښې (میلمستون) په ودانۍ کې وګرځولو، له همدې ځایه یې د کندهار د ښار ځینې برخې راښودلې. امنیه قومندان به ډېر کله ویل چې دلته ملا صاحب (ملا محمد عمرمجاهد) اوسیدی، د هغه کور هم دلته و.

بیا یې موږ د ودانۍ بام ته وخیږولو، نږدې شاوخوا ټول کندهار ښار له دې ځایه معلومیدی، د ملاصاحب وروستي استوګن ځای ته یې اشاره وکړه، چې هغه ځای دی، دا ډول یې ځینې روغتونونه چې په کندهار کې جوړ شوي وو، موږ ته یې راوښودل. هغه کور چې په لومړیو وختو کې ملا محمد عمر اخوند پکې اوسیدی، اوسمهال خپله امنیه قومندان پکې اوسیږي، همدلته له منډیګک مانۍ سره تړلی ځای وو، هغه یې د لاس په اشاره راوښودی.

امنیه قومندان کله هم د طالبانو مشران او خپله طالبان زموږ ترمخ په بد نوم یاد کړي نه دي، او نه یې د حکومت مشران په سپک نامه یاد کړي دي. د نومونو په یادولو کې یې مشرانو ته احترام لیدل کیدی.

له بام څخه راکښته شوو، د اطاق لومړي سالون ته یې وروستلو، غوښتل یې هغه اطاق هم راته وښیي، دروازه یې بنده وه، او کیلي هم پیدا نه شوه، ویې ویل چې کله به پخوانی ولسمشر کرزي کندهار ته راتلی، همدا اطاق د وخت د ولسمشر لپاره دی.

موږ یې خپل د ناستې او شخصي کار کولو اطاق ته وردننه کړو، د ودانۍ دوېم پوړ دی، یو کوچنی سالون و، هلته پکې د قومندان لپاره او ورته مخامخ یې یو درې نفرې او بل هم یو نفرې چوکۍ (کوچونه) ایښودل شوې وو، د چوکیو په مخ کې واړه د میوې ایښودلو میزونه ایښې وو.

ویې ویل چې دا زما اطاق دی، هلته د سالون سره نښتی اطاق کې یو ښایسته چپرکټ هم ایښودل شوی وو، قومندان هغه ته هم موږ وردننه کړو، د اطاق پردې یې کش (راټولي) کړي، اطاق کې رڼا شوه، ویې ویل چې د همدې اطاق څخه درې لورو ته د باندې ساحه ښکاري، ریښتیا هم یوازې د دروازې او ودانۍ د عمومي لارې طرف یې بندوو، هلته به هم په دروازه کې پهره دار ناست وو، نورو دریو لوروته شاو خوا نږدې ساحې له همدې اطاق څخه ډیرې روښانه ښکاریدې، سمه ده چې

اطاق ته د لمر وړانګو او روښنايې لپاره به داسي ډيزاين شوی وی، ولي د دې اطاق د جوړښت لپاره امنيتي تدابير هم په نظر کې نيول شوې وو.

موږ پنځه ملګري او د قوموندان په ګډون شپږ، خو دلته چوکۍ د ۵ کسانو لپاره وي، استاد مزمل ته خو امنيه قوموندان ډير زيات ټينګ شو چې د قوموندان لپاره په ځانګړي چوکۍ کې کيني، همداسي وشول، زموږ درې ملګري په درې نفري چوکۍ کې کيناستل، يوه چوکۍ چې پاتې وه، هلته هم امنيه قوموندان نه کښيناست، او بيا له ټينګار وروسته زه کښيناستلم، د قوموندان سکرټر وروسته بله چوکۍ راوړه او قوموندان هم کښيناست، يوه بله چوکۍ مو د ښاغلي صادق لپاره راوغوښتله او سکرټر ته يې وويل چې ښاغلی صادق هم راپيدا او دلته يې راولي.

شين چای، او لږ وروسته د انارو داني په غابو کې زموږ مخکې ته کيښودل شوې، مجلس مو د مازيګر پر ۳:۱۵ پيل کړ.

د بحث موضوع تر ډيره دا وه چې سولې ته د رسيدو لاره په ګوته شي.

استاد محمد زمان مزمل وويل: (( په کابل کې څلور نظره دي:

۱ – د جګړې او زور خبره کيږي، چې مسئله د جګړې د لاري يو طرفه شي؛

۲ – په حکومت کې د شراکت خبره کيږي، چې طالبانو ته په حکومت کې ونډه ورکړل شي او په حکومت کې ورګډ شي؛

۳- دا چې طالبان دي همداسي منزوي پاتې شي، جګړې دوام ولري او طالب به له جګړو بالاخره په شا او مات شي؛

۴ – او بل نظر دا دی چې د اوسني نظام ځای دي لنډمهاله اداره ونيسي. لنډ مهاله اداره دي د طالبانو سره مخامخ د ستونزې د حل په موخه خبرې پيل او سوله وکړي.))

د استاد مزمل دخبرو په تايد؛ اوس هم يوه ډله لويديځ پلوه امريکا ته وايي چې د پوځي زور د لاري دي د طالبانو په سېمو کې د پرمختګ مخه ونيسي، او يوه ډله

پخواني مجاهدین بیا وایي چې طالبان دي په حکومت کې شریک شي، مګر یوه ډله قومي متعصب سیاسي معامله کوونکي بیا د طالبانو سره سوله نه غواړي او بهرنیانو ته وړاندیز کوي چې د طالبانو د منزوي کیدو لپاره زیات کار وکړي.

ولي ډیری افغانان او سیاستوال په دي نظر دي چې واک لنډمهالي اداري ته وسپارل شي، او لنډمهاله اداره د نړیوالو ملاتړ له ځان سره ولري، تر څو د افغان شموله نظام او حکومت لپاره همدا لنډ مهاله اداره زمینه برابره کړي.

ښاغلي احمد وحید مژده وویل :

(( حالت بل لور ته روان دي، روسانو پخوا هم غوښتل چې په مزار شریف کې د جرمني کونسلګري نه وي، هلته د جرمني هیواد لوی مرکز و، ویل کیږي چې د امریکایانو لخوا د منځنۍ اسیا د څارنې لپاره پکې ډیر قوي د څارګرۍ وسایل همدلته ځای په ځای شوي وو.

روسانو دا خبره له ایران سره هم شریکه کړي وه، ایرانیانو سره چې عطامحمد نور نږدې اړیکې درلودلي، او هره میاشت د ایران لخوا ۵ میلیونه ډالر عطامحمد نور ته ورکول کیدل، له دي کبله چې مزار کې لویه چاودنه وشي، د عطامحمد نور نوم پکې ډیر بدیږي، ایران موافق نه و، کله چې عبدالله عبدالله او عطامحمد نور [1] سعودي عربستان ته سفر وکړ، ایران ته اندیښنه پیدا شوه، چې سعودي عربستان به عطامحمد نور ته زیاتې پیسې منلي وي.

همهغه وو چې په مزار شریف ښار کې د جرمني په سفارت کې د طالبانو لخوا

---

[1] د پخوانۍ شمال ټلوالي مشرانو، د حکومت اجرائیه مشر- عبدالله عبدالله، د بلخ سرپرست والي عطاء محمد نورو او ځینو وزیرانو سعودي عربستان ته رسمي سفر درلود، او د سعودي عربستان د پاچا لخوا بلنه ورکول شوې وه (۱۷ اکتوبر ۲۰۱٦).

د سعودي عربستان سفارت ته نږدې افغان سرچینه وایې چې کله داکسان له سعودي څخه بیرته راوګرځیدل، په کابل کې د ایران د سفارت کسانومیلمستیا جوړه کړي وه، عبدالله عبدالله یې هم دعوت کړی وو، ښکاریدل چې ایرانیان په یاد سفر خفه وو.

ډېره قوي چاودنه وشوه، داسې ښکاري چې د یاد مرکز د کورډینېټ او نقشې په برخه کې به ایران له طالبانو سره مرسته کړې وي. د جرمني په کونسلګرۍ کې ټول مهم د څارګرۍ وسایل له منځه ولاړل، کوم واړه وسایل چې لږ خراب او یا پاتې وو، هغه خپله امریکایانو او جرمنیانو له منځه یوړل او د امریکا د څارګرۍ دغه مرکز نور په مزار شریف کې ختم او وتړل شو.

د روسیې او ایران ویره د داعش څخه هم ده، دوی فکر کوي چې امریکا او افغان حکومت د داعش پروژه مخکې وړي، او مخنیوی یې یوازې طالبان کولای شي.

د پاکستان په بلوچستان کې د بلوڅانو موضوع هم حساسه او مهمه ده، کوم چې هند مداخله لري. داچې پاکستان هر وخت پر افغانستان د بېلابېلو لارو فشار راوړلای شي، د افغانستان لپاره هم پر پاکستان د فشار یوه تر ټولو اسانه او مهمه لاره همدا د بلوڅانو ستونزه د پاکستان سره کیدای شي.

په کابل کې د سولې متفرق حرکتونه شته دي، د سولې راوستلو لپاره په کار ده چې د سولې حرکتونه سره یوځای او په ګډه د سولې لپاره کار وکړي.))

ښاغلي صادق بیا وویل: (( د امریکا او چین جګړه د ګوادر بندر [1] پر سر ده.

د سولې بېلابېل او اته ګروپونه د دې لپاره دي چې د سولې اهمیت له منځه یوړل شي.

نظامي طالب چې د هرې سولې ډلې ملاتړ اعلان کړي، هغه نتیجه هم ورکوي.

داعش په اردن کې را پیدا شوی، د داعش پروژه دومره قوي نه ده، د امریکا او ایران دښمني هم زیاته نه ده.

د دښمن تشخیص په کار دی، چې اصلي بازي (لوبه) کوونکی څوک دی؟ کومه د حل لاره ده؟

د امریکایانو سره یو ډله افغانان خبرې وکړي، دا ډول د چین سره هم خبرې

[1] ګوادر هغه بندر ده چې د چین او پاکستان ګډه پروژه ده، له کلونو راهسې یې د جوړولو کار روان دی، داچې د بلوڅانو په سېمه کې دی، له همدې امله وخت په وخت په سېمه کې بلوڅان ورته ستونزې جوړوي، او تر اوسه هم دغه لویه نړیواله پروژه کامیابه شوې نه ده.

وشي، چې په افغانستان او سیمه کې سوله د ټولو په ګټه ده.

د سولې حرکت به افغاني او نور هم ورپسې ټینګ کړو.

امیردوست محمد خان د انګریزانو پوځیان له خپلو اډو یو میل لیري دبانـدي نـه پرېښودل، ځکه بیا به یې جاسوسان پیدا کړي وای.

پاکستان په دې بوخت دی چې د قطر د سولې پروسه خرابه کړي.

کوشش کوي چې د کـوټې شـورا (د طالبـانو د رهـبري شـورا) لخـوا پاکسـتان تـه د سولې د هڅو امتیاز ورکړل شي، د پاکستان همدا غوښتنه ده چې ترلاسه یې کړي.))

هو! د ښاغلي صادق پورته خبره سمه ده، پاکستان له لویـه سره پـه قطـر کـې د طالبانو له میشتیدو او سیاسي فعالیـت سره مخالفـت درلـود، کلـه چـې پـه ۲۰۱۰ کې قطر ومنله چې طالبانو ته د سیاسي دفتر لپاره ځـای ورکـوي، هغـه وخـت هـم پاکستان ډېره هڅه وکړه چې د طالب مشرانو منځ کې اختلاف پیـدا شي او ځینـې طالب مشران په قطر کې د دفتر مخالفت وکړي.

پاکستان وغوښتل چې سعودي عربستان او افغان حکومت هم په دې هڅه کـې ورسره شریک شي، همداسي وشـول، ولې قطـر او طالبـانو د پاکسـتان د فشـار لـه کبله له خپلو هوکړو په شا نه شول.

امنیه قومندان عبدالرازق چې په غور یې خبرو ته غوږ نیولي وو، هر څه یـې اوریـدل، هغه وویل : (( د داعش په اړه د حکومت دومره زیات تبلیغـات وکـړل تـر څـو هغـه قـوي وښيې او د روسیې مرستې ترلاسه کړي، د طالـب څخـه د روسـیې او نـورو هیـوادو نظـر واړول شي، همدې بې حده زیاتو تبلیغاتو منفي تاثیر وکړ، او روسیه حساسه او شـکمنه شوه. نو ځکه روسانو له طالبانو سره اړیکو جوړولو ته ترجیح ورکړه.))

د امنیه قومندان لخوا پـه وار وار د روسـانو او طالبـانو اړیکـو پـه اړه اندیښـنـې یـو ډول سړی د کندهار د سولې هڅو اړوند شکمن کوي، اصل مسئله همـدا وه چـې د روسـانو او د طالبـانو د اړیکـو مخنیـوی څـه ډول ونیـول شي، روسـیې لـوړ پـوړو

چارواکو په خپلو څرګندونو کې ویلي دي چې  د داعش ملاتړ امریکا کوي، او په افغانستان کې د داعش ډلې په نوم وسله والو سره افغان حکومت مرستندویه دی، ولي افغان حکومت دغه ډول تور هر ځل رد کړی دی.

قومندان وویل : (( چې د پاکستان د بلوڅو موضوع ډیره حساسه ده، او هند هم نفوذ کړی، همدا سیمه به له پاکستان څخه ممکن یو وخت جلا  کړل شي.))

د هند نفوذ او د بلوچستان مسئله هغه څه ده  چې د کندهار امنیه قومندان په یاده موضوع کې لیوالتیا لري، کله چې اسدالله خالد د کندهار والي و، او قومندان رازق د پوله ساتو ځواکونو قومندان و، هغه وخت دا خبرې په کندهار کې کیدلي چې دوی دواړه په ګډه د پاکستان مخالفو بلوڅانو په پټه ملاتړ او مرسته کوي، ځینو باخبره سرچینو داهم ویل چې د بلوڅانو له پاره د افغانستان په خاوره کې د نظامي روزنې کیمپونه جوړ شوې.

بلوڅان د پاکستان څخه ازادي غواړي او د پاکستان په وړاندې یې وړې ډلې وسلواله مبارزه کوي، بلوڅانو پخوا له پاکستان څخه د ازادۍ اخیستلو لپاره سیاسي مبازه کوله، خو چې کله یې مشر بوګوټی د پرویز مشر د حکومت پر مهال ووژل شو، د بلوڅانو وړو وسلوالو ډلو د پاکستان څخه د جلاکېدو لپاره وسلواله مبارزه پیل کړې، د پاکستان لخوا ډیری بلوڅ مشران ووژل شول او په سلهاوو بلوڅان نیول شوې او بیا ورک شوې دي.

پاکستان د بلوڅو په ازادي غوښتونکو تور لګوي چې د هند لخوا مرستې ترلاسه کوي، او دپاکستان پر ضد تاوتریخوالی کوي.

پاکستان داسي تورونه هم لګولي چې د هند مرستي د افغانستان لخوا بلوڅو جنګیالو ته رسول کیږي، او په دي برخه کې د کندهار پخوانپ والي، د استخباراتو د پخواني مشرـ اسدالله خالد، د کندهار امنیه قومندان جنرال رازق او د استخباراتو بل پخواني مشرـ رحمت الله نبیل نومونه هم په ځینو مواردو کې د

پاکستاني سرچينو لخوا ياد شوي، چې د هند مرستې بلوڅانو ته رسوي او د پاکستان پر ضد د بلوڅو جنګياليو ملاتړ کوي.

د ډسمبر پر ۲۱مه ۲۰۱٦ په يوه ناسته کې د استخباراتو مهم مامور جنرال نازک وويل چې په ۲۰۱۰ کې مې په امريکا کې د امريکايانو سره دمجلس په اطاق کې پر ديوال يوه ټومبل شوې نقشه وليدله، په نقشه کې پاکستان نه وو، له امريکايې څخه مې پوښتنه وکړه، چې په دي نقشه کې ولي پاکستان نشته، هغه وويل چې ستا څه ډول دي نقشي ته فکر شول. ويل کيږي چې جنرال نازک له سي آی اې سره نږدې اړيکې لري، هغه وويل يو وخت به بلوچان تر ګوادره پورې سېمه په خپل کنټرول او واک کې ولري.

جنرال عبدالرازق وويل: (( چې طالب به د خپل زړه خبره د سولې کومې ډلې ته وکړي، ځکه پرې بې باوره دي، که پر کومه ډله باوري شي، ممکن د سولې اړوند د زړه خبره ورته وکړي.

که د کندز او هلمند جګړې نه وای، امريکايان وتل، د ملاصاحب [1] کور يې موږ ته سپاری، خو بيرته يې د ياد مرکز د سپارلو چارې وځنډولې.

د امريکا ولسمشر اوباما غوښتل چې ۸۰۰ امريکايې پوځيان په کابل کې د امريکا سفارت کې ولري، دا ډول د کندهار هوايې ډګر کې امريکا خپله

---

[1] کله چې په ډسمبر ۲۰۰۱ کې امريکايې سمندري ځواکونه د کندهار هوايې ډګر ته راغلل، د سي آی اې مرکزي کسان د کندهار ښار په څنډه کې د ملامحمد عمرمجاهد استوګنځي کې ځای په ځای شول، او تر اوسه پکې اوسيږی.

ياد استوګنځی د اسامه بن لادن طرحه وه، چې د القاعدې انجنيرانو لخوا يې نقشه جوړه شوې، ويل کيږي چې د دغې ودانۍ تر اصلي او بنسټيز بام وروسته د موټرو ټايرونه په تخنيې ډول په بام ښودل شوې، اوبيا وروسته نمايشي وروستی بام يې جوړ شوی، کله چې د امريکا لخوا د ۲۰۰۱ اکتوبر مياشت کې پر ياده ودانۍ توغنديز بريدونه وشول، بام به لړزه کوله، او راکټونه به د بام د لرزي د عکس العمل په نتيجې کې له خپل اصلي هدف څخه په لږ يا ډيره زاويه منحرف کيدل. والله اعلم

کونسلګري ولري.))

زما او د قوماندان اند په دې برخه کې توپیر لري، زما په نظر د طالبانو لخوا په کندز کې جګړې به د امریکايي پوځیانو د پاتې کېدو لامل نه وي ګرځېدلی، له همدې مخکې ولسمشر اوباما اعلان کړی وو، چې دوی به خپل محدود شمیر پوځیان په افغانستان کې پرېږدي، او تر ټولو مهمه دا ده چې د کندز تر نیولو وړاندې امریکا او افغان حکومت امنیتي تړون لاسلیک کړ، د تړون له مخې تر ۲۰۲۴ ز. کال پورې امریکایانو ته په افغانستان کې ۹ پوځي اډې (د باګرام هوايي ډګر، د شنډنډ هوايي ډګر، دکندهار هوايي ډګر، د جلال اباد هوايي ډګر، په هلمند کې د شوراو پوځي اډه، د کابل د ریشخورو هوايي ډګر، او په ګردیز کې پوځي اډه ) په واک کې ورکول کېږي.

قوماندان وویل : (( د سولې بېلابېل ګروپونه چې راټول شي او په ګډه کار وکړي، دا یو ښه کار دی او نتیجه به هم ورکړي.

زه کولای شم چې امریکایانو ته دا خبره وکړم چې د پوځیانو د وتلو د مهالویش اعلان وکړي.

سعودي عربستان هم ونه شو کولای چې د افغانستان د مشکل په حل کې رول ولوبولای شي او مشکل یې حل نه شو کړلای، د سولې اړوند د افغانانو هره پټه خبره به یې پاکستان ته کوله، اوس د پاکستان په اړه د سعودي عربستان فکر هم تغیر کړی.

د سولې دغه ډول غونډې به په څو ولایتونو کې وشي، موږ له عطامحمد نور، د ازبکو او نورو قومونو له مشرانو سره خبره کوو.))

په دې برخه کې چې په ځینو نورو سېمو کې هم ورته د سولې غونډې وشي، د امنیه قوماندان لیوالتیا زیاته وه، هغه چې د عطامحمد نور سره هم نږدې اړیکې لري، په وروستۍ ورځ یې وویل چې د هغه سره هم پر یاده مسئله خبره کوي.

قوماندان زیاته کړه : (( هغه به مو دا وي چې د سولې هڅې د نورو هیوادونو د

سفارتونو له مداخلې څخه وساتو.

موږ افغان ولس د روسیې، چین او ایران مداخله نه غواړو، دا خبره به د امریکا او نورو لویدیځو هیوادو سفارتونو ته هم وکړو.))

ستونزمنه به وي چې د امریکا له خوښې پرته دغسې لویې غونډې په کندهار او نورو ولایتونو کې وشي.

ما (لیکوال) ته ښاغلي صادق مخکې هم ویلي و چې (( امریکا غواړي د افغانستان څخه د وتلو یوه باعزته لاره ولټوي، او هغه منې چې له امریکایانو سره یې د یاد پروګرام په اړه په واشنګټن کې خبرې شوې دي، ښاغلي صادق د امریکا د ګانګرس د ډیر قوي سناتور جان مکین نوم هم واخیست، چې په دې برخه کې ورسره په اړیکه کې دی.))

قومندان وویل : (( د سولې د دغه ډول غونډو جوړولو لپار خپل امکانات لرو، خپل افغان تجاران او پیسې لرو، سفارتونو او نورو هیوادو ته په دې برخه کې مجبوره نه یو.

سوله اړینه ده، که زموږ ودانۍ له سرو زرو ډکه شي، خو چې سوله نه وي، هغه ټول سره زر او شته د بل دي.

موږ پر دې فکر کوو چې د کندهار ښار په عینو مینه کې په یوه ځانګړې سیمه کې ۸۰۰ کورونه، مدرسه او لوی مسجد جوړ کړو، دا هرڅه به طالبانو ته په واک کې ورکړل شي.))

د قومندان له خبرو ښکاري چې افغان حکومت په دې برخه کې کار کوي، د جنوري پر ۱۱مه د امنیت شورا غړي ماموندزي هم داخبره وکړه چې امنیت شورا پر دې کار کوي چې طالب مشرانو لپاره په اماراتو کې د هوسا استوګنې لپاره زمینه برابره شي، او کله چې مشران له پاکستان څخه ووځي، د جګړو شدت به هم کم شي، بل وړاندیز داوو چې د طالبانو مشرانو د کورنیو غړو ته په کور دننه د

خوندي ژوند کولو زمینه برابره شي. مشوره داشوه چې که ممکن شي د طالبانو مشرانو کورنیو او دوی ته په بهر (اماراتو یا بل عربي هیواد) کې د ژوند کولو زمینه جوړه شي.

داسي راپورونه شتون لري چې د اماراتو کوم ډیپلوماټان چې کندهار ته تللي وو، دهغوي دخبرو په اجنډا کې داهم وه چې د کندهار له محلي چارواکو سره پر دي هم خبري وکړي، چې په کومو سېمو کې مدرسي، مسجدونه او کورونه جوړ شي، تر څو بیا طالبان وهڅول شي چې د اماراتو په مرسته جوړو شوو ځایونو کې میشت شي.

جنرال عبدالرزاق وویل: (( د پخواني ولسمشر-کرزي په وخت کې موږ د ځینو طالبانو سره اړیکې درلودلي، د هغوی د مصارفو لپاره مو وغوښتل چې میاشتنۍ پیسې له حکومت څخه واخلو، موږ څو تنو خپل منځ کې خبره وکړه چې کرزي ته به ووایو چې د میاشتي دوه لکه ډالر راکړي، که دوه لکه یې ونه منل نو یولک خو حتما راکوي، کله چې مو کرزي ته د طالبانو سره د اړیکو خبره وکړه، او ورته مو ویل چې موږ د هغوی د مصارفو او خوشاله ساتلو لپاره باید هره میاشت ځانګړي پیسې ولرو، کرزي ته چې مو جریان ووایه او جزیاتو ته ولاړو، هغه ویل چې سمه ده، د میاشتي خو به ۴ لکه ډالر کفایت کوي، موږ ډېر خوشاله شوو، ځکه دا ډېرې پیسې وې.

همغه ۴ لکه ډالر د کرزي په وخت کې هره میاشت موږ یوې سرچینې ته لیږل، ډېرې ښې لاسته راوړنې مو درلودلي [1].

دا خبره پر ځای ده لکه د پاکستان په اړه چې خلک وایي چې قانون یې د انګریز دی، دلته په افغانستان کې هم ځینې خلک وایي امریکایان دي، او قانون هم امریکایي دی. د ځینو خلکو د هدف ګرځیدو لپاره همدا دلیل هم کارول

---

[1] د کندهار امنیه قومندان په اړه ویل کیدل چې د طالبانو د مشرانو د مجلسونو راپور ورته رسیږي او په طالبانو کې ډېر کسان لري. دا ډول ویل کیدل چې د ملاداداالله منصور سره هم نږدې اړیکې یې درلودلي.

کیږي چې تر امریکایي قانون لاندي کار کوي، او بیا ووژل شي. ))

امنیه قومندان په ښکاره د سولې پلوي او لیواله ښکاریدی، ولي داچې په وروستیو وختونو کې پر افغان دولت د سولې په برخه کې د ولس باور کمیږي او طالبان بیا له دوی سره په ناستو کې هر افغان ته وایې چې د سولې لپاره ولسي- فشار ته اړتیا ده، ولس باید په دي برخه کې په دواړو لورو (طالب او حکومت) باندي فشار راوړي.

دا به هم له امکان څخه وتلي خبره نه وي چې افغان دولت غواړي د ولس د ادرس په کارولو او له موقع څخه په استفادې سره په راتلونکې کې د سولې اړوند خپل وړاندیزونه افغانانو او نړیوالو ته ووایې.

داسي پټ راپورونه شته چې ډیر لږ طالبان په پټه د محلې ادارو له چارواکو سره اړیکې لري او مادي امتیازات تر لاسه کوي.

څرنگه چې بیا وروسته ښکاره شوه چې د پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد پر مهال ځینو مجاهدینو له روسانو او د هغه وخت افغان دولت سره اړیکې درلودلې، دا ډول ځینو مجاهد قومندانانو د ډاکټر نجیب الله په وخت کې له افغان حکومت څخه مادي امتیازات ترلاسه کول، ډیری یې په وروسته وختونو کې افشاء شول، ممکن د وخت په تیریدو هغه طالبان هم وپېژندل شي چې د افغان حکومت سره اړیکې لري او مادي امتیازات ورڅخه ترلاسه کوي.

استاد اسد وحیدي وویل: (( که د طالب او امریکا خبرې وشي، یو ډول پټ توافق وشي، محدود مهالویش امریکا په پټه ومني، طالب به هم څه ونه وایي.

ځینې شرایط په پټه دواړه لوري ومني، د یوې غټې غونډې په جریان کې شرایط اعلان او بیا اړخونه یې هم تایید او یا خو زرغون څراغ ورته ورکړي.))

د مازیگر لمونځ د مجلس په جریان کې تر ټولو مخکې امنیه قومندان په همهغه اطاق کي وکړ، بیا اسد وحیدي او ما هم وکړ. نورو ملگرو بیا وروسته په خپلو کوټو کې د مازیگر لمونځ ادا کړ. زموږ مجلس د مازیگر پر ۴:۴۵ پای ته ورسیدی.

# له کندهاره څخه کابل ته راتګ

د ډسمبر شلم سهار ، بیا هم په منډيګک ماڼۍ کې د لمر وړانګو ته ناست وو، په دې ورځ ډېر قومي مشران د امنیه قومندان لیدو ته راتلل.

د زابل ولایتي شورا مشر عطا جان (حق بیان) هم په همدې سهار امنیه قومندان سره د مجلس لپاره راغلی وو، او د کندهار د ولایتي شورا غړی حاجي احمدشاه خان هم ځینې نور کسان د امنیه قومندان سره د لیدنې لپاره راوستلي وو.

د شپې مهال هم په منډيګک ماڼۍ کې د موټرو او خلکو اوازونه اوریدل کېدل، او تیره شپه امنیه قومندان هم زموږ په اطاق کې له لنډ مجلس وروسته وویل چې ځینې دوستان نور هم راته منتظر دي ، هغوی سره مجلس لرم، همدا لامل به وو چې نن سهار امنیه قومندان هم ناوخته له خپله کوره راووتی.

داچې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه، نن عمومي مجلس ونشو، او له ځانګړو کسانو سره امنیه قومندان لیدنې درلودلي، ولې ځینې د کندهار قومي مشرانو له موږ سره د لمر وړانګو ته لیدنې او کتنې درلودلي، داسې ښکاریده چې ښاغلي صادق او امنیه قومندان غوښتل چې د کندهار د قومي مشرانو سره زموږ د نظر تبادله هم وشي.

یو مشر په پښو شل و، هغه یې د باسیکل په چوکۍ کې زموږ مجلس ته راوست، زړور او باحوصله ښکاره کیدی، له پېژندګلوي وروسته یې د ټوکې په بڼه سمدستي استاد مزمل ته وویل چې خپل مدعي مې پیدا کړ، او زما حساب له تاسي سره دی.

د سولې او افغانستان د ۳۸ کلنې جګړې او په ځانګړې ډول د وروستۍ ۱۶ کلنې جګړې پر ناخوالو او غمیزوبحثونه کېدل.

زه له مجلس څخه ځکه ولاړ شوم، چې عام بحث کیدی، او داچې هلته استاد مزمل او ښاغلي مژده د مشرانو په کتار کې ناست وو، د دوی شتون کافي وو، قدم مې واهه، چې سردار نعیم هم هغه لور ته راغی، موږ نږدې نیم ساعت مجلس وکړ.

د سولې اړوند عمومي بحث او د جګړې لاملونو باندې مو خبرې وکړې.

ماته په زړه پوري وه چې سردار نادر نعیم وویل چې امنیه قومندان کې دغه ډول بدلون تصادفي نه دی، هغه وویل : (( چې کله د طالبانو لخوا د ارزگان مرکز ترینکوټ ښار محاصره شو، جگړې وي، هغه وخت (سپټمبر ۲۰۱٦) د ارزگان جگړو ته د کندهار امنیه قومندان هم ورغی، هلته دوی ډېره مرگ ژوبله ولیدله، او ډیری ځوانانو خپل ژوند د لاسه ورکړ، ښکاري چې د ارزگان د جگړو په نتیجه کې امنیه قومندان دي نتیجې ته رسیدلي وي، چې جگړه د حل لاره نه ده، باید موږ سولې ته مخه کړو.))

په همدې ورځ مازیگر مهال چې کله موږ له امنیه قومندان سره خدای پاماني کوله، موږ په گډه امنیه قومندان عبدالرازق ته وویل چې د سولې دښمنان ډیر دی، تاسي به حوصله کوئ، کیدای شي په کندهار کې د سولې په مخالفت کې ځینې داسي پیښې وشي تر څو تاسي د سولې له دغه ډول هوډ څخه بیرته شاته کړي.

همهغه وو چې د ۲۰۱۷ کال د جنوري پر ۱۰مه د کندهار د ولایت په میلمستون کې دوه قوي چاودنې وشوې، د چاودنو له امله د کندهار والي مرستیال، د ولسي جرگې غړی، د سنا مجلس غړی، د متحده عرب اماراتو پنځه ته ډیپلوماټان، د کندهار د بهرنیو اړیکو رئیس او په واشنگټن کې افغان ډیپلوماټ ووژل شول، په ټوله کې ۹ تنه ووژل شول او ۱۳ تنه زخمیان شول.

په زخمیانو کې د کندهار والي او د متحده عرب اماراتو د افغانستان لپاره سفیر هم وو.

دمتحده عرب اماراتو سفیر بیا وروسته د سختو زخمونو له کبله مړ شو.

# پنځم څپرکی

## خبرې ناسته او طلوع ټلویزون

## خبري ناسته
## د سولې هڅې او خنډونه

۸ جنوري ۲۰۱۷- کابل

د ۲۰۱۷ ز.کال د جنوري پر ۳مه موږ درې تنه (اسد وحیدي، ډاکټر فیض محمد ځلاند او زه) مازیګر مهال کیناستلو، پر دې مو بحث وکړ چې د سولې هڅې او پر وړاندې یې خنډونه د یوې خبرې ناستې په جوړولو سره له خپلو خلکو سره شریکې کړو.

داچې د ۲۰۱٦ کال په ډسمبر کې مو په قطر کې له طالب استازو، امریکا سفارت او افغان امنیتي لوړ پوړو کسانو سره د افغانستان اړوند حالاتو باندې ناستې درلودلې، د پګواش -کابل غونډه شوې وه، په کندهار کې د سولې چېغې تر نامه لاندې نږدې درې زره خلکو د سولې اواز اوچت کړ، او پر ښکېلو لورو یې ږغ وکړ چې سولې ته د رسیدو لپاره بین الافغاني تفاهم ته کیني، د یادو غونډو د لنډې یادونې لپاره موږ پریکړه وکړه چې د جنوري پر ۸مه په کابل کې خبري ناسته ولرو.

هر ملګري ته د خبری ناستي اړوند کارونو تر سره کولو لپاره مشخص دنده ورکړل شوه، خو ښاغلی ځلاند ډیر له بیړې څخه کار اخلي، موږ داهم ویلي وو چې د جنوري پر ۵مه به بیاځلې ناسته کوو، تر څو ملګري د ورکړل شوو دندو راپور یو له بل سره شریک کړي، ونه توانیدو چې سره کښینو، په ډیره بیړه د کانټیننټل هوټل یو وړوکی سالون ونیول شو، تر څو د جنوري پر ۸مه هلته خبري ناسته ولرو.

ځینې مهم سیاسي، علمي او د سولې برخه کې فعال افغانان مو خبري ناستې ته را غوښتي وو.

د سولې هڅې او خنډونه تر نامه لاندې خبري ناسته د سهار پر ۱۰:۳۰ د قران کریم په تلاوت سره پیل شوه، له تلاوت وروسته د ډاکټر فیض محمد ځلاند د

سولې اړوند لنډې خبرې وکړي، هغه وویل: [۱]

(( د سولې بحث د ولس لومړیتوب دی، که د بیارغونې، پوهنې، روغتیا او یا هم د نړۍ د پرمختګونو خبره کوو، دا ټول په سوله کې دي.

موږ چې په قطر کې د طالبانو سره، په کابل کې د امریکا سفارت سره، د ملي امنیت له مشر معصوم ستانکزي سره کومې ناستې درلودلې، د یادو ناستو اړوند خبره کوو.

مزمل صاحب د حزب اسلامي مخکښ، حزب اسلامی په بنسټ او جوړښت کې رول درلودی، سنګر ته تللی، د مجاهدینو د خپلمنځي ستونزو د سولې لپاره یې هڅې کړي.

سید اسحاق اغا د قبرص[۲] او بن د غونډو ګډونوال او د سولې په برخه کې یې هلې ځلې کړي دي.

موږ په وروستیو کې د پګواش غونډو په تسلسل کې په کوردننه په خپلواکه توګه، افغان ځوانانو، روڼ اندو او مشرانو په اډانه کې د سولې په برخه کې ګڼې هلې ځلې او منډې ترړې درلودلې.

دوه ځلې زه خپله قطر ته تللي یم، یو ځل د پګواش غونډې ته او بیا د طالبانو په کوربه توب هلته تللی یم.

طالبان د سولې لپاره درې شرایط لري، له همدې وروسته بیا د سولې خبرې روښانه کوي.

د طالبانو تګلاره ډیره واضح ده، مګر د حکومت د لوري مو د طالبانو د همدې دریځ په وړاندي کومه تګلاره یا ستراتیژي نه ده لیدلې:

۱ – د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش خبره ده، دا د طالبانو په دریځ کې په تیرو ۱٦ کلونو کې تر ټولو ستر بدلو ن دی، په تیرو کلونو کې طالبانو فکر کاوو

---

[۱] د خبري ناستي د ویناوالو ویناوي ما (لیکوال) له ثبت شوو اډیو څخه را اخیستي دي.

[۲] قبرص جوړښت د ایران په مرستو د افغانانو لخوا تر بن کانفرانس څو کلونه مخکې جوړ شوی وو.

چې بهرني پوځيان بايد پرته لـه قيـد او شرط څخـه  ووځـي، اوس د وتلـو خـبره پرته له قيد شرط څخه نه، بلکې وايي چې مهالويش غواړو، کال، دوه کاله او يـا درې کـال او يـا څـو مياشـتې دي وي، طالبـان وايـې چـې د بهرنيـو پوځيـانو د مهالويش ټاکلو سره به موږ اوربند ته ځو.

۲ -  د طالبانو ادرس او د قطر سياسي دفتر په رسميت پېژندل د افغان حکومت او نړيوالو له خوا، طالبان دليل وړاندي کوي چې تر څو د دوي سـياسي دفـتر پـه رسميت ونه پېژندل شي، دوی نه شي کولای چې  د سولې مذاکراتو په رسـمي بحث کې برخـه واخـلي، نـه شي کـولای چـې د نړيوالـو او افغـان حکومـت سره خبره وکړي، نه شي کولای نورو  هيوادونوته  تگ او راتـگ وکـولای شي،  همـدا پـه سـياسي دفـتر کـې چـې کـوم طالبـان ناسـت دي، پـه  ځينـو يـې بنديزونـه لگيدلي، او په مستعار نومونو سفرونه کوي.

که طالبان ترکمنستان يا بل هيواد تـه سـفر کـوي، لـه گڼـو ادارو د دوی نومونـه تيريږي، چې اجازه وشي، بيا سفر کوي.

د قطر سياسي دفتر د رسميت پېژندلو تـر څنـگ د بنـديزونو، گرځبنـديز ليـري کولـو غوښتنه هم له افغان حکومت او نړيوالو څخه لري، ترڅو په دي برخه کې اساني راشي.

۳ – مهم بحث د افغان حکومت د سولې اړوند د دريغ معلوميدل دي، په قطـر کـې د پگواش غونډه، کابل کې د پگواش غونـډه او ځينـو نـورو هيوادونـو کـې  د سـولې غونډو کې موږ د افغان حکومت د سولې تگلاره نه  اوريدلي او نه هم ليدلي ده.

د پخواني ولسمشر کرزي په  وخت کې د سولې شورا د استاد رباني او د هغه له مرگ وروسته د هغه د زوی صلاح الدين رباني په مشري، د ډاکټرغني حکومت کې د پير سيد احمد گيلاني په مشری، ويې نه شـو کـولای چـې کومـه  لاسـته راوړونـه ولري، او ځانگړي تگلاره په څو ټکو کې له خلکو سره شريکه کړي چې مـوږ د دغـو ټکو په رڼا کې سوله غواړو.

سولې شورا طرف ونیوی، زموږ امید و چې د بې طرفه جوړښت په بڼه به په افغان حکومت، نړیوالو او طالبانو د یو ولسي فشار د رامنځته کولو په نتیجه کې سولې ته د رسیدو لپاره فشار وارد کړي، له بده مرغه چې د سولې پروسه د سولې په پروژه بدله شوه، د ولس هیلې یې مړاوي کړي، د نړیوالو سترګو ته یې خاورې وشیندلې، د طالبانو کومه تمه چې د سولې شورا اړوند وه، هغویی هم نهیلي شوو.))

زموږ په ګډون ډیر افغان سیاستوال د ښاغلي ځلاند له پورته خبرو سره هم نظره دي، فکر کیږي چې د سولې شورا بنسټ د سولې کولو لپاره نه بلکې د طالبانو د تسلیمیدو او حکومت سره یوځای کیدو په موخه کیښودل شوی و.

د سولې شورا رئیس یې د طالبانو سره د یو لوري د جګړې مشر- استاد برهان الدین رباني وټاکی، دا ډول د سولې شورا په جوړښت کې ډیر هغه غړي وو چې طالبانو سره په جګړو کې طرف واقع شوي او امریکایي پوځیانو سره د طالبانو د نظام له منځه وړلو لپاره په ګډه د طالبانو په مقابل کې جنګیدلی وو.

د سولې شورا کوم پیغامونه چې د کورنیو ټلویزونو څخه خپریږي، هلته طالبانو ته "ترهګر" ویل کیږي، او له هغوی څخه غوښتل کیږي چې وسلې په ځمکه کیږدي او له افغان دولت سره یوځای شي.

ښاغلي ځلاند وویل : (( بل مهم لوری چې سوله کې رول لري، خپله د امریکا او بهرنیانو موجودیت دی، موږ د امریکا سفارت کې ناسته درلودله، امریکایانو راته وویل چې د ټرمپ تر راتګ پوري هیڅ د سولې بحث ته کومه نوي خبره نه لري.

ټرمپ مسؤولیت لري چې خپله تګلاره د سولې اړوند روښانه او واضح کړي، د افغانستان د سولې لپاره بحث وړاندي کړي، اوباما په وروسته وخت کې وویل چې موږ طالبان په جګړه نه شو مات کړلای، د اوباما دا خبره چې طالبان مو مات نشوای کړای دوه دلیله لري:

لومړی: داچې د راتلونکې اداري لپاره د جګړې د غځیدو پیغام لري، په دي

معنی چې موږ طالبان نه دي مات کړي، تاسي يې مات کړئ؛

دويم: داچې طالب په جګړه نه ماتيږي، سولې ته  بايد زمينه برابره شي.))

د خبرې ناستي بل ويناوال د افغانستان د ملي پيوستون ګوند مشر سيد اسحق ګيلاني و:

ښاغلی ګيلاني په وروستيو وختونو کې د سولې په برخه کې ډير فعال ښکاري، دوی له ځينو مخکښو سياستوالو سره ليدنې کتنې کړي، د استاد سياف، يونس قانوني، عطامحمد نور، ملا عبدالسلام ضعيف او ځينو نورو مهمو اشخاصو سره يې د ليدنو پرمهال له هغوی څخه غوښتي چې د سولې راوستلو په لاره کې همکاري وکړي.

ښاغلي ګيلاني وويل : (( موږ د سولې لپاره رښتيا هم هڅې وکړي، لکه چې ښاغلي ځلاند وويل موږ د حکومت  لخوا ليوالتيا او د سولې برخه کې کومه پريکړه ونه ليدله، داسي چې په هغې زموږ زړه ښه شي،  د دوی ټول کوشش دا و چې د سولې شورا دا کار مخکې يوسي، مګر د سولې شورا څخه مخکې د سولې اړوند مسايل استخباراتي کيږي، تاسي ګورئ چې داستخباراتو مشران د سولې د خبرو لپاره نورو هيوادونو ته ځي، حتی قطر ته څو ځله دوی سفرونه وکړل، هلته يې له طالبانو سره ليدنې درلودلې، او پټې خبرې يې وکړي، چې کله خبره جوړه کړي وروسته له هغه يې د سولې شورا ته ورکوي، دا ټول هغه ناکامې هڅې دي چې د افغانستان خلک يې ورسره مخامخ کړي دي.

افغان حکومت به په دې ډول سياست باندی د سولې لپاره کامياب نه شي، سوله قرباني غواړي، طالبانو يو عجيب وړانديز درلود، موږ چې قطر کې ورسره خبرې وکړي، هغوی ويل چې موږ سوله کوو، خو له دغه اوسني حکومت سره نه ږغيږو، دې حکومت موږ ته دروغ ويلي دي.

اول دروغ دا و، مخکې له دې چې ډاکټر اشرف غني ولسمشر شي، هغه موږ ته پيغام راکړ چې زه به له امريکا سره امنيتي تړون نه لاسليکوم، کله چې واک ته

ورسید، په دوېمه ورځ یې ټرون لاسلیک کړ.

دویم دروغ دا و، چې ډاکټر اشرف غني دوی (طالبانو) ته پېغام ورکړی و، چې زه مخامخ له تاسي سره خبرې کوم، چې کله ډاکټر اشرف غني واک ته ورسید، پاکستان ته ولاړ، په غیر ډیپلوماټیک ډول د پاکستان د لوی درستیز دفتر ته ولاړ، هغوی (پوځیان) ورته جي ایچ کیو وایي، او هلته یې له هغوی نه د مرستې غوښتنه وکړه، د پوځ د لوی درستیز راحیل شریف نه یې وغوښتل چې تاسي په طالبانو فشار راوړئ چې زموږ سره د سولې د خبرو میز ته کیني.))

په ۲۰۱۳ کال کې ښاغلي ملا عبدالسلام ضعیف په کابل کې دننه له ځینو مشهورو افغان سیاستوالو سره ولیدل، د ډاکټر اشرف غني سره د ملاعبدالسلام ضعیف د لیدنې وخت زما (مطمئن) لخوا ترتیب شوی و، بیا موږ د ښاغلي ضعیف ناچاپ کتاب هم ډاکټر غني ته ورساوی.

وروسته زه خبرشوم چې ډاکټر غني له طالبانو سره مخامخ لیدنه کړې ده، او په لیدنه کې ډاکټر غنی له طالبانو سره ژمنه کړې وه، که ولسمشریزې ټاکنې وګټي، نو د امریکا متحده ایالاتو سره د امنیتي ټرون لاسلیک به وځنډوي، تر څو سولې ته لاره اواره شي.

دا ډول ډاکټر غني له طالبانو سره ژمنه کړې وه واک ته له رسیدو وروسته به مخامخ له طالبانو سره د سولې خبرې کوي.

ډاکټر غني واک ته له رسیدو وروسته له طالبانو سره یادې دوه مهمې ژمنې ماتې کړې، د خپل واک پر دوېمه ورځ یې له امریکا او ناټو سره امنیتي ټرون لاسلیک کړ، او پاکستان څخه یې وغوښتل چې طالبان د سولې مذاکراتو ته راولي.

ګیلاني وویل: (( طالبان هم افغانان دي، موږ مجاهدین هم له روسانو سره داسي نه کیناستو، یا له ډاکټر نجیب الله سره نه کیناستو که داسي شرطونه پکې وای، لکه اوسنی حکومت چې یې لري، او له پاکستان څخه غواړي چې طالبان د

سولې خبرو ته کینوي.

طالبان له دي منکر شول او خبرو ته نـه کیناسـتل، دا ټـولې هغـه تیروتنـې دي چـې هـم زمـوږ د حکومـت لخـوا کیـږي او هـم بعضيـ اشـتباهات د طالبـانو لخـوا کیږي.))

د ښاغلي ګیلاني د پورته خبرو اړوند ژور فکر کول په کار دی، د پخواني شـوروي اتحاد سره د جهاد مهال مجاهدین د ډاکټر نجیب الله حکومت سره لـه دي کبلـه خبرو ته نه کیناستل چـې هغـوی ویـل حکومـت واک نـه لـري او د شـوروي اتحـاد لاسپوڅی حکومت دی.

دا ډول د روسانو سره د ناستې اړوند هم مجاهدینو خپـل شرایـط درلـودل، چـې بیا وروسته په پاکستان کې د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو د وزیـر سره د مجاهـدینو د ځینو ګوندونو د مشرانو ناسته وشوه.

کله چې د سرولښکرو د وتلو د مهالویش هوکړه په ژنیو کې لاسلیکېدله، هلتـه د مجاهدینو استازو ګډون نه درلود، او د مجاهدینو په نیابت پاکستان لاسـلیک وکـړ، چې همدغه کار د کورنۍ جګړې د لاملونو څخه یو لامل هم ګنل کیږي.

ښاغلي ګیلاني وویل : (( تر څو هم طالبان افغـان ولـس تـه پـه واضـح ډول ونـه وایي، چې سوله غواړو، په څه ډول یې غواړو، زموږ پـه خـبرو بایـد یـوازې اکتفـا ونـه شي چې ګیلاني قطر ته ولاړ، له هغوی سره یې خبرې وکړې، او پیغـام یـې راوړ، دا پیغام د هغوی نه دی، دا د هغـوی خـبرې دي چـې زه یـې تـاسي تـه کـوم، ولي دا پیغام باید طالبان د افغانستان خلکو ته ورکړی چـې مـوږ څـه ډول سـوله غـواړو؟ د نړیوالو او بالاخره د افغان حکومت سره څه ډول سولې خبرې غواړو؟

طالبان باید وضاحت وکړي چې پـه راتلـونکې افغانسـتان کـې د څـه ډول نظـام غوښتونکې دي، د شریعت خبره کیږي، موږ ټول الحمد لله مسـلمانان یـو، پرتـه لـه شریعت څخه کیږي هم نه، د اوسني اساسي قانون اول پیل هم په شریعت دی.

سوله داسي نه ده چې موږ یوه غونډه جوړه کړو او سوله به روانه وي، هلې ځلې غواړي، زحمت به وباسو، قرباني غواړي، بالاخره د افغانستان د راتلونکي لپاره یوه ښه تګلاره غواړي، ترڅو خلک مطمین شي چې په دي لاره کې موږ نجات پیدا کولای شو.

دغه ورونه او خویندي چې مختلفو ځایو ته د سولې خبرو لپاره تللي او لیدنې یې کړي، د هغوی ستاینه په کار ده، چې په خپل ابتکار یې دا کار کړی دی.

د افغان حکومت لخوا، نه د ښاغلي حامد کرزي په وخت کې او نه هم اوس د ډاکټر غني په وخت کې داسي کوم څه شوې چې دوی غوښتنه کړې وي چې موږ به زمینه برابره کړو، یو ډله کسان دي د سولې خبرو لپاره ولاړ شي او له طالبانو سره دي لیدنې وکړي، حکومت هیڅ ډول لیوالتیا نه لري، موږ په کراتو افغان حکومت ته وویل چې موږ هیڅ ډول چوکۍ او منصب له حکومت او یا طالب څخه نه غواړو، یوازې د سولې هڅه کوو، مګر بیا هم زموږ هغه پېغامونه تر نن پوري بې جوابه پاتې دي.

سوله زموږ او ستاسي غوښتنه ده، غواړو یې، د هغې نه لاس نه اخلو، که څوک خوشالیږي او که خفه کیږي، کوشش کوو، الله ج دي د افغانستان خلکو او خاص ډول دغو کسانو ته توفیق ورکړي چې هڅې کوي، چې سوله راشي.))

سید اسحق ګیلاني د ۲۰۱٦ جنوري پګواش غونډه کې طالب استازو ته هم سختي خبرې کړي وي، همدغه غوښتنه یې وه چې د سولې اړوند باید طالبان روښانه تګلاره ولري او د تکراري خبرو او تکراري غوښتنو څخه ډډه وشي. ویل کیږي چې د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر مشر ښاغلي عباس ستانکزي یې جواب په زښتو او سختو الفاظو سره کړی و، نه یوازي ښاغلی ګیلاني، بلکې شهراني هم د پګواش غونډې پرمهال له دي امله خفه شوی وو چې د غونډې په جریان کې ښاغلي عباس ستانکزي ویلي و چې دا څه ډول حکومت دی چې زوی

او پلار دواړه وزيران وي، اصل کې د وحيدالله شهراني پلار نعمت الله شهراني د حج او اوقافو وزير او بيا د کرزي سترسلاکار وزير و، او زوی يې د ماليې وزير و.

دکتور عبداللطيف نظري د سولې اړوند په جزياتو خبرې وکړې، هغه وويل:

(( لومړی بحث دا دی چې د سولې اهميت ته په کتو، هيڅ هيواد پرته له سولې پرمختګ نه شي کولای، د هيواد رغونه او پرمختګ په سولې پورې تړلي دی. پرته له سولې به زموږ هيواد د دې وړ نه وي چې له ګاونډيو هيوادو سره د سيالي وړ وي.

ورځ په ورځ هيواد نيابتي جګړو له امله د خرابې او بد حالت لور ته ځي، زه فکر کوم له همدې کبله ده چې هيڅوک، هيڅ ډله د سولې مخالف به نه وي.

دويم بحث د جګړې کورني او بهرني عوامل دي، تر څو پرته له دي چې سياسي، مذهبي او سمتي تمايلات ولرو، د جګړې او ستونزو اصلي جرړې ونه پېژنو، موږ به د حل لاره پيدا هم نه کړو.

د جګړې کورني او بهرني عوامل شته دي:

لومړی: د بهرنيو پوځيانو شتون په نظامي برخه کې، ترڅو چې د بهرنيو پوځيانو شتون په افغانستان کې وي، موږ بايد ومنو چې په هيڅ ډول سوله نه راځي، موږ د بهرنيانو د غير نظامي او ملکي شتون مخالف نه يو، نه غواړو چې افغانستان يو منزوي او تجريد شوی هيواد وي، غواړو چې هيواد مو د نړيوالې ټولنې فعاله غړی وي، ولې د عمل خپلواکي يې په خپل واک کې وي، افغانان خپله د خپل برخليک لپاره پريکړې وکړي، نه داچې بهرنيان زموږ لپاره پريکړې وکړي.

زما په باور د جګړې يو اصلي عامل د بهرنيو پوځيانو شتون دی، بهرنيان دلته جنګ مديريت او مهندسي کوي او حتی د جګړې او بريدونو نقاط ورته مشخصوي، همدا يو ډېر مهم ټکی دی چې سياسي مشران او رسنۍ ورته توجه وکړي.

دوېم: یو طرفه او جانبدارانه سیاست دی، حکومت ونه شو کولای چې هغه ډول توازن چې باید په نړیواله کچه یې حفظ کړی وای او توجه ورته شوې وای، خپل کړي.

د افغانستان جیوپولیټیک او جیوستراټیژیک موقعیت ته په کتو سره د اټومي قدرتونو په څنګ کې پروت هیواد دی، که بېطرفه سیاست ونه کارول شي، او طرفداره سیاست وي، اتکا په یوه خاص ابر قدرت (امریکا) وي، موږ یې نتیجه ولیدله چې په مسکو [1] کې غونډه کیږي او افغانستان ته بلنه نه ورکول کیږي. د دغسي مسایلو په لیدو منطقه حساسیږي، نو افغانستان باید خپل جیوپولیټیک او جیو ستراټیژیک موقعیت ته په کتلو سره له جانبدارانه سیاست څخه ډډه وکړي، موږ داسي سیاست ته اړتیا لرو چې ملي ګټې په نظر کې ونیول شي، او له ټولو هیوادو سره د ښو اړیکو پر بنا وي.))

زه د ښاغلي نظري له خبرو سره موافق یم چې په تیرو ۱٦ کلونو کې د افغان حکومت بهرنی سیاست د امریکا د لارښوونو او ګټو په نظر کې نیولو محور باندي ولاړ و، بهرنی سیاست امریکا پوري تړلی سیاست وو، او نړیوال هم پر دي پوهیدل، اوس هم د افغان حکومت بهرنۍ تګلاره نه خو خپلواکه او نه هم بې طرفه ده، بلکې د امریکا د ګټو او غوښتنو پر محور ولاړه تګلاره ده. دمګړۍ (فبروري ۲۰۱۷) افغان چارواکي بې له دې چې له امریکا سره د افغانستان د

[1] د ۲۰۱٦ د ډسمبر پر ۲۷مه نیټه په ماسکو کې د روسیې، چین او پاکستان ګډه غونډه د افغانستان د سولې اواړوند مسایلو په اړه وشوه، غونډه کې افغانستان ته د ګډون بلنه نه وه ورکول شوي، او افغان حکومت له همدي کبله پر ماسکو نیوکې وکړي.

د ۲۰۱۷ د فبروري پر ۱۵مه په ماسکو کې د روسیې، چین، هند، ایران، پاکستان او افغانستان ګډه غونډه وشوه، د غونډې ګډونوالو لخوا وغوښتل شوو چې په راتلونکو غونډو کې د طالبانو استازي ته هم د ګډون بلنه ورکول شي.

د ۲۰۱۷ اپریل پر ۱۴مه ماسکو کې درېیمه غونډه وشوه، د غونډې ګډونوالو وویل چې جګړه د حل لار نه ده، باید له سیاسي لارو د افغانستان ستونزه حل او د طالبانو او حکومت ترمنځ مخامخ خبرې وشي.

مشارکت شرایط او تعریف شوي اهداف ولري، په دې تمه دي چې ډونلډ ټرمپ د افغانستان په تړاو خپل سیاست اعلان کړي.

(( درېیم: د جګړې عامل د بهرنیو هیوادو مداخله او نیابتي جګړې دي، داهم تر ډېره په دویم عامل پورې اړه لري، د سیمې هیوادونه چې کله د دوی له ګټو سره تعارض وګوري، ډېرې پیچلې نیابتي جګړې په کار اچوي، حتی داسي ترهګري ډلې لکه داعش پیدا کوي، او بیا د هغوی د ګټو لپاره کار ورڅخه اخیستل کیږي. بیا نو د هغوی رقیب هیواونه هم ارام نه کینی، هغوی هم غواړي چې په افغانستان کې نیابتي جګړه نوره هم پېچلې شي.

افغان ولس او د افغانانو ملي مناقع د همداسي جګړو قرباني کیږي، یو قوي مدیریت ته اړتیا ده چې د نیابتي جګړو څخه خلاصون پیدا کړو.

څلورم: کمزوري حکومتداري د جګړې لامل ده، دا یې کورنی بعد دی، تر څو چې فاسد چارواکې په واک کې وي، تر څو چې اجتماعي عدالت نه وی پلي شوی، ترڅو چې اقتصادي ستونزې وجود ولري، بیکارې موجوده وي، ځوان نسل مو بې روزګاره وي، هغوی مجبوره کیږي چې هیواد پریږدي، یا خو د حکومت پر ضد ودریږي او یا داسي ډلې جوړې کړي چې موږ ولیدلي چې په سلهاو وګړې یې د پردیو موخو ته د رسیدو لپاره قرباني شي، داسي کړنې نورې هم ستونزې زیاتوي، بهرنیان له دغسي- حالت څخه استفاده کوي، او زموږ د ولسونو ترمنځ منازعه پیداکوي. دا هرڅه یو ښه مدیریت ته اړتیا لري، ترڅو چې سالم مدیریت نه وي، فکر نه کوم چې سوله به راشي.))

غواړم چې د ښاغلي نظري پر خبرو ور زیات کړم چې د ۲۰۱۵ د ۲۰۱٦ کال تر پایه نږدې ۱٦۰۰۰۰ افغان ځوانان بهرنیو هیوادو ته په قاچاقي او نورو لارو ولاړل او له خپل هیواد څخه وتښتېدل، عمده لامل یې بیکاري او نا امني ګڼل کیږي.

په حکومت کې دندې د لیاقت پر بنیاد نه بلکې د خپلوۍ او ګوندي اړیکو پر

بنیاد ویشل شوي، هغه ځوان استعدادونه چې په حکومت کې د خپلوۍ او ګوندي اړیکې نه لري، هغوی د دندې پیدا کیدو پسې لا لهانده وي.

ښاغلي نظري د حل عملي لاري په لاندي ډول وړاندي کړي:

(( ۱ - دبهرنیانو د وتلو لپاره مهالویش اعلان شي، زما هدف پوځي شتون دی، موږ نه غواړو چې په ملکي برخه کې بهرنیان دي ووځي، موږ د نړیوالي ټولنې فعاله غړیتوب غواړو.

که یو بهرنی راځي موږ ته سرک جوړوي، د رغوني برخه کې کار کوي، پرته له دي چې په سیاسي برخه کې تاثیرات ولري، زموږ په انتخاباتو کې مداخله ونه کړي، د سیاسي نظام په جوړښت کې کار ونه لري، قومي تاوتریخوالي ته لمن ونه وهی، د هیواد په بیا رغونه کې مرسته وکړي، موږ ورڅخه استقبال کوو.))

د ښاغلي نظري د پورته خبرو اړوند زیاتوم؛ د ۲۰۰۹ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د پخواني ولسمشر- حامد کرزي او نړیوالې ټولنې ترمنځ نانددرې خطرناک حالت ته ورسیدی، او په ټاکنو کې د امریکا او بهرنیو هیوادونو لاسوهنې خپله ولسمشر کرزي افشا کولي.

د پوهنتون محصلینو ته د یوې غونډې پرمهال (سپټمبر ۲۰۱٦) حامد کرزي وویل چې د امریکا د لوړ پوړو چارواکو لخوا راته وویل شول چې په دربمه نړۍ کې د قانون تطبیق دا دي چې سیاستوال یو له بل سره جوړ جاړی وکړي.

نظري وویل: (( د بهرنیانو نظامي شتون، پوځي وجود او دلته یې نظامې اډې ډیره ښکاره ده چې زموږ د ولس په زیان ده، بیا نو ولي موږ د یو خپلواک هیواد په بڼه جهاد وکړ، ولي د انګریزانو په مقابل کې موږ پاڅون وکړ. داچې موږ وایو خپلواک هیواد یو، باید د خپل ځان لپاره خپله پریکړه وکړو، نه داچې بهرنیان زموږ د برخلیک پریکړې وکړي.

تر څو چې د بهرنیانو د وتلو مهالویش نه وي ټاکل شوې، سوله ممکن نه ده.

۲ – د مذاکراتو لپاره یوه بې طرفه او مصؤونه سیمه ټاکل دي، داچې طالبان یو ادرس ولري، ولس د خاوري اصلي مالک دی، دوی پریکړه وکړي چې یو بې طرفه مصؤونه سیمه د مذاکراتو لپاره په نښه کړي. دا کار بې طرفه مجموعه کولای شي، که په دولت یا طالب پورې تړلې ډله وي، هغوی سوله نه شي کولای. داسي ناپېلي ډله او ناپېلي سېمه چې د داوړو لورو د باور وړ وي، او جدي مذاکرات پېل شي، تاکید کوم چې بین الافغاني مذاکرات وي.

داچې موږ فکر کوو چې پاکستان، چین او یا امریکا به موږ ته سوله راوړي، هیڅکله هم نه، هغوی دلته متعارض منافع لري، خپل ځانګړې اهداف دلته لري، چې مذاکرات بین الافغاني وي او بهرنیان د تسهیل کوونکو رول ولري، زموږ سره مرسته وکړي، که بهرنیان په مذاکراتو کې ګډون ولري، سوله خرابوي، دا زموږ د ۱۵ کالو تجربه ده.

دا چې په بهرنیانو اتکا او او اعتماد وکړو چې موږ ته سوله راوړي، سمه نه ده، هغوی غواړي، قومي، مذهبي او ژبني مشکلات پیدا او مختلفي ترهګري ډلې تقویه کړي، تر څو افغانان یو بل نور هم سره ووژني، همدا اوس هم دغسي واقعات وینو.

۳ – د واک انحصار باید نه وي، که غواړو چې سوله وشي، ټولي سیاسي ډلې د افغانستان په تشکیل او جوړښت کې باید رول ولري، د یوې ځانګړې ډلې او یا مجمعي په لاس کې واک نیول ولس د ستونزو سره مخ کوي.

داچې موږ ټولو خپلو منځو کې جګړې کړي، او نړیوالو لیدلي او ټول پوهیږي، دواک د ویش پروسه باید په عادلانه ډول باندي صورت ونیسي، راځئ نوی حرکت پیل کړو، پخوانۍ دښمنۍ هیرې کړو، هغه د یو عبرت په ډول ومنو، هر څوک چې ښه رول لوبولای شي، باید د هیواد په جوړونه او جوړښت کې یې رول لوبولو ته د اهمیت په سترګه وکتل شي، که یوه لویه او اوږده لاره په نښه کړو، موږ پري تګ کولای شو. او کولای شو چې عادلانه اوتلپاتي سوله ولرو.))

ښاغلي احمد وحید مژده د خبرې ناستې په ترڅ کې وویل :

(( د سولې اواز چې هر ځای راپورته کيږي، یو ښه کار دی، څو ورځې مخکې په کندهار کې د سولې چيغه وشوه، زه يې هم له ملګرو سره غوښتی وم، اول ځل وو چې ومې ليدل، هغه کسان چې پخوا هم له طالبانو سره په جګړه کې ښکيل وو، هغوی هم دې نتيجې ته رسيدلي وو چې دا جګړه بې فايدې ده، هغه کسان چې د طالبانو سرسخت دښمن په نوم پيژندل کيږي، هغه هم نن وايي چې له دې دښمنۍ ګټه په لاس نه راځي.

کلونه مخکې مو د بهرنيو اډو پرضد د ملي يووالي جبهه جوړه کړه، په ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ کې موږ ويل چې د بهرنيانو شتون د جګړې دوام او افغانانو ته له مصيبت پرته بل څه نه دی، ولي يوه ډله خلک وو چې فکر يې کاوو چې امريکا هر څه ده، دوی فکر کاوو چې امريکا په نړۍ کې څه وغواړي، هغه کوي، او کله چې امريکا چيرته پښه کيښودله، هر څه به د هغوی په خوښه کيږي.

موږ ويل چې د بهرنيو اډې بايد دلته نه وي، ځکه همدا پوځي اډې د جګړې د شدت لامل ګرځي، هيچا راسره نه منله، ويل يې چې امريکا د نړۍ ابر قدرت دي، دلته راغلي، هيڅوک يې د وتلو توان نه لري.

موږ ويل چې امنيتي قرارداد دي نه لاسليکيږي، مګر ځينو رسنيو راپور ورکاوو چې دا هغه کسان دي چې په نورو هيوادو پوري تړلي دي.

موږ نه غوښتل چې افغانستان د جګړې ډګر وګرځي، موږ پوهيدو چې دا نيابتې جګړې کومه نتيجه نه لري.

هغه پوهاوی چې له طالبانو او دافغانستان د مسايلو اړوند يې لرو، پيچلې مسايل، قومي او نور مسايل، موږ په دې باور وو چې دا جګړه بايد ډير ژر د مفاهمې او مذاکرې د لارې حل شي، متاسفانه همدې مسئلې ته توجه ونه شوه.

طالبانو يو ښه فرصت د لاسه ورکړ، هغه وخت پوه شول چې د کرزي دوره ختمه او اوسنی کمزوری حکومت راغلی وو، پخواني ولسمشر کرزي د بهرنيو اډو د شتون

سره مخالفت وکړ، طالبانو ته په کار وو چې له دې ښه فرصت څخه یې سمه ګټه پورته کړې وای، له کرزي سره یې مفاهمه کړې وای.

اوس په داسې حالت کې یو چې نور په یوه قطبي نړۍ که نه یو، په تدریج سره نړۍ دوه قطبي لورته روانه ده، ځوکاله وړاندې داسې فکر نه کیدی.))

د وحید مژده سربیره زموږ نظر هم دادی چې د اوکراین او سوریې جګړو کې د روسیې مداخله، له اوکراین څخه د کریمیا ټاپو د روسیې لخوا جلا کول اوپه روسیې پسې تړل، او په وروسته وختو کې د امریکا پریکړې په نړیواله کچه د روسانو لخوا ننګول هغه څه دي چې نور امریکا په نړۍ کې یو قطبي او یوازنی د پریکړو مرکز نه ګڼل کیږي، نړۍ دا ځل د څو قطبي کیدو لورته روانه ده، چې د امریکا تر څنګ د بریکس BRICS سازمان غړي هېوادونه هم په نړیوالو مسایلو کې خپله خبره لري.

په تیرو ۱٦ کلونو کې د افغانستان مسایلو اړوند یوازي د امریکا خبره کیدله، اوس مهال په سیمه کې د امریکا پریکړې د روسیې او سیمئیزو قوي هیوادو لخوا ننګول کیږي، او دغه کړنه د افغان ولس په ګټه ده.

ښاغلي مژده وویل: (( کلونه وړاندې چې موږ د امنیتي تړون سره مخالفت کاوو، په ولسي جرګه کې یوازې ۵ نفرو مخالفت کاوو[1]، مګر اوس چې د ولسې جرګې له هر نفر سره خبره کوئ، هغوی چې له همدې قرارداد سره موافق وو، نن وایې چې موږ د امنیتي قرارداد مخالف وو، په داسې حال کې چې دوی د امریکا سفارت ته هغه وخت تګ راتګ درلود.

داسې اسناد شته چې کله دودیزه لویه جرګه د کرزي په وخت کې جوړه شوې وه، او دامنیتي تړون په اړه پکې بحث کیدی، د امریکا سفارت لخوا څخه ۵

---

[1] زما (لیکوال) معلومات دادي چې په ولسې جرګې کې لومړی ۱۲ وکیلانو د امریکا سره د امنیتي تړون دلاسلیک مخالفت وکړ، بیا دغه ډله ۱۸ کسانو ته ورسیدله.

میلیونه ډالر خلکو ته ورکړل شوي وو تر څو د ترون د لاسلیک ننگه وکړي.

همدغه خلک چې پیسې یې اخیستي وي او دا کار یې کړي وو، دوی ولس په همدې پیسو خرڅ کړ، بیا هم په افتخار سره د وطن پرستي خبرې کوي.

د ولس غوښتنې، او داچې دا نیابتې جگړه څه ډول پای ته ورسیږي، ښاغلي نظري د افغانستان د بېطرفي په باره کې خبرې وکړې، موږ د بهرنیو اډو پر ضد دملي یووالي جبهې په چوکاټ کې داویل چې دلته عدم انسلاک وجود لري، یعنې حکومت بېطرفه نه دی، په دغسي حالت کې په نړیوالو مسایلو کې بېطرفه نه شو پاتې کیدای، دا ځکه که موږ د یو لوی قدرت (امریکا) سره تړون کوو، بل هیواد فکر کوي چې دا کار د دوي پرضد دی.

همدا اوس گورو، روسیه بیرته ژوندۍ شوه، وایې که موږ په مکزیک کې یوه پوځي اډه ولرو، امریکا به له موږ سره موافقه وي، دا معنی چې موږ په افغانستان کې د امریکا اډې نه شو تحمل کولای، دا ډول د سیمې نور هیوادونه هم په افغانستان کې د امریکا له پوځي اډو سره ستونزه لری.))

غواړم د ښاغلي مژده پر خبرو ور زیات کړم چې د افغانستان او پاکستان لپاره د روسیې د ولسمشر- پوتین ځانگړي استازي ضمیر کابلوف د ترکیې د اناتولي اژانس سره د مرکې پرمهال دا هم ویلي و چې امریکا د ترکیې په لوی او مهم هیواد کې یوه پوځي اډه لري، مگر په افغانستان کې ۹ پوځي اډې غواړي، او که امریکا وغواړي په یادو اډو کې په ډیر بیړني ډول سره تر ۱۰۰۰۰۰ پوځیان ځای په ځای کولای شي، دا د روسیې لپاره د اندیښنې وړ مسئله ده.

مژده وویل : (( چې افغانستان د جگړې ډگر دی، بهرنیان غواړي چې دلته خپل حسابونه تصفیه کړي، د جگړې په ډگر کې موږ افغانان تر پښو لاندې کیږو، ملت باید راپورته شي.

یو طرفه قضاوت، له یوطرف سره دریدل، نورو ته دا احساس ورکوی چې دلته

زموږ پر ضد کومه لوبه روانه ده، نتیجه یې یوازې د جګړې دوام دی، ولس باید د جګړې د ختم لپاره متحد شي.

د جنرال عبدالرازق په اړه مو اوریدلي وو چې د طالبانو سرسخت دښمن دی، خپله هم وایې چې ډیر طالبان مې وژلي دي، ولي نن موږ ته وایې چې په دې نتیجه رسیدلی یم چې طالبان ماتې نه خوري، او طالبان هم که فکر کوي چې موږ ته ماتې راکړي، دا هم ممکن نه ده. پس دا جګړه بن بست ته رسیدلې ده، داسې جګړه ده چې ګټونکی نه لري، نو په کار ده چې ښکېل جهتونه مذاکراتو ته ولاړ او یو له بل سره خبرې پېل شي.

امنیه قومندان داهم ویل چې موږ غواړو یوه سېمه د امن په نوم مشخص او هغه په رسمیت وپېژندل شي چې هیڅ نړیوال هلته مداخله ونه لري، او موږ حاضر یو چې هلته طالبان راشي او مذاکره وکړي.

فکر کوم هغه خبرې چې موږ څوکاله وړاندې کولې، اوس یې خلک هر ځای په عام ډول په مجالسو کې کوي، امید دی چې ښې ورځې ولرو، د هیواد شمال کې هم دوستان شته هغوی وایې چې د سولې لپاره ژمن دي، او د هیواد له جنوب او شمال څخه به دوستان د سولې ږغ په قوت سره پورته کوي.

له طالبانو سره په ټولو ناستو کې، او هغه چې موږ ورسره درلودلې، لومړي مذاکرات په ۲۰۱۲ کال کې په جاپان کې وشول، او د پګواش ناسته چې په دوحه کې وه، طالبانو په ډیر واضح ډول سره ویل چې د واک انحصار نتیجه نه لري، دا سمه نه ده چې یوه ډله خلک واک په لاس کې واخلي او نور محروم کړي، د پخوا په پرتله سولې ته زیات امیدونه شته. مګر طالبان داهم وایي چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش نه وي تعین شوی، دغه ډول ناستې به نتیجه هم ونه لري.

راځئ په یوه اواز ټول ولس ووایو چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش باید اعلان شي.))

د خبرې ناستې په ترڅ کې استاد محمد زمان مزمل وویل :

بسم الله الرحمن الرحيم (وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا)

او که هغوی سولې ته میلان ولري نو ته هم ورته تیار شه

(( قران کریم د سولې په رابطه دا فلسفه عمیق کوي چې سوله هغه وخت راځي چې دواړه لوري سولې ته چمتو شي، د دواړو لورو د زور په کارولو د مسایلو د حل لاره بنده شي، او دواړه لوري دې قناعت ته ورسیږ چې په زور مسئله نه حل کیږي.

په دې معنا تر څو چې ښکېل لوري سولې ته لیواله شوې نه وي، د سولې هڅې نتیجه به ورنه کړي، په کار ده چې ښکېل لوري سولې ته چمو شي او یا یې د چمتو کېدو لپاره هڅې وشي.

فضا د بې باوري له همدې ځایه شروع کیږي، چې جانب مقابل فکر وکړي چې دی په زور اوجگړه بل لورى ماتولاى شي، په یوه لوري بیا سوله نه راځي، دلته جنگ ځکه راغى، چې په زوراو جنگ حکومت نیول خپله وسیله د جنگ ده، څوک چې په زور، کودتا او جنگ حکومت کوي، جانب مقابل ورته نه تسلیم کیږي. د زړه قناعت او باور یې نه راځي، دا جنگ له همدې ځایه شروع شو. د دې کودتا شاته داسې قوي هیوادونه وو چې مشرانو یې پکې سر وخوړ، ویل به یې دا انقلاب په شا نه تلونکی دی، بالاخره پخوانی شوروي اتحاد مجبوره شو، د دوی ننگې ته ودریدی، د چرنینکو او بیا د پخواني شوروي اتحاد د وروستي ولسمشر په وخت کې دلته سرو لښکرو داسې هم وکړل چې په بشپړ ډول به یې یو یا دوه ولایتونه د یوې اونۍ لپاره محاصره کړل، په ۱۳٦۱ ل. کلونو کې داسې سختې جگړې وشوې، د لغمان قرغه یې، د لوگر محمد اغې ولسوالۍ، د خوښۍ ولسوالۍ د دوبندي سېمه، او دننگرهار سرخرود ولسوالیو خلک په ټولیز ټول د جگړو د شدت له امله مهاجرشوو، یادې ولسوالۍ په بشپړ ډول سره بمبارد شوې، مگر د جگړې له ټول شدت سره بالاخره شورویان مجبوروو چې د ژنیو مذاکراتو ته ولاړل.))

زه ( ليکوال) هم د استاد مزمل د خبرو په تړاو يوې مهمې تاريخې پيښې ته اشاره کوم، په هرات ولايت کې په يوه ورځ کې د پخوانيو خلقيانو او پرچميانو لخوا څه کم او زيات ۲۴۰۰۰ بې گناه ملکي افغانان ځکه شهيدان شوو، چې د افغان کمونستي نظام پر وړاندې يې لاريون کړی وو، د هغه وخت د هرات والي محمد يونس فکور او د استخباراتو مشر ډاکټر نجيب الله وو.

ښاغلي مزمل وويل : ((امريکا او پاکستان غوښتل چې روسان په افغانستان کې د مجاهدينو لخوا ښه وځپل شي، حقيقت دادی چې سوله ډېر ژر راتله، د ژنيو مذاکراتو اته او لس ناستو ته اړتيا هم نه وه، ولي امريکا غوښتل چې پخوانی شوروي هغه ځای ته ورسوي چې ويې رساوو.

ډاکټر نجيب الله هم دي باور ته ورسيدی، هغه چې په افغانستان کې يې ترهر چا ډير خلک وژلي وو، مگر تاسي ته هم معلومه ده چې ډاکټر نجيب الله يو څوک و، د خاد د اداري رئيس و، د سروري نه ورته په ميراث هرڅه پاتې وو. سړی پوهيږي چې ډاکټر نجيب الله په اخر د عمر کې څومره خسته شو، هغه د سولې په برخه کې له هرې ممکنه لاري څخه گټه پورته کوله، ډاکټر نجيب الله د سولې لپاره د خپل وخت هنرمندان په کار واچول، د سولې په اړه يې پرله پسې ناري ووهلي او په دي برخه کې يې د ځان سره د شوروې د تاشکند راډيو مرسته هم درلودله.))

د استاد مزمل د خبرو په تايد، افغانان دي قناعت ته رسيدلي چې ډاکټر نجيب الله د خپل حکومت په وروستيو وختونو کې د سولې په برخه کې هر ډول قرباني ته چمتو وو، او تر ډيره په حزب اسلامي باندي دا پړه وراچول کيږي چې د سولې په برخه کې يې د ډاکټر نجيب الله غوښتنې په هغه وخت کې ونه منلي، ډاکټر نجيب الله غوښتل چې واک مجاهدينو ته په سوله ييز ډول وليږدوي، مگر د مجاهدينو د ځينو ډلو مشرانو ويل چې موږ کابل ته "فاتحانه" داخليږو.

مزمل صاحب عميق خبره وکړه، ويې ويل: (( د اوسني حکومت چې د ډاکټر نجيب الله د حکومت سره کوم فرق دی، دوی فکر کوي، او ډېری خلک هم وايي چې دا شوروي نه دی، دا ناټو ده، دا امريکا ده، دا ډېر قوي دي، همدي فکر زموږ په هيواد کې دا جګړه ۱۵ کلنه کړه.

دلته د ښکېلو جهتونو تر منځ باورموجود نه دی، رسنۍ هم په دي کې بايد ډېر کاروکړي، په اوسني حکومت کې راغلي کسان داسي فکر کوي او دوی وايي چې زموږ لاس په وينو سور نه دی. دوی وايي دا جنګ مجاهدينو کړی، دا چور مجاهدينو کړی.

باور دي راځي چې زه د ماليې يو پخوانی وزير چې د جلال اباد اصلي اوسيدونکی دی پېژنم يې، يوازې همده په سلګونو ميليونه ډالر غلا کړي، چې د مجاهدينو او طالبانو ټولې دورې را وسپړئ د ده نيم اندازه چور او غلا يې نه ده کړي.))

ښاغلی مزمل نه ده خبر چې د ملي د فاع، کورنيو چارو او پوهنې وزارتونو کې داسي قرارداونه هم شوې چې ۲۰۰ ميليونه امريکايي ډالر پکې اختلاس او فساد شوی، او د فساد کچه د يوه وزير په وخت کې تر ۱۰۰۰ ميليونه ډالر اوړي.[۱]

مزمل وويل : (( دا اوس چې کوم کسان د جګړو پر مهال مړه کيږي، ولسمشر- غني او اجرايه مشر عبدالله فکر کوي چې دا خوسکيان مړه کيږي، او فکر کوي چې د دوی لاسونه د چا په وينه نه سره کيږي.))

ما (ليکوال) ته ښاغلي مزمل داهم ويلي و چې د ډاکټر نجيب الله د حکومت په وروستيو کلونو کې چې به کله په مهمو غونډو کې کوم سياستوال او يا هم پوځي کس پر جګړه ټينګار کاوو، ډاکټر نجيب الله به د غونډې منشي- ته وويل چې د همده نوم وليکه چې د جګړې لومړی کرښې ته يې واستوو، بيا به په غونډو کې د جګړې په اړه ټينګار چا نه کاوو، اوس هم که د جګړې په لومړی کرښه کې همدا

[۱] مارچ ۲۰۱۷ کې سيګار راپور ورکړ چې د اوبو او بريښنا د پخواني وزير اسماعيل خان په وخت کې په ياد وزارت کې ۳۰۰۰ ميليونه ډالر غلا شوې دي.

د جګړې غوښتونکې خپله او یا یې خپلوان وي، خوږ ووینـي بیا بـه کلـه هـم پـر جګړه ټینګار ونه کړي.

استاد مزمل وویـل: (( کـه حکومـت او یـا طالـب پـه زور بـاور ولـري، اعـتماد نـه راځي، یو طرف په کابل کـې پـه زور بـاور لـري، دوی د سـولې شـورا ځـومره خنثـی کړي، طالب به څه ډول باور پرې وکړي.

که حکومت، مجاهد او طالب دی، دوی جنګ تـه اړتیـا لـري او د جنـګ اکـمال بهرنی دی، دي کار هم د هیواد د امن فضا خرابه کړې ده.

په حکومت قبضه کول بله ستونزه ده، هرڅوک چې کابل ته راغی، هغه بیـا واک نه خوشې کـوي، پـه همـدې خـاطر یـې نـه خـوشې کـوي چـې پـه واک کـې پـاتې واوسي، د ډاکټرغنـي خـو اولنـۍ خـبره سـوله وه، د واک د حـرص لـه امله د نـیم حکومت څخه پرې ورواوښت.

وضعیت داسې ښکاري چې فضا سـولې تـه سـمه ده، مـا چـې کلـه د کنـدهار د امنیه قومندان عبدالرازق خبرې واوریدې، زه ډیر شرمنده شوم، دا موږ زړو د سولې او امن په برخه کې له دې ملک سره ځومره جفا کړې.

هغه څوک چې د جګړې په اول خط کې تر هرچا ښه جنګیږي، هغه لـه جګـړې خسته ده، هغه فکر کوي چې زه د خپلو خلکو په وژنو مصروف یم.

کـه دلتـه یـو اروپـایي حکومـت وای، چـې د دوی (چـارواکو) هـم ډیـری ځـان همداسې اروپایي ډوله ښیي، تر اوسه به یې لس ځله استعفاوې ورکـړې وای. مګـر متاسفانه چې څه ډول بـه سـوله راځـي، پـه رسـنیو کـې ډیـرې ښـې هـم دي، خـو همدې رسنیو هم د جګړې ډګر تود ساتلی دی. ))

ښاغلي مزمل ته داهم وریادو چې په تیرو ۱٦ کلونو کې د ځینـو د کـابینې وزیرانـو او ځینو والیانو د فساد او ناوړه کړنو اړوند خبرونه او راپورونه پـه نړیوالـو رسـنیو کـې ورکـړل شول، ولې کوم وزیر او یا والي له دندې د هغه د ناسمو کړنو له امله استعفا ورنه کړه.

د کورنیو چارو پخوانی وزیر بسم الله محمدي چې د دفاع وزارت ځخه یاد وزارت ته راغلی وو، د بې کفایتۍ لـه املـه د ولسـې جرګـې لخـوا سـلب اعـتماد او سـلب صلاحیت شو، څو میاشتې وروسته همهغـه بسـم الله محمـدي تـه ولسي- جرګـې د دفاع د وزیر په توګه د اعتماد رایه ورکړه.

استاد مزمل داهم وویل: (( که د عبدالرازق غوندي، د کندهار والي غونـدي، یـا ارزګان کې چې ډیر مسلح ګروپونه طالبانو ته تسلیم شول، د جګړې څخـه همـدا ډول خلک خسته شول، او د سولې لپاره یې ږغ اوچت کړ، بیا نتیجه هم ورکوي.

د داسې قومندان ځخه به څوک دفاع وکړي، چې ټولـه شـپه فلـم کتلـو تـه ناسـت وي، شراب یې څښلي وي، مګر په جګړو کې خو د کونډې او غریب زوی وژل کیږي.

د اعتماد لپاره نور مسایل هم شته، په کابل کـې حکومتونـه قـومي دي، او ډیـرو خلکو خپل سیاست قومي کړی، خپل د قوم خلک یې داسې پیوند کړي چـې فکـر کوي دا حکومت یوازې د دوی حق دی، او فکر کوي که داچانس یې له لاسه ورکـړ بیا څه کیږي، بیا به بل داسې چانس ولري؟

مخکې د طالب رنګ هم نیم کنـدهاری وو[1]، اوس هـم چـې کـوم رنـګ دی [2]، دا ښه رنګ نه دی، که یوه اداره ملي شي، امنیت یې ملي شي، اردو یې د ربښتیا مـلي شي، طبعي خبره ده، بیا به داسې وي لکه د ډاکټر نجیب الله د وخت، پـه عسـکرو کې به هم دا جذبه وي چې سوله وشي.

له حکومـت سره د حـزب اسـلامي د سـولې هـوکړه یـوه متواضـع تجربـه وه، حـزب اسلامي وغوښتل مخامخ خبرې وکړي، همدغه اوسني حکومت ته یې حیثیـت ورکـړ، دوی باورهم ورکړ، د حـزب اسـلامي غـړوهم ډیـرې تبصرـې وکـړې چـې ولې د خپلـو خلکو سره نه کینو، خـو مـوږ وینـو چـې د خپلـو خلکـو سره واک نشـته، د هـوکړې تـر

[1] اشاره یې د طالبانو نظام ته وه، کله چې کابل کې د طالبانو حکومت وو.

[2] اوسنی حکومت او اوسنی نظام چې د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ ۵۰ سلنه ویشل شوی

لاسليک (۲۲ سپټمبر ۲۰۱٦) دوه اونۍ وروسته اوازه وه چې انجنير حکمتيار کابل ته راځي، تر اوسه يې دا مسئله اوږده کړه، معنی دا چې دا مسئله ډېره بنيادي ده، د رسنيو کارکوونکي هم بايد په دي کې فکر وکړي، په يو هيواد کې چې د تصميم مراجع مستقل نه وی، هغه به څه ډول د سولې غوندي لويه مسئله حل کړی.

چې وايم چې دا جګړه نيابتي ده، دا نغاره په کابل کې وهل کيږي، چې دا جنګ نيابتي دی، چې جګړه نيابتي ده، نو موږ يوې مستقلي مرجع ته ضرورت لرو، موږ يو مستقل تصميم ته ضرورت لرو.

چې دا امريکا او ناټو په دي هيواد کې وي، د امريکا په يو سفارت کې دومره زور دی، زموږ حکومت يې داسي جوړ کړ چې د قانون اساسي په دا ملا يې يوه سخته ضربه ورکړه، همدا اوس هم د افغانستان د برخليک پريکړې کوي، د پوځيانو به يې څومره زور په دي حکومت ور تير وي.

د امريکا د ولسمشر اوباما خبره چې پکې اخره وي، چې ويې ويل چې طالب په زور نه ماتيږي، زه فکر کوم چې زموږ صاحب منصب، زموږ قومندان، زموږ ولسوال، زموږ د ورځپاڼې مدير او دغه ملت بايد د سولې کلچر خواته بوځي.

چې سوله ملي نه کړو، ټول ملت يې ترڅنګ ونه دريږي، دغه لويديځپال (حکومت) تاسي ته سوله نه راولي.))

د هلمند د مدنې ټولنې مشر سردارمحمد همدرد وويل:

(( سوله زموږ لوی ارمان دی، په افغانستان کې چې څه روان دی، کلونه کلونه چې د ناټو په چوکاټ کې څومره کومکونه راغلل، څومره زور وازمايل شو، ټول دي نتيجې ته رسيدلي دي چې پرته له سولې هدف ته نه شو رسيدلای.

د سولې قرباني زموږ ولسونه دي، تر ډېره هغه خلک دي چې په کليو او اطرافو کې اوسيږي، د هملند او ارزګان جګړې وګورئ، تاسي يې د بد حالت څخه ځان خبر کړئ، استوګن يې دهر ډول انسانې کرامت څخه محروم او په ډير بد حالت

کې ژوند کوي، لویې لاري بندي دی، خلک په وحشت کې ژوند کوي، صحي خدمات نشته، په داسي یو حالت کې اوسیږی چې هلته وحشت او بربریت دی.

یو وخت د هلمند د سرې میاشتي ریاست مخکې راتیریدم، دوې میندي هلته ناستې وي، یوه د طالب مور او بله د عسکر مور وه، دواړو خپل ځوانان زامن د لاسه ورکړي وو، سرې پوهیږي چې جګړه زموږ نه ده، هلته د طالب مور او د عسکر مور دواړه څنګ پر څنګ ناستې وي، او د سرې میاشتي څخه مرستې تر لاسه کولوته راغلي وي.))

د ښاغلي همدرد دخبرو په تاید؛ په افغانستان کې ډیرې داسي کورنۍ شته چې د مور یو زوی یې طالب او بل به پولیس او یا د ملي اردو عسکر وي، او داسي کورنۍ هم شته چې د کورنۍ د غړو ترمنځ د نظر د توپیر له امله په کورنۍ کې شخړي پیدا کیږي، یوه شمیر د کورنۍ غړي طالب پلوه او بل شمیر د کورنۍ غړي یې حکومت پلوه وه، زه داسي ځوانان پیژنم چې له خپلو کورنیو څخه له دي امله وتلي چې په کورنیو کې ورته د طالب پلوه په سترګه کتل کیدل.

ښاغلي همدرد وویل : (( په هرقیمت چې وي باید د سولې لپاره کاروشي، د سولې مخالفت یو شمیر کورنۍ او یو شمیر بهرنۍ کړۍ کوي. دغه دوستان چې په سوله باور لري، کار کوي، دوی باید د سولې اواز په هر ځای کې پورته کړي، دا اواز باید تر ولایتونو پوري وغځوو، که تاسي یې مهمه وګڼئ دغسي یوه ناسته به په هلمند کې هم جوړه کړو، د افغانستان په بیلابیلو ولایتونو کې به دا ډول ناستې وکړو.

هغه کسان چې په حکومت کې دي، چارواکي دي، او ځینې یې د سولې مخالفت کوي، د هغوی څیرې هم باید ولس ته وروپیژندل شي، هغه هیوادونه چې د سولې په وړاندي خنډونه جوړوي، د هغوی په وړاندي هم باید اواز پورته کړو.

همدا اوس زموږ په ګران هیواد کې د روسیې، چین او ایران مداخلې روانې دي، افغانستان یو ځل بیا په یوه نیابتې جګړه بدلیږي، دغه د سولې او جګړې د

ختمیدو اواز باید قوي شي، او کار ورته وشی.

تر څو چې بین الافغاني ناستې ونه شي، خبرې نتیجه نـه ورکـوي، د سـولې پـه نوم چې کومې د سولې ناستې د سولې شورا لخوا شوې، هغـه پـروژې وي، د ملت اواز نه وو. نه ولس او نه د دولت وسلوالو مخالفینو پري باور درلودی.

د مخلصو افغانانو څخه، هغوی چې په افغانستان او سوله بـاور لـري، د همـدوی له ادرسه سولې ته ښه کار کیـدای شي. هیلـه ده چـې دا پروسـه دوامـداره وسـاتل شي، او د تلپاتې سولې لپاره کار وکړو، ناسـتي تـر مرکـز کابـل پـوري محـدودې نـه بلکې ټولو ولایتونو ته دغه اواز ورسیږي.))

ډاکټر فیض محمد ځلاند د خبرې ناستې په وروستي وخت کې وویل:

(( موږ د جگړې ضد خوځښت، په طالب، حکومت، بهرنیانو او ښکېلو اړخونـو ږغ کوو چـې زمـوږ ولـس سـوله غـواړي او دوی هـم بایـد سـولې تـه د خپلـو کـارونو پـه لومړیتوبونو کې ځای ورکړي، سولې تـه عمـلي کـار وکـړي، ولـس نـور لـه جگـړو او ناخوالو څخه په تنگ راغلی دی.

دري متل دی وایې ( تنگ امد، به جنـگ امـد)، داسـی نـه شي چـې مـوږ د دې جگړې له امله یوې بلـې کـورنۍ یـا سـیمه ییـز یـا هـم نیـابتي جگـړي تـه ولاړ شـو. مخکې چې د قطبونو بحث وشـو، داسي نـه چـې یـو ځـل بیـا د قطبونـو د جگـړې قرباني شو، او خدای مه کړه یوځل بیا په افغانستان کې د اوسنۍ جگړې پـه پـای کې د ۹۰مې لسیزې تکرار راشي [۱]. ))

د غونډې د پای په شیبو کې د ښاغلي میرویس ستانکزي لخوا د خبرې ناستې لپاره چمتو شوی پریکړه لیک ولوستل شو.

[۱] کله چې د پخواني شوروي اتحاد سرې لښکري له افغانسـتان څخـه پـه ۱۹۸۹ز. کـال کـې ووتـلې، جگړه ختمه نه شوه، بلکې موږ په یوې بشپړې کورنۍ جگړې کې بوخت پاتې شوو

# پریکړه لیک

نیټه: ۸ جنوري ۲۰۱۷

**بسم الله الرحمن الرحیم**

سوله د افغان ملت لومړیتوب!

هره جګړه په سوله تمامه شوي، دا چې د جګړې د غځیدو، اوږدیدو او سختیدو دپاره دلایل لټول کیږي، د ځینو جګړه خوښونکو پکې ګټې دي او بیا هم په ټوله کې ګټه یې یوازې پردیو ته رسیږي، تاوان په کې د مظلوم افغان ولس دی، له دې امله، په وروستیو وختونو کې د افغان ټولنې له منځه ګڼو ځوانانو، مشرانو، علماوو، روحانینو د سولې ږغ پورته کړی، د دې ږغ تر شا ولس ولاړ او د سولې د ږغ سره یې خپل ملاتړ ښودلی دی.

د سوله غوښتونکو او جګړې ضد افغانانو تمه او هیله ده چې د سولې په راوستلو کې به بریالي او له پخوا څخه په بدلون اغیزمنې هڅې وکړي، تر څو سوله لازمي شي، د جګړې ټغر را ټول شي او د افغانانو د مرګ ژوبلې مخه ونیول شي.

په دې برخه کې ګڼ خنډونه موجود دي، تر ټولو مهم خنډ یې په هیواد کې د بهرنیو پوځیانو شتون دی، د بهرنیانو د پوځي شتون د پاره په افغان خاوره کې هیڅ ډول جواز او اړتیا نه سته، هیڅ خپلواک ملت د بل هیواد پوځیانو ته پخپله خاوره کې د اوسیدو، تلاشی، شپنیو عملیاتو، بمبارد او بندیخانو درلودلو جواز نه شي ورکولای، ځکه نو اړینه ده چې افغان حکومت، طالبان او نړیوال د بهرنیو پوځیانو د وتلو په مهالویش هوکړې ته ورسیږي.

دوهم ډیر مهم بحث د بندیانو د تبادلې او بندیانو د خلاصون بحث دی، زموږ ګڼ شمیر افغانان په پلچرخې، باګرام او ګوانتانامو کې زنداني دي، دا ډول د طالبانو په ولکه او ځینو پټو بندیخانو کې پرته له محاکمې بندیان ساتل کیږي، د بندیانو شمیر باید معلوم شي، هویت یې څرګند، جرم یې ښکاره او عادلانه پریکړې وشي، کوم بندیان چې د تورونو څخه یې سپیناوی او برائت ورکول شوی وي او یا خو یې د بند موده پوره شوې وي، د هغوی دوسیې وتړل شي او بندیان خلاص شي.

درېيمه ډېره مهمه او اساسي موضوع د روان سياسي بحران څخه د وتلو بحث دی، د ناکامه تجربو د تکرار څخه ډډه وشي، افغان شموله سياسي جوړښت ته لاره پرانستل شي.

همدې موخې ته د رسيدو لپاره باور جوړونې، د سولې مذاکراتو کې صداقت او يو بې طرفه درېيمګړي ګروپ ته اړتيا ليدل کيږي.

موږ د جګړې ضد او سوله غوښتونکې افغانان په جګړه کې پر ښکېلو جهتونو او نړيوالو ږغ کوو، چې د روانې جګړې په درولو کې د افغان ولس غوښتنې واوري او د هغوی د غوښتنو درناوی وکړي.

د جګړې ضد خوځښت لخوا

*****

د رسنيو د کارکوونکو د يوه تن د پوښتنې په جواب کې ښاغلي احمد وحيد مژده وويل:

د پخواني ولسمشر حامد کرزي په وخت کې ډير ښه فرصتونه دلاسه ورکړل شول، حزب اسلامی ورته ۱۷ واره هيئتونه کابل ته راوليږل، هر وار يې خپل وړانديزونه نوې او بدلون يې ورکړ، د دې لپاره چې ومنل شي.

زما په نظر کرزي فکر کاوو چې کابل ته د يوې بلې ډلې په راتګ سره کيدای شي چې د پښتون قوم رهبري وويشل شي، ده غوښتل چې د پښتون قوم په منځ کې يوازنی رهبر واوسي، نتيجه دا شوه چې نه يوازې له طالب سره بلکې له حزب اسلامي سره هم سوله ونه شوه.

د اوسني حکومت ستونزه دا ده چې د کرزي د حکومت په نسبت ډير په امريکا پوري تړلی نظام دی، د تصميم نيولو واک او اختيار نه لري، د مسايلو اړوند منتظر وي چې امريکايان ورته راشي او هغوی څه ورته وايې. او کوم تصميم بايد دوی اعلان کړي، اوس هم دوی (حکومت) د ټرمپ اداري سياست ته منتظر دي، چې هغه د افغانستان اړوند څه ډول تګلاره مخکې وړي، نو ځکه د سولې اړوند ځينو غوښتنو په اړه دوی چوپه خوله وي.

د سولې هڅې او خنډونه، خبرې ناسته په ۱۱:۲۰ غرمه مهال پای ته ورسيده.

## د طلوع ټلويزون ادارې سره ناسته

د طلوع ټلويزون او سياسي دفتر ترمنځ د پيغام تبادله

داچې د طالبانو د قطر د سياسي دفتر د مطبوعاتو څانګې مشر او وياند ښاغلي سهيل شاهين راته ويلي و چې د طلوع ټلويزون اړوند مسئلې په اړه يې له ښاغلي شاپور بختيار سره ځينې خبرې هغه وخت شوې وي چې کله موږ د قطر څخه بيرته کابل ته را ستانه شوي وو، زه (ليکوال) هم د دوی د خبرو کولو په اړه جريان کې ساتل شوی وم.

ښاغلي بختيار ما (ليکوال) ته دا هم ويلي و چې د طلوع ټلويزون ادارې، ملي امنيت او امريکا سفارت لخوا تهديد ډوله خبرې هم ورته شوې دي.

ښاغلي شاپور بختيار وويل: (( که حاجي عبدالظاهر قدير مداخله نه وای کړې، ملي امنيت غوښتل چې د څو ورځو لپاره يې ورسره بندي وساتي.))

ښاغلي شاپور بختيار له ښاغلي سهيل شاهين څخه د ټليفون په کرښه د خبرو په مهال غوښتې و چې د طالبانو لخوا بيرته د طلوع ټلويزون ادارې ته اعلاميې او خبرونه واستول شي او دا ډول که ممکن وي په قطر کې د مرکې کولو زمينه برابره شي.

د بختيار او شاهين ترمنځ له خبرو وروسته په موقت ډول د طلوع ټلويزون ادارې ته د طالبانو د اعلاميو او خبرونو استول د طالبانو د قطر د سياسي دفتر لخوا منل شوي وو.

ښاغلي شاهين غوښتل چې د خبرو وروستۍ نتيجه يې له شاپور بختيار سره ورته معلومه شي، ځکه له هغه وروسته بيا له ښاغلي سهيل شاهين سره بخيتار اړيکه نه وه نيولې، يوازې همدومره يې ورته ويلي و چې ستاسي پيغام مې د طلوع ټلويزون ته ورساوی، د دې لپاره چې د قطر د سياسي دفتر کسان په موضوع پوه شوې وي، له ما (مطمئن) څخه يې غوښتنه وکړه چې د موضوع اړوند د طلوع ټلويزون ته د ښاغلي شاهين پيغام ورسوم.

ښه مې وګڼله چې د ياد ټلويزون له مرستيال مشر خپلواک ساپي سره اړيکه

ونیسم، هغه د مجلس کولو لپاره ډیره زیاته لیوالتیا وښودله.

کله چې د طلوع ټلویزون ودانۍ ته ورسېدم، هلته ښاغلی شاپور بختیار هم د ودانۍ مخکې د ولسي جرګې وکیل ته خدای پاماني ویله، نه پوهېږم چې زما لورته یې فکر نه شو او که یې ځان همداسي غلی ونیوی.

د ۲۰۱۷ز. کال د جنوري میاشتې پر ۹مه نیټه ما (لیکوال) د ماسپښین یوه بجه له ښاغلی خپلواک ساپی، د طلوع ټلویزون مرستیال، ښاغلي پرویز شمال د خبري څانګې مشر او ښاغلي مهدوي د سیاسي څانګې مشر سره ناسته درلوده.

د طلوع ټلویزون له کسانو سره ناسته کې مې لومړی پېل د طلوع ټلویزون اړوند د کندز د خبر په اړه د ملګرو ملتونو د پېغام وکړه، چې د سیاسي دفتر لخوا د خبرو کولو رد نه و شوی، مګر بیا وروسته خبره همداسي پاتې شوه [۱].

ورته مې وویل چې شاپور بختیار له سهیل شاهین څخه غوښتنه کړې وه چې پورته دوه کارونه که ممکن وي، دا چې اعلامیې او خبرونه بیرته پېل شي او د مرکې لپاره که له طلوع تلویزون سره وشي.

ښاغلي سهیل شاهین طالبانو له فرهنګې کمیسون سره خبره شریکه کړې وه، په موقت ډول په دي شرط د خبرونو او اعلامیو بیا استول ومنل شول، چې طلوع ټلویزون به په راپورونو او خبرونو کې بیطرفي او تعادل ساتي.

ښاغلي شاپور بختیار ته ویل شوې و چې د ټلویزون رسمي ایمیل ادرسونه فرهنګي کمیټې ته واستول شي، ولي دا کار ونه شو، او نه هم په خبرونو او راپورونو کې تعادل او بې طرفي مراعت شوه.

---

[۱] په قطر کې د ناستو پر مهال ماته ښاغلي سهیل شاهین ویلي وو،چې کله د طلوع ټلویزون پر کارکوونکو د طالبانو لخوا برید وشو، د دوی کسان ووژل شول، بیا د طالبانو سره دموضوع د حل په خاطر دملګرو ملتونو کسانو د طالبانو د سیاسي دفتر سره اړیکه ونیوله ترڅو یاده ستونزه د خبرو له لارې حل شي. ښاغلي شاهین وویل چې زموږ لخوا ځواب مثبت وو، ولي وروسته خبره همداسي پاتې شوه او د طلوع ټلویزون له کارکوونکو سره خبرې ونه شوې.

سهیل شاهین بیائل بختیار ته ټلیفون کړی و او هغه ته یې ویلي و چې ستاسي لخوا هغه پخوانی مشکل پرځای پاتې دی، په راپورونو او خبرونو کې تعادل نه دی مراعت شوی.

بختیار شاهین ته ویلي و چې ما پیغام اداري ته رسولي، او دا کار نور په اداره پوري تړاو لري.

د ټلویزون کسانو ته ما (لیکوال) وویل چې د سیاسي دفتر ویاند او د مطبوعاتي څانگی مشر سهیل شاهین وایې : (( دا هر څه د هغو کسانو په احترام موږ وکړل چې قطر ته راغلي وو، او په موقت ډول وو، مگر فرهنگي کمیټې ته د طلوع له یوه ایمیل څخه دا خبره شوې چې موږ له طالب مشرانو سره خپل مشکل حل کړی، داسي یې ښودلي گواکي په لوړه کچه دا مشکل او ستونزه د طالبانو او طلوع ټلویزون تر منځ حل شوې.))

د سهیل شاهین پیغام دا و : (( که طلوع ټلویزون غواړي چې دا مسئله د سیاسي دفتر د لاري حل شي، او خبرې وشي، او د طلوع ټلویزون لخوا غوښتنه وي، موږ چمتو یو، که چیرته د سیاسي دفتر د لاري د ستونزې حل نه غواړي، چې موږ له منځ څخه ووځو، ځکه د فرهنگي کمیټې کسان هم له سیاسي دفتر څخه پوښتنه کوي چې په خبرونو او راپورونو کې پخوانۍ تگلاره د طلوع ټلویزون لخوا پر مخ وړل کیږي.))

د سهیل شاهین او د دوی د ملگرو غوښتنه دا ده چې د ژورنالیزم اصول مراعت شي، موږ له کومې څانگړې رسنۍ سره ستونزه نه لرو.

ښاغلي خپلواک ساپي پوښتنه وکړه چې څه ډول دا ٦ کسان قطر ته ولاړل، موږ هیڅ نه پوهیدو چې له کومې لاري غوښتل شوي؟

هغه وویل : ((شاپور بختیار څو میاشتي له تگ څخه مخکې ورته ویلي و چې د پگواش لخوا قطر ته غوښتل شوی، او هلته د رسنیو اړوند بحث کیږي، ماته هم

بلنه راکړل شوي، نور يې موږ ته نه دي ويلي چې د طالبانو د سياسي دفتر لخوا غوښتل شوی او مجالس به هم له طالبانو سره وي.

ښاغلي ساپي وويل: که موږ داسي خبر وای، نو په دې اړه به مو بختيار ته کوم پيغام او يا خبرې ورسره کړې وای. بيا يوه ورځ بختيار ټليفون وکړ چې زه يې قطر ته غوښتی يم، سبا ځم، هر څه يې موږ ته گونگ وويل، هيڅ پوه نه شوو، چې د چا لخوا غوښتل شوی، او دا سفر د چا پواسطه برابر شوی.

ښاغلي بختيار يوازې زه (خپلواک) په جريا کې اچولی يم، د طلوع ټلويزون مشر هم خبر نه و.))

ما (ليکوال) ورته وويل :

له ډيره وخته داغوښتنه وه چې د سياسي دفتر لخوا د ځينو رسنيو ژورنالستان او ځوانان قطر ته ولاړ شي او له طالبانو سره له نږدې وگوري، کومې پوښتنې او انديښنې چې لري، مخامخ يې له طالبانو سره شريکې او د هغوی نظريات واوري.

موږ (ډاکتر فيض محمد ځلاند، استاد اسد وحيدي او ما) په دې فکر وکړ او بيا همدا ملگري انتخاب شول، د طلوع ټلويزون څخه يو کس د دی لپاره چې دغه ټلويزون ډير دري ژبې ليدونکې لري او د شمشاد ټلويزون څخه د دې لپاره چې ډير پښتو ژبې ليدونکې لري.

ښاغلي شاپور بختيار او ميرويس ستانکزي ته ډاکتر فيض محمد ځلاند ويلي و چې خبره د خپلو ټلويزونونو له ادارو سره شريکه کړي، او که کوم ځانگړی پيغام هم ولري، دا ښه موقع ده.

د سياسي دفتر کسانو د طلوع ټلويزون څخه د کس په اړه هيڅ ډول پوښتنه ونه کړه او ويې نه ويل چې ولي د طلوع څخه تاسي شاپور بختيار انتخاب کړی، بلکې همدې ته يې احترام وکړ چې همدا لسټ يې همداسي کټ مټ ومانه او کسان يې وغوښتل.

ټول کسان د سياسي دفتر لخوا غوښتل شوی وو، مگر په انتخاب د کسانو کې

له هغوی سره مرسته شوې وه.

ویزې او ټکټونه یې ټولو ته راواستول او هلته یې هوټل هم ملګرو ته نیولی وو.

خپلواک ساپي وويل : (( موږ ته هیڅ داسي واضح خبره بختیار صاحب ونه کړه، چې د سیاسي دفتر لخوا غوښتل شوی او له قطر څخه تر راګرځیدو وروسته ښاغلي بختیار وويل چې د تګ او راتګ ټګټ ما پخپل شخصي- لګښت کړی وو. کله چې قطر ته ورسیدو، نور ۵ کسان د طالبانو سره ولاړل او هغوی ورته هوټل نیولی وو، مګر ما له دوی څخه جلا په بل هوټل کې د ځان لپاره اطاق ونیوی، زه هغه هوټل ته ولاړم نه چې طالبانو نیولی و، دا ډول دوی ۵ نفرو ته د ډوډۍ مصرف هم طالبانو ورکاوو، ما د ډوډۍ مصرف له خپل جیب څخه کاوو.

خپلواک ساپي وويل چې کله ښاغلی بختیار بیرته راغی، موږ ورته وويل چې که لنډ راپور د ناستو اړوند راکړئ، هغه بیا هم ګونګې خبرې وکړې، او ویې ویل چې اصل کې له طالبانو سره د ټولو ناستو پر مهال د طلوع ټلویزون په اړه بحثونه کیدل، او د طلوع ټلویزون اړوند ډیر بې خونده بحثونه وشول.

کله چې د پیسو او مصارفو د ورکړې خبره شوه، موږ له بختیار صاحب څخه ټکټونه، د هوټل او ډوډۍ بیلونه وغوښتل، بیا وروسته هغه وويل چې نه یې غواړم، دومره ډیري پیسې نه دي، موږ پوه شوو چې بیلونه ورسره نشته.

ښاغلي ساپي زیاته کړه، دا ډول ښاغلي بختیار وويل چې کوم کسان له کابل څخه تللي وو، هغوی د طلوع ټلویزون په اړه ډیرې بدې خبرې وکړې، طالبانو ته یې وويل چې د طلوع ټلویزون فاحشه خانه ده، هلته په اطاقونو کې د فحشا لپاره توکي پراته وي، طلوع کې یهود او ایرانیان هم کارکوي.

ښاغلي بختیار دا هم وويل چې طالبان خپلواک ساپي (د طلوع ټلویزون مرستیال) ته ډیر په قهر وو، هغوی ویل چې د کندز خبر همده جوړ کړی و، او دا سړی طلوع تلویزون ته د امنیت لخوا راوستل شوی، نیم معاش ورته د کابل

استخبارات او نیم ورته طلوع ټلویزون ورکوي.

بختیار صاحب موږ (د طلوع اداري ته) دا هم وویل چې طالبان په خبرونو او راپورونو کې توازن غواړي، که توازن ونه شي نو بیا تهدید موجود دی.

بختیار صاحب ویل چې د طلوع خلاف خبرې ډېرې همدې کسانو کولي چې له کابل څخه تللي وو، او ټول بحثونه په طلوع باندي کېدل.

خپلواک ساپی زیاته کړه، سخت خفه وم، هغه ورځ مې یو ځل وغوښتل چې په خپل فیسبوک ولیکم چې ولي دومره بې عدالتي کیږي او یو چاته ګواښ کیږي. بیا مې حوصله وکړه، ومې نه لیکل، خو ډېر خفه وم، نه پوهیدم چې دا خبره له چا سره شریکه کړم. او ډېر کور ودان چې تاسي (مطمئن) راغلاست او خبرې سره کوو.))

څو ځله یې له ما (لیکوال) څخه مننه وکړه، ماته معلومه شوه چې هغه د بختیار صاحب خبرو ډېر په اندیښنه کې اچولی وو.

ښاغلي خپلواک ساپي وویل : (( کله چې د کندز اړوند خبر د شپې ٦ بجې نشر شو، د شپې لس بجې یې موږ د طالبانو لخوا د رد خبر هم نشر کړ، او هغه خبر رد شو [1].

بیا هم ستونزه د خبرو د لاري حل کیدای شي، ښه ده چې خبرې وشي. او سوء تفاهمات لیری شي.))

د خبرې څانګې مشر ښاغلي پرویز شمال وویل: (( بختیار صاحب ته ما وویل چې له طالبانو غوښتنه وکړه چې موږ ته بیرته اعلامیې را ولیږي او د طالبانو سره د مرکې غوښتنه هم د طلوع د سیاسي څانګې مهدوي لخوا شوې وه.))

هغوی داسي ونه ښودله چې بختیار صاحب به ورته ویلي وي چې طالبانو ایمیل ادرسونه ورڅخه غوښتي دي.

درې واړو ویل چې یوازې د اداري لخوا ښاغلي بختیار ته ویل شوي چې په قطر

---

[1] ولي پوښتنه داده چې ولي غیر موثق خبر په کور دننه د لومړۍ کټه ګورۍ نړیوال ټلویزون څخه دومره په بیړه خپور شي.

کې د طالبانو سره د مجلسونو اړوند یو راپور ترتیب کړي او د تهدید په ډول هیڅکله ورته نه دي ویل شوي.

خپلواک ساپي وویل: ((یوه ورځ بختیار راته ټلیفون وکړ چې د امریکا سفارت غوښتی یم ورشم که نه؟ ورته مې وویل چې خپله خوښه دي ده، ویې ویل چې زه نه ورځم [۱].))

ښاغلي بختیار ته د منسوب ځینو خبرو اړوند وضاحت ته اړتیا لیدل کیدله، او ما لیکوال ورته وویل :

د تګ او راتګ ټکټ مور ټولو ته د طالبانو د سیاسي دفتر لخوا رالیږل شوې وو، هوټل او ډوډۍ هم د هغوی لخوا وو، مور ټول ٦ واړه یوځای اوسیدو، او په یوه هوټل کې وو.

د طلوع اړوند هلته یوازې د کندز پیښې او خبر په اړه د بحث په جریان کې یادونه شوې، او نور بحثونه عمومې د رسنیو او نورو مسایلو اړوند کیدل، دا خبره سمه نه ده چې ټول بحثونه په طلوع ټلویزون کیدل.

طالبانو ته بختیار صاحب وویل چې زه د طلوع ټلویزون استازیتوب نه کوم، ولي د خپل سیاسي پروګرام استازیتوب کوم.

د کابل څخه چې څوک تللي وو، هغوی دومره سپک خلک نه وو چې تهمت ووایي او یا هم د طلوع ټلویزون بحث وکړي، ځکه هلته د طلوع ټلویزون څخه شاپور بختیارموجود وو.

د طلوع ټلویزون کارکوونکو باندي د حملې اړوند هم شاپور بختیار ویلي و چې د کابل څخه تللي کسانو په قطر کې ناسمې خبرې کولي، ما لیکوال ورته وویل چې زه په دې اړه هغه څه نه وایم چې کومې خبرې ښاغلی بختیار کړي، خو دا سمه نه ده چې د کابل څخه تلونکو کسانو دې ناسمې خبرې کړي وي.

---

[۱] هدف یې د هغې ناستې اړوند اشاره وه چې کله د ۲۰۱٦ ډسمبر پر ۸مه مور ۵ کسانو د امریکا سفارت کې وکړه.

خپلواک ساپي وويل : (( د طلوع ټلويزون تګلاره طالب ضد نه ده، د هيچا په ضد نه ده، او تعادل ساتل غواړو.

د دوستم اړوند چې کوم خبر طلوع ټلويزون خپور کړ، دا يو خبر وو، که څه هم د حکومت په خلاف خبر وو [۱]))

ما (ليکوال) وړانديز ورته وکړ چې يوه ورځ تاسي همدلته د طلوع ټلويزون کې له موږ ګردو ٦ تنو سره چې قطر ته تللي وو کومه ورځ ناسته ترتيب کړئ، موږ ګرده به راشو او د مجلس پر مهال به هرڅه روښانه شي، خو دومره وايم چې بختيار صاحب د دې پرځای چې د فاصلې کموالی راولي، د فاصلې د زياتوالي هڅه شوې.

د طلوع ټلويزون کسانو غوښتنه وکړه که د طالبانو سره د مرکې لپاره امکانات وي، زه (خپلواک) خپله ورځم، ورته مې وويل چې اوس به مشکله وي، خو که تاسي غواړئ چې له سهيل شاهين صاحب سره رابطه ولرئ، ما اجازه اخيستي، زه به يې ايميل او د ټليفون نمبر درکړم.

هغوی ډير خوشاله شول، او خپلواک ساپي راته وويل چې راته ايميل يې کړه.

د نيوز او سياسي برخې مشران يې هم د معلوماتو په ورکړه خوشاله ښکاريدل.

د خبرونو څانګې مشر وويل: (( کله چې د بغلان اړوند د مزدورانو د مرګ خبر راغی، اول وخت کې ويل کيدل چې داکار طالبانو کړی، ثبوت نه وو،او موږ هم ونه ويل، بيا وروسته مې د ذبيح الله مجاهد ټويټر څخه د هغوی د مرګ د رد خبره واخيسته او ومو ويل چې طالبانو په دې پيښه کې لاس لرل رد کړي. موږ خپله کوشش کوو چې بې طرفي وساتو. ))

---

[۱] د جوزجان پخواني والي، دولسمشر د لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم د جنبش ګوند پخواني مرستيال ښاغلي ايشچې پر دوستم تور لګولی او د طلوع ټلويزون سره د مرکې پر مهال يې وويل چې دوستم ورسره ناوړه چلند کړی، او د دوستم د ساتونکو لخوا په جنسي ځورونه تهديد شوی وو، بيا وروسته په نورو مرکو کې ښاغلي ايشچې وويل چې د دوستم د کسانو لخوا د دوستم په امر دهغه په مخ کې جنسي ځورونه ورکول شوي

د سياسي برخې مشر او خپلواک ساپي جلاجلا وويل : (( مـوږ کلـه هـم بختيـار صاحب ته نه دي ويلي چې ته کوم څوک سياسي بحث (تودې خبرې) تـه راوغـواړه او کوم څوک مه راغواړه، همدا تاسي چې د طالبانو په اړه کوم نظر لرئ لـه همـدې طلوع څخه کټ مټ خپور شوی.))

دا به سخته وي چې د ساپي پورته خبره ومنل شي چې طلوع ټلويزون د هر نظر کسانو ته  په خپلو سياسي او خبري برخو کې د نظر د څرګندولو لپـاره تناسـب پـه نظر کـې نيـولی دی، داسي نـه ده، طلـوع ټلـويزون خپلـې ځـانګړې مـوخې لـري، سياسي او خبري برخو کې د نظر څرګندوالي لپاره د کسانو غوښتل او انتخاب هم د عادي کارکوونکو خوښه نـه ده، او تـر ډيـره د افغـان حکومـت مخـالفو وسـلوالو ډلـو اړوند يو طرفه نظر وړاندي کوي. که د دغـه ټلويزيـون د بحثونـو پـه اوږدو کـې هغـو ميلمنو سره د کوربنو چلن ته پام وکړو، چې امريکايي سياستونه نقدوي، په اسـانۍ سره پوهېدای شو چې ټلويزيون د چا په ګټه تبليغات کوي.

ښاغلي خپلواک ساپي وغوښتل کـه هغـه ايميـل ادرس ورتـه ورکـړل شي چـې د طلوع ټلويزون له ادرسه د طالبانو فرهنګی کميټې تـه اسـتول شـوی چـې د طلـوع ټلويزون ستونزه له طالبانو سره حل شوي.

مجلس په ښه فضـا کـې خـتم شـو، د معلومـاتو اړونـد خوشـاله و، خـو د بختيـار صاحب په اړه مخکې له مخکې دوی هم د هغه د خبرو اړوند شک درلود.

زموږ مجلس د ماسپښين پر ۱:۴۵ بجې پای ته ورسيدی.

*****

يادونه: فکر کيږي چې شاپور بختيار د امريکا سفارت او مـلي امنيـت کـارکوونکو ته هم غلط معلومات ورکړي، د نورو ۵ ملګرو اړونـد بـه يـې پـه خـبرو کـې زيـاتوالی کړی وي، او هغوی به يې د طالبانو په ملاتړ تورن کړي وي، ځکـه خـو هغـه بيـا لـه موږ سره د امريکـا سـفارت او د مـلي امنيـت مشرـ سره مجلـس کـې د ګـډون لپـاره چمتو نه وو، ځکه هلته ټول مسايل په رښتونې ډول مطرح کيدل.

# د پای خبرې

لکه څنګه چې د کتاب سریزه کې هم ورته یادونه وشوه، په کتاب کې هڅه شوې چې د لیکوال د نظریاتو او ارزونو پر ځای په ناستو کې د ګډونوالو نظریات تر لوستونکو ورسول شي. که کتاب مو بشپړ لوستلی وي، د سولې اړوند به د ښکېلو اړخونو او د سولې د فعالینو نظریات درته جوت شوي وي. د سولې مخکې پر پرتو خنډونو او راتلونکي لرلید به هم هیله ده درته یو څه روښانه شوی وي. په دې اړه چې څوک د سولې تر نامه څه غواړي، او نورو مسایلو په اړه قضاوت تاسې لوستونکو ته پرېږدم. نهیلی نه یم. که څه هم، د اوس لپاره د سولې په اړه یو محسوس خوځښت او پرمختګ نه تر سترګو کېږي، خو دا په دې معنا نه ده چې موږ به ارام کینو او سولې ته به کار نه کوو.

د سولې پر لور د یو کوټلي خوځښت پر لاره یو شمېر ننګونې او پېچلتیاوې به تاسې ته د دې کتاب له متن څخه تر یو حده واضح شوې وي. خو زه یې دلته په څو ټکو کې بیا را خلاصه کوم:

۱. افغان حکومت هڅه کوي چې نړیوالو ته طالبان د یوې نظامي او اورپکي ډلې په توګه وروپېژني، طالبان هڅه کوي چې نړیوالو ته وښيي چې دوی بشپړ سیاسي نظام لري، قوي سیاسي لیډلوری لري، او پوځي اړخ کې د اړتیا پر بنا عمل کوي. نړیوال هم لیوالتیا لري چې طالبان له نظامي ګوښیتوب څخه راووځي او په سیاسي برخه کې رول ولوبوي.

۲. ګومان کوم عام لوستونکې به هم اوس دې نتیجې ته رسېدلي وي چې د طالبانو د قطر سیاسي دفتر پخوا او اوس یوه اړتیا ده، ولې افغان حکومت یې د ترلو او فعالیتونو د بندیدو غوښتنه کوي، بل خوا بیا نړیوال په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر پر اړتیا پوهېږي. دلته باید دې ټکي ته هم اشاره وشي، چې د طالبانو له قطر دفتره له افغانانو بهرنیانو زیاته ګټه پورته کړې. امریکایانو له همدې دفتر سره د خبرو له لارې خپل بندي راخلاص کړ؛ خو افغانان بیا تر

اوسه نه دي توانېدلي چې له دې دفتر سره د مذاکراتو له لارې دغه وړ یو پرمختګ ولري.

۳. طالبان وایې چې د واک انحصار نه غواړي، ډېری نړیوال قانع شوي، ولي ځینې افغان سیاستوال لا هم شک کوي چې کیدای شي طالبان د زیاتو واکونو غوښتونکي وي.

٤. یوه لویه ستونزه دا ده چې افغان حکومت وایي چې طالبانو سره مخامخ خبرې نتیجه نه ورکوي، له پاکستان سره باید خبرې وکړو، او نړیوال پر پاکستان فشار راوړي چې طالبان خبرو ته کینوی، بل خوا بیا طالبان وایې چې د افغانستان د جګړې اصلي اړخ امریکا ده، باید امریکا له طالب سره مخامخ خبرو ته کیني. بل لورې ته بیا امریکا وایې چې افغان حکومت یو قانوني او مشروع حکومت دی، نړۍ په رسمیت پېژندلی دی، طالبان باید له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کښیني.

۵. پاکستان د سولې له پروسې د امتیازاتو ترلاسه کولو هڅه کوي، د افغانستان د خاوري لاندي کولو تکل لري، هند په افغانستان کې پاکستان ضد روحیه تقویه کوي، او ایران بیا فرهنګي او مذهبي تیری کوي.

٦. طالبان وایې چې د بهرنیو پوځیانو د وتلو مهالویش دي اعلان شي، او افغان حکومت بیا له امریکا او ناټو څخه غواړي چې نور اضافي پوځیان افغانستان ته د دوی مرستې ته راواستوي.

۷. طالبان هڅه کوي چې د سولې نړیوالې غونډې جوړې شي او په ترڅ کې یې خپلې غوښتنې افغان حکومت او نړیوالو ته ورسوی، افغان حکومت بیا د داسي نړیوالو غونډو مخالفت کوي چې طالبان په کې ګډون وکړي.

۸. د امریکا ډیپلوماټانو په وضاحت سره دا خبره کوله چې افغان حکومت د امریکا او نړۍ لپاره قانوني او مشروع حکومت ګڼل کیږي، طالبان باید له حکومت سره خبرې وکړي، او د مارچ پر لومړۍ ورځ د پګواش اداري مشر- ښاغلي پاولو هم

موږ ته د ناستې پر مهال وویل چې امریکا به هیڅکله له طالبانو سره مخامخ خبرې ونه کړي.

طالبانو سره د ناستو پر مهال هغوی په ښکاره وویل چې پرته د بهرنیو پوځیانو د مهالویش له اعلان څخه د سولې مذاکرات نتیجه نه لري. افغان حکومت چې د امریکا او نړیوالې ټولنې مرسته له ځان سره لري، غواړي چې طالبان په ډلو وویشل شي، او د نورو ځینو وسلوالو ډلو د قوي ښودلو لپاره تبلیغات کوي، حکومت غواړي چې طالبان په حکومتي ادارو کې ورسره یوځای شي، داسې سوله وکړي لکه له حزب اسلامي سره چې وشوه.

۹. د سولې اړوند د افغان حکومت، طالبانو، د سیمې هیوادونو او د نړۍ د سترو قوتونو بېلابېل تعریفونه دي، او په سوله کې هره ډله او هیواد خپلو موخو ته د رسیدو هڅې کوي.

دغه پورتني مسایل د سولې هڅې پېچلې کوي.

**همدا ډول د سولې راتلونکې لرلید هم په لاندې څو ټکو کې خلاصه کېدای شي:**

۱. که د افغانستان جګړه قابو نه شي، د سوریې د جګړې تکرار هم شونی دی، امریکا غواړي چې د پاکستان اټومي وسلې تر څار لاندې راولي، او پاکستان هم په دې برخه کې د امریکا او نړیوالو نفوذ او دخالت ته لاره اواروي، داسې چې پنجاب وار له مخه بلوڅان د ځان دښمنان ګرځولي، اوس یې په پاکستان کې د مېشتو پښتنو دښمني پیل کړې ده.

۲. د داعش ډلې قوي کېدل بله موضوع ده، چې روسیه، چین او ایران یې په اندیښنه کې اچولي دي، هغوی ویره لري چې په سوریه او عراق کې د اسلامي دولت جنګیالي به د افغانستان شمال او ختیځ ته مخه کړي، او بیا به د دوی لپاره امنیتي ستونزې جوړوي.

۳. دواړه لوري (افغان حکومت او طالبان) د هوا ګرمیدو او پسرلي رارسیدو لپاره د جګړې چمتووالي نیسي.

۴. د سولې په اړه نه خو افغان حکومت او نه هم طالبان ښکاره تګلاره لري، د سولې پروسه کاملاً له بن بست سره مخ شوې ده.
۵. که طالبان د سولې په برخه کې قرباني ورنه کړي، او سولې ته د رسیدو لپاره په عوضي لارو چارو فکر ونه کړي، کیدای شي چې د اویایمو کلونو (کورنۍ جګړې) تجربه بیا تکرار شي.
۶. امریکا، پاکستان او افغان حکومت هڅه کوي چې د چین د لاري طالبانو ته قناعت ورکړي تر څو په دریدلو څلور اړخیزو ناستو کې د ګډون لپاره هوکړه وکړي.
۷. ځینې افغان سیاستوال په احتیاط سره د مسکو وروستۍ شپږ اړخیزه ناستي مهمې ګڼي، خو چې په راتلونکې کې امریکا او ځیني نور هیوادونه د طالبانو د استازو په ګډون پکې برخه ولري.
۸. داسي ښکاري چې جګړه به دوام ولري، ځکه امریکا په سیمه کې جګړه غواړي، افغان حکومت د سولې تر نوم لاندي د طالبانو تسلیمیدل غواړي، او طالبان بیا وایې چې تر څو بهرني پوځیان شتون ولري، دوی به جګړې کوي.
۹. نږدې ۴۰ کلونه په هیواد کې جګړه دوام لري، که د جګړې د ختمیدو هڅې ونه شي، ممکن زموږ ډیری نور ځوانان هم د جګړو قرباني شي.
۱۰. ویره لرم که سوله ونشي، زموږ ماشومان او ځوانان به د جګړې قرباني وي، او که بیا په جګړه کې کوم لوری پرمختګ کوي، په نړیوال کچه به یې ګټه امریکا یا روسیې ته رسیږي، دا ډول په سیمه ییزه کچه به د جګړې ګټه هند او یا پاکستان ترلاسه کوي، په مذهبې او کلتوري برخه کې به په هر حال تر ډیره ایران خپلو موخو ته په افغانستان کې رسیږي.

زما افغان ځوانانو ته وړاندیز دی، چې په پوره قوت سره د رښتونې سولې لپاره متې راونغاړي، او هر هغه ډله، لوری او اشخاص چې د سولې مخ کې خنډ وي، د هغوی د سولې د خنډونو مخه ونیسي.

**د یوه هوسا، بسیا او سوله‌ییز افغانستان په هیله!**

# لنډ ژوند لیکونه

میرویس نیکه: په افغانستان کې د هوتکو د پاچاهۍ بنسټ ایښودونکی او امپراتور ( ۱۷۰۹ تر ۱۷۱۵ ) ز.کال

احمد شاه بابا: د لوی افغانستان امپراتور (۱۹۴۷ تر ۱۹۷۲) ز.کال

ملا محمد عمرمجاهد: د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ د چاه همت کلي کې په ۱۹۶۰ ز.کال کې زیږیدلی دی، د طالبانو د اسلامي تحریک بنسټ ایښودونکی، د طالبانو روحاني او معنوي مشر، دیني زده کړې یې د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالي د شهرکهنه سیمې دینې مدرسې کې کړي دي.

د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو پر ضد جهاد یې د ارزګان د دهراود ولسوالۍ څخه پیل او بیا په ۱۹۸۳ ز. کال کې کندهار ته د جهاد لپاره ولاړ هلته یې د میوند، ژړۍ، پنجوایي او ډنډ ولسوالیو په مربوطاتوکې د شوروي او افغان کمونسټ پلوه قواوو په ضد د حرکت انقلاب اسلامي اړوند جبهو کې جهاد کاو.

په ۱۹۹۴ز. کال کې یې د خپلسرو وسلوالو پر ضد د طالبانو د اسلامي تحریک تر نوم لاندي جګړه پیل کړه، د ۱۹۹۶ د اپریل پر ۴مه د ۱۵۰۰ علماو لخوا د "امیرالمؤمنین" لقب ورکړل شو. د ۱۹۹۶ز. کال د سپټمبر پر ۲۷مه نیټه طالبانو کابل تر خپل واک لاندي راوستی او د ۲۰۰۱ د نومبر پر ۱۳ مه د طالبانو نظام ونړیدی، کابل یې له لاسه ورکړ.

ملا محمد عمرمجاهد د طالبانو د سرچینو په حواله، په ۲۰۱۳ د اپریل په ۲۳مه د زابل ولایت په یوې لیري پرتې سېمه کې له نړۍ څخه سترګې د تل لپاره پټې کړي.

ملا اخترمحمد منصور: د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د بندتیمور سېمه کې په ۱۹۶۸ ز. کال کې زیږېدلی دی، دیني زده کړې یې په خپله سیمه او پاکستان کې د مهاجرو په مدرسو کې کړي، او د جهاد پر مهال د پخواني شوروي اتحاد پر ضد یې جګړو کې برخه درلودله. د حرکت انقلاب اسلامي او اسلامي حزب

(مولوي خالص) په جبهو کې يې جهاد کړی دی.
د طالبانو د نظام پر مهال د ملکي هوايې چلند وزير و، د امريکا له حملې وروسته د طالبانو د رهبري شورا غړی و، او په ۲۰۱۰ز. کال کې د ملابرادراخوند تر نيول کيدو وروسته د ملا محمد عمر مجاهد نائب شو.

د ملا محمد عمر مجاهد له مرگ وروسته د ۲۰۱۵ ز. کال د جولای پر ۲۹مه د طالبانو مشر وټاکل شو او د ۲۰۱٦ کال د مئ مياشتي پر ۲۱مه د امريکا د بې پيلوټه الوتکې په بريد کې د ډيورنډ کرښې ته نږدې د نوشکي په سيمه کې تر بريد لاندې راغی او ووژل شو.
شيخ هبة الله اخوندزاده: شيخ الحديث مولوي هبة الله اخند زاده په ۱۹٦۱ز.کال کې د کندهار ولايت د پنجوايي ولسوالۍ د ناخوني په کلي کې زيږېدلي او لومړنۍ ديني زده کړې يې په خپله سيمه کې کړي. اصل ځای يې د کندهار د تخته پل ولسوالۍ ده، مگر شيخ د پنجوايې په ناخوني کلي کې پيدا شوی.
د پخواني شوروي اتحاد پر ضد جهاد کې يې فعاله ونډه درلودله، د حرکت انقلاب اسلامي او اسلامي حزب (مولوي خالص) په جبهو کې يې جهاد کړی دی، شيخ او ملا اختر محمد منصور د مجاهدينو په يوه جبهه کې يو ځای جهاد کړی دی.
د طالبانو د نظام پرمهال د ننگرهار او کابل د نظامي محکمې رئيس پاتې شوی، پر افغانستان د امريکا تر حملې وروسته د طالبانو د دعوت او ارشاد، د محاکمو عمومي مشر او د ملا اخترمحمد منصور لومړی مرستيال پاتې شو.
شيخ هبة الله اخوندزاده د ۲۰۱٦ د مئ مياشتي پر ۲۵مه د طالبانو مشر وټاکل شو.
سراج الدين حقاني: د حقاني شبکې د بنسټ اېښودونکي جلال الدين حقاني زوی ، د حقاني شبکې اوسنی مشر او د شيخ هبة الله لومړی مرسيتال
مولوي محمد يعقوب: د طالبانو د مشر شيخ هبة الله دويم مرستيال او د ملا محمد عمر مجاهد زوی.

ملا عبيدالله اخوند: د کندهار پنجوايي ولسوالۍ کې زېږېدلی. لومړنۍ ديني زده کړې يې په خپله سېمه کې کړي، د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو په وړاندې يې جهاد کړی، د طالبانو د نظام پر مهال د دفاع وزير، د امريکا تر حملې وروسته د ملا محمد عمر مجاهد لومړی نايب، د پاکستان د استخباراتو لخوا په ۲۰۰۷ ز.کال د فبروري مياشت کې ونيول شو، زنداني شو. د ۲۰۰۷ کال د نومبر مياشت کې د طالبانو سره تر ۲۰۰ زيات پاکستانيانو بنديانو په تبادله کې خوشې شو، او دويم ځل د پاکستان لخوا د ۲۰۰۸ کال په فبروري کې ونيول شو، د زياتو شکنجو وروسته ۵ مارچ ۲۰۱۰ ز. کال کې د پاکستان په کراچۍ ښار په يو زندان کې شهيد شو.

ملا برادر اخوند: د اروزګان ولايت په د هراود ولسوالۍ کې په ۱۹۶۸ز.کال کې زېږېدلی. ديني زده کړې يې په خپله سيمه کې کړي، د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو پر وړاندې يې جهاد کړی دی، د طالبانو د نظام پر مهال د هرات والي، د کابل د مرکزي قول اردو قومندان، د امريکا له حملې وروسته د ملامحمد عمر مجاهد نايب. د پاکستان لخوا د ۲۰۱۰ کال د فبروري مياشت پر اتم سهار ونيول شو، زنداني شو، او د ۲۰۱۳ز. کا د سپټمبر پر ۲۱مه له بند څخه ازاد شو، اوس مهال هم د پاکستاني استخباراتو تر څارنې او نظربندي لاندې دی، عصبي ناروغي ورته پيښه شوې ده.

ملا عبدالقيوم ذاکر: د طالبانو د نظام پر مهال د ځينو جګړو د لومړيو کرښو قومندان، د ګوانتانامو څخه راخلاص شوی بندي، له بند څخه تر راخوشې کيدو وروسته د طالبانو د نظامي کميسون مشر او د ملامحمد عمر مجاهد نايب. د هلمند ولايت د کجکي ولسوالۍ کې په ۱۹۷۳ ز. کال کې پيدا شوی.

سيد محمد طيب اغا: د کندهار ولايت د ارغنداب ولسوالۍ په جيلاور کې په ۱۹۷۶ ز. کال کې پيدا شوی، د جهاد پرمهال يې کورنۍ په کندهار کې ډېره مشهوره وه،

دده مشر ورور لالا ملنګ د طالبانو په نوم د اسلامي حزب (مولوي خالص بابا) ګوند پوري تړلې جبهه درلودله، د اغا پلار (حاجي سدوزی اغا) په لومړي وخت کې د مولوي نصرالله منصور (حرکت اسلامي) او بیا وروسته د مجاهدینو د اتحاد اسلامي ګوند سره پاتې شو، زده کړي یې د اتحاد اسلامي په لیسه کې په کوټه کې کړي، د طالبانو د نظام پر مهال په اسلام اباد کې په سفارت کې لومړی سکرتر وو، وروسته د ملا محمد عمر مجاهد سره سلاکار او کاتب و، د طالبانو د نظام تر ړنګیدو وروسته د طالبانو د سیاسي کمیټې مشر او د طالبانود قطر د سیاسي دفتر مشر و، کله چې طالبانو خپل نوی مشر ملا اختر محمد منصور وټاکی، سید طیب اغا د ۲۰۱۵ ز.کال د اګسټ پر ۴مه د سیاسي دفتر له مشرتوبه استعفی ورکړه، اوسمهال په قطر کې په علمي او فرهنګي چارو کې بوخت دی.

مولوي نیک محمد: د طالبانو د نظام پر مهال د سوداګرۍ مرستیال وزیر، د کندهار د پوهنې رئیس، د امریکا تر حملې وروسته د طالبانو د رهبري شورا غړی، په ایران کې د طالبانو سیاسي استازی، د قطر دفتر پخوانی غړی، د ۲۰۱۵ ز.کال د مارچ پر ۸مه یې د قطر د سیاسي دفتر له غړیتوب څخه استعفی وکړه.

ملاعبدالسلام ضعیف: دینې زده کړي یې په کور دننه او بیا وروسته د هجرت پر مهال په افغاني مدارسو کې کړي، د جهاد پر مهال یې د حرکت انقلاب اسلامي اړوند د طالبانو جبهه کې جهاد کړی، هغه وخت هم د ملا محمد عمر مجاهد سره ملګری پاتې شو، د طالبانو د نظام پر مهال د دفاع وزارت اداري رئیس، د ترانسپورټ لوی رئیس او په اسلام اباد کې سفیر پاتې شوی، د پاکستان لخوا په اسلام اباد کې په خپل کور کې ونیول شو، امریکایانو ته وسپارل شو، بګرام زندان ته یوړل شو، او بیا وروسته یې په ګوانتانامو کې ۴ کلونه زندان تیر کړ.

د افغان بنسټ مشر دی، او دغه بنسټ اوسمهال افغان پوهنتون، افغان ښوونځی، افغان مدرسه، افغان مجله او افغان ږغ راډیو لري.

د سولې په هڅو بوخت دی، په بېلابېلو کورنیو او نړیوالو د سولې اړوند ناستو کې یې ګډون کړی، د کندهار ولایت د پنجوایې ولسوالي د کندلانو سیمې اوسیدونکی دی، اوسمهال د کابل په بګرامیو ولسوالي کې استوګن دی.
مولوي وکیل احمد متوکل: د جهاد پر مهال د حرکت انقلاب اسلامي ګوند سره پاتې شوی، دینې زده کړې یې د پاکستان د بلوچستان سېمه کې د حرکت انقلاب اسلامي اړوند مدرسه کې کړي، د طالبانو له مشرانو څخه وو، د ملا محمد عمر مجاهد سلاکار او بیا وروسته د بهرنیو چارو وزیر وو، د حامد کرزي د حکومت پر مهال یې دکندهار او باګرام زندان کې ۲ کلونه تیر کړي، اوس په علمي برخه کې په خدمت بوخت دی، د افغان بنسټ موسس غړی او د افغان پوهنتون رئیس دی، د کندهار ولایت د میوند ولسوالي د مورچې کلي اوسیدونکی دی، اوسمهال کابل ښار کې استوګن دی.
مولانا عبدالرزاق فتاحي: د جهاد پر مهال د حزب اسلامي مولوي یونس خالص بابا اړوند جبهو کې یې جهاد کړی، دینې زده کړي یې په کور دننه او د هجرت په وخت کې په پاکستان کې په افغاني مدرسو کې کړي دي، د طالبانو د نظام پر مهال د سوداګرۍ وزیر وو، د حامد کرزي د حکومت پر مهال د کندهار په شاولیکوټ ولسوالۍ کې ونیول شو، باګرام زندان او بیا ګوانتانامو ته واستول شو، ۵ کلونه په ګوانتانامو کې بندي وو، اوسمهال د افغان بنسټ مرستیال دی، د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ د کیخآباد کلي اوسیدونکی دی، اوسمهال کابل ښار کې استوګن دی.
مولوي عبدالکبیر: د طالبانو د نظام پر مهال د ننګرهار والي، د ختیځ زون تنظیمه رئیس، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال.
شیرمحمد عباس ستانکزی: د طالبانو د قطر سیاسي دفتر مشر، د رهبري شورا غړی، د ارکانو شورا مشر، د طالبانو د نظام پرمهال د بهرنیو چارو او بیا وروسته

دعامې روغتیا مرستیال وزیر پاتې شوی.

د لوګر ولایت د بره کې برک ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی، پوځي زده کړې یې په کور دننه او دهند په دهرادون اکاډمۍ کې کړې. د پخواني شوروي اتحاد پر ضد د جهاد پر مهال د اتحاد اسلامي (استاد سیاف) د ګوند غړی او د جنوب لویدځې حوزې لپاه د یاد ګوند نظامي مسؤول و.

ملا محمد عباس اخوند: د طالبانو د نظام پر مهال د عامې روغتیا وزیر، اوسمهال د طالبانود روغتیا چارو د کمیسیون مشر.

شیخ شهاب الدین دلاور: د قطر سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی، د ملکي وژنو د څیړنې د برخې مسؤول، د طالبانو د نظام پرمهال د کندهار د تمیز رئیس او په اسلام اباد کې سفیر پاتې شوی.

د لوګر ولایت د بره کې برک ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی، مشهور دیني عالم او مدرس دی، د جهاد پر مهال د حرکت انقلاب اسلامي ګوند غړی، د پېښور جلوزو د مهاجرو په پنډ غالي کې یې دیني مدرسه درلوده.

شیخ سید رسول حلیم: د قطر سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی. د طالبانو د نظام پر مهال یې رسمي دنده نه درلوده.

د ننګرهار ولایت د خوګیاڼو ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی، مشهور دیني عالم او مدرس دی، له شوروي اتحاد سره د جهاد پر مهال یې په جها د کې برخه درلوده.

مولوي جان محمد مدني: د قطر سیاسي دفتر د ارکانو شورا غړی، د طالبانو د نظام پرمهال په متحده عرب اماراتو کې سفیر او د الصمود عربي مجلې مسؤول هم پاتې شوی. د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی، مشهور دیني عالم او مدرس دی، دیني زده کړي یې په کوردننه او د سعودي عربستان په مدینه منوره کې کړي دي. له پخواني شوروي اتحاد سره دافغان ولس جهاد کې یې برخه درلوده.

قاري دين محمد حنيف: د طالبانو د رهبري شورا غړی، د قطر سياسي دفتر د اركانو شورا غړی، د طالبانو د نظام پرمهال د پلان او بيا وروسته د لوړو زده کړو وزير پاتې شوی. د بدخشان ولايت د يفتل ولسوالۍ اصلي اوسيدونکی، له پخواني شوروي اتحاد سره دافغان ولس جهاد کې يې برخه درلودله.

مولوي نورمحمد ثاقب: د طالبانو د نظام پرمهال د ستري محکمې رئيس، اوسمهال د طالبانو د رهبري شورا غړی او د پوهنې او لوړو زده کړو کميسون مشر.

حاجي محمد زاهد احمدزی: د قطر سياسي دفتر غړی او پخوانی د رهبري شورا غړی و، د طالبانو د نظام پر مهال په اسلام آباد کې د افغانستان سفارت کې ډيپلوماټ پاتې شوی.

د لوگر ولايت اصلي اوسيدونکی، له پخواني شوروي اتحاد سره دافغان ولس جهاد کې يې برخه درلودله.

مولوي عبداللطيف منصور: د طالبانو د نظام پرمهال د هلمند والي، د ذراعت وزير، د امريکا تر حملې وروسته د لنډ وخت لپاره د طالبانو د سياسي کميسون مشر، اوس د طالبانو د رهبري شورا منشي دی.

ملا عبدالجبار عمري: د طالبانو د بنسټگر مشر ملا محمد عمر سکرتر، ۴۷ کلن دی، د زابل د سيوري ولسوالۍ اوسېدونکی او د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د ملا عمر نژدې ملگری او باوري سړی بلل کېده.

د لغمان د اليشنگ ولسوال وروسته د بغلان او سمنگانو والي و، هغه مهال چې پر طالب واکمنۍ د امريکا او ملاتړو گوزارونه يې پيل شول، عمري د کندوز د هوايي ډگر مشري کوله.

د طالبانو له پرځېدو وروسته ملا عبدالجبار عمري يو څه مهال د ملا محمد عمر امنيتي مسؤول و. اوس مهال له حکومت سره بندي دی.

مولوي احمد جان : د طالبانو د نظام پرمهال د معادنو او صنايع وزير

ښاغلی سهیل شاهین: د قطر سیاسي دفتر ویاند او د اړیکو مسؤول، د ارکانو شورا غړی، د طالبانو د نظام پرمهال د کابل ټایمز ورځپاڼې مسؤول مدیر او په اسلام اباد کې د افغانستان د سفارت مرستیال پاتې شوی.

د پکتیا ولایت د احمد ابا ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی، له شوروي اتحاد سره د جهاد پر مهال د حرکت انقلاب اسلامي گوند غړی و.

ملاعبدالاحد جهانگیروال: د قطر سیاسي دفتر غړی، د طالبانو د نظام پرمهال د ملا محمد عمر مجاهد کاتب او نظامي سلاکار و.

د زابل ولایت د نوبهار ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی دی.

ملا عبدالحی مطمئن: د طالبانو د نظام پر مهال د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رئیس، د طالبانو د حکومت پر مهال ویاند، د امریکا ترحملې وروسته د طالبانو د فرهنگي کمیسون غړی او د طالبانو د مشر ملا اختر محمد منصور سیاسي سلاکار وو.

ډاکټر محمد نعیم وردگ :د قطر سیاسي دفتر غړی، د دکتورا تر کچې یې د اسلام اباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې زده کړې کړي.

د میدان وردگ ولایت د چک ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی دی.

ډاکټر مزارگل صالح: د قطر سیاسي دفتر غړی، د دکتورا تر کچې یې د اسلام اباد په نړیوال اسلامي پوهنتون کې زده کړې کړي.

د کابل ولایت د کوه صافي ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی دی.

حاجي محمد داود عابد: د قطرسیاسي دفتر د تشریفاتو مشر، د طالبانو د نظام پرمهال په کوټه او کراچۍ کې د طالب زخمیانو د تداوي مسؤول و، دیني زده کړې یې کړي. د کاپیسا ولایت د تگاب ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی دی، له پخواني شوروي اتحاد سره دافغان ولس جهاد کې یې برخه درلوده.

عزیز مسرور: د سیاسي دفتر غړی، د لیسانس تر کچې دیني او عصرې زده کړې لري. د ننگرهار اوسېدونکی دی.

مولوی هدایت الله: د سیاسي فتر غړی، د لیسانس تر کچې دینې او عصرې زده کړې لري، د ننګره ولایت د خوګیاڼو ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی دی.
استاد نجیب الله: د سیاسي دفتر غړی، په نړیوالو اړیکو کې د ماسټرۍ تر کچې عصرې زده کړې لري. د پکتیا ولایت داحمدابا ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی دی.
ښاغلی منیر سادات : د سیاسي دفتر غړی. د ماسټرۍ تر کچې زده کړې کړې. د ننګرهار ولایت اصلي اوسیدونکی دی.
عمار یاسر: د سیاسي دفتر غړی، د لیسانس تر کچې یې زده کړې کړې. د مشهور او پېژندل شوې جهادي مشر استاد محمد یاسر مشر زوی دی.
د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اصلي اوسیدونکی دی.
محمد شعیب: د مولوي وکیل احمد متوکل زوی دی، د افغان پوهنتون استاد دی، د شارجې نړیوال پوهنتون څخه یې په شرعیاتو کې لیسانس تر لاسه کړي.
ملا احمدالله نانی: د طالبانو د نظام پر مهال د مخابراتو وزیر، اوسمهال د طالبانو د رهبري شورا غړی.
قاري عبدالحمید احمدي: د طالبانو د قطر د سیاسي دفتر کارکوونکی.
ملاعبدالمنان اخوند: د ملامحمد عمر مجاهد ورور، د طالبانو د رهبري شورا غړی.
ملاعبدالباري اخوند: د طالبانو د هلمند پخوانی والي.
سلیمان اغا: د طالبانو د زابل ولایت د نظامي قطعې قوموندان دی.
ملا صمد ثاني: د طالبانو د اقتصادي کمیسون غړی.
مولوي پاسنی: د جهاد پر مهال او بیا د جهاد تر کامیابیدو وروسته د کندهار د پنجوایي ولسوالي کې د مجاهدینو د یوازینۍ او ځانګړي محکمې مشر او قاضي.
د طالبانو د نظام پرمهال د کندهار د محکمې رئیس.
شیخ عبدالحکیم: د طالبانو په لیکو کې پېژندل شوی دیني عالم.
مولوی عبدالرووف: د طالبانو په لیکو کې پېژندل شوی دیني عالم.

حاجي ابراهيم: د مشهور مولوي جلال الدين حقاني ورور، د طالبانو د مرستيال مشر سراج الدين حقاني کاکا.

مولوي عبدالحکيم منيب: د طالبانو د نظام پر مهال د مخابراتو وزارت معين، حامد کرزي په وخت کې د اروزگان والي، اوسمهال د حج او اوقافو وزارت مرستيال او د حرکت انقلاب اسلامي (کابل) د يوې شاخې مشر.

مولوي قلم الدين: د طالبانو د نظام پر مهال د امر باالمعروف او نهي عن المنکر مشر، اوسمهال په کابل کې د سولې شورا غړی، د حرکت انقلاب اسلامي (کابل) د يوې شاخې مشر.

ملاعبدالمنان نيازی: د طالبانو پر مهال د ننگرهار امنيه قومندان، د کابل والي. اوس وخت کې د ملامحمد رسول په نوم د طالبانو د جلا شوې ډلې سياسي مرستيال او وياند.

استاد عبدالرب رسول سياف: د اتحاد اسلامي پخواني جهادي تنظيم او اوس د دعوت اسلامي سياسي گوند مشر، د ولسي جرگې پخوانی غړی، د حراست او ثبات اپوزيسيوني جريان مشر.

استاد عبدالعلي مزاري: د اهل تشيع د اته گوني اتحاد (حزب وحدت) مشر، د طالبانو د نظام پر مهال د طالبانو لخوا په غزني ولايت کې ووژل شو.

حضرت صبغت الله مجددي: د نجات ملي اسلامي گوند مشر، د مجاهدينو د وخت لومړي ولسمشر.

استاد برهان الدين رباني: د جمعيت اسلامي گوند مشر، د مجاهدينو د حکومت ولسمشر، او د سولې عالي شوار پخوانی مشر. د ۷۱ کالو په عمرد ۲۰۱۱ز.کال د سپټمبر پر ۲۰مه د يوه ځانمرگي بريد پر مهال ووژل شو.

گلبدين حکمتيار: پخوانی لومړی وزير او د حزب اسلامي مشر.

انجنير احمدشاه احمدزی: د اتحاد اسلامي گوند مرستيال مشر، د مجاهدينو د

حکومت پر مهال لومړی وزیر، اوسمهال د ملي اقتدار ګوند او د بهرنیو اډو پر ضد د ملي یووالي جبهې مشر.

حامد کرزي: د افغانستان پخوانی ولسمشر (۲۲ ډسمبر ۲۰۰۱ – ۲۹ سپټمبر ۲۰۱۴)

ډاکټر اشرف غني : د افغانستان ولسمشر، له پخواني ولسمشر حامد کرزي څخه یې واک په ۲۹ سپټمبر ۲۰۱۴ تر لاسه کړ.

عبدالرشید دوستم: پخوانی د پرچم ډلې کمونسټ جنرال، د ډاکټر نجیب الله پر مهال د ازبک قومي ملیشو قومندان، د جنبش اسلامي ګوند مشر، پخوانی لوی درستیز، اوسمهال د ولسمشر اشرف غني لومړی مرستیال.

ډاکټر عبدالله عبدالله: پخوانی د بهرنیو چارو وزیر، اوسمهال د افغان حکومت ۵۰ سلنه واک ورکړل شوی، ډاکټر غني د حکومت مشر او ډاکټر عبدالله یې اجراییه رئیس دی.

عبدالروف ابراهیمي: د ولسي جرګې رئیس ( له ۲۰۱۱ څخه تر دي مهاله)

عبدالظاهر قدیر : د ولسي جرګې لومړی مرستیال (له ۲۰۱۱ څخه تر دي مهاله)

کریم خلیلي: د حزب وحدت د ډلې د یوې شاخې مشر، د پخوانی ولسمشر حامد کرزي دوهم مرستیال.

محمد یونس قانوني: د کورنیو چارو او بیا وروسته د پوهنې پخواني وزیر، د ولسې جرګې پخواني رئیس، پخوانی مرستیال ولسمشر، اوسمهال د حراست او ثبات شورا غړی.

عطامحمد نور: د جمعیت اسلامي د بلخ ولایت مشهور پخوانی جهادي قومندان، پر افغانستان د امریکا له حملې وروسته د بلخ والي ( ۲۰۰۱ – ۲۰۱۷)، د جمعیت اسلامي ګوند اجراییه مشر.

معصوم ستانکزي: د سولې شورا د دارلانشاء پخوانی رئیس، د دفاع پخوانی وزیر، اوسمهال د ملي امنیت لوی رئیس

حنیف اتمر: د کلیو پراختیا، پوهنې او کورونیو چارو پخوانی وزیر، د حق او عدالت گوند مشر، د افغانستان ملي امنیت سلاکار.
محمدعمر داوودزی: د پخواني ولسمشر حامد کرزي د دفتر رئیس، په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر، پخوانی د کورنیو چارو وزیر، اوسمهال د حراست او ثبات شورا غړی.
ډاکټر انوارالحق احدي: د نوي ملي جبهې مشر، د مالیې پخواني وزیر
تورن اسماعیل خان: د پخواني شوروي اتحاد سره د جهاد پر مهال په لویدیځ حوزه کې د جمعیت اسلامي قوي قومندان، د هرات پخوانی والي، د اوبو او برېښنا پخوانی وزیر، اوسمهال د حراست او ثبات شورا غړی.
وحیدالله شهراني: دپخواني ولسمشر حامد کرزي په وخت کې د مالیې او بیا د سوداگرۍ وزیر.
اسدالله خالد: پخوانی د غزني او بیا وروسته د کندهار والي، د سرحدونو او قبایلو چارو پخوانی وزیر، د ملي امنیت پخوانی رئیس، اوسمهال د حراست او ثبات شورا غړی.
گل اغا شیرزي: د کندهار او ننگرهار پخوانی والي، د ټولگټو چارو پخوانی وزیر، په ۲۰۱۴ کې ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند.
شجاع الملک جلاله: د حامد کرزي د حکومت پر مهال د کونړ والي
سید حسین انوري: د اهل تشیع ډلې د حرکت اسلامي مردم افغانستان مشر، په ۲۰۱٦ کال کې د جولای پر ۵مه د هند په نوي ډیلي کې مړ شو.
حاجي دین محمد: د ننگرهار او کابل پخوانی والی، د پخواني ولسمشر حامد کرزي سلاکار وزیر، د ولسمشر غني سلاکار او د سولې عالي شورا غړی.
حکمت کرزی: د بهرنیو چارو مرستیال وزیر.
صادق مدبر: د اداره امور او د وزیرانو شورا د دارلانشاء پخوانی رئیس.
محمد محقق: د حزب وحدت د ډلې د یوې شاخې مشر، د ولسي جرگې پخوانی غړی، د اجراییه ریاست دویم مرستیال.

اجمل عبيد عابدي: د ولسمشر غني پخوانی وياند، د ملي امنيت مرستيال رئيس
حسيب الله صديقي: د ملي امنيت د مطبوعاتو او نشراتو رئيس او وياند.
قسيم لودين: د امنيت شورا غړی.
انجنير محمد عاصم: د پروان والي
فيض الله ذکي: د امنيت شورا غړی، د ولسمشر د لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم استازی.
محمد ناطقي: د اجرائيه رئيس د دويم مرستيال حاجي محمد محقق سلاکار.
اسدالله سعادتي: د پخواني ولسمشر د دويم مرستيال کريم خليلي استازی او د ولسي جرګې غړی.
فرهاد الله فرهاد: د سولې عالي شورا د دارلانشاء لومړی مرستيال.
عبدالجبار ثابت: پخوانی لوی څارنوال.
محمد قاسم حليمي: د مصر په الازهر پوهنتون کې يې لوړې زده کړې کړي، د طالبانو د نظام پر مهال د بهرنيو چارو وزارت کارکوونکي و، دامريکا تر حملې وروسته د شمال ټلوالې لخوا ونيول شو او بګرام زندان ته واستول شو، تر خلاصيدو وروسته يې په ستره محکمه کې کار کاو، د قباء په نوم خيريه بنسټ لري، د امنيت شورا غړی دی، د لوګر ولايت د خروار ولسوالي اوسيدونکی دی، اوسمهال کابل ښار کې استوګن دی.
عطاالله صادق: د افغانستان د ۲۰۰۹ ولسمشريزو ټاکنو پر مهال د ولسمشر غني د ټيم او کمپاين غړی، د ۲۰۱۴ ولسمشريزو ټاکنو پرمهال د ولسمشر غني د ټيم مهم غړی، اوسمهال په امريکا کې اوسيږي، د سولې په برخه کې هڅې کوي.
اغالالي دستګيري: د کندهار ولايتي شورا غړی، د ولسمشر غنی سلاکار.
ملا نقيب الله اخوند: په کندهار کې د جمعيت اسلامي مشهور قومندان، د کندهار د فرقي مشر.
خان محمد خان: د ملا نقيب الله اخوند قومندان، د کندهار پخوانی امنيه قومندان

ډاکټر نجیب الله: د کمونستې پلوه افغان رژیم وروستی ولسمشر ( ۳۰ سپټمبر ۱۹۸۷ تر ۱٦ اپریل ۱۹۹۲ )، مخکې له ولسمشر کیدو د مرکزي کمیټې (۴ مئ ۱۹۸٦ تر ۱٦ اپریل۱۹۹۲) مشر او له دي مخکې ۱۱ جنوري ۱۹۸۰ تر ۲۱ نومبر ۱۹۸۵ د هغه وخت د استخباراتو (خاد) رئیس و.

استاد محمد زمان مزمل: د حزب اسلامي افغانستان د اجرائیه شوار پخوانی غړی، د سیاسي کمیټې مشر، د سولې فعال، لیکوال او شاعر دی، د کابل د امام ابو حنیفه عالي دارالعلوم څخه فارغ او لوړي زده کړې یې په مکه مکرمه کې کړي. د کابل ولایت د ده سبز ولسوالی اوسیدونکی دی، اوسمهال کابل ښار کې استوګن دی.

حاجي احمد فرید: د جهاد پر مهال د حزب اسلامي او اتحاد اسلامي سره پاتې شوی، د استاد برهان الدین رباني د حکومت پر مهال د دفاع وزارت د ساختماني ریاست رئیس پاتې شوی، د حامد کرزي د حکومت په لومړۍ دوره کې د ولسي جرګې غړی، د سولې په فعالیتونو بوخت دی. د دعوت او جهاد پوهنتون د شرعیاتو له څانګې فارغ شوی. د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالي اوسیدونکی دی، اوسمهال کابل ښار کې استوګن دی.

ښاغلی وحید مژده: د جهاد پر مهال حزب اسلامي سره پاتې شوی، د استاد برهان الدین رباني او طالبانو د حکومت پر مهال یې د بهرنیو چارو وزارت کې دنده درلودله، د حامد کرزي د حکومت په لومړیو وختونو کې د ستري محکمې ویاند و، اوس مهال د سولې په هڅو بوخت دی، د افغانستان او سیمې په کچه پېژندل شوی سیاسي څېړونکی او لیکوال دی. د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي فارغ، د بغلان ولایت د مرکزي بغلان د فابریکې سیمې اوسیدونکی دی، اوسمهال کابل ښار کې استوګن دی.

عبدالشکور دادرس: د افغانستان د حقوق پوهانو غړی، د بګرام زندان د بندیانو د دوسیو څېړونکی او د جنوري میاشت، ۲۰۱۴ ز.کال کې یې د بګرام د ۸۸ بندیانو

دوسیو تر څېړنې وروسته وویل چې یاد بندیان باید خوشي شي، ولې د امریکایانو لخوا هغوی په بند کې وساتل شول.

سید اسحاق ګیلاني: د ولسي جرګې غړی او د افغانستان د ملي پیوستون ګوند مشر.

سید حامد ګیلاني: د محاذ ملي افغانستان ګوند مشر.

ډاکټر فیض محمد ځلاند: لیکوال، سیاسي فعال او د کابل پوهنتون استاد.

عبداللطیف نظري: د غرجستان پوهنتون رئیس او د اصلاحات چاپي خپروني مشر.

استاد اسد وحیدي: د سرنوشت ورځپاڼې مسؤول مدیر، د کابل پوهنتون استاد.

میرویس ستانکزی: د شمشاد ټلویزون د سیاسي برخې د (تاوده بحثونو) چلوونکی.

شاپور بختیار: د طلوع ټلویزون د سیاسي برخې د (تودې خبرې) چلوونکی.

انجنیر محمد قاسم حلیمي: د جرمني ډیپلوماټانو او طالبانو ترمنځ په ۲۰۰۹ ز. کال کې د سولې د خبرو رابطه جوړوونکی، چې اوسمهال قطر کې اوسېږي.

خلیل الله صافي: په کابل کې د پګواش اداري د مشر ښاغلي پاولو استازی.

ملا عبدالرب اخوندزاده: په کندهار کې مشهور دیني عالم چې د شوروی اتحاد د یرغل پرمهال د افغان کمونسټانو لخوا شهید کړل شو.

اسامه بن لادن: د القاعده شبکې بنسټګر، د پخواني شوروي اتحاد پر وړاندې یې په افغان جهاد کې برخه اخیستې، د طالبانو ملګرتیا یې وکړه، د امریکا د مرین پوځیانو لخوا په ۲۰۱۱ز. کال د مئ میاشتې پر ۲مه د ۵۴ کالو په عمر د پاکستان په ایبټ اباد کې ووژل شو.

ابوبکر بغدادي: د اسلامي دولت ډلې (داعش) مشر.

جورج ډبلیو بوش: د امریکا هغه ولسمشر و چې د ده په وخت (۲۰ جنوري ۲۰۰۱ - ۲۰جنوري ۲۰۰۹) کې پر افغانستان او عراق د امریکا پوځ لخوا حملې وشوې.

ډونالډ ټرمپ : د امریکا ولسمشر، له اوباما څخه یې واک په ۲۰ جنوری ۲۰۱۷ تسلیم کړ.

بارک اوباما: د امریکا هغه ولسمشر چې د ده په وخت (۲۰ جنوري ۲۰۰۹ – ۲۰ جنوري ۲۰۱۷) کې ۱۳۰۰۰۰ امریکایې پوځیانو په افغانستان کې شتون درلود، دده په وخت کې د امریکا او افغانستان ترمنځ لانجمن امنیتي تړون لاسلیک شو.

هیلري کلنټن: دامریکا د بهرنیو چارو وزیره، په امریکا کې د ۲۰۱٦ ولسمشریزو ټاکنو پر مهال د ډونالډ ټرمپ سره د ولسمشرۍ سیالۍ ته ولاړه وه.

ولادمیر پوتین: د روسیې ولسمشر له ۱۹۹۹ تر ۲۰۰۰ ز.کال پوري لومړی وزیر، له ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۸ ولسمشر، له ۲۰۰۸ تر ۲۰۱۲ پوري لمړی وزیر، د ۲۰۱۲ مئ میاشتي راهیسي تر دي مهاله د روسیې ولسمشر دی.

ضمیر کابلوف: د افغانستان او پاکستان لپاره د ولسمشر پوتین ځانګړی استازی، له ۲۰۰۴ تر ۲۰۰۹ ز.کال پوري په افغانستان کې ډیپلوماټ او د روسیې سفیر

یانکوبیش: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر (یوناما) مشر (۲۰۱۲ – ۲۰۱۴)

یاماماتو: ۲۰۱٦ جون میاشت کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي دفتر (یوناما) مشر شو.

کا آی ډي: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی (۷ مارچ ۲۰۰۸ تر مارچ ۲۰۱۰)

میرمن ډانیل: په ۲۰۱٦ ز. کال کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر د ملکې وژنو برخه کې ځانګړې استازې.

مارک باوډن: په ۲۰۱٦ز. کال کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر د بشري مرستو مسؤول.

جورډن: په ۲۰۱٦ ز.کال کې کابل کې د ملګرو ملتونو د ماشومانو ځانګې (یونسیف) دفتر استازی.

بېنن سیوان: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی چې په ۱۹۹۲ کې یې د افغانستان سولې لپاره پنځه ماده ایز طرحه باندي ډاکټرنجیب الله او

مجاهدینو توافق وکړ، ولي د احمدشاه مسعود او پرچم ډلې د ایتلاف له امله عملي نه شوه.

پروفیسور پاولو: د پګواش نړیوال بنسټ مشر.

فتح الله ګولن: د ترکيې مخالف سیاستوال او مذهبي مشر، د خدمت خوځښت مشر چې اوسمهال امریکا کې استوګن دی. د ترکيې حکومت يې د ۲۰۱٦ د جولای پنځلسمې د کودتا د ناکامې هڅې تر شا لاس بولي.

مایکل سمپل: ایرلنډی دی، د افغانستان او پاکستان اړوند د ده نظرونه او څېړنو ته لویدیځې رسنۍ ډېر اعتبار ورکوي، له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۷ په افغانستان کې د اروپايي اتحادیې مرستیال او ځانګړی استازی پاتې شوی، په کابل کې د ملګرو ملتونو د دفتر د سیاسي چارو مسؤل هم پاتې شوی.

حامد افریدی پېښور کې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت مسؤول.

جنرال رضوان اختر: د آی ایس آی لوی رئیس

جنرال سجاد علی: د آی ایس آی د رئیس معاون

ډګروال عبدالله: د آی ایس آی لخوا د افغانستان د ټولو چارو مسؤول

متقاعد میجر ګل: د پاکستان متقاعد شوی پوځي مشر.

# د لیکوال پېژندنه

نظر محمد مطمئن (په انګرېزي:Nazar Mohammad Mutmaeen ) یو افغان خپلواک لیکوال او د افغانستان د سیاسي اوضاع شنونکی دی. د افغانستان په رسنیو کې په منظمه توګه لیکنې خپروي، همداراز د راډیوګانو او تلویزونونو په ګردي مېزونو کې ګډون کوي.

**مخینه**

نظر محمد مطمئن د جوم سرمست زوی په۱۹۷۳زېږدیز کال کی د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د زرغون کلي په یوه نالوستي غریبه او دینداره کورنۍ کې دنیا ته را غلی دی.

**زده کړه**

دکمونستانو له کودتا وروسته د ډیرو افغانانو په څیر د مطمئن کورنۍ هم هجرت ته اړه شوه ، او د ډیورنډ کرښه هاخوا ته دبلوچستان دپنجپایې په کمپ کی هستوګن شول. لومړنۍ زده کړې یې د شهید خټک په لومړنۍ ښوونځۍ کې پیل کړې، منځنۍ زده کړې یې د ګردي جنګل کمپ دعبدالله ابن مسعود (رض) په مدرسه ، دکویټې ښار د مولوي حبیب الرحمن په لیسه کې، او دولسم ټولګی یې په پېښور کې د سید جمال الدین افغان په عالي لیسه کې پای ته رسولي. په ۱۳۷۱ لمریز کال کې د ننګر هار اسلامي پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځۍ ته بریالی شو، کابل پوهنتون ته یې په ۱۳۷٦ لمریز کال کې تبدیلي وکړه او په ۱۳۷۷لمریز کال کې د کابل پوهنتون د سیول انجنیري په څانګه کی خپلي لوړي زده کړي بشپړي کړي . دینی زده کړی یی په شخصيـ ډول د هجرت په وخت کې په بېلابېلو مدرسو (ښوونځیو) او دا ډول د قران کریم ترجمه او تفسیر یې له دین پوه مولوي عبدالسلام عابد څخه کړې.

## ځیرمه دندي

په ۱۳۷۵لمریز کال کې دلوړو زده کړو د زده کړې تر ځنګ دننګرهار ولایت د راډیو او تلویزیون د رئیس په توګه وټاکل شو. په ۱۳۷٦ لمریز کال کې په کابل کې د عامه کتابتون او ملي آرشیف د لوی ریاست مرستیال او د کتاب مجلې مسؤل مدیرپه توګه یې کار کړی . په۱۳۸۷ لمریز کال کي دبیهقي کتابتون د رئېس په توګه وټاکل شو. په ۱۳۷۸ لمریز کال کي یې رسمی دنده پریښوده اود هلمند په ولایت کي یي د المطمئن په نامه دانګریزي ژبې او دساینسي- مضامینو ښوونیز مرکز پرانست . په ۱۳۷۹ لمریز کال کې دهلمند ولایت اطلاعات او کلتور د رئیس په توګه وټاکل شو. او په همدې کال یې په هلمند ولایت کې د سولګر (کمپیوټر) د زده کړي روزنیز مرکزجوړکړ . په ۱۳۸۰ لمریز کال کې یې له بهرنیو نړیوالو مؤسیسو او د ښوونځیو او کوچنیو روغتونو جوړولو نړیوالو ادارو سره کار پېل کړ او په ۱۳۸۴ کې یی د ملګرو ملتونو د ساختماني پروژو د تطبیق (یو ان او پي ایس ) سره په کندهار ولایت کې دنده درلودله، چې وروسته بیا د کابل دفتر ته تبدیل او تر ۱۳۸۸ لمریز کال پورې یې په یاد دفتر کې د انجنیري په برخه کې دنده مخته یوړه، چې وروسته یې په خپله خوښه دنده پریښودله.

## سیاسی اړیکې او ژوند

هغه مهال چې مطمئن په زده کړو بوخت ؤ کورنۍ او مشران یې د اسلامي حزب سره تړاو درلود، او مطمئن هم خپلې لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې د اسلامي حزب په ښوونځیو کې سرته رسولي دي. د طالبانو د نظام پر مهال یې د پوهنتون ویلو تر څنګ د اطلاعات او کلتور وزارت په بېلابېلو برخو کې دنده سرته رسولي. په افغانستان باندی د امریکا او د امریکا د متحدینو تر حملې وروسته یې له بهرنیو نړیوالو مؤسیسو سره د ساختمان په برخه کې کار پېل کړ. او بیا ورسته له ملګرو ملتونو سره د مشر انجنیر په دنده پاتې شوې دی. په کابل کې د اوسیدو پرمهال د

ببلابېلو سیاسي او اصلاحي ټولنو سره یې ناستې او مجلسونه درلودل، په هیواد کې د ریښتونې سولې اړوند یې سیاسي هلې ځلې پیل کړي، او د سولې اړوند په ځینو کورنیو او نړیوالو کنفرانسونو کې یې ګډون کړی، چې یو له ډیرو مهمو کنفرانسونو څخه د جاپان د کیو ټیو ښار د دوشیشاپوهنتون کې په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې هغه کنفرانس چې د طالبانو استازو، د اسلامي حزب )حکمتیار) استازي هم ګډون کړی ؤ، مطمئن هم په هغه کانفرانس کې شرکت درلود. او له دې مخکې په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې هم په نوموړي پوهنتون کې د سولې اړوند کنفرانس کې شرکت کړی ؤ. په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې د ترکیې په استانبول ښار کې په نړیوال اسلامي کانفرانس او په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې د پاکستان په اسلام آباد کې د سولې اړوند نړیوال کانفرانس کې یې شرکت درلود. د افغانستان اړوند مسایلو له پاره یې د پولنډ هیواد وارسا او کاراکوب ښارونو کې هم په ځینو مهمو ناستو کې ګډون کړی. اوس مهال په کابل کې د افغانستان له پاره د واقعي سولې اړوند هڅو باندې بوخت دی.

**لیکلي چاپ آثار**

١. طالب مشرانو سره شپېږورځې
٢. د ګوانتانامو ٣ بندیان
٣. وارسا ته له باګرام پوځې اډې، لېدنې او غونډې
٤. طالبان په جاپان کې

**لیکلي ناچاپه آثار**

٥. مجاهدین او خپلمنځي جګړې
٦. افغان چارواکو او سیاستوالو سره ناستې
٧. ناټو او بهرنیانو سره د سولې اړوند ناستې
٨. اندونیزیا کې د علماوو غونډه. ٩. قطر کې له طالبانو سره ناستې



له طالب مشرانو سره د پوهنتون استادانو او افغان شنونکو ناسته- دوحه



استاد مزمل، وحید مژده، جنرال عبدالرازق او حاجي صادق - کندهار




وحید مژده، سید اسحاق اغا، ډاکټر ځلاند، استاد نظري او استاد مزمل= کابل





له خبري ناستې وروسته – کابل



پګواش دوېمه ناسته، دوحه – قطر




پگواش غونډه – کابل




د پگواش له مشر  سره د افغانانو مشورتي ناسته – کابل




د طالبانو د قطر سیاسي دفتر غړي



له کندهار والي همایون عزیزي او امنیه قومندان جنرال عبدالرازق سره د سولې چېغې غونډې د پریکړه لیک په اړه بحث